# د افغانستان اسلامي جمهوريت
# د کليو د بيا رغوني او پراختيا وزارت
# د سيمه ايزو ارګانونو خپلواکه اداره
# ولسي تړون پروګرام
# د تولنيز روزنيز لاربنوود لړليک

Abbreviations ⟷ د مخففاتو لړلیک

| No | Abbreviations | English Mean | Pashto Mean |
|---|---|---|---|
| 1 | **CC** | **Citizens' Charter** | **ولسی تړون** |
| 2 | **CCAP** | Citizens' Charter Afghanistan Project | دافغانستان د ولسی تړون پروژه |
| 3 | **CCDC** | Community cluster development council | دکلی پراختیا شورا کلستر |
| 4 | **CCDMC** | Citizen Charter development management committee | دولسوالی یه کچه دولسی تړون پروګرام دمدیرت کمیت |
| 5 | **CCNPP** | Citizens' Charter National Priority Program | دولسی تړون دلومړیتوب ملی پرګرام |
| 6 | **CDC** | Community Development Council | دکلی پراحتیا شورا |
| 7 | **CDP** | Community Development plan | دکلی پراحتیا پلان |
| 8 | **CHMP** | Cultural Heritage Management Plan | |
| 9 | **CLTS** | | دخلکو په مشری د بشپړی روغتیا ساتنه |
| 10 | **DCC** | District Coordination Council | دولسولی د همغږی شورا |
| 11 | **DG** | District governor | ولسوال |
| 12 | **EC** | Environmental Clearance | |
| 13 | **EHS** | Environmental Health & Safety | |
| 14 | **EIA** | Environmental Impact Assessment | |
| 15 | **ESMF** | Environmental Social Management Framework | |
| 16 | **ESMP** | Environmental & Social Management Plan | |
| 17 | **ESS** | Environmental and Social Safeguards | |
| 18 | **ESSD** | Environmental and Social Safeguards Department | |
| 19 | **FP** | Facilitating Partner | همکاره موسسه |
| 20 | **GC** | Gozar Council | دګذرشورا |
| 21 | **Gove** | Government | دولت |
| 22 | **GRM** | Grievance Redress Mechanism | دشکایتونود اصلاح کولو میکانیزم |
| 23 | **ICR** | Implementation Completion Report | |
| 2 | **IDLG** | Independent Directorate of Local Governance | دسیمه ایزواورګانونوخپلواکه اداره |
| 25 | **IP** | Implementation Partner | تطبیق کوونکی اداره |
| 26 | **MACA** | Mine Action Centre for Afghanistan | |
| 27 | **MAIL** | ministry of agriculture immigration and live stock | دکرنی اوبولګولو اومالداری وزارت |
| 28 | **MRRD** | Ministry of Rural and Rehabilitation and Development | دکلی پراختیا او بیارغونی وزارت |
| 29 | **MSS** | minimum services skills | دلږترلږه حدمتونو معیارونه |
| 30 | **NEPA** | National Environmental Protection Agency | دمحیط زیست ملی اداره |
| 31 | **NSP** | National Solidarity Program | دملی پیوستون پروګرام |
| 32 | **O&M** | Operation and Maintenance | |
| 33 | **OP/BP** | Operation Procedures/Bank Policy | |
| 34 | **PAP** | Project Affected Persons | متأثره اشخاص |

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

Edit by Elhamudin KHAIRKHWA Mob: 0785086494

دولسی تړون ملی پروګرام


(c) ketabton.com: The Digital Library



| No | Abbreviations | English Mean | Pashto Mean |
|---|---|---|---|
| 35 | **PIU** | Program/Project Implementation Unit | دپروژی دتطبیق مرکز |
| 36 | **PMU** | Program/Project Management Unit | دپروژی د اداری مرکز |
| 37 | **RAP** | Resettlement Action Plan | |
| 38 | **ROW** | Right of Way | دقانون مطابق |
| 39 | **SIA** | Social Impact Assessment | |
| 40 | **TA** | Technical Assistance | تخنیکی مرسته |
| 41 | **TOR** | Terms of References | دماخذ دوره |
| 42 | **WB** | World Bank | نړیوال بانک |
| 43 | **MIS** | Management Information System | دمعلوماتوسیستم دمدیرت څانګه |
| 44 | **NRM** | Natural Resource Management | دطبعی سرچینومدیرت |
| 45 | **SMS** | School Management Society | دښوونځیودمدیرت شورا |
| 46 | **IA** | Irrigation Alliance | داوبو لګولواتحادیه |
| 47 | | | |

**دا لارښـوود د دولت او همکارو مؤسـسـو د لوړ پوړو/ منځنۍ کچې کارکوونکو او همدارنګه د همکارو مؤسـسـو د ماهرو روزونکو لپاره په پام کې نیول شوی دی. دا لارښوود نه یوازې د هغه څه په هکله بحث کوي چې په ولسي تړون پروګرام کې شتون لري (د لږ تر لږه خدمتونو معیارونه، د کلي پراختیایي شـورا، د کلي پراختیایي شـوراګانو کلسـتر، د ګذر شـورا او د هغې فرعي کمیټې، ځاني مرسـتندویه ډلې)، بلکه همدارنګه د دې بهیر بېلابېلو فعالینو ته به کښـې ونډه ورکړل شـي تر څو د رڼو، حسـاب ورکوونکو او هر اړخیزو پراختیایي بهیرونو په هکله ډاډ ورکړي.**


<u>د ولسي تړون پروګرام پروژوي دوران</u>



(c) ketabton.com: The Digital Library
Edit by Elhamudin KHAIRKHWA Mob: 0785086494
دولسی تړون ملی پروګرام

(c) ketabton.com: The Digital Library






## د پروژوې دوران تفصيل/ جزئيات

### A. د کلي هڅونه

**1) کلي ته د ولسي تړون ور پېژندنه**

الف. ليد لورى، موخې، او اصول.

ب .د بنسټيزو جوړښتونو پراختيا.

ج .د خدمتونو وړاندې کول او د لړ تر لږه خدمتونو معيارونه.

د . شموليت او د بيوزلۍ د کچې را ټيټول.

ه .ولسي تړون په عمل کې: د مهمو فعالينو ونډه او دندې/مسئوليتونه.

**2) د کلي سروې (کليوالي/ ښاري)**

الف. د کلي رضاکاران په ګوته کول. ب. د سروې تر سره کول او د موندنې را ټولول.

ج. د معلوماتي سېستم د مديريت لپاره د کلي په هکله د معلوماتو د راپور چمتو کول، لومړي پړاو

### B. د کلي پراختيايي شورا او د کلي پراختيايي شوراګانو کلسټر/ګذر شورا ټاکند کلي پراختيايي شورا ټاکني.

**3) تر ټاکنو د مخه کړنې**

الف. د ټاکنود بهير په اړه د معلوماتو ورکولو په موخه د لويې غونډې تنظيمول.

ب. د ټاکنو د واحدونو رامينځ ته کول. ج. د ټاکنو د کميټې رامينځ ته کول.

**4) ټاکـــــــنې**

الف. عمومي ټاکنې.

ب. د کلي پراختيايي شورا د اداري هيئت ټاکنې ( د کلي پراختيايي شورا د غړو تر مينځ).

(c) ketabton.com: The Digital Library



**5) د کلي پراختيايي شـــورا د غړو د وړتيا لوړول او د اداري هيئت دندې او مســـئوليتونه، د لږ تر لږه خدمتونو معيارونه، اړيکې، د کلي د ګډه ايزې څارنې عمومي کتنه ، شکايتونه، د نمرې ورکولو کارتونه.**

**<u>د کلي پراختيايي شوراګانو کلستر /ګذر شورا ټاکنې</u>**

**6) د کلي پراختيايي شوراګانو کلستر /ګذر شورا ټاکنې**

الف. د کلي پراختيايي شوراګاني يو نارينه او يوه ښځينه ټاکي (د رئيس او مرستيال رئيس ترڅنګ).

ب. د کلستر تر پوښښ لاندې د کلي پراختيايي شوراګاني غونډه کوي، رئيس او د رئيس مرستيال ټاکي.

**7) د کلي پراختيايي شوراګانو د کلستر د غړو د وړتيا لوړول او د اداري هيئت دندې او مسئوليتونه، (يادونه: د کلي پراختيايي شورا ټول غړي د لږ تر لږه خدمتونو معيارونو، اړيکو، د کلي د ګډه ايزې څارنې د عمومي کتنې، شکايتونو، د نمرې ورکولو کارتونو په هکله په خپلو انفرادي شوراګانو کې روزنه تر لاسه کوي)..**

**8) د کلي پراختيايي شورا او د کلي پراختيايي شوراګانو کلستر /ګذر شورا ثبت کول**

**9) د بانکي حساب پرانيستل (د کلي پراختيايي شورا او د کلي پراختيايي شوراګانو کلستر/ګذر شورا)**

**C. <u>د سرچينو/ بېوزلۍ تحليل او د اړتياوو ارزونه</u>**

**10) دبېوزلۍ تحليل او د اړتياوو ارزونه (نارينه او ښځينه)**

الف. د سرچينو نقشه او د مهمو موندنو پوستر.

ب. د بېوزلۍ تحليل له مهمو موندنو سره .

ج . موسمي کليزه له مهمو موندنو سره .

د. ســـوری کوزه (Leaking Pot) لــه مهمو موندنو سره .

ه. د ښځو هڅونه/تحرک له مهمو موندنو سره

**11) د کلي په هکله د معلوماتو راپور( ټولنيز کارکوونکی او انجنير د معلوماتي سېستم د مديريت څانګي ته) – دوهم پړاو.**

الف: عامه بنسټيز جوړښتونه – د لږ تر لږه خدمتونو د معيارونو په تړاو د سړکونو، ابو لګولو، برېښنا او د څښاک اوبو په هکله راپور.

ب: عايداتي ډلې او د هغوی حالت (کونډې، داخلي بېځايه شوي او داسې نور...)

**D. <u>د کلي د پراختيايي شوراګانو او کليو د کلستر/ګذر شورا د پراختيايي پلان جوړول (نارينه او ښځينه)</u>**

**12) د کلي پراختيايي پلان جوړول**

الف. د کلي د ګډه ايز پراختيـايي پلان جوړولو پېژندګلوي.

ب. د مهمو موندنو بياکتنه.

ج. د ليد لوري ټاکل (نارينه او ښځينه).

د. نوموړی ليد لوری په څو پړاوونو وېشل.

ه . يـادو پړاوونو تـه د پلي کېـدو پـه موخـه فعاليتونه/ کړنې ټاکل.

و. ليد لوري او پړاوونو ته په کتلو ســره د مهمو لومړيتوبونو ټاکل.

**13) د کليو د کلستر/ګذر شورا د پراختيايي پلان جوړول (نارينه او ښځينه)**

ز. د کلي د پراختيايي شوراګانو کلستر/ګذر شوراګانو د نقشې جوړول.

ح. د هر کلي ليد لوري، د ليد لوري د پړاوونو او مهمو لومړيتوبونو ته بيا کتنه.

ط. د ګډو هڅو په ترڅ کې د هغه فرعي پروژو په ګوته کول چې څو يا ټول کلي تر خپل پوښښ لاندې راولي ( بايد ډاډ تر لاسه شي چې د هر کلي مهم لومړيتوبونه په پام کې نيول شوي دي)

**14) د کليو پراختيايي پلانونه او د کلستر/ ګذر شورا د پراختيايي پلانونو بشپړول/وروستي کول (نارينه او ښځينه)**

ی. د لږ تر لږه خدمتونو د معيارونو په پام کې نيول او د فرعي پروژو د وړانديز/پروپوزل طرحه کول چې د لږ تر لږه خدمتونو له معيارونو سره برابر وي.

ک. د وړانديزونو منل/تائيـــد

**E. <u>د ټول شموله سيمه ايزو بنسټونو رغول، د بيوزلو په ګټه د ډله ايزې کړنې پيلول او د ښځو د پراخ ګډون لپاره کار کول</u>**

**15) د کلي پراختيايي شورا د فرعي کميټي رامينځ ته کول**

الف. د کلي دندې او مسئوليتونه

ب. د فرعي کميټو د غړو تعينول

**16) د کلي پراختيايي شورا د فرعي کميټي پلان جوړول (غير زيربنايي)**

الف. د فرعي کميټو د دندو او مسئوليتونو بيا کتنه

ب. د فرعي کميټو د غړو د مهارتونو او کارپوهی معلومول او د دوی ژمنه تر لاسه کول

ج. د فرعي کميټو د دندو ټاکل ، د متقابلو کړنو د تکرار شمېر ، او داسې نور...

د . اوس هره کميټه د کلي په هکله معلومات بشــپړوي، دريم پړاو، او په تړاو يې د معلوماتو را ټولول بشـپړوي او ټولنيز کارکوونکي د يادو معلوماتو تر څېړلو وروسته د معلوماتي سېستم مديريت څانګي (MIS) ته راپور ورکوي.

**I.** د خدمتونو وړاندې کولو د پام/هدف وړ ډلې ( د لومړني ښــوونځي د عمر درلودونکي ماشــومان، تر 5 کلونو د لږ عمر درلودونکي ماشــومان، د ځمکې نه درلودونکي کســان، تر 2 جريبه د کمې ځمکې درلودونکي کســان، هغه بزګر چې تر خپلې اړتيا ډېر حاصلات پلوري، ورځني کاريګر، پلورونکي)

(c) ketabton.com: The Digital Library



II. شته خدمتونه او تشې (په ښوونځیو کې د ماشومانو شمېر او له ښوونځي بهر د ماشومانو شمېر، د هغه ماشومانو شمېر چې نه شي کولای په موجوده ټولګیو کې ځای شي، او داسې نور...)

ه. د کلي پراختیايي پلان لرلید، د لرلید پړاوونو او کړنو ته بیا کتنه او د مهمو پړاوونو او کړنو پر وړاندې د فرعي کمیټو د غړو د مسئولیتونو ټاکل

و. يادو پړاوونو (یا هم د دې پړاوونو یوې برخې ته) ته د رسېدو لپاره د اړینو بشري/ فزیکي/ مالي سرچینو په پام کې نیول

ز. د مهمو کړنو لپاره د مهالویش جوړول

**17) ځاني مرستندويه/ لېواله ډلې ( په دې باندې فرعي کميټې کار کوي)**

الف. د ګټورو لېواله/ځاني مرستندويه ډلو ( د میندو او پلرونو او د لومړني ښوونځي د عمر درلودونکو ماشومانو، کونډو او هغه ښځو چې د خپل کور مشري ور په غاړه ده، هغه کورنۍ چې د خوراکي توکو له اړخه خوندي نه دي او داسې نورو...) د نوملړ جوړول

ب. د ځاني ګټې/مرستې د ډلو را مینځ ته کول او هڅول/تحرک

ج. له 1 – 3 ډلو سره کار کول تر څو هره ډله په عمده برخه ( پړاو یا د پړاو یوه برخه) تمرکز وکړي او موخې ته د رسېدو لپاره پلان جوړ کړي.

18) **د کلي پراختیايي شورا کلستر د فرعي کمیټو د پلان جوړول - د طبیعي سرچینو مدیریت NRM، روغتیا Health، د ښوونځي د مدیریت شورا SMS، د اوبو لګولو اتحادیه IA.**

الف. د فرعي کمیټو دندو او مسئولیتونو ته بیا کتنه

ب. د فرعي کمیټو د غړو د مهارتونو او کارپوهۍ معلومول او د دوی ژمنه تر لاسه کول

ج. د فرعي کمیټو د دندو را مینځ ته کول او د متقابلو کړنو تکرار او داسې نور ...

د. د کلي پراختیايي پلان لرلید، د لرلید پړاوونو او کړنو ته بیا کتنه کول او د مهمو پړاوونو او کړنو پر وړاندې د فرعي کمیټو د غړو د مسئولیتونو ټاکل

ه. یادو پړاوونو (یا هم د دې پړاوونو یوې برخې ته) ته د رسېدو لپاره باید اړینې بشري/ فزیکي/ مالي سرچینې په پام کې ونیول شي

و. د مهمو کړنو لپاره د مهالویش جوړول.

ز. د ښوونځي د مدیریت شورا او روغتیايي آسانتیاوو کمیټې ته په کار ده تر څو د لږ تر لږه خدمتونو معیارونه په پام کې ونیسي او په اړوندو آسانتیاوو کې د لږ تر لږه خدمتونو معیارونو د حالت په اړه لنډ راپور چمتو کړي

**19) د کلي په کچه د جندر شاملول/رعایت**

الف. ټولنيز کارکوونکي د کلي په کچه له نارینه او ښځینه وو سره عمده او مهمې کړنې تر سره کوي.

ب. مهمې موندنې د کلي پراختیايي شورا ته وړاندې کېږي او له فرعي کمیټو سره شریکېږي.

ج. د کلي پراختیايي شوراګانې او فرعي کمیټې د بدلونونو په هکله پرېکړه کوي ( د نجونو لپاره زده کړې، د ودونو لګښت، د نجونو د واده عمر یا د واده پر مهال د نجونو عمر، او داسې نور...).

د. د کلي پراختیايي شورا رئیس او مرستیالان د کلي پراختیايي شوراګانو کلستر ته راپور ورکوي او خپل پلانونه ورسره شریکوي.

ه. د کلي پراختیايي شوراګانې او اړونده فرعي کمیټې پلانونه جوړوي تر څو بدلون را مینځ ته کړي.

**F. <u>د بنسټیزو جوړښتونو پراختیا د فرعي پروژې تطبیق</u>**

**20) د ولسي ترون پروګرام د فرعي پروژو وړاندیز**

الف. په لومړیتوب کې د راغلو پروژو د تخنیکي سروې ترسره کول.

ب. په لومړیتوب کې د راغلو پروژو طرح/ډیزاین.

ج. د لګښت ټاکل.

د. د وړاندیز بشپړول.

ه. د تخنیکي کمیټې له لوري د مهمو او عمده توکو چمتو کول.

21) **د پروژې د پلي کولو په موخه د کلي پراختیايي شوراګانو د وړتیاوو لوړول**

الف: د پروژې د پلي کوونکي ډلې روزنه

| | |
|---|---|
| V. چاپېریالیز ټولنیز خوندیتوب ( ESS ESFM, RPF) | I. تدارکات |
| | II. مالي مدیریت |
| VI. عملیات او ساتنه/حفظ او مراقبت (O&M) | III. ترون کول |
| | IV. د پروژې مدیریت |

دولسی ترون ملی پروګرام

(c) ketabton.com: The Digital Library



**22) د فرعي پروژې پلي کول**

الف. د تدارکاتو او پلي کولو پلان.

ب. د پلان څارنه.

ج. راپور ورکول ( په اونيزه/مياشتنی توګه ).

د. د فرعي پروژې د حالت په اړه راپورونه.

ه. د بشپړېدو د سند سپارل.

و. د بشپړې تسليمی راپور

.

**G. څارنه، ارزونه او ټولنيزه پلټنه/ تفتيش**

**23) د کلي د کډه ايزې څارنې کميټه**

الف. د کلي د کډه ايزې څارنې د کميټې جوړول ( د دواړو يعني د کلي پراختيايي شـــورا او د کلي پراختيايي شورا کلستر/ګذر شورا لپاره).

ب. د ولســـي تړون پروګرام، د لړترلړه خدمتونو د معيارونو، د کلي کډه ايزې څارنې، ټولنيزې پلټنې/ تفتيش او نمرې ورکولو د کارتونو په هکله د کلي کډه ايزې څارنې د ډلې روزل.

**24) د کلي د کډه ايزې څارنې CPM بهير**

الف. د کلي د کډه ايزې څارنې د شاخصونو ټاکل.

ب. د کلي د کډه ايزې څارنې د پلان طرحه/ډيزاين کول.

ج. د معلومات را ټولول، تحليل او په هکله يې راپور ورکول.

د. د يوې عامې غونډې په ترڅ کې د موندنو شريکول.

**25) د نمرې ورکولو کارتونه (score cards)**

الف. د کلي د کډه ايزې څارنې ډله د کلي په کچه د لږ تر لږه خدمتونو د معيارونو د ارزونې په موخه د نمرې ورکولو کارتونه کاروي.

ب. د کلي د کډه ايزې څارنې ډله له رضـــا کارانو ســـره همغږې کوي تر څو په عمده او مهمو آســـانتياوو (ښـــوونځيو/ کلينيکونو) کې د نمرې ورکولو کارتونو په کارولو سره د لږ تر لږه خدمتونو معيارونه و ارزوي.

ج . د نمرې ورکولو کارتونو موندنې را ټولېږي او ثبت کېږي او په هکله يې د معلوماتو د مديريت ســـيتم MIS ته راپور ورکول کېږي.

**26) د شکايتونو د حل کميټه**

الف. د کميټې را مينځ ته کول ( د دواړو يعنې د کلي پراختيايي شـورا او د کلي پراختيايي شـوراګانو کلسـتر /ګذر شـورا لپاره).

ب . د ولسي تړون پروګرام، د لږ تر لږه خدمتونو د معيارونو ، اړيکو او شکايتونو د حل په هکله د شکايتونو د حل کميټې روزل.

**27) د شکايتونو حل کول**

الف. د شکايتونه د حل د ميکانيزم له خپرولو څخه داډ تر لاسه کول (د تليفوني اړيکې په واسطه).

ب . د شکايتونو د صندوق او د شکايتونو د ثبت کتاب را مينځ ته کول

ج . د شـکايتونو د حل کميټې 1 – 2 غړې به د ولسوالی په کچه د ولسـي تړون پروګرام د مديريت کميټې DCCMC/ د ناحيې په کچه د ولسي تړون پروګرام د مديريت کميټې NCCMS په هرو دوه مياشتنيو غونډو کې برخه اخلي.

د . له اړوندو فعاليتو ســـره د مهمو موضـــوعګانو تعقيبول (د ولســـوالی په کچه د ولســـي تړون پروګرام د مديريت کميټه DCCMC/ د نـاحيې پـه کچـه د ولســـي تړون پروګرام د مـديريـت کميټـه NCCMS يـا د اړونـده وزارتونو ولايتي کارکوونکي).

ه . د اړتيا په صورت کې، د شکايتونو د حل کميټه له ولايت څخه بهر شکايتونه حل کوي.

## لومړی فصل

## د کلي هڅول او د کلي په اړه معلومات

## د کلي پراختيايي شورا او کلي ته د ولسي تړون پروګرام ور پېژندنه

### 1. د ولسي تړون پروګرام

**الف. لرليد، موخې او اصول**

**لرليد:** ولســـي تړون پروګرام د دولت يو نوی پروګرام دی چې موخه يې د راتلونکو 10 کلونو په موده کې د افغانســـتان ټولو وګړو ته د اســـاســـي خدمتونو وړاند يکول دي. دولت به د بنســـټيزو جوړښـــتونو د جوړولو يا بيارغولو او تر ټولو مهمو خدمتونو – د څښـــاک اوبو، روغتيا، زده کړو، بريښنا، د اوبو سيستمونو، سړکونو، ويالو، پارکونو او نورو عامه تفريحي سيمو او روغتيا ساتنې/حفظ الصحې د وړاندې کولو لپاره سرچينې او ملاتړ چمتو کړي.

خو، د دولت کار د ولســـي تړون پروګرام يوازې يوه برخه ده؛ د کلي پراختيايي شـوراګانې او فرعي کميټې، او هغه کسـان چې په کليو کې ژوند کوي، يو لوی رول لوبوي. د کار لويه برخه – د اړينو بنسټيزو جوړښتونو رغول، له دولت سره مرسته کوي چې هرې کورنۍ ته خدمتونه ورســـېږي، په کليو او ښـــارونو کې د ژوند حالت ته د ودې ورکولو په موخه په ځاني پروګرامونو (نوښـــتونو) کې د خلکو ښکېلول چې دا هر څه د کلي تر پراختيايي شورا پورې تړاو لري. د دوی په دندو کې به ارزونه، تحليل او تجزيه، له خلکو سره په ګډه

(c) ketabton.com: The Digital Library



پلان جوړول، د پروژو پلي کول او د تر لاسه شوو مالي وجهو څارنه او حساب ورکونه، او په کليو (ښارونو/محلاتو) کې د خدمتونو د رسولو تنظيم، د دولت د کړنو څارنه او د خدمتونو د وړاندې کولو د لړۍ د ودې په موخه نظر ورکول شامل وي.
د کلي پراختيايي شــورا غړي به دا کار په خپله نه تر ســـره کوي، ځکه چې د کلي پراختيايي شـــوراګانې، ګډزونه او د کلي پراختيايي شوراګانو کلسټر (5 – 8 پورې کلي يو پراختيايي واحد جوړې) به د زده کړو، روغتيا، کرنې، اوبولګولو، ځوانانو او د ښځو د اقتصادي ودې فرعي کميټې ولري، او هره کميټه به د کلي پراختيايي شورا/ د کلي پراختيايي شورا کلسټر له غړو، کارپوهانو او د کليو او ښارونو له فعالو وګړو ( ښـوونکيو، د کلي په کچه روغتيايي رضـا کارانو، غوره بزګرو، هڅاندو ځوانانو، اسـتعداد لرونکو ښـځو، له بېوزلو برخو څخه ژمن او لېواله کسانو، همدارنګه له زيان منونکو ډلو، لکه راستنېدونکو، داخلي بېځايه شوو، د اقتصـادي ستونزو له کبله له کډوالو او کوچيانو) څخه جوړه وي. له دې کميټو سره په کار کولو سره به د کلي پراختيايي شوراګانې دوی ته لارښوونه وکړي، وبه يې هڅوي او ملاتړ به يې وکړي تر څو د کلي په کچه سـرچينې تنظيم او برابرې کړي، په ځانګړې ډول د خلکو مهارتونه، اسـتعدادونه او د ارادې ځواک تر څو په ګډه سـره کار وکړي او خپل ژوند ته وده ورکړي. د کلي پراختيايي شـورا غړي ټاکل شـوي دي ځکه چې دوی دا حکمت او باور لري چې د خلکو ملاتړ وکړي، او له دولت ســـره د خلکو مرجع او د اړيکې وســـيله ده او د کلي پراختيايي شـوراګانې له دولت سره په ګډه، کولای شـي قوي او متحد ښـارونه، کلي او يو ملت را مينځ ته کړي چې په ترڅ کې به يې ټول وګړي وکولای شي تر څو خپل استعدادونه او وړتياوې په کار واچوي.
د ولسي تړون پروګرام يوه هوکړه ده چې د دولت او افغان وګړو تر مينځ ملګرتيا ته رسمي بڼه ورېښي چې د دوی د ټاکل شوو استازو په واسطه يې لارښوونه او ملاتړ کېږي تر څو په ګډه سره د بېوزلۍ کچه را ټيټه کړي. دا په دې معنې چې دولت او خلک مسئوليتونه لري چې تر ټولو مهم يې په دې ډول دي: حکوت به سرچينې، ملاتړ، سلا وړاندې کړي او د کليو پراختيايي شوراګانې/د کليو پراختيايي شوراګانو کلسټر مسئوليت لري تر څو يو له بل سره د ګډه ايزو ادارو په توګه کار وکړي چې له دې لارې ټاکل شوي نارينه او ښځې له يو بل سره کار کوي تر څو په مناسبه او عادلانه توګه د سرچينو له تخصيص څخه ډاډمن شي او ډاډ تر لاسه کړي چې بېوزله نارينه، ښځې او ماشومان د شتمنو کورنيو د نارينه وو، ښځو او ماشومانو په څېر د دولت له پروګرامونو او خدمتونو څخه برخمن شوي دي. د کليو پراختيايي شوراګانو، ګذر او د کليو پراختيايي شوراګانو کلسټر په پلان جوړولو او پلي کولو کې به د ټاکل شوو ښځينه غړو ګډون مهم وي تر څو باوري کړي چې په ټولو پراختيايي بهيرونو کې د ښځو پراختيايي اړتياوو ته ځای ورکړل شوی دی او په نښه شوې دي. په دې توګه، هغه خدمتونه چې دولت به يې وړاندې کړي، کولای شـي د ټولو افغانانو د لږ تر لږه خدمتونو د معيارونو حق خوندي کړي چې په دې سره دوی کولای شي د خپلې خوښې وړ ژوند وکړي، د خپلو وړتياوو او استعدادونو د کارونې زمينه ورته برابره وي او په زده کړو سمبال ماشومان را لوی کړي تر څو د يوې ښې راتلونکې د جوړولو جوګه شي.
د کلي پراختيايي شوراګانې او د هغوی فرعي کميټې د بهرنيو مرستو د مديريت، په مناسبه توګه د تخصيص او کارولو مسئوليت لري، دوی همدارنګه دنده لري تر څو د پراختيا په موخه د داخلي ســرچينو د کارولو لپاره لارې چارې ولټوي. په کليوالي ســيمو کې به ټاکل شوې شوراګانې او د هغوی فرعي کميټې کار وکړي تر څو داسې يو چاپېريال را مينځ ته کړي چې په کلي کې اوسېدونکي خلک له يو بل سره کار وکړي او په پام کې ونيسي چې دوی څه وړتياوې/ مهارتونه او استعدادونه لري او دوی څنګه کولای شي دا وړتياوې او استعدادونه په ښـه توګه وکاروي چې په دې توګه به بېوزله کورنۍ وکولای شـي ډېر عايد تر لاسـه کړي. د کلي د پراختيايي شـوراګانو پلانونه او هغه اړتياوې او لومړيتوبونه چې کلي يې په ګوته کوي، به په ملي پلانونو او د بوديجې په تخصيص کې په پام کې ونيول شي.
په ښــاري ســيمو کې به ټاکل شـوې شـوراګانې او د هغوی فرعي کميټې کار وکړي تر څو پاک، خوندي او روغ چاپېريال را مينځ ته کړي، د ګډ ( بېلابېلو محلاتو چې د بېلابېلو برخو درلودونکي وي) سـيمه ايز پراختيايي پلان جوړولو او پلي کولو له لارې به پراخ يو والي را مينځ ته کړي، د ټول شـموله او بېوزلو په ګټه د ښـاري خدمتونو له وړاندې کولو څخه ډاډ تر لاسـه کول او د خصـوصـي سـکتور له فعالينو څخه د مالي او يا توکو د مرسـتو تر لاسـه کولو لپاره د غږ اوچوتول تر څو د پراختيا په لاره کې مرسـته وکړي. په ښـاري سيمو کې بدلون راوسـتل به سـوداګر په يادو سيمو کې پانګونې او پېرودونکي پېر او پلور ته وهڅوي ( غوره، پاک، روښـانه سړکونه او داسې نور...).

**<u>مـــــــــــوخې</u> :** د ولسي تړون پروګرام موخه د متحدو کليو، محلاتو، ښارونو را مينځ ته کول، د خلکو او دولت تر مينځ اړيکې ته وده ورکول او د اساسـي خدمتونو د وړاندې کولو له لارې د بېوزلۍ د کچې را ټيټول دي. د سـرچينو او ملاتړ په برابرولو سـره به دولت د کليو او ښـــارونو پراختيـا تـه وده ورکړي او د کلي پراختيـايي شـــوراګـانې بـه پراختيـايي بهير رهبري کړي او پـه ټولو پراختيـايي پروګرامونو(نوښـتونو ) او کړنو کې د ټولو نارينه، ښـځينه، ځوانانو او ماشـومانو له ګډون څخه ډاډ تر لاسـه کړي. کلي به د پروژو د رغولو/بيا رغولو په پلان جوړولو، پرمختګ او د دولت له لوري د لږ تر لږه خدمتونو د معيارونو د وړاندې کولو په څارنه کې برخه واخلي. په ورته وخت کې، د کلي پراختيايي شـوراګانې او د هغوی فرعي کميټې به له بېلابېلو ډلو (د بېوزله کورنيو په ګډون) سـره کار وکړي تر څو په ګډه سـره هغه مهمې موضـوعګانې چې د پراختيا يا د خلکو د ځانګړو ډلو د ژوند د حالت د ښـه کېدو پر وړاندې خنډ کېږي، په ګوته او په هکله يې پوه شي او په ګډه سره هغه لارې چارې ولټوي چې ياد خنډونه پرې له مينځه يوسي.

**<u>په ښارونو کې ولسی تړون پروګرام په هکله يادونه:</u>** د بېوزله کسانو په ګټه په ګډه کار ښـايي په کليوالو سيمو او ښايي په نيمه ښاري سيمو کې آسـانه وي. په ښـارونو کې به ولسـي تړون پروګرام په خپل لومړي کال کې د بېلابېل عملياتي چاپېريال په هکله پوه او په پام کې به يې ونيسـي ( چېرې چې ښـايي خلک لږ وخت لري، چېرې چې د نفوس تراکم په پام وړ توګه ډېر دی، او ټولنه ډېره پېچلې او متجانسـه وي، چېرې چې ټولنيز اتصـال( باور، د متقابلو کړنو تکرار) د کليوالي سـيمو په پرتله توپير لري). د افغانسـتان په څلورو زونونو کې د څلورو ښارونو په هکله معلومات به راتلونکي بهيرونه خبر کړي/معلومات ورکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**اصـــــــــول :** د ولسي ترون پروګرام او د دولت کار (په ټولو کچو کې)، ټاکل شوې بنسټونه (د کلي پراختيايي شوراګاني، دولسوالی پراختيايي شوراګانی، د ګذر شوراګانې)، همکاره مؤسسو ته به د لاندې اصولو په واسطه لارښوونه وشي[1]:

1. د افغانستان وګړي د ملت لويه پانګه او د پراختيا په لاره کې د دولت ملګري دي.
2. د کلي پراختيايي شوراګانې، ګذرونه او د کلي پراختيايي شوراګانو کلستر به په خپلو اړوندو کليو کې پراختيايي چارو ته لارښوونه او د هغوی څارنه وکړي، او د خپلو خلکو، دولت او تمويلوونکو پر وړاندې به د ټولو بهرنيو ســرچينو د تخصــيص او کاروني په برخه کې ځواب ويونکي وي.
3. د سرچينو له منصفانه او عادلانه تخصيص او د خدمتونو له وړاندې کولو څخه بايد ډاډ تر لاسه شي (د څو کسانو په ګټه د سرچينو ځاي پر ځاي کول يا د بوديجې تخصيص ) او د نخبه کسانو له نفوذ څخه بايد مخنيوی وشي.
4. ټولنيز مسئوليت او صـداقت به وسـتايل شـي او له درغلی او د پيسـو له ناوړه کارولو څخه بايد مخنيوی وشـي، چې کېدلای شـي د دولت د بوديجې د له لاسه ورکولو لامل شي.
5. په کليو کې به پراختيايي بهيرونه ګډه ايز، ټول شموله، د زده کړې او عمل، روڼتيا او حساب ورکوني پر بنسټ وي
6. بېوزله نارينه او ښځو ته بايد په سيمه ايزو ادارو او کړنو کې ونډه ورکړل شـي ( د کلي پراختيايي شـوراګانو/فرعي کميټو، پلان جوړولو، پلي کولو او څارنه)
7. د کلي تنوع او يووالی په کار کې مهم رول لري
8. د کلي پراختيايي پلان بايد د ښځو، همدارنګه د ګوښه شوو او زيانمنونکو ډلو اړتياوې او ستونزې په پام کې ونيسي.
9. د کلي پراختيايي شوراګانې او د هغوی کميټي به د پراختيايي او بشري کارکوونکو امنيت خوندي کړي
10. هغوی چې د نا امنيو لامل دي بايد بحث ته راوبلل شـــي، وهڅول شـــي تر څو د پراختيايي چارو ملاتړ وکړي او د نا امنۍ لامل نه شي
11. په کلي کې د کوکنارو په له مينځه وړلو کې مرســـته کول او د کوکنارو د کرکېلې پر وړاندې د مبارزې ملاتړ کول، د کليوالو په خاصــــه توګه د بزګرو د عامه پوهاوي د کچې لوړول، تر څو کوکنار ونه کري او بديل يې پيدا کړي (ســيمه ايزي او نيمه ښــاري سيمې).

**ب: د بنسټيزو جوړښتونو پراختيا**

د کلي پراختيايي شوراګانې او د هغوی کلي به له اړوندو وزارتونو څخه مالي مرسته تر لاسه کړي تر څو نوي بنسټيز جوړښتونه پرې ورغوي او يا هم شته عامه بنسټيز جوړښتونه بيا ورغوي او دوی به د اساسي خدمتونو يو نوملړ ته لاس رسی ولري. د افغانستان دولت به هر افغان وګړي ته د څښاک اوبه ورسوي او کلي کولای شي يو له لاندې خدمتونو څخه وټاکي: اساسي سړک ته لاس رسی، د ټيټې کچې اوبو لګولو سيسټم، او له بيا نوي کېدونکو سرچينو څخه بريښنا. شته دولتي ښوونځي به د مهمو معيارونو پر بنسټ خپلې چارې پر مخ وړي او شـته روغتيايي آسـانتياوې به د روغتيايي خدمتونو يوه اسـاسـي بسـته وړاندې کړي. د نويو عامه بنسـټيزو جوړښـتونو د رغولو او شته بنسټيزو جوړښتونو د بيا رغوني لپاره د مالي وجهي تخصيص به د بنسټيز جوړښت د اړتياوو په تړاو د کلي د اټکل او ليد لوري پر بنسټ وي، خو د پروژې د پلان جوړول، پلي کول، د عامه بنسټيزو جوړ ښتونو څارنه او ساتنه به د هر ټول شموله، ګډه ايزو او رڼو بهيرونو له لارې تر سره شي چې د مرستو په اړه له ټيټ لوري (کليو) او پورته لوري (دولت او تمويلوونکو) ته ځواب ويونکي وي. د تېر په څېر، کليوالي سـيمې به د فرعي پروژې د لګښـت ٪10 برخه پر غاړه واخلي. په ښـاري سـيمو کې به د کلي پراختيايي شورا په کچه ونډه ٪25 سلنه وي، د هغو سيمو په انتڅا چې بې‌ځايه شوو او بېرته راستانه شوو کسانو په کښې استوږنه غوره کړې ده چې په دې سيمو کې به کلي او ګذرونه وهڅول شي تر څو ونډه واخلي، خو دوی بايد دې کار ته اړ نه ايستل شي.

**ج: د خدمتونو وړاندی کول – د لږ تر لږه خدمتونو معيارونه / نوملړ** (له دې وروسته فارمت هم په پام کې نيول شوی دی)

(چې په کلي کې به د عامه خبرتياوو په ډره کې و نښلول شي)

1 د کليوالو او 2 د ښاري سيمو لپاره په پام کې ونيسئ/وګورئ

1. دولت به په کليوالو سيمو کې لاندې آسانتياوې تامين کړي:

I. **د څښلو پاکو اوبو ته هر اړخيز لاس رسی:** د هرو 25 کورنيو لپاره د اوبو يوه سرچينه چې د 24 ساعتونو په موده کې به د هر کس لپاره د 25 لېترو اوبو د چمتو کولو وړتيا ولري.

II. **کليوالي زېربناوې:** کلي به لږ تر لږه له لاندې خدمتونو څخه يوه ته لاس رسی ولري ( د خلا/تشې د تحليل او تجزيې، د کلي د لومړيتوب ورکوني او لاسرسي پر بنسټ):

- **اساسي سړکونو ته لاس رسی:** تر ټولو نېږدې د لاسرسي وړ کليوالي اساسي سړک څخه د 2 کيلومترو په واټن.
- **د اوبو لګولو د ټيټې کچې درلودونکي بنسټيز جوړښت:** چې لاندې ډولونه په کښې شـامل دي: سربندونه (د مينځنيو/ دريمه درجه ويالو لپاره) د اوبو وېشونکي، د اوبو د کابو کولو دروازې، سيفون، د 10،000m3 ظرفيت درلودونکي د اوبو يوه ذخيره، د اوبو لګولو د ټيټې کچې درلودونکي کانال رغول يا بيا رغول، محافظوي ديوال، ګبيوني ديوال، ناوې، سوپر پسېج

---

[1] داصولو ډير شمير يې د 2015 کال د کلي پراختيايي شوراګانو په پربکړه ليک کې شتون لري چې د افغانستان د نيردې ټولو ولسواليو د پراختيايي شوراګانو د سلګونه غړو له لوري لاسليک شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- **اساسي برېښنا:** د لمر، اوبو، بیو ګاز او باد له لارې د هرې کورنۍ لپاره د 100W برېښنا چمتو کول (یوازې په هغه سیمو کې چې هلته د برېښنا شبکې نه رسېږي)

III. **په دولتي ښـــوونځیو کې د کیفیت وړ زده کړې** د پوهنې وزارت د زده کړو د موجوده معیارونو د ټولګې د یوې برخې په توګه:

- له 1 څخه تر 3 ټولګې پورې زده کوونکي به په اونیزه توګه 24 ساعته زده کړې کوي، له 4 څخه تر 6 ټولګې پورې زده کوونکي به په اونیزه توګه 30 ساعته زده کړې کوي، او له 7 څخه تر 12 ټولګې پورې زده کوونکي به په اونیزه توګه 36 ساعته زده کړې کوي.

IV. **د اساسـي روغتیایي خدمتونو د ټولګې وړاندې کول**، د عامې روغتیا وزارت د موجوده روغتیایي خدمتونو د ټولګې د یوې برخې په توګه:

- روغتیایي آسانتیاوې به د اړتیا وړ قانوني ساعتونو ( دسهار له 8 څخه د بېګا تر 4 بجو پورې) مطابق، د ګومارنې له اړینو شرایطو، او د منل شوو اجباري خدمتونو سره سم وړاندې شي.
- **روغتیایي مرکز:** د ملاریا، نس ناستې او حادو تنفسي ناروغیو په هکله پوهاوی او د یادو ناروغیو د شتون په صورت کې روغتیایي آسنتیاوو او روغتیایي زده کړو ته مراجعه کول.
- **فرعي روغتیایي مرکز:** د سینه بغل، نس ناستې او ملاریا درملنه، د زېږون پر وخت پاملرنه، دکورنۍ تنظیم، د نرې رنځ د پېښو موندنه او راجع کول او د واکسیناسیون خدمتونه.
- **اساسي روغتیایي مرکز:** غیر بستري ناروغانو ته پاملرنه، واکسین کول او مور او ماشوم ته پاملرنه، د تغذیې اړوند چارې.
- **جامع روغتیایي مرکز:** تر زېږون وړاندې، د زېږون پر مهال، تر زېږون وروسته او نوي زېږېدلي ماشوم ته پاملرنه او د واکسیناسیون، تغذي اړوند کړنو ترسره کول.

2. **دولت به په ښاري سیمو کې لاندې آسانتیاوې تامین کړي:**

د کلي ښاري پراختیایي شوراګانې به د څلورو کلونو په موده کې په منځنۍ توګه 70,000$ امریکایي ډالر مالي مرسته تر لاسه کړي. ښاري کلي (د یوې پراختیایي شورا تر پوښښ لاندې) کولای شي له لاندې نوملړ څخه یوه یا څو آسانتیاوې وټاکي:

- **کوڅو او ویالو ته وده ورکول:** چې د کوڅو، پیاده رووږو او ویالو کانکرېټ کول او د کوڅې په اوږدو کې د ونو اېښـــودل په کښې شامل دي.
- **د جامدو فاضـله موادو مدیریت**: د کورنۍ په کچه د فاضـله موادو مدیریت چې د ښـاروالۍ له لورې د فاضـله موادو د را ټولولو د میکانیزمونو په تړاو عامه پوهاوی په کې ګډون لري.
- **د ځښاک د اوبو برابرول:** کېدلای شي په دې برخه کې د ښاروالۍ د اوبو د موجوده شبکې غځول، د اوبو رسولو کوچنی سېستم یا د لاسي پمپونو نصبول شامل وي.
- **کورونو ته نمبر ورکول**
- **د ځښلو د اوبو د شبکې برابرول:** د ښاروالۍ د اوبو د موجوده شبکې غځول
- **د پارک/تفرېحي سیمې/لوبو میدان:** د ماشومانو او ښځو لپاره
- **د جامدو فضـله موادو مدیریت**: د ښـاروالۍ په مرسـته له ټاکل شـوې ځای څخه د فاضـله موادو سیمې ته د فاضـله موادو لېږد
- **د ښـځو لپاره معیشـتي پروژې**: د ګذر د مالي مرسـتې یوه سلنه به د ښـځو پروژو ته ځانګړې شـي، په ځانګړې توګه، په سیمه کې د اړوند ښاري مارکېټ له غوښتنو سره سم او د ښځو اقتصادي پیاوړتیا او ښځو ته لومړیتوب ورکونه
- **روښنایي/ برېښنا:** د برېښنا د ترانسفرمرونو د لګولو په ګډون، د برېښنا د شبکې غځول په کې شامل دي. سربېره پر دې، د څراغونو د نصبولو کار به په دوهمه درجه کوڅو کې تر سره شي.

**د: په شاملولو او بېوزلۍ د کچې په را ټیټولو باندې تمرکز**

(د کلي پراختیایي شوراګانو په لاسته راوړنو او پاتې کارونو چې باید تر سره شي، د نظرونو ورکول)

د تېرو 14 کلونو په موده کې، دولت 36,000 کلیو ته مالي وجهه په واک کې ورکړې ده او د تېرو 4 کلونو په موده کې 800 ښـــاري کلیو ته مالي وجهه ورکړل شوې ده تر څو د کلیو د هغه پراختیایي شوراګانو له لارې نوي بنسټیز جوړښتونه ورغوي او یا هم موجوده بنسـټیز جوړښـتونه بیا ورغوي، چې د ځایي سیمه ایزې پراختیا ځانګړې او د عامه مالي وجهو مدیریت یې تر سـره کولا. د دې کار په تر سره کولو سره د هېواد په کچه د پام وړ کلیوالو او ښـاري سیمو د څښـاک اوبو، برښـنا، زده کړو او روغتیایي آسـانتیاوو ته لاس رسی

(c) ketabton.com: The Digital Library



ومونږ او په پراخه کچه اړيکي تر لاسه شوي ، او د اوبو د مديريت د پرمختللي سيستم پر مټ يې کرنيزو محصولاتو وده وکړه او ټولنيز مرکزونه يې ورغول. له 2001 کال څخه را پديخوا، زموږ ټوليزې لاسته راوړني فوق العاده وي: 9 ميليونه ماشومانو ښوونځي ته لاړ ومونده، په زرګونه کليومتره سړک رغول شوي دی، او په زرګونه جريبه اضافي ځمکه اوس خړوبه شوې ده. ډيرې کلي اوسمهال بريښنا لري او روغتيايي کلينيکونو ته لاس رسی لري. خو دولت په سيستماتيکه توګه ټولو کورنيو ته لاس رسی نه دی موندلی او د ولسي تړون پروګرام به ستاسو په کلک زيار او کار کولو سره پاتي کورنيو ته لاس رسی ومومي. په کليو کې پراختيا تل په کافي توګه ټول شموله نه وه. نو له همدې امله، د ولسي تړون پروګرام به د کلي پراختيايي شوراګانو او فرعي کميټو په ظرفيتونو باندې ډېر ټينګار وکړي تر څو له بې‌وزلو ډلو سره کار وکړي او د ټولو ګوښه شوو او زيانمننکو وګړو له شموليت/ګډون څخه ډاډ تر لاسه کړي.

د ټېرې لسيزې په موده کې زموږ هڅو او کار په پوره توګه د بې‌وزلي کچه نه ده را ټيټه کړې او د پام وړ شمېر وګړي لا تر اوسه هم د خدمتونو او هغه لارو چارو له نه شتون سره مخ دي چې په واسطه يې کولای شي خپل ژوند/معيشت ته وده ورکړي. بې‌ځايه شوي کسان، د اقتصادي ستونزو له امله کډوال شوي کسان او نور لې‌ړې پراته محلات په خپل حال پاتي شوي دي او د کلي په پراختيايي شوراګانو، ګذر شوراګانو يا د کلي پراختيايي شوراګانو په کلستر کې د دوي غږ نه دی اورېدل شوی. دا هر څه بايد بدلون ومومي. د فرعي پروژو ( کيفيت، فعال والی، ساتنه او مالي مديريت) پر څارنې سربېره، د بې‌وزلو په ګټه د پراختيايي کړنو په برخه کې به د کلي پراختيايي شوراګانو، د ګذر شوراګانو او د کلي پراختيايي شوراګانو کلستر دنده وڅارل شي.

**ه: د ولسي تړون پروګرام په عمل کې – د دولت او کليو تر مينځ ملګرتيا**

**i. د کلي پراختيايي شوراګانو او فرعي کميټو دندې او مسئوليتونه**

**د کلي پراختيايي شوراګانې CDCs (بوازې ټاکل شوي غړي)**

- د ګډه ايزو طريقو له لارې، د خپل کلي د ټولنيز ـ اقتصادي حالت ارزول، او د کلي په اړه د معلوماتو په چمتو کولو کې مرسته کول.
- په غونډو او پراختيايي کړنو کې د ګډون په موخه د تر ټولو بې‌وزله کورنيو (هغه ښځې چې د خپلو کورنيو مشراني دي، هغه کورنۍ چې د کورنۍ مشر يې معيوب وي او نورې زيان منونکي ډلې) هڅول او د دوی له ګډون او مشورو اخيستلو څخه ډاډ تر لاسه کول.
- د بهرنيو پراختيايي سرچينو د عادلانه، ټول شمول او ګډه ايز تخصيص او کارولو، څارنې او مديريت مسئوليت پر غاړه اخيستل.
- د عامه ځمکو مديريت او د عامه سرچينو ( طبيعي او بنسټيز جوړښت ) ساتنه کول.
- د کلي/ په محلي کچه د خدمتونو د وړاندې کوونکو څارنه ( لکه د نمرې ورکولو کارتونه).
- د فرعي کميټي څارل او مرسته ورسره کول.
- له بهرنيو مالي وجهو څخه پرته د ځايي کارپوهانو او هڅاندو کسانو او ډلو له لارې د بې‌وزلو په ګټه د پراختيايي پروګرامونو (نوښتونو) ملاتړ کول.
- د عامه خدمتونو ( لکه زده کړو، روغتيا) او د هغې د غوښتنې په هکله د عامه پوهاوي د کچې لوړول؛ د کليوالو نظرياتو ته ځواب ويل.
- اړوندو دولتي ادارو ته د شکايتونو او د خدمتونو په وړاندې کولو کې د شته تشو راجع کول
- د دولت له لورې د کلي په مشرۍ د روغتيا ساتنې/حفظ الصحي له هلو ځلو څخه ملاتړ کول او د روغتيا ساتنې له فرعي کميټو او عادي خلکو سره مرسته کول تر څو په آزاده فضا کې له حاجت رفع کولو څخه کلي خالي کړي، فاضله مواد په خونديې توګه دفع/خښ کړي او د روغتيا ساتنې کړنې ترسره شي.
- په خپلو کليو کې د دولتي او غير دولتي پراختيايي کارکوونکو د امنيت او خونديتوب تامينول.

**د کلي پراختيايي شورا فرعي کميټې ( د زده کړو، روغتيا، کرنې، روغتيا ساتنې/حفظ الصحی، ځوانانو او چاپېريال)(ټاکل شوي او عام خلک):**

په فرعي کميټو کې د کلي په کچه په پراخه توګه فعالين ګډون لري: د کلي پراختيايي شورا غړي، کارپوهان ( ښوونکي، بزګر، او داسي نور ...)، هغه کسان چې د ځاني مرستندويه/ لې‌واله ډلو ( نالوستو والدينو، د لږ ځمکې درلودونکو، د ځمکې نه درلودونکو نارينه او ښځې‌نه وو، معيوبينو، با استعداده، پياوړو او هڅاندو ځوانانو، داخلي بې‌ځايه شوو کسانو او داسې نورو ...) استازيتوب کوي.

- د پوهاوي د تګلارو را مينځ ته کول ( د دوی د ځانګړې کارې برخې لپاره)
- د عامه خدمتونو لپاره د غوښتنو توليدول ( د دوی د ځانګړې کارې برخې لپاره)
- خلک د عامه خدمتونو د کاروني لپاره هڅول ( د بې‌لګې په توګه، ښوونځيو ته د نجونو په ګډون د خپلو ماشومانو استول، او ښځو ته وړتيا وربښل تر څو د معاينې او درملنې په موخه روغتيايي مرکزونو ته لاړې شي)
- په غونډو او پراختيايي چارو کې له تر ټولو بې‌وزلو کورنيو ( هغه ښځې چې د خپلو کورنيو سرپرستي ور په غاړه وي، هغه کورنۍ چې د کور سرپرست يې معيوب وي، او نورو زيان منونکو ډلو) څخه د مشورو اخيستل او د هغوی له ګډون څخه ډاډ ورکول او په دې برخه کې د دوی هڅول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- د ځايي کارپوهانو ( ښوونکو، برياليو او نوښتګرو بزګرو او داسي نورو) په ګوته کول او هڅول تر څو مشورې او لارښوونې ورانديځ کړي.
- د محلاتو په واسطه د مهمو خدمتونو د کاروني څارنه او د کلي له پراختيايي شورا سره يې شريکول
- د خلکو هڅول تر څو په پراختيايي چارو کې له بهرنيو سرچينو پرته مرسته وکړي
- په کلي کې لېواله/ ځاني مرستندويه ډلې ( د دوی د ځانګړې کاري برخې لپاره) له کارپوهانو سره په اړيکه کې کول، د دوی لپاره د سرچينو په برابرولو او عدالت غوښتنې په برخه کې د دوی ملاتړ کول.

**ii. د کلي پراختيايي شوراګانو کلستر/ګذر شورا ګانو او فرعي کميټو دندې او مسئوليتونه**

**<u>د کلي پراختيايي شوراګانو کلستر/ګذر شوراګانې:</u>**

- د کليو/ محلاتو د کلسټر په کچه په عادلانه، ټول شمولې او ډله ايزه توګه د بهرنيو پراختيايي سرچينو د تخصيص او کاروني مسئوليت په غاړه اخيستل او له دې بهير څخه څارنه او مديريت کول، چې د عامه بنسټيزو جوړښتونو بيا رغونه او جوړول په کې شامل دي
- په غونډو او پراختيايي چارو کې له تر ټولو بېوزلو کورنيو ( هغه ښځې چې د خپلو کورنيو سرپرستې ور په غاړه وي، هغه کورنۍ چې د کور سرپرست يې معيوب وي، او له نورو زيان منونکو ډلو) څخه د مشورو اخيستل او د هغوی له ګډون څخه ډاډ تر لاسه کول او په دې برخه کې د دوی هڅول.
- له فرعي کمېټو سره مرسته کول ترڅو د عامه ځمکو او سرچينو مديريت او ساتنه وکړي (طبيعي او زېربنايي)
- د آسانتياوو پر بنسټ او نورو خدمتونو د وړاندې کولو څارنه کول
- د فرعي کميټو څارنه او ملاتړ کول
- په کلسټر کې شاملو تر ټولو بېوزلو، بې برخې يا لرې پرتو کليو ته په ځانګړې پاملرنې سره د کليو تر مينځ د يووالي او همکارۍ د احساس را مينځ ته کول
- د کلسټر تر پوښښ لاندې د ټولو کليو هڅول او د هغوی ملاتړ کول تر څو د بهرنيو سرچينو له لوري تمويلېدونکو او له بهرنيو سرچينو پرته پراختيايي موضوعګانو په نښه کولو کې برخه واخلي.
- د خدمتونو د غوښتنې، نظرونو او شکايتونو د وړاندې کولو په موخه د ولسوالۍ/ښاروالۍ په کچه د عامه خدمتونو د وړاندې کوونکو تر مينځ د وظيفوي اړيکو را منځ ته کول

**<u>د کلي پراختيايي شوراګانو کلسټر فرعي کميټې ( د ښوونځي د مديريت شورا SMS، د روغتيايي آسانتياوو مديريت، د ابو لګولو اتحاديې، د طبيعي سرچينو مديريتNRM) (ټاکل شوي او عام خلک ) :</u>**

د کليوالو ښاري سيمو په فرعي کميټو کې له کلي څخه په پراخه توګه فعالين ګډون لري: د کلي پراختيايي شورا غړي، کارپوهان ( ښوونکي، بزګر، او د اوبو ويشونکي (په سيمه ايزو او نيمه ښاري کليو کې)، او داسې نور...)، او هغه کسان چې د ځاني مرستندويه/ لېواله ډلو ( بزګرو، اوبو کاروونکو، نالوستو ميندو او پلرونو، د لږ ځمکې درلودونکو، د ځمکې نه درلودونکو نارينه او ښځينه وو، معيوبينو، با استعداده، پياوړو او ځانده ځوانانو، داخلي بېځايه شوو کسانو او داسې نورو ...) استازيتوب کوي.

- د اړونده پراختيايي شورا له فرعي کميټې سره په همغږۍ - د پوهاوي د تګلارې را مينځ ته کول ( د دوی د ځانګړې کاري برخې لپاره).
- د اړونده پراختيايي شورا له فرعي کميټې سره په همغږۍ - د خدمتونو لپاره د غوښتنو را مينځ ته کول ( د دوی د ځانګړې کاري برخې لپاره).
- په غونډو او پراختيايي چارو کې له تر ټولو بېوزلو کورنيو ( هغه ښځې چې د خپلو کورنيو سرپرستې ور په غاړه وي، هغه کورنۍ چې د کور سرپرست يې معيوب وي، او نورې زيان منونکې ډلې) څخه د مشورو اخيستل او د هغوی له ګډون څخه ډاډ تر لاسه کول او په دې برخه کې د دوی هڅول.
- د آسانتياوو پر بنسټ څارنه کول
- د طبيعي سرچينو مديريت او ساتنه کول او د دې سرچينو (لکه د اوبو، څرځايونو، ځنګلونو) د مساويانه تخصيص څارنه کول
- په کلي کې د لېواله/ ځاني مرستندويه ډلو (د دوی د ځانګړې کاري برخې ) ملاتړ کول
- په کلي کې لېواله/ ځاني مرستندويه ډلې ( د دوی د ځانګړې کاري برخې لپاره) له کارپوهانو سره په اړيکه کې کول، د دوی لپاره د سرچينو په برابرولو او د عدالت غوښتنې په برخه کې د پراختيايي شوراګانو د کلسټر په وړاندې د دوی ملاتړ کول.

**iii. <u>د وګړو دندې او مسئوليتونه</u>**

- د کلي پراختيايي شورا په ټاکنو کې رايه ورکول
- د ټولنيزو کارکوونکو او د کلي پراختيايي شورا ګانو له لوري په تنظيمېدونکو شننو/تحليلونو، بحث او پلان جوړولو په غونډو کې په برخه اخيستلو سره، په فعاله توګه په پراختيايي بهير کې ګډون کول
- ښوونځيو ته د ماشومانو له تګ او لومړنيو روغتيايي خدمتونو ته د ټولو کورنيو د غړو له لاس رسي او برخمن کېدو څخه ډاډ تر لاسه کول ( د بېلګې په توګه واکسين).

(c) ketabton.com: The Digital Library



- د بهرنيو سرچينو له لوري د تمويلېدونکو کړنو په اړه د شته مهارتونو، استعدادونو او پوهې په کارولو سره رضاکاري او مرسته کول او له بهرنيو سرچينو څخه پرته د پراختيايي پروګرامونو (نوښتونو) طرح او پلي کول ( د بېلګې په توګه په ښاري سيمو کې: د سړکونو پاکول، د ونو کېنول، د فاضله موادو را ټولول، او داسې نور...)
- د کلي پراختيايي شوراګانو څارنه (د مالي او سرچينو د تخصيص له مخې)
- له هغو کسانو سره مرسته کول چې معيوب ، کمزوري يا ګوښه شوي دي تر څو د يو ښه ژوند خاوندان شي
- د هر اړخيزې پراختيا او په کلي کې د ټولو ډلو د غوښتنو لپاره د غږ پورته کول
- د لږ تر لږه 25٪ / 10 ونډې اخيستلو په موخه په رضاکارانه ډول کار کول
- لاس رسي ته وده ورکول او د دولتي پراختيايي او بشردوستانه کارکوونکو له خونديتوب څخه ډاډ ترلاسه کول

**iv. د ټولنيزو کارکوونکو دندې او مسئوليتونه**

ټولنيز کارکوونکي (SOs) هغه مخکښ کارکوونکي دي چې د همکاره مؤسسو له لوري د کلي له پراختيايي شوراګانو، د کلي پراختيايي شوراګانو کلسټر او ګډرونو او نورو بېلابېلو فرعي کميټو، او همدارنګه له لېوالو ډلو سره د کار کولو په موخه ګمارل شوي دي. ټولنيز کارکوونکي لاندې دندې او مسئوليتونه لري:

- د ولسي تړون پروګرام په هکله د عامه پوهاوي وړاندې کول
- د ټاکنو د بهير تسهيل کول
- د کلسټرونو تسهيل کول
- د کلي له پراختيايي شورا سره د بانکي حسابونو او فرعي بانکي حسابونو په پرانیستلو کې مرسته کول
- د کلي له پراختيايي شورا سره د کلي په اړه د معلوماتو په چمتو کولو کې مرسته کول
- د پلان جوړولو د پروسې د غني کولو په موخه د ګډه ايزو وسيلو تسهيل او د کلي له پراختيايي شورا سره د ګډه ايز او د بېوزلو په کټه د کلي د هراړخيزو پلانونو په جوړولو کې مرسته کول
- په غونډو او پراختيايي چارو کې له تر ټولو بېوزلو کورنيو ( هغه ښځې چې د خپلو کورنيو سرپرستي ور په غاړه وي، هغه کورنۍ چې د کور سرپرست يې معيوب وي، او نورې زيان منونکي ډلې) څخه د مشورو اخيستل او د هغوی له ګډون څخه ډاډ تر لاسه کول او په دې برخه کې د دوی هڅول.
- د تشو/خلا تحليل
- له فرعي کميټو سره د دوی د دندو او مسئوليتونو په تر سره کولو او له هغوی سره په ځاني ارزونو کې مرسته کول
- د کلي پراختيايي شوراګانو او د کلي کلسټري پراختيايي شوراګانو او ټولو فرعي کميټو د وړتياوو لوړول تر څو خپلې دندې او مسئوليتونه په ښه توګه سر ته ورسوي
- بېوزله نارينه وو، ښځو او ګوښه شوو ډلو ته په ځانګړې پاملرنې سره، په کليو کې د لېواله او ځاني مرستندويه ډلو تسهيل کول
- د کلي په مشرۍ د روغتيا ساتنې/حفظ الصحې تسهيل او ملاتړ کول
- د ولسوالۍ په کچه د همکاره مؤسسې مدير ته راپور ورکول
- د ولسي تړون پروګرام د پلي کولو په برخه کې د درغليو/انحراف په هکله راپور ورکول (فساد / چل / غلا / بد چلند)
- د لړۍ په نيمايي کې د روزنې په برخه کې د کلي د پراختيايي شوراګانو او فرعي کميټو د اړتياوو ارزونه او د بيا ځلې روزنيزو پروګرامونو چمتو کول او
- د چاپېريالي ټولنيز مديريت د کاري چوکاټ د لاربنودونو تعقيبول

**v. د انجنيرانو دندې او مسئوليتونه**

- د کلي پراختيايي شوراګانو او دکلي پراختيايي شوراګانو کلسټر ته د مرستې، ملاتړ او تخنيکي لارښوونې د لاس ور غځول تر څو وکولای شي د کلي د پراختيايي پلانونو د بنسټيز جوړښت برخه پلي کړي چې په دې سره به د بنسټيزو جوړښتونو پروژې د کيفيت او دوام له پلوه د ډاډ وړ وي.
- د تخنيکي سروې ترسره کول او پر ډيزاين، لګښت ټاکنې ، د پروژې د وړانديز په چمتو کولو باندې کار کول
- د توکو په تدارکاتو کې له کليو سره مرسته کول
- د بنسټيزو جوړښتونو د رغونې/ بيا رغونې د کار پر مهال د تخنيکي څارنې د توکو برابرول
- په غونډو او پراختيايي چارو کې له تر ټولو بېوزلو کورنيو ( هغه ښځې چې د خپلو کورنيو سرپرستي ور په غاړه وي، هغه کورنۍ چې د کور سرپرست يې معيوب وي، او نورې زيان منونکي ډلې) څخه د مشورو اخيستل او د هغوی له ګډون څخه ډاډ تر لاسه کول او په دې برخه کې د دوی هڅول.
- د محاسبې د اسنادو په چمتو کولو او ساتنه او همدارنګه د پروژو په اړه په راپور ورکولو کې د کلي له پراختيايي شوراګانو سره مرسته کول
- ولايتي اداري واحدونو ته د فرعي پروژو د پرمختګ په هکله راپور ورکول
- د عملياتي او حفظ او مراقبت د پلانونو په جوړولو کې د کلي له پراختيايي شورا سره مرسته کول او په هکله يې د دوی روزل

(c) ketabton.com: The Digital Library



- د کلي له پراختيايي شوراګانو سره د فاضله موادو د مديريت او چاپېريال ته د ودې ورکولو او خونديتوب د پاملرنې په تړاو د کليو په هڅونه کې مرسته کول.
- د بنسټيزو جوړښتونو د عملياتو او ساتنې په لاره کې د لارښوونو د وړاندې کولو په موخه د ځايي کارپوهانو (ختيځرو، ترکاڼانو، او برقيانو) د وړتياوو لوړول
- د کلي له پراختيايي شوراګانو سره د فرعي پروژو د پلان او پلي کولو پر مهال د چاپېريالي او ټولنيز خونديتوب د کړنلارو په تعقيبولو کې مرسته او ملاتړ کول.
- د کلي له پراختيايي شوراګانو او د کلي پراختيايي شوراګانو له کلستر سره په هغو پروژو کې مرسته کول چې د کلي د داخلي سرچينو او رضاکاره کارکوونکو له لوري تمويلېږي
- په نقشه جوړولو، تجزيه او تحليل، پلان جوړولو او نورو کړنو کې د همکارۍ مؤسسې له ټولنيزو کارکوونکو سره مرسته کول.
- د کلي له پراختيايي شوراګانو، ګذر شوراګانو، د کلي پراختيايي شوراګانو له کلستر سره د چارو د بشپړېدو د راپورونو په ليکلو او مالي توکو په تسليمي او داسې نورو برخو کې مرسته وکړي
- د چاپېريالي او ټولنيز مديريت د سېستم (**ESMS**) او بيا مېشت کېدو د پاليسی د چوکاټ (**RPF**) تعقيبول او د چاپېريال د مديريت پلان جوړول (**EMP**)

vi. د دولت دندې او مسئوليتونه ( ولايت، ولسوالي او اړوند وزارتونه)

**والـــــيان**

- د کلنيو موخو د لاسته راوړنو څارنه او په هکله يې د ماليې وزارت ته راپور ورکول
- د حســـــاب ورکونې په موخه د بحث کوربه توب کول او د ولســـي تړون د چارو د پلي کېدو په هکله د کليوالو نظريات اخيستل/ترلاسه کول
- په خپل اوړوند ولايت کې د ولسي تړون پروګرام ملاتړ او د اړتيا په صورت کې د شخړو هوارول
- اړوندو وزارتونو او همکارو مؤسسو ته نظريه/فيډبک ورکول
- په ولايتونو کې د ولسي تړون د لومړني وياند په توګه کار کول
- د ولسوالی په کچه د ولسي تړون پروګرام د مديريت د کميټو (**DCCMC**) څارنه کول (تکرار او کيفيت)
- د اړوندو وزارتونو د کړنو څارل ( د بشري سرچينو تخصيص او د لږ تر لږه خدمتونو د معيارونو وړاندې کول)

**ولسوالان**

- د ولسي تړون پروګرام د چارو ملاتړ او د اړتيا په صورت کې د شخړو په هوارۍ کې مرسته کول
- د ولسوالی په کچه د ولسي تړون پروګرام د مديريت د کميټې (**DCCMC**) د غونډو همغږي کول
- د ولسوالی په کچه د اړوندو وزارتونو همغږي کول
- د ولسوالی په کچه د اړوندو وزارتونو د کارکوونکو او د کلي پراختيايي شوراګانو له کلستر سره د دوی د متقابلو کړنو څارنه
- د ولسوالی د پراختيايي شورا يا د ولسوالی د همغږی شورا (که چېرې شتون ولري) ، د سيمه ايزو ارګانونو د خپلواکي اداري او اړوندو ( کرنې او مالدارۍ، ښوونې، روغتيا او د کليو د بيا رغونې او پراختيا) وزارتونو له استازو سره په سلا مشوره د کلستر جوړونې د بهير څارل

**اړوند وزارتونه**

**مرکز:**

- د مالي سرچينو وړاندې کول او د هغوی د کارونې څارنه
- د بنسټيزو جوړښتونو د جوړولو او ساتنې په موخه د کلي له پراختيايي شوراګانو، ګذر شوراګانو او د کلی پراختيايي شوراګانو له کلستر سره د تخنيکي مرستې ترسره کول.
- په غونډو او پراختيايي چارو کې د تر ټولو بېوزلو کورنيو ( هغه ښځې چې د خپلو کورنيو سرپرستې ور په غاړه وي، هغه کورنۍ چې د کور سرپرست يې معيوب وي، او نورې زيان منونکې ډلې) څخه د مشورو اخيستل او د هغوی له ګډون څخه ډاډ تر لاسه کول او په دې برخه کې دوی هڅول.
- د تمويل، څارنې او کيفيت وړ کار د ترسره کولو په موخه د همکارو مؤسسو مسئول او حساب ورکوونکي ګڼل
- په ولايتونو او ولسوالی کې د اړوندو وزارتونو د کارکوونکو څارل او هغوی ته لارښوونه کول
- د ولسي تړون پروګرام د ښه پلي کولو په موخه د پاليسی د موادو وړاندې کول
- د کلي پراختيايي شوراګانو، ګذر شورا د کلي پراختيايي شوراګانو د کلستر په ګوته شوو اړتياوو ته ځواب ويل.
- له ولايتي اداري واحدونو سره مرسته کول

**ښاروالی/ ولايتی اداری واحد:**

- د ولايت په کچه د ولسي تړون د پلي کولو همغږي کول
- ټولو تخنيکي کارکوونکو ته لارښوونه او د هغوی څارنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



- په غونډو او پراختيايي چارو کې د تر ټولو بېوزلو کورنيو ( هغه ښـځې چې د خپلو کورنيو سـرپرسـتې ور په غاړه وي، هغه کورنۍ چې د کور سرپرست يې معيوب وي، او نورې زيان منونکې ډلې) څخه د مشورو اخيستل او د هغوی له ګډون څخه ډاډ تر لاسه کول او په دې برخه کې دوی هڅول
- د معلوماتو څارنه ( د کلي په هکله معلومات )
- د تخنيکي کارکوونکو لپاره له لوجيستيکي ستراتيژی او ملاتړ څخه ډاډ تر لاسه کول
- د دولت له کارکوونکو سره د همکارو مؤسسو او د هغوی د متقابل عمل همغږي کول
- د ښاروالی له مشورتي بورډ MAB سره همغږي

**اړيکې**

1. **د دولت/کلي د اړيکې موخه**

دولت دا مني چې د دولت، د کلي پراختيايي شوراګانو او د کلي پراختيايي شوراګانو کلستر/ګذرونو تر مينځ اړيکه يوازې هغه وخت را مينځ ته کېدلای شي چې داسي کړنلارې / ځايونه شتون ولري چې د متقابل عمل د پېښېدو شونتيا په کښې وليدل شي. د ولسي تړون پروګرام به د ولسـوالۍ په کچه په سـيمه ايزو برخو کې د ولســي تړون پروګرام د مديريت کميټه (DCCMC) او په ښـاري برخو کې د ناحيې/ښاروالۍ په کچه د ولسي تړون کميټه (NCCMC/ MCCMC) ولري. د مديريت هغه کميټې چې د ولسي تړون پروګرام ټول اړوند وزارتونه په کې شـــامل وي، به نه يوازې د اړوندو وزارتونو له لوري د خدمتونو وړاندې کول همغږي کړي، بلکې همدرانګه به د کلي د ټاکل شوو استازو او دولتي کارکوونکو تر مينځ د اړيکې مسئوليت ولري.

مهاليزې غونډې به ټاکل شوو استازو ته وړتيا ور وبښي تر څو

- له ښـــه خدمت څخه د ډاډ په موخه نظر وړاندې کړي او بحث وکړي (د دولت له لوري د ټاکل شــوو لړ تر لړه خدمتونو په معيارونو باندې په تمرکز سره)
- د کيفيت وړ خدمتونو په وړاندې کولو کې له ولسوال او اړوندو وزارتونو څخه د ملاتړ غوښتنه وکړي
- د پراختيايي کړنو په اړه بحث او له بېلابېلو فعالينو لکه نادولتي ادارو او خصوصي سکټور سره د اړتيا وړ مرسته وکړي
- تر ټولو ښې کړنې/تجربې سره شريکې کړي
- هغه شــکايتونه په نښــه کړي چې د کلي په کچه نه دي حل شــوي او د اړتيا په صــورت کې يې د حل په موخه لوړو مراجعو ته راجع کړي
- د مهمو فعاليتونو ملاتړ وکړي، د بېلګې په توګه د تر ټولو اړمنو خلکو ( لکه د ښځينه سرپرست لرونکې کورنۍ يا هغه کورنۍ چې مشري يې معيوبو کسانو ته ور په غاړه ده) د خوراکي توکو خونديتوب په نښه کړي
- په ولسوالۍ کې د طبيعي/ عامه شتمنيو او سرچينو په اړه بحث او مديريت ته پاملرنه وکړي
- د مهمو پراختيايي موضوعګانو په هکله د عامه پوهاوي کچه لوړه کړي
- د ولســـوالۍ/ناحيې/ښـــاروالۍ په کچه د پلان جوړولو لپاره مواد برابر کړي او د ولســـي تړون پروګرام د فرعي کميټو او د ولسوالۍ/ناحيې/ښاروالۍ په کچه د پلان جوړولو تر مينځ د تړاو پر څرنګوالي بحث وکړي
- عادلانه پراختيا تشريح کړي
- د پراختيايي کارکوونکو د خونديتوب په هکله بحث وکړي
- موضوعګانې مطرح کړي او د شخړو د حل ملاتړ او په لټه کې شي
- د ناورين د خطرونو د کچې را ټيټول او د ناورين مديريت همغږي کړي

2. **د غونډو او مهمو فعالينو مهالويش**

په کليوالو سيمو کې، د کلي پراختيايي شورا هر کلسټر به د ولسوال په مشرۍ، د ولسوالۍ په کچه د هر اړوند ( ښوونې، عامې روغتيا، کرنې او د کليو د بيا رغونې او پراختيا) وزارت له استازو څخه جوړه شوې د ولسي تړون د مديريت له کميټې DCCMC سره ربع واره غونډې ولري. د کلي په اړوندو پراختيايي شــوراګانو، د کليو پراختيايي شــوراګانو په کلســټر کې د پلي کولو په موخه مســئول ټولنيز کارکوونکي او انجنيران بايد همدارنګه د کتونکو په توګه حاضــر وي او ډاډ ورکړي چې د دوی کار په دې غونډه کې را ولاړې شــوې موضوعګانې او هغه ټکي په پام کې نيسي چې هوکړه ورباندې وشوه.

که چېرې شونې وي، په خوندي سيمو کې، لکه باميان، د کلي پراختيايي شوراګانو کلسټر مرکزي برخې ته د دولتي کارکوونکو په سفر کولو سره به د ولسوالۍ په کچه د ولسي تړون د مديريت کميټې او د کلي پراختيايي شورا کلسټر غونډې د کلسټر په کچه تر سره شي او دا غونډې به په ساحه ( ښـوونځي يا ټولنيز مرکز ) کې تر سره شـي. په هغه سيمو کې چې د دولتي کارکوونکو تګ او راتګ شونی نه وي، د کلي پراختيايي شوراګانو د کلسټر غړی به ولسوالۍ ته سفر وکړي چې هلته به دا غونډې تر سره شي.

په ښاري سيمو کې، چېرې چې د وګړو د تراکم کچه ډېره لوړه ده او په دې توګه به ډېر شمېر ټاکل شوې شوراګانې ، د ناحيې په کچه د ولسـي تړون د مديريت کميټه په يو وخت له دريو ګذرونو سـره ناسـته ترسـره کړي. د ناحيې په کچه د ولسـي تړون د مديريت کميټه NCCMC به د ښاروال په مشرۍ د ولسوالۍ په کچه د ولسي تړون د مديريت کميټې غړو ته ځای ورکړي. يوازې لکه په کليوالو سيمو کې، دا غونډې به په ربعه واره توګه تر سره شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هر شپږ میاشتي وروسته به د ولسوالی/ښاروالی په کچه غونډې ترسره شي چې په ولسوالی/ښاروالی کې به د کلي پراختیایي شوراګانو له هر کلستر/ګذر څخه لږ شمېر استازي ( 1 – 2 ) سره را ټول شي تر څو د ولسوالی/ښاروالی په کچه پراختیایي موضوعګاني او ستونزې په پام کې ونیسي او په هکله یې بحث وکړي. په دې ډول د خلکو را غونډېدل به د کلي پراختیایي شوراګانو له یو کلستر یا مختلفو ګذرونو څخه د باندې موضوعګانو په هکله د بحث کولو فرصت برابر کړي، لکه د ناورینونو پر وړاندې چمتو والی، د طبیعی سرچینو مدیریت ( د اوبو لرونکي ځمکه، د څرځای ځمکه)، پراختیایي پلانونه او داسې نور. دا غونډې به همدا ډول د ولسوالانو او ښاروالانو په مشرۍ تر سره شي.
په ولسوالی او ښاروالی/ناحیه کې له کلیو سره د ولسي تړون د مدیریت کمیټې د متقابل عمل د بې‌لابېلو موخو سربېره ( چې پورته په ګوته شوي دي)، دا کمیټې باید کار وکړي تر څو د دولت او کلیو تر مینځ اړیکه بنسټیزه کړي او د وخت په تېرېدو سره د باور پر بنسټ اړیکې جوړې کړي، چې په دې سره د خلکو تاکل شوي استازي او عام خلک د ویاړ احساس کوي او خپلې ولسوالۍ ته د ' زموږ ولسوالي' او ' زموږ د ولسوالۍ اداره ' په نظر ګوري او پوهېږي چې دلته د اړتیا په صورت کې همکاري، همغږي او خلکو ته د خدمت او د هغوی د ستونزو د هوارولو لپاره اراده شتون لري.

**3. <u>د ولسوالۍ په کچه د ولسي تړون پروګرام د مدیریت کمیټې DCCMC، د ناحیې/ښاروالۍ په کچه د ولسي تړون د مدیریت کمیټوNCCMC/MCCMC او د کلي پراختیایي شورا/ګذر غونډې</u>**

د کلیوالو سیمو په کچه (دولسوال) یا په ښاري سیمو کې (د ښاروال) په مشرۍ، د ولسوالۍ په کچه د ولسي تړون د مدیریت کمیټې DCCMC او د ناحیې/ښاروالۍ په کچه د ولسي تړون د مدیریت کمیټېNCCMC/MCCMC هره درې میاشتنې غونډه به له هر اړوند وزارت سره چې په دې فعالیت کې ونډه اخلي مستند شي. یادښتونه به ولیکل شي او د ټولو اړوندو وزارتونو تر مینځ به ووېشل شي، او همدارنګه به د کلي پراختیایي شوراګانو کلستر/ګذر رئیس او اړونده همکارې مؤسسې په واک کې ورکړل شي. د عمل ټکي به له ټاکل شوو مسئولو کسانو (ښایي اړوند وزارت، د کلي پراختیایي شورا کلستر/ګذر یا همکاره مؤسسه وي) سره یو ځای ولیکل شي او په هره راتلونکې غونډه کې به د عمل ټکي وکتل شي او مسئول کسان به له ګډون کوونکو سره معلومات شریک کړي چې لاس ته راوړنې څه دي یا دا چې ولې یو شمېر کارونه نه دي ترسره شوي او موخې ته د رسېدو لپاره څه ملاتړ ته اړتیا ده. د ربعه وارو غونډو یادښتونه باید د ولسوالانو له لورې د والي په واک کې ورکړل شي او هر اړوند وزارت باید د غونډې یادښتونه د ولایت په کچه خپلو څارونکو (سوپروایزرانو) ته واستوي.

**4. <u>د ولسوالۍ په کچه د ولسي تړون پروګرام د مدیریت کمیټې DCCMC، د ناحیې/ښاروالۍ په کچه د ولسي تړون پروګرام د مدیریت کمیټې NCCMC/MCCMC او د ولایت په کچه د ولسي تړون پروګرام د مدیریت کمیټې PCCMC، او ښاروالۍ په کچه د ولسي تړون د مدیریت کمیټې MCCMC د همغږۍ غونډې</u>**

د ولسوالۍ په کچه د ولسي تړون پروګرام د مدیریت کمیټه به د والي په مشرۍ د ولایت په کچه د ولسي تړون پروګرام د مدیریت له کمیټې (سیمه ایزه او ښاري) سره د همغږۍ دوه میاشتنۍ غونډې تر سره کړي. د ناحیې په کچه د ولسي تړون پروګرام د مدیریت کمیټه به په لومړي ګام کې د ښاروالۍ په کچه د ولسي تړون پروګرام د مدیریت کمیټې ته د درې میاشتنۍ راپور ورکوني پر بنسټ راپور ورکړي او همدارنګه به د والي په مشرۍ د ولسي تړون پروګرام د مدیریت ولایتي کمیټې په دوه میاشتنیو غونډو کې برخه واخلي او په هکله به یې راپور ورکړي. د همغږۍ دا غونډې د ښاروالانو او والیانو له لورې د څارنې او د ولسي تړون پروګرام د پلي کېدو د اصولو په پام کې نیولو ، او د کلي پراختیایي شوراګانو د کلستر، د ولسوالۍ په کچه د ولسي تړون پروګرام د مدیریت کمیټې، ګذر او ناحیې په کچه د ولسي تړون پروګرام د مدیریت کمیټې تر مینځ مهالنی/دوره یې لیدنو کتنو (اړیکې ) له شتون څخه ډاډ ورکوي او د خدمتونو د وړاندې کولو په برخه کې به هغه مهمې موضوعګانې حل او په نښه شي، چې د ټاکل شوو استازو له لورې په ګوته شوې دي (د شکایتونو حل ته په یوه جلا لاربښوود اشاره شوې ده)

5. **<u>د ولسي تړون پروګرام د مدیریت ولایتي کمیټه PCCMC او د ولسي تړون پروګرام تخنیکي کاري ډله CCTWG ( مرکز)</u>**

د ولسي تړون پروګرام د مدیریت ولایتي کمیټې ( ښاري او کلیوالي) به په دوره ای توګه د مالیې، د کلیو د بیا رغونې او پراختیا، کرنې او مالدارۍ، عامې روغتیا او پوهنې وزارتونو او د سیمه ایزو ارګانونو د خپلواکه ادارې په مشرۍ د ولسي تړون پروګرام له تخنیکي کاري ډلې سره اړیکه ټینګه کړي او په همغږۍ کې به و اوسي.

**<u>د کلي په هکله معلومات – کلیوالي</u>**

د کلي په هکله د معلوماتو موخه، د کلي پراختیایي شورا غړو او د هغې فرعي کمیټو ، او همدارنګه د کلي پراختیایي شوراګانو کلستر، د ولسوالۍ په کچه د ولسي تړون پروګرام د مدیریت کمیټې، د ولایت په کچه د ولسي تړون پروګرام د همغږۍ کمټې او ټولو اړوند وزارتونو ( هغه چې د ولسي تړون پروګرام یوه برخه دي او هغه چې د ولسي تړون پروګرام برخه نه دي (لکه د کار، ټولنیزو چارو، شهیدانو او معلولینو وزارت) او د مالیې وزارت ته ورتیا ور بښل دي تر څو د هدف وړ مهمو ډلو لپاره ځانګړې اقدامات پلان، طرح/ډیزاین او بودیجه کړي.
د کلي په <u>هکله معلومات</u> کومه سرشمېرنه نه ده. دا ځکه چې ټولنیز کارکوونکي باید خپل ډېر وخت د کلي له پراختیایي شوراګانو/ د کلي پراختیایي شوراګانو له کلستر، د دوی له فرعي کمیټو او د کلي په کچه له ډلو سره تېر کړي، او همدارنګه ځکه چې د ولسوالۍ په کچه د معلوماتو د درج کولو ډله ( 1 کس ) نه شي کولای ډېر معلومات په ټاکل شوي سېستم کې داخل کړي. هغه معلومات چې په لاندې توګه به راټول او بحث به پرې وشي پورته ذکر شوې موخه بیانوي.

**په دوه پړاوونو کې د کلي په هکله معلومات**

لومړی پړاو: د ولسي تړون پروګرام په هکله د عامه پوهاوي د کچې لوړولو د کتنې تعقیبول او له ټاکنو څخه د مخه
دوهم پړاو: د کلي پراختیایي پلان له بهیر څخه د مخه د بېوزلۍ د تحلیل او اړتیاوو د ارزونې تعقیبول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**لومړی پړاو**: د کورنۍ اړوند معلومات. طریقه: سروې. د هرې کورنۍ پر سر به د همکارې مؤسسې د ټولنیزو کارکوونکو په واسطه د روزل شوو ټولنیزو رضاکارانو له لوري د یوې پاڼي درلودونکې یوه ساده سروې تر سره شي ( په اټکلي توګه 3 ساعته روزنه). یاده سروې به د کورنیو په اړه لاندې معلومات را ټول کړي ( هغه خلک چې له یوه لوښي څخه خواړه خوري (فامیل)):

الف: دکسانو شمېر
ب: د کورنۍ د ټولو غړو د عمر کچه
ج: د کونډو شمېر
د: د ښځینه سرپرست درلودونکو کورنیو شمېر
ه: د معیوبو کسانو شمېر
و: آیا په کلي کې داخلي بېځایه شــوي/ بېرته راســتانه شوي/د اقتصادي ستونزو له امله کډوال شوي شتون لري؟
ز: آیا په کلي کې کوچیان شتون لري؟
ح: کور یې کرایي/خپل ملکیت دی
ط: د جنس له مخې د لوستو/نالوستو کسانو شمېر (18+)
ی: ښوونځي ته د تلونکو هلکانو او نجونو شمېر (6 – 18 کلونو)
ک: د څښــاک د اوبو ســرچینه ( کاریز، کوهی، ویاله، نل، د اوبو شبکه، لاسي پمپ او نور)

**لومړی پړاو په دریو برخو وېشل شوی دی**[2]:

**لمړی پړاو الف):** د کورنۍ معلومات: ټولنیز کارکوونکي او انجنیران د کلي له پراختیایي شــوراګانو او ښــوونکو (که شــورا شــتون ونلري، نو له ښوونکو، ملکانو، سپین ږیرو) څخه غوښتنه کوي تر څو هغه ځوان کسان په ګوته کړي چې د حسابي چارو په هکله زده کړه ولري او د یوې اونۍ (5 ورځو ) لپاره وزګار وي تر څو معلومات را ټول کړي. کله چې دا کسان په ګوته شول، ټولنیز کارکوونکي او انجنیر د کلي له پراختیایي شــورا (که چېرې یوه وي)، د معلوماتو له را ټولونکو، ځایي ښــوونکو (که چېرې هلته یو وي – او که شتون ونلري نو له ګاونډۍ کلي څخه یو ښوونکي کولای شي ګډون وکړي) یا هر هغه کس سره چې لوستی وی او وزګار وي یوه غونډه تنظیموي. په دې غونډه کي موخې، د ســمو معلوماتو اهمیت، د معلوماتو کارولو، د ناســمو معلوماتو د اغېزو، د معلوماتو د پاڼي او د معلوماتو د را ټولولو لارو چارو، مهالوېش او د معلوماتو راټولوونکو ژمنتیا (په یوه پوســـتر باندې لیکل کېږي چې په کلي کې د معلوماتو را ټولولو د ښېر د رهبري کولو پر اســاس د کلي پراختیایي شـورا/ملک/سـپینږیري یا ښـوونکي له لوري سـاتل کېږي) او د څارونکو/همغږه کوونکو کسـانو ( باید دوه کسـه وي: یو ښـوونکی او ...) د دندو په هکله بحث او توضـیحات وړاندې کېږي. د منځنۍ کچې په درلودونکي یوه کلي کې، به دا کار د ټولنیزو کارکوونکو او انجنیرانو له لوري د محدودو معلوماتو په وړاندې کولو ( د کلي د پوهاوي ملاقات: روزنه (3 سـاعته)، د انجنیرانو مسـئولیت) سـاحوي ازمایښـت (4 سـاعته) او تائید (4 سـاعته)) سـره یوه اونۍ وخت ونیســي. د کلي هر رضــاکار کس به په منځنۍ توګه د 25 کورونیو په هکله معلومات را ټول کړي. په یوه لوی کلي کې به د کلي رضــا کار ښایي د 50 کورونیو په هکله معلومات را ټول کړي.

**لومړی پړاو ب):** رضــاکاران به د ښــوونکو یا نورو لوســتو کســانو په مرســته، د کورنیو د ســروې انفرادي پاڼي په منځنیو پاڼو (intermediate sheets) کي راغونډوي. انجنیرانو ته په کار ده تر څو له ساحې څخه لیدنه وکړي ( د کتنې او مرستې په موخه 2- 3 په یوه ورځ کې د دریو- څلورو ورځو لپاره)

**لومړی پړاو ج):** انجنیران د مینځنیو معلوماتو پاڼې را ټولوي او د کلي د معلوماتو وروستی پاڼه بشپړوي. د معلوماتو په را غونډېدو او د کلي په هکله د وروستیو معلوماتو په چمتو کېدلو سره، ټولنیز کارکوونکي کولای شي له ټاکنو څخه د مخه غونډو په تر سره کولو پیل وکړي.

**دوهم پړاو:** عامې سرچینې او ټولنیز- اقتصادي حالت. طریقه: ګډه ایزې کړنې (تمرینونه): د همکارې مؤسسې ټولنیز کارکوونکي به د پلان جوړولو په بېلابېلو کړنو کې کلي را ښــکېل کړي. هغه مهمې او عمده کړنې چې د کلي په اړه د معلوماتو چمتو کول به آســانه کړي د سرچینو نقشه جوړولو او د معیشت تحلیل او همدارنګه د کلي پراختیایي شورا له غړو سره د دوهم پړاو د فورمې د بشپړولو په موخه په تعقیبي کار کې له ګډون څخه عبارت دي.

په عمل کې د ګډه ایزو زده کړو PLA کړنې (تمرینونه) د سـرچینو، ټولنیزو – اقتصـادي واقعیتونو په اړه هغه معلومات تولیدوي چې د عامه بحثونو له لارې را مینځ ته کېږي او د کلي پراختیایي پلان په جوړولو کې کارول کېږي او په عامه توګه ننداري ته وړاندې کېږي، د تېروتنو چانس را کموي. سـره له دې تائید ته اړتیا ده او وبه شــي. په عمل کې د ګډه ایزو زده کړو PLA کړنې (تمرینونه) به د تشو/خلاوو د تحلیل (د لوړې په تحلیل او تجزیه کې شاخصونه یادښت کړئ او دا شاخصونه د دوهم پړاو د معلوماتو په فارمټ کې راغلي دي) لپاره اړین معلومات په لاس راوړي. د دوهم پړاو فورمه د ولســي تړون پروګرام د پیل پر مهال د هغه آســانتیاوو ( د ابو د سرچینو، اوبو لګولو، برېښنا، سړکونو، زده کړې او رغتیایي خدمتونو) په هکله اساسي معلومات وړاندې کوي چې خلک یې په واک کې لري. د دوهم پړاو نمونه همدارنګه د بېوزلۍ، ځمکې، څارویو، عاید، لوږې، پور او زده کړې په اړه معلومات لاس ته راوړي. د پروژوې دوران د پای پر لور، ټولنیز کارکوونکي کولای شـــي د بېوزلۍ تحلیل او تجزیه تکرار کړي او بدلونونه تر ســترګو کړي/وګوري. د کلي پراختیایي پلان له موخو څخه یوه ښـایي له ښـکتنیو کټګوریو څخه د خلکو را ایستل وي – ډېر بېوزله د بېوزل پر لور او بېوزله د لږ بېوزله یا میانه په لور. همدارنګه د عامه سرچینو نقشــه باید د کارې سند او څارنې د وسیلې په توګه په پام کې ونیول شي، لکه څنګه چې سرچینې برابرې شوې دي (د اوبو سرچینې/شبکې، او نور...) سړکونه او داسې نور، به په نقشه کې وښودل شي او د کلي براختیایي شورا د رئیس له لوري به وساتل شي. په بل عبارت، د دوهم پړاو موندنې کولای شي:

---

[2] د معلوماتو د را ټولولو او معلوماتو یو ځای کولو د پاڼو لپاره، ضمیمې ته مراجعه وکړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



الف) د سرچينو په برخه کې د کليو د اړتياوو په هکله معلومات په لاس راوړي، معلومات را ټول او د کليو کلستر، ولسوالی، ولايت او ملي کچه په پلان جوړولو کې وکاروي، ب ) بدلون وښاري، ج) کلی ( روڼتيا، شــاملول/ګډون) او ټاکل شـــوي غړي د خپل کلي په تحليل او تجزيه کې شامل کړي او له لاس ته راړونو څخه په پلان جوړولو کې کار واخلي.
لکه څنګه چې دا وسـيلې پلې کېږي، دا پړاو د تحليل او تجزيې له بهير سـره (موازی) پيلېږي او بايد د يوې مياشـتې څخه تر شـپږو اونيو په موده کې بشپړ شي.
د **عامه سرچينو نقشه** ( په محلاتو کې تنظيمېدونکي ) به لاندې ټکي وړاندې کړي:
د جوماتونو شمېر
د مدرسو شمېر
د ښونځيو/ د ښوونځيو د ټولګيو شمېر ((د زده کوونکو ظرفيت) ( د ښوونځي ډول B/G يا لومړنی، منځنی، لېسه او نور...)
د څښاک اوبو، احاطوي ديوال او تشنابونو درلودونکو يا نه درلودونکو روغتيايي مرکزونو شمېر
د څښاک اوبو، احاطوي ديوال او تشنابونو درلودونکو يا نه درلودونکو فرعي روغتيايي مرکزونو شمېر
د څښاک اوبو، احاطوي ديوال او تشنابونو درلودونکو يا نه درلودونکو اساسي روغتيايي مرکزونو شمېر
د څښاک اوبو، احاطوي ديوال او تشنابونو درلودونکو يا نه درلودونکو جامع روغتيايي مرکزونو شمېر
د باران په واسطه خړوبېدونکي، د خړوبېدو د امکاناتو درلودونکي خړوبې شوې / نه خړوبې شوې ځمکې د جريبونو شمېر
د برېښنا د مزو /ټرانسفارمرو شمېر
د 100w برېښنا درلودونکو او نه درلودونکو کورنيو شمېر
د سړکونو شمېر (تر ټولو نږدې مارکېټ ته واټن)
د عامه تشنابونو شمېر
د ژورو کوهيانو شمېر
د داخلي بېځايه شوو د محلاتو/کمپونو شمېر
د کوچيانو د استوګنځايونو شمېر
**د بېوزلی تحليل** به د ټولنيزو- اقتصادي مشخصاتو لپاره لاندې معلومات وړاندې کړي:
عايداتي ډلې:
يوشمېر خلک چې د اقتصادي حالت له مخې ښه، متوسط، بېوزله او ډېر بېوزله دي ( د کورنی له مخې) او د شتمنتوب/ بېوزلی مهم شاخصونه ځمکه، څاروي، عايد، د خوراکي توکو له مخې خوندي، روغتيا، پور، په پېشکي توګه د مزد تر لاسه کول، د پيسو حواله او د بېکارۍ په فصل کې د خوړو د وختونو شمېر او
نور
د هغه کورنيو شمير چې بزګر يې تر خپلې اړتيا ډېر حاصلات پلوري
د هغه کورنيو شمېر چې د خوراکي توکو د کمښت ستونزه نلري
د هغه کورينو شمېر چې ځمکه نلري
د هغه کورنيو شمېر چې له 1 جريب څخه کمه ځمکه ولري
دهغه کورنيو شمېر چې له 1 – 2 جريبه پورې ځمکه ولري
د هغه کورنيو شمېر چې له 2 – 4 جريبو پورې ځمکه ولري
د هغه کورنيو شمېر چې له فصلواره لوږې سره مخ کېږي
د هغه کورنيو شمېر چې پوروړي دي
د هغه کورنيو شمېر چې په فصلواره توګه د خپلې کورنۍ غړي د کار کولو په موخه نورو ښارونو، ايران، پاکستان ته استوي
کله چې د لوړې تحليل بشـپړ شـو، ټولنيز کارکوونکي به په تصـادفي ډول د معلوماتو آزمويل پيل کړي ( له بېوزلو او تر ټولو بېوزلو ډلو څخه تر څو د هغوی حالت تائيد کړي، دوی به همدارنګه د کلي د ټولو پراختيايي شـوراګانو له غړو سـره وګوري تر څو دڅښـاک ابو، برېښنا د نه لرونکو او سړکونو ته د لاس رسي نه لرونکو کورنيو شمېر تصديق کړي. که چېرې اړتيا وي، نو د پراختيايي شورا غړو ته په کار ده تر څو خپلو محلاتو ته لاړ شي او سم معلومات را ټول کړي.
د بېوزلی د تحليل او تجزيې څخه وروسته (تصديق او د کلي پراختيايي شورا معلومات):
الف ) ټولنيز کارکوونکو او انجنيرانو ته په کار ده تر څو کارتونه واخلي او د محلاتو څخه په ليدنه او په ټولنيزو – اقتصـــادي مشخصاتو کې د دوی د مقام/ځای پر سر په بحث کولو سره معلومات تائيد/تصديق کړي.
ب ) د کلي پراختيايي شورا له ټولو غړو سره ليدنه وکړي ( نارينه او ښځينه د اړتيا په صورت کې په جلا جلا توګه) او د معيشت د تحليل پر بنسټ WBA د پراختيايي شورا غړي په ګوته کړي (او د هغوی ټولنيز– اقتصادي حالت يادښت کړي – فارمټ به په واک کې ورکړل شـي ) د کلي پراختيايي شـورا د غړو عمرونه، د دوی د زده کړې کچه او که چېرې دوی د عامه صـلاحيت په توګه ( سـپين ږيری، د اوبو ويشونکی، باشي، قوماندان...) کوم بل مهم رول لري يادښت کړئ.
**د کلي په هکله معلومات – ښاري**
د کلي په هکله د معلوماتو موخه، د کلي پراختيايي شورا غړو او د هغې فرعي کميټو ، او همدارنګه د کلي پراختيايي شوراګانو کلستر، د ولســوالی په کچه د ولســي تړون پروګرام د مديريت کميټې، د ولايت په کچه د ولســي تړون پروګرام د همغږۍ کمټې او ټولو اړوند وزارتونو ( هغه چې د ولسـي تړون پروګرام يوه برخه دي او هغه چې د ولسـي تړون پروګرام برخه نه دي (لکه د کار، ټولنيزو چارو،

(c) ketabton.com: The Digital Library



شـــهيدانو او معلولينو وزارت) او د ماليي وزارت ته وړتيا ور ښښــل دي تر څو د هدف/پام وړ مهمو ډلو لپاره ځانګړي اقدامونه پلان، طرح/ډيزاين او بوديجه کړي.

د کلي په هکله معلومات کومه سرشـميرنه نه ده. دا ځکه چي ټولنيز کارکوونکي بايد خپل ډېر وخت د کلي له پراختيايي شـوراګانو/ د کلي پراختيايي شوراګانو له کلستر، د دوی له فرعي کميټو او د کلي په کچه له ډلو سره تېر کړي، او همدارنګه ځکه چي د ولسوالي په کچه د معلوماتو د درج کولو ډله ( يو کس ) نه شـي کولای ډېر معلومات داخل په ټاکل شوي سيستم کي داخل کړي. هغه معلومات چي په لاندي توګه به راټول او بحث به پرې وشي پورته ذکر شوې موخه بيانوي.

**په دوه پړاوونو کي د کلي په هکله معلومات**

لومړی پړاو: له ټاکنو څخه د مخه د ولسي تړون پروګرام په هکله د عامه پوهاوي د کچي لوړولو د کتني تعقيبول.

دوهـم پړاو: د کلي پراختيايي پلان جوړولو له بهير څخه د مخه د بيوزلی د تحليل او اړتياوو د ارزوني تعقيبول.

**لومړی پړاو**: د کورني اړوند معلومات. طريقه: پلټنه (سروې). د هري کورنی پر سر به د همکاري مؤسسـي د ټولنيزو کارکوونکو په واسطه د روزل شـوو ټولنيزو رضـاکارانو له لوري د يوې پاڼي درلودونکي يوه سـاده سـروې تر سـره شـي. ( په اټکلی توګه 3 سـاعته روزنه). ياده سروې به د کورنيو په اړه لاندي معلومات را ټول کړي ( هغه خلک چي له يوه لوښي څخه خواړه خوري (فاميل)):

الف: دکسانو شمېر

ب: د کورنی د ټولو غړو د عمر کچه

ج: د کونډو شمېر

د: د ښځينه سرپرست درلودونکو کورنيو شمېر

ه: د معيوبو کسانو شمېر

و: آيا په کلي کي داخلي بېځايه شـوي/ بېرته راســتانه شوي/د اقتصادي ستونزو له امله کډوال شوي شتون لري؟

ز: آيا په کلي کي کوچيان شتون لري؟

ح: کور يي کرايي/خپل ملکيت دی

ط: د جنس له مخي د لوستو/نالوستو کسانو شمېر (18+)

ي: ښـوونځي ته د تلونکو هلکانو او نجونو شـمېر (6 – 18 کلونو)

ک: د څښاک اوبه

ل: د صفايي کتابچه

م: تذکره ( د هر غړي )

ن: د تشنابونو درلودل او ډول يي

ص: برېښنا

**لومړی پړاو په دريو برخو وېشل شوی دی:**

**لومړی پړاو الف):** د کورنی معلومات: ټولنيز کارکوونکي او انجيران د کلي له پراختيايي شـوراګانو او ښـوونکو (که شـورا شـتون ونلري، نو له ښـوونکو، ملکانو، سـپين ږيرو) څخه غوښـتنه کوي تر څو هغه ځوان کسـان په ګوته کړي چي د حسـابي چارو په هکله پو هاوی ولري او د يوي اونی (5 ورځو ) لپاره وزګار وي تر څو معلومات را ټول کړي. کله چي دا کســان په ګوته شـــول، ټولنيز کارکوونکي او انجنير د کلي له پراختيايي شـورا (که چېرې يوه وي)، د معلوماتو له را ټولونکو، ځايي ښـوونکو (که چېرې هلته يو وي – او که شتون ونلري نو له ګاونډي کلی څخه يو ښوونکي کولای شي ګډون وکړي) يا هر هغه کس سره چي لوستی وی او وزګار وي يوه غونډه تنظيموي. په دې غونډه کي موخي، د سمو معلوماتو اهميت، د معلوماتو کارولو، د ناسمو معلوماتو د اغيزو، د معلوماتو پاڼي او د معلوماتو د را ټولولو لارو چارو، مهالوېش او د معلوماتو راټولوونکو ژمنتيا (په يوه پوستر باندي ليکل کيږي چي په کلي کي د معلوماتو را ټولولو د بهير د رهبري کولو پر اساس د کلي پراختيايي شـورا/ملک/سـپينږيري يا ښـوونکي له لوري سـاتل کيږي) او د څارونکو/همغږه کوونکو کسـانو ( بايد دوه کسـه وي: يو ښـوونکی او ...) د دندو په هکله بحث او توضـيحات وړاندي کيږي. د منځنی کچي په درلودونکي يوه کلي کي، به دا کار د ټولنيزو کارکوونکو او انجنيرانو له لوري د محدودو معلوماتو په وړاندي کولو ( د کلي د پوهاوي ملاقات: روزنه (3 ساعته)، (د انجنير مسئوليت) ساحوي ازمايښت (4 ساعته) او تائيد (4 ساعته)) سره يوه اونی وخت ونيسي. د کلي هر رضـاکار کس به په منځنی توګه د 25 کورونيو په هکله معلومات را ټول کړي. په يوه لوی کلي کي به د کلي رضـا کار ښـايي د 50 کورونيو په هکله معلومات را ټول کړي.

يادښت: د سيمه ايزو ارګانونو خپلواکه اداره به د برقي وسيلو، لکه ټبليټ پر مټ خپل معلومات را ټول کړي. د معلوماتو د پلټني/سروې ضميمه شوي پاڼي دا منعکس کوي.

**دوهم پړاو:** طريقه: ګډه ايزي کړني (تمرينونه): د همکاري مؤســسـي ټولنيز کارکوونکی به د پلان جوړولو په بيلابېلو کړنو کي کلي را ښــکيل کړي. هغه مهمي او عمده کړني چي د کلي په اړه د معلوماتو چمتو کول په آســانه کړي د ســرچينو له نقشــه جوړولو څخه عبارت دي.

د **عامه سرچينو نقشه** ( په محلاتو کي تنظيميدونکي ) به د عامه بنسټيزو جوړښتونو په هکله لاندي معلومات وړاندي کړي:

د جوماتونو شمېر ( د جمعي او عيدګاه جومات وښاياست)

د مدرسو شمېر

د مارکيټونو شمېر (کوچني، منځني او لوی)

د ښونځيو/ د ښوونځيو د ټولګيو شمېر ((د زده کوونکو ظرفيت) ( د ښوونځي ډول B/G يا لومړنی، منځنی، ليسه او نور...) (عامه او خصوصي) د څښاک اوبو، احاطوي ديوال او تشنابونو درلودونکو يا نه درلودونکو

د پوهنتونونو او کالجونو شمېر (عامه او خصوصي)

د څښاک اوبو، احاطوي ديوال او تشنابونو درلودونکو يا نه درلودونکو روغتيايي مرکزونو شمېر

د څښاک اوبو، احاطوي ديوال او تشنابونو درلودونکو يا نه درلودونکو روغتيايي کلينيکونو شمېر

د درملتونونو شمېر: جواز او د درملو نوملړ سره له قيمتونو

(c) ketabton.com: The Digital Library

**دولسی ټرون ملی پروګرام**

د اوبو د سرچینو شمېر (د اوبو د سرچینو درلودونکو او نه درلودونکو کورنیو شمېر)
د برېښنا مزو/ټرانسفارمرونو شمېر
د اوبو د سرچینو شمېر
د سړکونو شمېر ( تر ټولو نږدې مارکېټ پورې واټن)
د عامه پارکونو/څلورلارو شمېر
د عامه تاسیساتو شمېر (ټولنیز مرکزونه)
د عامه تشنابونو شمېر
د ژورو څاګانو شمېر
د خصوصي کلېنیکونو او روغتونونو شمېر
د کورنیو بېځایه شوو د استوګنځیو، محلاتو شمېر
د کوچیانو د استوګنځیو شمېر
د ویالو شمېر
د جامدو فاضله موادو غونډېو د ځایونو شمېر
او چاپیریالي خطرونه
د نقشې تر بشپړېدو وروسته، ټولنیز کارکوونکي به د ټولنیزې شورا له ټولو غړو سره وګوري تر څو د اوبو، برېښنا او سړکونو ته د لاس رسي نه درلودونکو کورنیو کره شمېره تصدیق کړي.

دولسی ټرون ملی پروګرام

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دوهم فصل

## : د کلي پراختیایي شورا او د کلي پراختیایي شورا کلستر/کڼډ شورا ټاکنې

**تعریفونه:**

**په شرایطو برابر رایه ورکوونکي:**

- باید د افغانستان اسلامي جمهوریت تبعه وي
- لږ تر لږه باید 18 کاله عمر ولري
- د کلي پراختیایي شورا د ټاکنو له نیټې څخه د مخه باید په ټاکلي کلي کې په پرله پسې توګه لږ تر لږه د 1 کال لپاره مېشت شوی وي (د راستنیدونکو / بې ځایه شوو په استثنا، چې د یادو کسانو لپاره شرط په پرله پسې توګه د 3 میاشتو استوګنه ده)
- باید د رواني اختلالاتو اړوند ښکاره اسناد ونلري او
- باید په کلي کې خپل لومړنی استوګنه ولري (تر دې مهاله که چیرې یو کس په بېلابېلو کلیو/ښارونو کې د استوګنې 2 یا ډېر ځایونه ولري، نو یاد کس یوازې په یوه کلي کې د رایه ورکولو حق لري او بس. نو دې ته په کتلو سره دا ډول کس ته په کار ده تر څو د روان کال لږ تر لږه 9 میاشتو په موده په یو له خپلو تولو استوګنځایونو کې واوسي ترڅود اصلي استوګن په توګه د رایي ورکولو مستحق وګڼل شي).

**د ټاکنو واحد:**

د ' کورنیو یو کلستر' یو او بل ته د نیږدې پرتو کلیو په پرتله د لوی کلي اندازې ته په کتلو سره ټاکل کیږي (لاندې بې وګورئ). ټاکنیز واحدونه په دې موخه را مینځ ته کیږي تر څو هغه کورنۍ مشخصې کړي چې د کلي په پراختیایي شورا کې له دوی څخه د استازیتوب کولو لپاره په دې واحدونو کې یونارینه او یوې ښځینه نوماندانو ته رایه ورکړي. د ټاکنو واحدونه کوچني کلي یا محلات نه دي، هغه یوازې هغه واحدونه دي چې د ټاکنو د تر سره کولو په موخه د کورنیو د را ټولولو لپاره کارول کیږي. د ټاکنیزو واحدونو د اندازې معیار د هغه کلیو تر اندازې پورې تړاو لري چې ټاکنیز واحدونه به په کښې جوړ شي (لاندې لومړي جدول ته مراجعه وکړئ). لکه څنګه چې کلي هم وده کوي (په کلي کې نوې کورنۍ رامینځ ته کیږي او همدې کلي ته نورې کورنۍ راځي)، د ټاکنو واحدونه ( د اندازې او جغرافیایي بعد له اړخه) ښایي د کالونو په تیریدو سره بدلون ومومي.

د کلي پراختیایي شوراګانو (CDCs) **د غړو شمېر باید تر 30 کسانو (15 نارینه او 15 ښځینه) ډېر نه شي** او 1 جدول هغه فارمول وړاندې کوي چې په ټاکلي کلي کې د وګړو د تراکم له مخې د ټاکنیزو واحدونو اندازه ټاکي. دا فارمول باید تعقیب شي او ټولنیز کارکوونکي باید د واحدو ټاکنو تر پوښښ لاندې د هرې کورنۍ د راتلو او د کلي په پراختیایي شورا کې د خپلې خوښې استازو له ټاکلو څخه ډاډ تر لاسه کړي.

1 جدول. د کلي د وګړو پر بنسټ د ټاکنیزو واحدونو اندازه.

| | |
|---|---|
| له 50 څخه لږ کورنۍ: د ټاکنو یو واحد به 5 کورنۍ وي | = د کلي پراختیایي شورا 10 – 20 ښځې او نارینه غړي |
| له 50 - 100 کورنیو پورې، د ټاکنو یو واحد 6 -7 کورنۍ | = د کلي پراختیایي شورا 14 – 28 ښځې او نارینه غړي |
| له 101 – 150 کورنیو پورې، د ټاکنو یو واحد 8 – 10 کورنۍ | = د کلي پراختیایي شورا 20 – 30 ښځې او نارینه غړي |
| له 151 – 200 کورنیو پورې، د ټاکنو یو واحد 11-13 کورنۍ | = د کلي پراختیایي شورا 22 – 30 ښځې او نارینه غړي |
| له 201 – 250 کورنیو پورې، د ټاکنو یو واحد 14-17 کورنۍ | = د کلي پراختیایي شورا 22 – 30 ښځې او نارینه غړي |
| له 251 – 300 کورنیو پورې، د ټاکنو یو واحد 18– 30 کورنۍ | = د کلي پراختیایي شورا 24 – 30 ښځې او نارینه غړي |
| له 301 – 350 کورنیو پورې، د ټاکنو یو واحد 21 – 23 کورنۍ | = د کلي پراختیایي شورا 26 – 30 ښځې او نارینه غړي |
| له 351 – 400 کورنیو پورې، د ټاکنو یو واحد 24 – 26 کورنۍ | = د کلي پراختیایي شورا 26 – 30 ښځې او نارینه غړي |
| له 401 – 450 کورنیو پورې، د ټاکنو یو واحد 27-30 کورنۍ | = د کلي پراختیایي شورا 26 – 30 ښځې او نارینه غړي |
| له 451 – 500 کورنیو پورې، د ټاکنو یو واحد 31 -33 کورنۍ | = د کلي پراختیایي شورا 26 – 30 ښځې او نارینه غړي |
| له 501 - 550 کورنیو پورې، د ټاکنو یو واحد 34 -36 کورنۍ | = د کلي پراختیایي شورا 28 – 30 ښځې او نارینه غړي |
| له 551 – 600 کورنیو پورې، د ټاکنو یو واحد 37 -40 کورنۍ | = د کلي پراختیایي شورا 28 – 30 ښځې او نارینه غړي |
| له 601 – 650 کورنیو پورې، د ټاکنو یو واحد 41 -43 کورنۍ | = د کلي پراختیایي شورا 28 – 30 ښځې او نارینه غړي |
| له 651 – 700 کورنۍ، د ټاکنو یو واحد 44 -46 کورنۍ | = د کلي پراختیایي شورا 28 – 30 ښځې او نارینه غړي |
| له 701 – 750 کورنیو پورې، د ټاکنو یو واحد 47 -50 کورنۍ | = د کلي پراختیایي شورا 28 – 30 ښځې او نارینه غړي |
| له 751 – 800 کورنیو پورې، د ټاکنو یو واحد 51 – 53 کورنۍ | = د کلي پراختیایي شورا 28 – 30 ښځې او نارینه غړي |
| له 801 – 850 کورنیو پورې، د ټاکنو یو واحد 54 – 56 کورنۍ | = د کلي پراختیایي شورا 28 – 30 ښځې او نارینه غړي |
| له 851 – 900 کورنیو پورې، د ټاکنو یو واحد 57 – 60 کورنۍ | = د کلي پراختیایي شورا 28 – 30 ښځې او نارینه غړي |
| له 901 – 950 کورنیو پورې، د ټاکنو یو واحد 61– 63 کورنۍ | = د کلي پراختیایي شورا 28 – 30 ښځې او نارینه غړي |
| له 951 – 1000 کورنیو پورې، د ټاکنو یو واحد 65 کورنۍ | = د کلي پراختیایي شورا له 30 غړو سره ( ښځې او نارینه غړي) |

**1. کتنه: تر ټاکنو د مخه، په کلیو کې د ټولنیزو کارکوونکو دندې:**

1. یادونه: ټولنیز کارکوونکي باید د کورنیو شمېرنه تر سره کړي ( چې په کلي کې د یوې پراختیایي شورا تر چتر لاندې د رایه ورکوونکو شمېر ښیي). د دې شمېرنې په کارولو سره باید په ډاګه شي چې په شرایطو د برابرو رایه ورکوونکو ٪60 کومه اندازه خلک کیږي.

**لومړی کړنه:**

- یوه لویه غونډه برابره کړئ: په هغه کلیو کې چې نارینه او ښځینه کولای شي په ګډه سره په غونډه کې ګډون وکړي، په غونډه کې د ګډون په موخه باید ښځې وهڅول شي؛ په هغه کلیو کې چې ښځې او نارینه یو له بل سره په ګډه ملاقات/لیدنه نه شي کولای، نو ښځینه ټولنیزې

(c) ketabton.com: The Digital Library

کارکوونکي باید په جلا توګه د ښـځو لپاره ورته غونډه جوړه کړي. په لنډه توګه خلکو ته د ولسـي تړون پروګرام په هکله د هغه بحث یادونه وکړئ چې پخوا مو له دوی سره درلود او عمده ټکي بیا تکرار کړئ. ( یادونه وکړئ چې مالي وجهې د کورنیو له شمېر سره اړیکه نلري). همدارنګه باید یادونه وشـــي چې ټول پراختیایي پروګرامونه به د کلي پراختیایي شـــوراګانو له لارې تر ســـره شـــي. اوس د کلي پراختیایي شوراګانو د ټاکنو لپاره نېټه، وخت او ځای اعلان کړئ (په اټکلي توګه دوه اونۍ وروسته). د ټاکنو د تر سره کېدو د څرنګوالي، د ټاکنیزو کمیټو او عامو وګړو د دندو او مسئولیتونو په هکله معلومات وړاندې کړئ. د رایې ورکولو د پاڼې په اړه له بحث کولو څخه داډ تر لاسه کړئ چې نوموړې پاڼه د یونارینه نوماند او یوې ښـــځینه نوماندې د ټاکلو لپاره ټاکلی ځای لري او دا چې دواړه نارینه او ښـــځینه هر یو ته رایه ورکولای شي یا هم کولای شي یوازې یو کس ته رایه ورکړي.

- د کلي په اړه د لومړنۍ سروې د وګړو د شمېر پر بنسټ، د ټاکنیز واحد د اندازه معلومه کړئ ( پورته 1 جدول وګاروئ).
- د کلي له هرې برخې څخه له 4 – 5 کسانو (همدارنګه له اوسنۍ پراختیایي شورا) څخه غوښتنه وکړئ تر څو له تاسو سره کښېني او یوه نقشـــه رسـم کړي (یا موجوده نقشـــه وګاروئ که چېرې شـتون ولرې) او د ټاکنو د واحد پولې معلومې کړي (ښـایي له سـیمې څخه د لیدنې transect walk اړتیا ولیدل شي)
- په خپله خوښه کارکوونکي/رضاکاران په ګوته کړئ
- د ټاکنې د کمیټو غړي په ګوته کړئ (د ټاکنې د کمیټې په هکله لنډ معلومات وګورئ)

2. یادونه: د ښـارونو لپاره په ولسـي تړون پروګرام کې د پراختیایي شـورا جوړولو لپاره 250 کورنۍ حد ټاکل شـوی دی. د کلیوالو سـیمو په کچه د پراختیایي شورا د جوړولو لپاره دکورنیو شمېر نه دی محدود شوی (ډېر تر ډېره 15 نارینه او ښځینه).
3. یادونه: په ملي پیوســتون پروګرام کې (ښــاري او کلیوال) به موږ فامیل (مور، پلار او ماشــومان) د یو واحد په توګه په پام کې نیوله، خو اوس زموږ لپاره مهم واحد کورنۍ ده چې ټول هغه وګړي په ګې شامل دي چې له یوه لوښي څخه خواړه خوري (کور).

ټاکنې به تل له ټاکنیزو هڅو او مخکې له مخکې د نوماندانو له ټاکلو څخه پرته تر سره شي.

**دوهمه کړنه:**

- تولنیز کارکوونکي د ټاکنیزو کمیټو 6 غړو ته د دوی د دندو او مســئولیتونو په هکله معلومات ورکوي او هغوی ته لارښــوونه کوي تر څو دکلي له وګړو سره لیدنه وکړي او هغوی ته د کلي پراختیایي شورا د موخې، دندو او مسئولیتونو په هکله معلومات ورکړي.

**2. کتنه: د ټاکنو تنظیمول :**

الف. د کلي پراختیایي شورا د ټاکنو لپاره د کلي په کچه د یوې لویې غونډې را بلل

ب. په کلي کې په شرایطو له برابرو لږ تر لږه ٪60 رایه ورکوونکو سره دکلي په کچه لویه غونډه تنظیم کړئ تر څو د کلي پراختیایي شوراغړي په کښـــي وټاکل شـــي. د کلي د غړو تر څنګ، نور ښـــکېل اړخونه لکه د ښـــاروالۍ اســـتازي، د ګذر وکیل، د ناحیې رئیس او د ځارنې تخنیکي کارکوونکي (یوازې په ښاري کچه) ښایي ګډون وکړي. د ټاکنو بهیر به د همکارو مؤسسو له لوري تسهیل شي.

**I. د کلي پراختیایي شورا د غړو ټاکنې**

الف) د پرانیستې دعا. د کلي یو اوسېدونکي به د قرآنکریم څو آیتونه تلاوت کړي

ب) غونډه به د بهرنۍ پراختیایي شورا د رئیس/مرستیال یا نورو اداري کارکوونکو په واسطه پیل شي.

ج ) کلی ( د یوې پراختیایي شورا تر پوښښ لاندې) به د کورنیو له ټول ټال شمېر سره یو ځای په لنډه توګه معرفي کېږي

د ) همکاره مؤسسه کلي ته د ټاکنو کمیټه ورپېژني.

ه ) د ټاکنو د کمیټې دندې او مسـئولیتونه به د ټاکنو د یوې کمیټې د یو غړي په واسـطه په لنډه توګه اورېدونکو ته ور وپېژندل شـي (دا کېدلای شي د کلي د رضاکارانو په څېر وي)

و ) د ټاکنو کمیټه به د کلي پراختیایي شوراګانو د دندو او مسئولیتونو په هکله معلومات ورکړي

ز ) د کلي اوسېدونکي اوس د کلي پراختیایي شورا د یو آیډیال غړي د ځانګړتیاوو په هکله نظرونه سره ورکوي او د سیرت، کیفیت او ظرفیتونو په یوه داسې نوملړ هوکړه کوي چې باید د کلي پراختیایي شورا غړي یې ولري.

ح ) د ټاکنو کمیټه به د محلاتو د ټاکنو طریقه وړاندې کړي. د کلي اندازې ته په کتلو سره، یو ټاکنیز واحد له 5 – 65 کورنیو څخه جوړ شوی دی ( پورته 1 جدول ته وګورئ). له هر ټاکنیز واحد څخه به دوه استازي (1 نارینه او 1 ښځینه) د کلي پراختیایي شورا د غړو په توګه وټاکل شي.

**یـــادونه**: د نوماند په ګډون، هیڅوک دا حق نه لري چې کوم څوک وړاندیز کړي یا د کوم ځانګړي نوماند په استازیتوب خبرې وکړي.

ط) دکلي اوسـېدونکو دهوکړې له مخې به دهرټاکنیزواحد په مخ کې دولسـي تړون په نښـان پوښـل شـوی درایوبکس ځای پرځای کړل شي.

ی ) تر ټاکنو د مخه، ټولنیز کارکوونکی به د رایو بکس پرانېزي او تش بکس به ټولو حاضـرو رایه ورکوونکو ته وښـودل شـي تر څو هغوی ډاډ تر لاسه کړي چې نوموړي بکس تش دی.

ک ) د ټاکنو کیمټه به د رایه ورکونې د بهیر پر مهال د هر بکس لپاره دوه کسه (په خپله خوښه/رضاکار) وټاکي.

ل ) د رایه ورکونې پاڼه ( باید تش ځای ولري تر څو یو نارینه او یوې ښځینه ته په کښې رایه ورکړي او رایه ورکوونکي به پوره واک ولري تر څو دواړو ته رایه ورکړي یا ښـــایی نارینه پرېکړه وکړي چې یوازې نارینه ته رایه ورکړی او ښـــځینه پرېکړه وکړي چې یوازې ښځینه ته رایه ورکړي، چې دا دهر رایه ورکوونکي تر خپلې خوښې پورې تړاو لري).

(c) ketabton.com: The Digital Library

م ) که چیرې د بې‌لابېلو دلیلونو له مخې د کلي پراختیایي شورا ته هیڅ کومه ښځه نه وي ټاکل شوې، نو د کلي پراختیایي شورا د اداري پلاوي په مینځ کې د ښځو لپاره ځانګړې شوې څوکۍ به خالي پرېښودل شي او ټولنیز کارکوونکي به له کلي سره کار وکړي تر د ښځو لپاره د ذکر شوي ځانګړې شوې څوکۍ د ډکولو لپاره بوازې د ښځو تر مینځ ټاکنې تر سره کړي، شپږ میاشتې وروسته.

ن ) هر وګړی به د رایه ورکونې پاڼه ډکه او په بکس کې واچوي

س) د رایه ورکونې ټولې پاڼې به د ټاکنو بکس ته ولوېږي

ع ) د رایو شمېرونکې کسان به له بکس څخه د پاڼو تر را ایستلو او شمارلو وروسته ژر تر ژره پایلې اعلان کړي او د رایو پاڼې به د ټولو کلیوالو په مخ کې کېږدي.

ف ) د څارنې ډله به رایې وشـماري او هغه کسـان به اعلان کړي چې تر ټولو لوړې رایې یې تر لاسـه کړې وي. په پایله کې به د هر کلستر پر سر دوه ټاکل شوي استازی وي ( 1 نارینه او 1 ښځینه)

ص) د هر کلستر لپاره ټاکل شوي استازي به خپل ځانونه کلیوالو ته ور وپېژني.

ق ) که چېرې کلیوال په همدې ورځ وخت ولري، نو د کلي پراختیایي شـورا د اداري پلاوي ټاکنې به هم تر سـره شـي، له هغې پرته دوی به اعلان وکړي چې د کلي پراختیایي شورا د اداري پلاوي ټاکنې به _______ نېټه د راتلونکې جمعې په ورځ جومات ته نېږدې په _______ بجو تر سره شي.

د پای دعا

**II. د کلي پراختیایي شورا د کارکوونکو ( اداري پلاوی) ټاکنې**

الف) په لنډه توګه د کلي پراخیایي شـورا د اداري پلاوي چې وبه ټاکل شـي، دندې او مسـئولیتونه بیان کړئ او یادونه وکړئ چې د کلي پراختیایي شـــورا د اداري پلاوي ٪50 برخه غړي به ښـــځینه وي. همدارنګه یادونه وکړئ چې دا به په مراتبو غوره وي که چېرې د ټاکل شـوي اداري پلاوي له غړو څخه یو کس لوسـتی وي، خو دا اړینه نه ده. د کلي پراختیایي شـورا ټل د کلي په کچه له لوسـتي کس څخه غواړي تر څو له دوی سره د فورمو په لیکنه او بشپړرولو کې د مرستیال په توګه رول ولوبوي.

ب ) د ټاکنو کمیټه باید حضور ولري

ج ) د ټاکنو له کمیټې څخه دوه کسانو ته رایو د شمېرنې مسئولیت ورکړئ.

د ) د شورا غړو ته یادونه وکړئ چې د اداري پلاوي ټاکنې د پراختیایي شورا ټاکنو ته ورته " له نوماند پرته ټاکنې" تر سره کېږي

ه ) د رایه ورکونې تشې پاڼې ووېشئ

و ) لومړی به د شـورا رئیس وټاکل شـي: د کلي پراختیایي شـورا له غړو څخه وغواړئ تر څو د رایو په خپلو خالي پاڼو کې د شـورا د هغه غړي نوم ولیکي کوم چې د دوی په آند د وړتیا، سیرت او کیفیتونو له مخې د شورا د ریاست لپاره غوره کس وي.( رایې وشمېرئ او تر مخکې تللو د مخه پایله اعلان کړئ).

ز) دوهم، به د رئیس مرستیال وټاکل شي: د کلي پراختیایي شورا له غړو څخه وغواړئ تر څو د رایو په خپلو خالي پاڼو کې د شورا د هغه غړي نوم ولیکي کوم چې د دوی په آند د وړتیا، سیرت او کیفیتونو له مخې د شورا ریاست د مرستیالی لپاره غوره کس وي.( رایې وشمېرئ او تر مخکې تللو د مخه پایله اعلان کړئ).

ح ) دریم، به د کلي پراختیایي شـورا منشـي وټاکل شـي: د کلي پراختیایي شـورا له غړو څخه وغواړئ تر څو د رایو په خپلو خالي پاڼو کې د شـورا د هغه غړي نوم ولیکي کوم چې د دوی په آند د وړتیا، سیرت او کیفیتونو له مخې د شـورا د منشـي څوکۍ لپاره غوره کس وي.( رایې وشمېرئ او تر مخکې تللو د مخه پایله اعلان کړئ).

ط) څلورم به د کلي پراختیایي شـورا خزانه دار وټاکل شـي: د کلي پراختیایي شـورا له غړو څخه وغواړئ تر څو د رایو په خپلو خالي پاڼو کې د شـورا د هغه غړي نوم ولیکي کوم چې د دوی په آند د وړتیا، سـیرت او کیفیتونو له مخې د شـورا د خزانه دارۍ لپاره غوره کس وي.( رایې وشمېرئ او تر مخکې تللو د مخه پایله اعلان کړئ).

ي) د ټاکنو په پای کې به، د ټاکنو کمیټه د شـورا د کارکوونکو د ټاکنو د پایلو په باره کې یو لیکلی راپور چتو کړي. د شـورا منشـي به د یاد راپور یوه کاپي په دوسیه کې وساتي او بله کاپي به د عامه خبرتیاوو په دره کې ونښلوي.

ک) د کلي پراختیایي شورا غړي او اداري پلاوی کلي ته ور وپېژنئ او د ثبت فورمې بشپړې کړئ.

ل ) کله چې د رایه ورکولو لړی پای ته ورسـېږي، ټولنیز کار کوونکی باید یوه نېټه وټاکي تر څو د کلي پراختیایي شـورا نوي ټاکل شـــوي غړي را ټول کړي. ټولنیز کارکوونکي د نوې ټاکل شـــوې پراختیایي شـــورا په لومړۍ غونډه کې برخه اخلي تر څو د کلي له پراختیایي شورا سره بهیرونه او پروتوکولونه را مینځ ته کړي.

د پای دعا

**III. د کلي پراختیایي شوراګانو کلستر/ګذر شورا غړي**

الف. د ګذر شـورا/د کلي پراختیایي شـورا کلسـتر غړي د اړوند ګذر شـورا/د کلي پراختیایي شـوراګانو کلسـتر د ټولو پراختیایي شـوراګانو له رئیسانو او مرستیالانو څخه عبارت ده. سربېره پر دې، د کلي هره پراختیایي شورا باید یو اضافي نارینه او ښځینه غړي په پام کې ونیسي تر څو د کلي پراختیایي شـوراګانو د کلسـتر غړی شـي. ( په دې توګه به د کلي پراختیایي شـورا کلسـتر کافي غړي شـتون ولري تر څو د کلي پراختیایي شـوراګانو د کلسـتر فرعي کمیټه را منځ ته کړي). د ګذر شـورا تر را مینځ ته کېدو وروسـته، باید د ګذر شـورا/ د کلي پراختیایي

(c) ketabton.com: The Digital Library

شوراګانو د کلستر د څلورو اداري کارکوونکو ټاکنې د ګذر جرګې/ د کلي پراختیایي شورا د کلستر غړو تر مینځ د پټو رایو په کارولو سره ترسره کېږي.

ب. ټولنیز کارکوونکی، باید د ټاکنو د دې بهیر څارنه وکړي او باید غړو ته د دوی د دندو مسئولیتونو په هکله معلومات ورکړي.

ج. څرنګه چې ټاکل شوي رئیسان او مرستیالان له یو بل سره نه پېژني، ټولنیز کارکوونکي باید دوی ته زمینه برابره کړي او له هر یوه څخه په غوښتنه کولو د څو دقیقو په ترڅ کې د لاندې ټکو په اړه د خپل نظر په وړاندې کولو سره د یو او بل په هکله وپوهېږي:

- ❖ زموږ د کلیو تر ټولو مهمې موضوعګانې څه دي
- ❖ تاسو به د کلي پراختیایي شورا کلستر/ګذر جرګې د رئیس یا مرستیال مقام ته څه پیاوړتیا ور په برخه کړئ

د. کله چې ټولو خبرې وکړې، ټاکنې پیل کېدلای شي، هر څوک د هغه چا نوم لیکي چې د رئیس په توګه رایه ورکوي او په بکس کې یې اچوي. کله چې ټولو کسانو رایه ورکړه، ټولنیز کارکوونکی رایې شمېري او رئیس اعلانوي ( د مرستیال د ټاکنې لپاره هم ورته کړنه تر سره کړئ)

ه. که چېرې د ګذر شورا/ د کلي پراختیایي شوراګانو کلستر رئیس نارینه وي، باید ټینګار وشي چې د ګذر شورا/ د کلي پراختیایي شوراګانو کلستر مرستیال باید ښځینه وي. ټاکنې یوازې هغه مهال د اعتبار وړ دي چې په شرایطو د برابرو نارینه او ښځینه رایه ورکوونکو ٪60 په پوره ته ذکر شوو ټاکنو کې برخه اخیستې وي.

## دریم فصل

## د سرچینو/لوړې تحلیل او د اړتیاوو ارزونه :

یادونه: په هغه کلیو کې چې ښځې او نارینه کولای شي له یو بل سره وګوري، د ښځو ګډون باید وهڅول شي او په دې تمرین کې باید د کلي د حاضرو غړو نیمه برخه ښځې وي. په هغه کلیو کې چې ښځې او نارینه یو له بل سره نه شي کتلای، د نقشې جوړولو تمرین له نارینه وو سره تر سره کېدلای شي چې د نارینه وو له لوري د جوړې شوې نقشې طرحه به دوی (ښځو) ته وړاندې شي او په نقشه کې به د دوی لپاره لاندې پوښتنې ځای پر ځای کړل شي:

آیا کوم داسې بنسټیز جوړښت شتون لري چې په نقشه کې نه وي راغلی او تاسو غواړئ چې په نقشه کې ورته ځای ورکړئ؟

د ښځو نظرونه او وړاندیزونه باید په نقشه کې شامل او منعکس شي. د ښځو له لوري په نقشه کې د بدلون راوړستلو څخه وروسته، به په نقشه یو ځل بیا د نارینه وو له لوري بحث وشي او وروستۍ هوکړه باید وشي.

### 1. د کلیو د نقشې جوړول

**د نقشې موخه**

د نقشې جوړول د کلي په اړه د عمومي معلوماتو درلودلو په لاره کې یو بنسټیز ګام دی. د نقشې وروستۍ بڼه د عامه سرچینو، د همدې سرچینو وېش او د کلي د ټاکل شوې پراختیایي شورا د غړو د استازیتوب د نمونو په اړه عمومي کتنه/ معلومات وړاندې کوي. د نقشې جوړولو بهیر د کلي پراختیایي شورا په چوکاټ کې د مشرتابه د محرکاتو په اړه لومړني معلومات ورکولای شي. دا نقشه د سرچینو د فزیکي موقعیت: ښوونځي ( عامه، خصوصي، مذهبي)، سړکونه، د اوبو سرچینې: عادي کوهیان، ژور کوهیان، کاریز، د ابو لګولو کانالونه، پلچکونه او داسې نور، همدارنګه د پراختیایي شورا ټاکل شوو غړو او ملکانو ښودنه کوي. د نقشې جوړولو بهیر د څو موخو لپاره په کار وړل کېږي: الف ) په اغېزمنه توګه د سرچینو او مهمو برخو د نقشې جوړول د هغو کسانو په ملتیا چې د سیمې د هر جغرافیایي موقعیت په هکله معلومات ولري. ب) د کلي په ټاکل شوې پراختیایي شورا کې د رئیس او ټاکل شوو غړو تر مینځ د تعامل کتنه او تحرکاتو په هکله پوهېدل. ج) د یوې داسې نقشې را مینځ ته کول چې د کلي پراختیایي شورا په واسطه د مختلفو پراختیایي فعالینو له لوري د سرچینو د برابرولو لپاره وکارول شي. سربېره پر دې، وروسته کېدلای شي دا نقشه د تر ټولو بېوزلو کلیو لپاره د سرچینو په تخصیص کې له نورو پراختیایي شوراګانو سره په کار کولو کې وکارول شي. دا نقشه به همدارنګه د کلیو د کلستر نقشې په را مینځ ته کولو کې مرسته وکړي چې د کلي پراختیایي شوراګانو له لوري به د سرچینو په تخصیص کې وکارول شي.

**د نقشې جوړولو بهیر**

1. د کلي د سرچینو د نقشې جوړولو لپاره چمتووالی

په هر محل کې د ځایي ټاکل شوې پراختیایي شورا له غړو سره په اړیکه کې شئ او له دوی څخه وغواړئ چې که چېرې دوی وکولای شي په یوه غونډه ( 2 – 3 ساعتونو) کې ګډون وکړي چې تاسو غواړئ دوی د نقشې جوړولو په کار کې ښکېل کړئ تر څو د سیمې په هکله په ښه توګه وپوهېږئ. له دوی څخه وپوښتئ چې د پراختیایي شورا د ټولو ټاکل شوو غړو او بېلابېلو فرعي کمیټو د غړو د ناستې/غونډې لپاره به تر ټولو ښه ځای کوم وي او همدارنګه د نقشې د جوړولو لپاره د یو ښه ځای ولټوي. دنقشې جوړولو تمرین یوه پراخ ځای ( د باران د نه شتون په صورت کې، به ښه دا وي چې په بهر کې وکارول شي) ته اړتیا لري. دا به ډېره ښه وي چې پوښتنه وشي چې که کوم بل وخت کومې بلې اداري د دې اداري واحد نقشه جوړه کړې وي، که چېرې جوړه شوې وي نو د هغې د یوې کاپي غوښتنه وکړئ. وګورئ چې په دې نقشه کې څه شی دي او په دې نقشه کې د کوم شي ور ډېرولو ته اړتیا لیدل کېږي او همدارنګه وګورئ چې دا نقشه په کوم وخت کې جوړه شوې ده تر څو وکتل شي چې ډېره پخوانۍ نه وي.

د دې تمرین د تر سره کولو لپاره، تسهیل کوونکې ډله باید لږ تر لږه له څلورو کسانو څخه جوړه شوې وي او نورو کسانو ته به په کلي کې د محلاتو د شمېر پر بنسټ اړتیا ولیدل شي. د نقشې جوړولو د بهیر تسهیلوونکې ډله باید پرېکړه وکړي چې څوک به اصلي/عمومي تسهیل

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوونکی (چې دنده به يې د اداري معرفي کول او د دوي د پلان په هکله معلومات وړاندې کول وي) وي، څوک به د کارتونو په ليکلو، نوټ اخيستلو، د ډلو تسهيل، د دروازه ساتونکو او ماشومانو په سمبالولولو، او داسې نورو کې مرسته وکړي. د دې کړنې در تر سره کولو لپار اړين توکي له فلش کارتونو او کافي اندازه مارکرونو څخه عبارت دي. که شونې وي د ساحې ډله/ټيم بايد د هغو فرعي ولسواليو نقشه جوړه کړي چې د کلي د مهمو سړکونو، سيندونو او نور مهمو ټکو او نورو ... څرګندونه وکړي. د نقشې جوړولو په ورځ، تسهيل کوونکي بايد تر ټولو د مخه را ورسېږي. له هغه ګډون کوونکو څخه چې پر ټاکلي وخت حاضر شوي وغواړئ تر څو له تاسو سره د ځای په چمتو کولو، د کښناستلو په ترتيباتو نيولو، له پاڼو او اضافي توکو د ياد ځای په پاکولو کې مرسته وکړي.

**2. د نقشې جوړولو د بهير تسهيل**

کله چې ډېرى (که ټول نه وي) ګډون کوونکي را ورسېدل نو اصلي تسهيل کوونکی :

- له ټولو ګډون کوونکو سره روغ بړ کوي، خپل ځان او خپله ډله ورپېژني، او ګډون کوونکو ته وخت ورکوي تر څو يو بل تسهيل کوونکو ته ور وپېژني; وروسته اصلي تسهيل کوونکی د دې غونډې موخه تشرېح کوي: د دې غونډې موخه د کلي په اوږدو کې د فزيکي او بشري سرچينو د نقشې جوړول دي. د نقشې جوړولو د کار تر بشپړېدو وروسته، يوه کاپي بايد د کلي پراختيايي شورا د رئيس په واک کې ورکړل شي. دا ډېره مهمه ده چې په پيل کې بايد هر څه روښانه وي چې دا څېړونکې ډله دلته د دې لپاره نده راغلې چې د ستونزو د حل لارې او يا نورې مرستې وکړي ، بلکې د دې کړنې موندنې او لاس ته راوړنې به له دولت سره مرسته وکړي تر څو خپلې کړنې او پراختيايي بهير په ښه توګه تنظيم کړي. د يادولو وړ ده چې بايد يادونه ونه شي چې دا نقشه به د تر ټولو بېوزلو محلاتو په ګوته کولو کې وکارول شي، چې دا به د ګډون کوونکو په ښکېلتيا او د نقشې په کره والي اغېز ولري.
- له دې وروسته به له ګډون کوونکو څخه وغوښتل شي تر څو ځانونه په کلي کې د محلاتو له مخې په ډلو سره وويشي چې دا ډلې به وروسته د نقشې په بېلابېلو برخو په ناپېيلي/مستقله توګه کار وکړي.
- کله چې ګډونوال سره تنظيم شول، تسهيل کوونکی د ګډونوالو په مرسته کولای شي د فرعي ولسواليو په کچه د نقشې په کارولو سره، پر ځمکه باندې د کلي بڼه رسم کړي. که چېرې داسې کومه نقشه شتون ونلري، له يوه ګډون کوونکي څخه وغواړئ چې په ځمکه باندې (که له دروازې څخه د ننه وي نو تباشير وکاروئ) د لرګي په کارولو سره د کلي نقشه/يوه کلي طرحه رسم کړي او مهم سړکونه، سيندونه او بېلابېل فرعي واحدونه لکه کوچني کلي په کښې ځای پر ځای کړي. د دې نقشې/طرحې اندازه بايد له 6 – 8 مترو پورې وي چې په دې سره د ټولو ګډونوالو لپاره کافي ځای شتون لري تر څو په نقشه باندې کار وکړي او د خپلو اړوندو سيمو نقشه جوړه کړي.
- کله چې ياده طرحه بشپړه او د ځمکې مهمې نښې په ګوته شوې، نو خلک کولای شي چې پرې پوه شي، اصلي تسهيل کوونکی بايد له ګډون کوونکو څخه وپوښتې چې آيا دوی له دې طرحې، فزيکي شکلونو او د کوچنيو کليو له پولو سره چې په دې طرحه کې ځای پر ځای شوي دي موفق دي;
- د هر يوه تر هوکړې وروسته، د ټاکل شوو شوراګانو د غړو له ترکيب څخه جوړې شوې ډلې هره يوه د خپلې سيمې (محلاتو) په استازيتوب او له هر محل څخه د 5 – 10 پورې عادي خلک په کار پيل کوي.
- په پيل کې، دوی په هر محل کې د کورنيو اټکلي شمېره ټاکي، په خپلو اړوندو کوچنيو کليو کې د سرچينو: جوماتونو، عمومي سړک، لويو لارو، ښوونځيو او روغتيايي آسانتياوو (که شتون ولري)، د اوبو زېرمو، بربښنا، پلچکونو، مارکېټونو ( که شتون ولري) او نا دولتي اداري شتون (يا پخوا وخت کې د نا دولتي اداري شتون) او داسې نورو په هکله نظرونه سره تبادله کوي او د نظر ورکونې په کارتونو کې يې ليکي.
- دا فزيکي سرچينې او پراختيايي اداري وروسته په هغه لويه نقشه کې ځای پر ځای کېږي چې پولې يې د مخه رسم شوې دي. له هيلي سره سم دوی بايد په مناسبو ځايونو کې ځای پر ځای شي چې په دې سره به نقشه کره وګڼل شي. که څه هم امکان لري چې وخت په تېرېدو وي او د دې کړنې ترسره کول شوني نه وي، نو په دې حالت کې، د نظر ورکونې کارتونه له سرچينو سره په تصادفي توګه په کوچنيو کليو (hamlets) کې ځای پر ځای کېږي.
- کله چې ټولې سرچينې په نقشه کې ځای پر ځای شوې، ټول ګډونوال بېرته خپلو ځايونو ته راستنېږي او د هر فرعي واحد له مخې، له هر فرعي واحد څخه يو کس د نظر ورکونې هر يو کارت د ټولو ګډونوالو پر وړاندې لولي تر څو ډاډ تر لاسه کړي چې ټول ګډونوال له هغو فزيکي سرچينو سره موافق دي چې په نقشه کې ځای پر ځای شوي دي.
- له هرې ډلې څخه غوښتنه کېږي تر څو په مناسب موقعيت کې د هرې ټاکل شوې پراختيايي شورا استازو او د کلي پراختيايي شورا اداري پلاوي ځای پر ځای کولو په موخه نظرونه ورکړي. ملک سره له خپلو بېلا بېلو رسمي دندو سره بايد همدارنګه په نقشه کې راشي. په پای کې، له کليوالو څخه پوښتنه کېږي چې آيا بل څوک د شخړو په هواري او ټيکاو يا په بهر کې له دوی څخه د استازيتوب په برخه کې له دوی سره مرسته کوي. دا کسان بايد همدارنګه په نقشه کې ځای پر ځای شي.
- (<u>هيله ده په ياد ولرئ</u>: د نقشې جوړولو دا برخه په پاملرنې سره سمبالولو ته اړتيا لري.

- د نقشې د دې برخې اجراکول ډېر زيار او پاملرنې ته اړتيا لرې. د شورا غړې او حتی ملکان کيدای شی په ښه ړونتيا سره په نقشه کې ځای په ځای شی، کله چې د غير رسمي مشرانو په اړه پوښتنه کوئ، هيله ده په داسې توګه وپوښتئ چې د هغوی د رول او کار، پوهې او حکمت ستاينه مو کړې وي. د هغو مهمو فعالينو په توګه ورسره چلند وکړئ چې د عامه خير ښېګڼې په لاره کې هڅه کوي).
- د دې بهيرله لارې، تاسو هغه عامه او بشري سرچينې را منځ ته کړې دي چې د يوه کلي لپاره مهمه پانګه ده يا ښايي هغه د واک څښتنان (زورواکي) مشخص کړل چې هېر شوي وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- همدارنګه امکان لري چې بېلابېل فرعي واحدونه د مهمو سرچينو د موقعيت په اړه مخالف وي. په دې حالت کې، اصلي تسهيل کوونکی بايد هڅه وکړي تر څو د مخالفت لاملونه وپلټي او داسې يوه لاره ومومي چې د ټولو توافق تر لاسه کړي.
- تاسو همدارنګه کولای شئ وپوښتئ که چېرې کوم محل خاصې ځانګړتياوې ولري لکه داخلي بېځايه شوي کسان، يا کوچيان او نور... که چېرې شتون ولري، نو دا په همغه محل کې وښاياست او د وګړو شمېر يې نوټ کړئ.
- کله چې هر څه په نقشه کې راغلل، تاسو کولای شئ له اورېدونکو څخه پوښتنه وکړئ چې مور له دې نقشې څخه څه زده کولای شو. که چېرې تاسو وخت ولرئ، نو کولای شئ بحث وکړئ چې دا نقشه د سرچينو د وېش په اړه د څه شي ښکارندويي کوي، آيا کوم يو محل کوښه شوی دی، يا دا کېدلای شي د کلي په راتلونکو پراختيايي پلانونو کې په نښه شي؟
- د تسهيل کوونکي هغه غړی چې د پاڼ پر مخ د نقشې د کاپي کولو لپاره ګومارل شوی دی، د تسهيل پر مهال نقشه کاپي کوي.
- په پای کې، له ګډونوالوڅخه ددوی د مرستې له کبله په مننې سره دوی ويل کېږي چې ددې نقشې يوه کاپي به له دوی سره شريکه کړل شي.

**د معلوماتو پروسس، تجزيه او تحليل کول**

دفتر ته په راستنېدو سر، د څېړنې ډله بايد د نقشې د کاپي په کارولو سره چې د همدې ډلې د يوه غړي له لوري چمتو شوې ده، يوه لويه نقشه جوړه کړي چې نښې او اختصاري علامې په کې موجودې وي. دا مهمه ده چې د نښو او اختصاري علائمو ټاکنه بايد منطقي وي، چې په دې توګه لوستونکي په آسانه توګه کولای شي په هره نښه پوه شي او نقشه تحليل کړي. په پای کې، دا ډله بايد په نقشه باندې د نقشې د جوړوونکو نومونه او نېټه وليکي تر څو د نقشې له کاروونکو کسانو سره د نقشې په اړه د پوښتنو را ولاړېدو په صورت کې له دوی سره په آسانه توګه په اړيکه کې شي. په ياد ولرئ چې د ځايي شورا لپاره د نقشې يوه کاپي چمتو کړئ.

کله چې نقشه جوړه شوه، نو په نقشه کې نښې او اختصاري علامې وګورئ. د لاندې پوښتنو پوښتل به په دې برخه کې ګټور وي: په نقشه کې د فزيکي او بشري سرچينو له پاره کارول شوې نښې/نمونې په کلي کې د سرچينو د تخصيص په هکله د څه ويندويي کوي؟ ايا دا نمونې د سرچينو تمرکز ښيي؟ که چېرې همداسې وي، نو تاسې ولې فکر کوئ چې سرچينې متمرکزې دي: زورواکو کسانو د خپلې استوګنې په سيمه کې سرچينې متمرکزې کړې؟ دې کلي محدودې مالي مرستې په واک کې درلودې چې ويې نه شو کړای تر څو د کلي ټولې برخې تر پوښښ لاندې راولي؟ په کلي کې کومه برخه، اوبه/ ښوونځي/ سړکونه/ او داسې نور لري او کومه برخه يې نلري؟ آيا په ځانګړو کليو کې لږکۍ ډلې ( دوی کېدلای شي نژادي ډلې، داخلي کډوال او يا نور وي) شتون لري او آيا نقشه د نژاد او سرچينو ته د لاس رسي تر مينځ د اړيکې ښودنه کوي؟

دا پوښتنې به بې له شکه هغه نمونو ته اشاره وکړي چې د ځانګړو محرکو قوو ښودنه کوي چې ټولنيزو کارکوونکو ته په کار ده چې ورباندې وپوهېږي. که چېرې د نفوذ لرونکو کسانو مداخله او يا هم د ځانګړو کسانو ګوښه کېدنه شتون ولري، نو دا به په نقشه کې په ښکاره توګه وښودل شي. ټولنيز کارکوونکي بايد په دې هکله خبر وي او کوښښ وکړي چې په راتلونکي کې دا برخې پاتې نه شي.

هغه څه چې بايد په پام کې ونيول شي

- د نقشې جوړولو بهير تسهيل کوونکو ته اجازه ورکوي تر څو د شورا د غړو او د شورا د غړو او رئيس د خپلمينځي د محرکو قوو په اړه وپوهېږي، په ورته وخت کې، ښايي داسې پېښې هم شتون ولري چې د شورا رييس او ځينې غړي دا بهير په بشپړه توګه تر خپله ولکه لاندې راولي او په نقشه کې پولې له خپلې خوښې سره سمې په رسم کړي. دا مهمه ده چې بايد يادښت (يادداشت) کړل شي چې څوک له خپل تسلط څخه کار اخلي او څوک د چا ملاتړ کوي، خو بيا هم هڅه وکړئ تر څو ټول ګډون کوونکي په دې بهير کې ښکېل کړئ. په ډلو باندې د خلکو وېش، تر څو په خپلو اړوندو سيمو/حوزو باندې کار وکړي، يوه مهمه طريقه ده چې له هرې سيمې/حوزې څخه د خلکو د ونډه اخيستلو په هکله ډاډ ورکوي.
- د نقشې جوړولو بهير بايد په ټوليزه توګه د اصلي پولو د کره والي/سموالي په هکله چې کېدلای شي د نقشې جوړولو يوه ستونزمنه برخه وي، ډېره پاملرنه/ اندېښنه ونه کړي، بلکې په نقشه کې د ځای پر ځای شوو فزيکي او بشري سرچينو کره والی/سموالی ته ډېره پاملرنه وکړي.
- دا مهمه ده چې دا نقشه د ' يو کاري سند' په توګه په پام کې ونيول شي چې په فزيکي توګه له هرې سيمې/حوزې څخه په ليدنې او له ځايي اوسېدونکو سره د نقشې د محتوا په اړه په بحث کولو سره به تائيد/تصديق او د اړتيا په صورت کې بدلونونه په کښې راشي.

**د نقشې د کاروني ګټور ځايونه**

- په ځايي کچه له ټاکل شوو کسانو سره، د سيمې نقشه جوړول د يوې څېړنې يا پروژې/پروګرام د کړنې د ور پېژندلو لپاره يوه مهمه وسيله ګڼل کېږي.
- دانقشه د ملکانو، با نفوذه کسانو او زورواکو د استوګنې ځايونه (power centers) او هغه سيمې ښيي چې د سياسي/ټولنيزو ملحوظاتو له مخې ګوښه شوي دي يا په لېرې سيمو( سړکونو ته د لاس رسي په برخه کې) کې پرتې دي او کيدلای شي په کلي کې د هغو جغرافيايي برخو په اړه د ستراتيژۍ په جوړولو کې ترې کار واخيستل شي چې تمرکز ته اړتيا لري.
- دا نقشه په کلي کې د هغو برخو د پېژندلو په برخه کې ګټوره پرېوزي چې احتمالاً د پراختيايي ادارو پاملرنه ځان ته را اړوي او يا په عمومي توګه له پراختيايي بهيرونه څخه پاتې شوې دي.
- دا نقشه مرسته کوي تر د ملکانو، با نفوذه کسانو او زورواکو د استوګنې ځايونو (power centers) په تړاو د پراختيايي ادارو د کړنو موقعيت وکتل شي.
- نقشه جوړول يوه هغه ساده لاره ده چې د واک د نا برابرو اړيکو ليد/بصيرت را مينځ ته کوي چې د ټولنيزو کارکوونکو لپاره مهمه ده تر څو په اړه يې خبر وي.
- دا نقشه کېدلای شي د تر ټولو بېوزلو برخو ( د سرچينو د نه شتون، زورواکو کسانو شتون، لرې واټن، د نا دولتي ادارو د نه شتون او داسې نورو پربنسټ) په پېژندلو کې وکارول شي

(c) ketabton.com: The Digital Library

- دا نقشه کېدلای شي له سیمه ایزو دولتي ادارو څخه د سرچینو د تر لاسه کولو په موخه د حق غوښتنې د وسیلې په توګه وکارلو شي.

## 2. د بېوزلۍ تحلیل او تجزیه

یادونه: په هغه کلیو کې چې نارینه او ښځینه کولای شي په ګډه سره په غونډه کې ګډون وکړي، ، په غونډه کې د ګډون په موخه باید ښځې وهڅول شي; او په غونډه کې د کلي د حاضرو غړو نیمه برخه باید ښځې وي. په هغه کلیو کې چې ښځې او نارینه یو له بل سره په ګډه ملاقات/لیدنه نه شي کولای، نو د بېوزلۍ تحلیل او تجزیه کېدلای شي له نارینه وو سره تر سره شي چې وروسته به د دې تحلیل او تجزیې لومړۍ طرحه ښځینه وو ته وړاندې کړل شي او د دوی لپاره به لاندې پوښتنو ته په کښې ځای ورکړل شي:

آیا د تاسو په آند داسې کومې ځانګړتیاوې شتون لري چې په دې تحلیل او تجزیه کې نه وې راغلې او تاسو غواړئ چې په کې اضافه یې کړئ؟ ټولنیز کارکوونکي باید په ټولو هغو ځانګړتیاوو بحث وکړي چې د ښځو له لوري اضافه شوې دي هره ځانګړتیا په مختلفو ډلو ( ښه ، مینځنۍ/متوسط ، بېوزله او نور...) کې په پام کې ونیسې. د بېلګې په توګه، که چېرې ښځو یادونه کړې وي چې شبکې/ په واک کې کسانو ته لاس رسی توپیر لري، له دوی څخه دلارو چارو او وسیلو په اړه وپوښتئ.

د ښځو تبصرو او وړاندیزونو ته باید ځای ورکړل شي او د بېوزلۍ د تحلیل په پوسټر کې منعکس شي. د ښځو له لوري د تبصرو او وړاندیزونو تر اضافه کولو وروسته، د یاد پوسټر په هکله باید له نارینه وو سره یو ځل بیا بحث وشي او باید وروستۍ هوکړه تر لاسه شي.

**د بېوزلۍ د تحلیل او تجزیې موخه :**

د بېوزلۍ تحلیل او تجزیه د کلي، د کلي د بېوزلۍ د کچې، او بېوزلۍ او ګوښه توب تجربه کوونکو بېلابېلو خلکو په اړه د پوهېدلو بنسټ بلل کېږي. د بېوزلۍ تحلیل او تجزیه یوه مهمه ګډه ایزه طریقه ده چې د بېوزلۍ په هکله د خلکو درک تر لاسه کوي او هغه بېلابېل ټولګي او لېواله ډلې په ګوته کوي، له چا سره چې کېدلای شي ستونزې او د خوښې وړ فعالیونه وسپړل شي. د بېوزلۍ ارزونه چې دلته ذکر شوې ده له هرکلي سره د خپلو معیارونو له ټاکلو سره فاعلي یا شخصي بڼه لري.[3] که څه هم، په دې ځای کې ذکر شوی تحلیل او تجزیه، به اجازه ورکړي تر څو تر اغیز لاندې بېلابېل وګړي په ګوته کړي: لکه د ځمکې نه درلودونکي، د خوراکي توکو له کمښت سره مخ شوي بزګران، د ښځینه سرپرست لرونکي کورنۍ، معیوبین، هغه بزګر چې تر خپلې اړتیا ډېر حاصلات پلوري، د څارویو د لویو رمو خاوندان، او داسې نور...

**د بیوزلۍ د شننې/تحلیل او تجزیې بهیر:**

### 1. د بېوزلۍ شننې/تحلیل او تجزیې ته چمتووالی

د دې کړنې د تر سره کولو لپاره اړتیا لیدل کېږي چې تسهیل کوونکي (لږ تر لږه 3 – 4 کارکوونکو ته اړتیا ده) یو ځل د مخه کلي ته لاړ شي او د کلي پراختیایي شورا له رئیس او غړو څخه وغواړي تر څو د هر محل د هرې کورنۍ نومونونه د نومونو په کارتونو (***name cards***) کې ولیکي.

د یو مناسب ځای په ګوته کول (یو بې طرفه ځای، چې د نفوذ لرونکو کسانو د کور مخه نه وي) چې د تر ټولو بېوزلو او ګوښه شوو کسانو په ګډون د کلي ټول او سیدونکي په کې راحت وي. د کلي پراختیایي شورا له رئیس څخه وغواړئ تر څو له ټولو محلاتو څخه د کلي پراختیایي شورا د غړو له لارې په غونډه کې د ګډون په موخه د هر محل له بېلابېلو کورنیو څخه 7 – 10 کسانو پورې را وبولي.

د کړنې په ورځ، تسهیل کوونکی باید فلش کارتونه او مارکرونه په وخت سره راورسوي.

تسهیل کوونکی به وګوري چې څومره خلک شتون لري و له هر محل څخه استازیتوب به وګوري: که چېرې په ښکاره توګه لږ استازیتوب تر سترګو شي، د کلي پراختیایي شورا له غړو څخه باید وغوښتل شي تر څو خلک غونډې ته را وبولي. که چېرې کلی کوچنی وي، 25 – 50 کورنیو پورې نو د کورنیو یوه لویه سلنه (60 – 80 سلنه) کولای شي حاضر وي، که چېرې کلی لوی وي – 200 کورنۍ – نو د کورنیو سلنه به کوچنۍ وي. تر ټولو مهمه، د هر کلي د محل له بېلابېلو کورنیو څخه باید بېلابېل کسان شتون ولري! دا هم مهمه ده چې یقیني کړل شي چې له هر محل څخه خلک د خلکو د بېلابېلو برخو استازیتوب کوي. او په وروستنۍ برخه کې باید، له کلیو څخه یوازې د شتمنو او منځیو طبقو خلکو د استازیتوب مخنیوی وشي.

### 2. په کلي کې د تسهیل بهیر

1. لومړی ګام – پېژندګلوي او موخه

تسهیل کوونکي[4]

- له ټولو ګډونوالو سره روغبړ کوي، خپل ځان ورپېژني او د کلي اوسېدونکو ته وخت ورکوي تر څو هر یو خپل ځان تسهیل کوونکو ته ور وپېژني.
- د غونډې موخه تشریح کوي: د دې کړنې موخه داده تر څو د کلي د اوسېدونکو د اقتصادي او ټولنیز وضعیت په هکله پوه شو. دا مهمه ده چې په پیل کې هر څه د شونتیا تر کچې روښانه وي چې د دې کړنې موندنې به د کلیو د بیا رغونې او پراختیا له وزارت سره مرسته وکړي تر څو خپلې کړنې او پراختیایي بهیر په ښه توګه تنظیم کړي، ( او د نورو کلیو سره په تړاو د دې کلي په هکله په پوهېدلو کې له موږ سره مرسته کوي)
- د نقشې پر بنسټ، تاسو د محلونو په هکله له مخکې پوهېږئ، اوس له خلکو څخه وغواړئ تر څو په خپل کلي کې د بېلابېلو محلونو/برخو پر بنسټ په ډلو سره ووېشل شي ( د بېلګې په توګه شمال، جنوب، ختیځ، لویدیز یا زاړه کلی، نوي کلي، او داسې نور) اوس ولټوئ چې هلته څو محلونه دي، ( دا به له تاسو سره مرسته وکړي تر څو معلوم کړئ چې د کومو محلونو پوره، کمرنګ او یا هم هېڅ استازیتوب نه دی

---

[3] په ځینو کلیو کې بنایي ډېرې شتمنې کورنۍ شتون ولري ( لکه د ځمکې خاوندان چې ډېره ځمکه او یا سوداګري لري، او همداراز په ځینې کلیو کې، تر ټولو شتمنې کورنۍ چې یوازې څو محدود هکتاره ځمکه لري.)

[4] د بیوزلۍ تحلیل یو پیچلی تمرین دی او له 3 – 4 کسانو ته اړتیا لري. تسهیلونکي ډله باید پربکړه وکړي چې څوک به تسهیلونکی وي او څوک به د معلوماتو په تنظیمولو کې مرسته کوي، چې په دې توګه ټول ګډونکونکي کولای شي په څرګند ډول وګوري چې څه شی لاس ته راځی. یو تسهیلونکی باید دروازه ساتونکي سمبال کړی او یو هم د ماشومان.

(c) ketabton.com: The Digital Library

شــوي – که چېرې د کوم محل اســتازيتوب نه وي شــوی، نو مهمه ده چې له نوموړي محل څخه خلک په ګوته کړل شــي او په غونډه کې د ګډون لپاره را وبلل شي. دا به د دبېوزلۍ د تحليل پوره کره والي ډاډمن کړي).

- ډاډ تر لاسه کړئ چې د هر ګډون وال د ناستې ځای راحت دی او کولی شي چې ګډون وکړي

### 2. دوهم ګام – د کټګوريو را مينځ ته کول

اصلي تسهيل کوونکی

- غونډه له حاضــرو خلکو څخه د لاندې پوښــتنو په پوښــتلو ســره پيل کوي ' آيا موږ ټول د ژوند کولو د شــرايطو له مخې ســره ورته يو؟ موږ ځومره ځمکه لرو؟ موږ څنګه کرل کوو؟ موږ څومره څاروي لرو؟ موږ څه کار کوو؟ موږ څه خورو؟ موږ د کال په اوږدو کې څومره ځمکه لرو؟ موږ څه اغوندو؟ زموږ د ماشومانو زده کړې؟ هغه شتمنۍ چې زموږ ملکيت دی، د کورونو ډول، او داسې نور. دا به خلکو ته د هغه څه په اړه يوه مفکوره ورکړي چې تاســو هڅه کوئ تر لاســه يې کړئ او دوی ته به وړتيا ور په برخه کړي تر څو د خلکو/کورنيو تر مينځ د شــته توپيرونو د ډول په هکله نظرونه ســره تبادله کړي. هيله ده په ياد ولرئ چې تاســو بايد د هغو مهمو برخو ( په ټولو کليو کې به وپوښــتل شــي ) په هکله پوښــتنه وکړئ چې د شــاخصــونو په توګه وکارول شــي: د درلودونکي ځمکې کچه، د څارويو شــمېر، عايد (افغانۍ \مياشــت)، د خوراکي توکو خونديتوب ( د هغه مياشــتو شــمېر چې پکې د خوراکي توکو له مخې خوندي وي)، د بېکارۍ په فصــل کې د خوراک کولو وختونه، د ماشــومانو زده کړې، د پوروړو راکړه/ورکړه، پيشــکي مزدونه، د پيســو حوالې ( کومه ســيمه /هېواد او په کال کې څومره).
- ګډونوالو ته قلمونه او کارتونه په واک کې ورکړئ او له دوی څخه وغواړئ تر څو توپيرونه د نظر غوښــتنې په کارتونو کې وليکي- په حقيقت کې دا ځانګړتياوې دي. په دې وخت کې شوني ده چې له خلکو څخه د نمونو په هکله مخکې له مخکې څخه وپوښتل شي – د ځمکې درلودنې، درلودونکو څارويو او د کورونو ډولونه، او داسې نورو د اندازې تر مينځ توپير څه دي. د کړنې د دې برخې تر بشپړېدو وروسته، لخ خلکو څخه وغواړئ تر څو دا ځانګړتياوې ډلبندي کړي – د درلودونکي ځمکې، څارويو اندازه، د کور ډول، د خوراکي مصــــرفي توکو ډول، زده کړه او داسې نور...
- د ځانګړتياوو د ډلبندۍ پر بنسټ، له خلکو څخه وپوښتئ چې په کلي کې څو ټولنيزې- اقتصادي ډلې شتون لري او له دوی څخه وغواړئ چې نښه/علامه ګذاري يې کړي. په ډېر احتمال، خلک به د شتمنو، منځنيو، بېوزله او ډېرو بېوزله نښې وړاندې کړي. ښايي تاسو ونه غواړئ چې د شتمن، منځنی، بېوزله او ډېر بېوزله نښې وکاروئ ځکه خلک به له دې نښو سره هوسا/راحت نه وي، خو دا مهمه ده چې په واضح ډول داسې را مينځ ته شوې کټګورۍ شتون ولري چې يو له بله د پوهيدو وړ وي.
- د ټولو خلکو له هوکړې څخه د ډاډ تر لاســه کولو په موخه، له يو کس څخه وغواړئ تر څو يو ځل بيا د هرو کټګوريو ځانګړتياوې ولولي او خلکو ته فرصت ورکړئ تر څو بدلونونه په کې راولي.

### 3. دريم ګام – ډلبندي/طبقه بندي

- اوس، د نومونو هغه کارتونه وکاروئ چې د کلي پراختيايي شورا له رئيس څخه مو تر لاسه کړي دي او د هر محل نوم واخلئ او د ځانګړي محل له خلکو څخه وغواړئ تر څو دا نوم په يوه له کټګوريو کې کېږدي. دا مهمه ده چې د هرې کورنۍ ( د نوم کارت) په اړه، خلک بحث کوي چې ولې دا کارت په يوه ځانګړې کټګورۍ کې ايښودل کېږي، ډاډ تر لاسه کوي چې د اړوند محل د خلکو او له نورو ټولو سره د دوه ځله ازمويلو تر مينځ هوکړه موجوده ده. دا بهير احتمال لري چې د نورو ځانګړتياوو د رامينځ ته کېدو سبب شي، لکه پوروړيتوب، کډوالي، د خوراکي توکو خونديتوب، په ځانګړو فصــلونو کې د ځانګړو خوړو خوړل، او داســې نور. دا بهير به د ګډونوالو تر مينځ مناظرې ته لاره هواره کړي او تسـهيل کوونکي بايد دې مناظرې ته اجازه ورکړي تر څو دوام ومومي او يوه رغنده پايله په لاس راشــي. د دې بهير پر مهال، احتمالاً چې نوې کټګورۍ/ټولګي، لکه ټيټ منځنی، لوړه مينځنۍ، خورا بېوزله، برخې را مينځ ته شــي، لکه څنګه چې يو شــمېر کورنۍ له را مينځ ته شوو کټګوريو/ټولګيو سره سمون نه خوري. نورې رامينځ ته شوې کټګورۍ بايد ور زياتې شي او د نومونو هغه کارتونه چې له شتمن، مينځني يا بېوزله سره سمون نه خوري، بايد په نوو کټګوريو کې کېښودل شي.
- په دې برخه کې، له ګډونوالو څخه وغواړئ تر څو د زوی، وريرونو يا هر هغه نوم کېږدي چې د ښــځو په مشــرۍ د کورنيو لپاره کارول کېږي او ډاډ تر لاسه کړي چې دا په روښانه توګه په ګوته شوي دی چې په دې سره به وروسته (د ښځو د هڅونې د کړنو/تمرينونو لپاره) دوی د ګټه اخيستونکو ډلو په توګه په آسانه ډول په ګوته کړل شي.
- د دې کړنې په پای کې، تســهيل کوونکی بايد له ګډونوالو څخه معلومات تر لاســه کړي، چې آيا دوی غواړي په دې برخه کې څه نور شــي اضافه کړي او هم بدلون راوړي او د ګډونوالو له ګډون او وخت ورکولو څخه مننه وکړي.
- په پای کې، ټولو کارتونو ته بايد په داســې ډول شــمېره او کود ورکړل شــوي وي چې کټګورۍ/ټولګي له ځانګړتياوو او د کورنيو له نومونو سره په دفتر کې په آسانه توګه سره سر ورکړل شي.

**هغه احتياطي اقدامات چې بايد د ناستې پر مهال په پام کې ونيول شي**

- ښــايي په غونډه کې زورواکي کســـان شــتون ولري او هڅه وکړي چې غونډه تر خپل واک لاندې راولي/ مداخله وکړي. دا ځکه چې ډېر شمېر نا دولتي اداري د معيشت شننه/تحليل تر سره کوي تر څو معلوم کړي چې څوک بايد مرستې تر لاسه کړي او يا د راشن/ځېرې د وېش په نوملړ کې شامل شي، او يا د تخم پيسې تر لاسه کړي، او داسې نور. نو په غونډه کې به نوموړي کسان به هڅه وکړي تر څو بحث په داســې توګه پر مخ بوزې چې د خپل قوم، قبيلې غړي يا د هغوی کاريګر، بزګران او داســې نورو ته په کې لومړيتوب ورکړي او په پايله کې يې اعتبار تر لاسه کړي. هغو سرچينو ته لاس رسی ومومي چې نا دولتي اداري يې راوړي. دا مهمه ده چې له دا ډول کسانو سره په داسې توګه چلند وشي چې له غونډې څخه ګوښې کړل شي او په جلا توګه له دوی سره کار يا مرکه وشي تر څو له غونډې څخه لرې وساتل شي او د سيمې په هکله له دوی څخه معلومات تر لاسه شي او يا هم له غونډې څخه وايستل شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- دا هم امکان لري چې خلک به هڅه وکړي، چې د امکان تر حده ګڼ شمېر کورنۍ د بېوزلو په کټګوريو کې ځای پر ځای کړي او تاسو بايد په دې هکله وپوهېږئ. نو له دې امله تاسو بايد د هرې کورنۍ په هکله له لويې ډلې څخه وپوښتئ – نه په ډله کې يوازې له يو يا دوه کسانو څخه - بحث وکړئ چې ولې دا کارت بايد په يوه ځانګړې کټګورۍ کې کېښودل شي. ډله بايد د يوې ځانګړې کټګورۍ د ډېرى ځانګړتياوو په هکله بحث وکړي چې دوی غواړي کارت په کې کېږدي. په ياد ولرئ چې، لږ تر لږه 3 – 4 – 5 ځانګړتياوې بايد وکارول شي که چېرې کارت په همغه کټګورۍ کې کېښودل شوی وي.
- هر کلی يو لوی شمېر واړه ماشومان لري، چې احتمالاً غونډه اخلال کړي. هري تسهيل کوونکې ډلې ته په کار ده تر څو يو کس ته دنده ورکړي چې ماشومان له غونډې څخه خوا ته کړي له دوی سره لوبې وکړي او يا داسې کړنه تر سره کوي چې په کلي کې د ماشومانو له نظره ورته کتل کېږي.
- تسهيل کوونکو ته په کار ده تر څو ځانونه ډاډمن کړي چې په کلي کې له ټولو برخو څخه نارينه ګډون کوي او د معيشت په تحليل او تجزيه کې مرسته کوي او داډ تر لاسه کړي چې د ګډون کوونکو تر مينځ متقابل عمل شتون لري تر څو معلومه شي چې د نوم کارتونه په کومه کټګورۍ کې راځي چې په کې کېښودل شي او د هرې ډلبندۍ د ځانګړتياوو په هکله په شريکه پرېکړه وکړي. دا به د معيشت خورا کره تحليل تامين کړي.
- دا مهمه ده چې تاسو به کلي ته په تللو او د يو شمېر کورنيو په کتلو سره دا معلومات يو ځل و ارزوئ تر څو وګورئ چې د معيشت په کټګورۍ کې د کورنۍ ځای سم دی يا بدلون ته اړتيا لري; يا د دې پر ځای، که چېرې تاسو اضافي کړنې تر سره کوئ، تر ټولو بېوزله يا ډېر بېوزله وټاکئ (ستاسو د موخې بر بنسټ) او کله چې تاسو له دوی سره وينئ نو د دوی حالت تصديق/تائيد کړئ.

د معلوماتو پروسس، تحليل او تجزيه

کله چې تاسو دفتر ته راستون شوئ، په يوه لوی پوستر يو جدول جوړ کړئ چې درې ستنې/کالمونه ولري: ټولګی، ځانګړتياوې او د کورنۍ نومونه. د دې جدول يوه کاپي بايد د کليوالو په واک کې ورکړل شي او يوه کاپي بايد د سيمه ايز دفتر د ډلې له خوا وساتل شي.

دا جدول د کلی د ټولګيو/ډلو د جوړښت يو انځور وړاندې کوي، د بېلګې په توګه: په کومه کټګورۍ کې څومره کورنۍ راځي. د بېلابېلو ټولګيو ځانګړتياوې به تاسو ته ووايي چې د کلي اوسېدونکي شمتن، مينځني، بېوزله او ډېر بېوزله څه ډول تعريفوي. د بېلګې په توګه، هغه ښايي ځمکه (يا د ځمکې نه شتون)، کار، د کور ډول، شتمني، لوږه، ورځنی مزدوري، زده کړه او داسې نور وي. د معيشت شننه/تحليل او تجزيه تاسو ته اجازه درکوي تر څو وګورئ چې آيا شتمني متمرکزه ده – د يو محدود شمېر کورنيو په واک کې ده – او که تيت ده. دا تاسو ته د شتمنو، مينځنيو او بېوزلو کسانو د درلودونکې ځمکې د اندازې او پر ځمکه باندې د بېلابېلو ډلو د کار څرنګوالي په اړه ، د بېلګې په توګه: د تراکتور، څارويو يا بېلچې په واسطه، معلومات درکوي. دا په ګوته کوي چې څوک د قولبه/يوې کولو لپاره تراکتورونه يا څاروي لري او يادې وسيلې څه ډول په کرايه اخيستل کېږي او څوک د يادو وسيلو د کرايه کولو توان نلري. په همدې ډول، دا د بېلابېلو ټوګليو د اوسېدونې دکورونو د ډول، د هغو زده کړو د ډول چې ماشومان يې تر لاسه کوي، او داسې نورو... ښوودنه کوي. دا کړنه مهمه ده ځکه چې د کرنې يا مالدارۍ ( او په دې توګه د معيشت)، د ځمکې مالکيت او د ځمکې تخصيص، زده کړو ته لاس رسي او داسې نورو اړوند د څېړنې نورې برخې پرانېزي. کېدلای شي نورې ګډه ايزې کړنې رامينځ ته شي تر څو ياد موردونه په راتلونکې کې په تفصيل سره ولټوي. د برابر اهميت له مخې، د بېوزلۍ تحليل او تجزيه تاسو ته ورتيا در ښيي تر څو په اړوند کلي کې مو اغېزمنې ډلې په ګوته کړئ او د دوی د ژوند د حالت په اړه په پراخ تفصيل پلټنه وکړئ.

د کلي له پراختيايي شورا سره په وروستۍ کتنه کې به، تاسو د بېوزلۍ د تحليل د پوستر په کارولو سره د کلي پراختيايي شورا له رئيس او غړو څخه پوښتنه وکړئ چې د کلي په دې ټولنيزو – اقتصادي مشخصاتو کې په کومه برخه کې ياست.

**د بېوزلۍ د شننې د کاروني ګټور ځايونه**

- د کلي د ټولګيو/طبقو د جوړښت په څرنګوالي او د شتمنۍ، بېوزلۍ او ګوښه توب د کچې په هکله پوهېدل ( د خلکو شمېر په کومو ډلو کې، او د ځمکې نه درلودونکو، يا له يو جرېب څخه د کمې ځمکې درلودونکو کسانو شمېر، او داسې نور)
- تر اغېزې لاندې د راغلو ډلو په ګوته کول
- د کلي په مشرۍ د کړنو لپاره د لېواله ډلو ( کونډو، ورځنيو کرنيزو کاريګرو او نورو) په ګوته کول
- د شتمنو او بېوزلو او مينځنيو او بېوزلو تر منځ د اقتصادي اړيکو (څوک د چا لپاره کار کوي) په اړه په پوهېدو پيل کول او د دې عمودي تړاو د راکمولو په موخه د لارو چارو لټول
- دا ګډه ايز تحليل او تجزيه کېدلای شي د کلي پراختيايي شوراګانو په واسطه راشن/خېرې ته د اړو يا د دولت له لوري د تمويل شوو عامه کار پروګرامونو ته د مستحقو تر ټولو بېوزلو کورنيو په ګوته کولو کې وکارول شي.
- دا تحليل په پور، پيشکي مزد او يا د لږ پور په بدل کې د لوړې ګټې په لومه کې راګير کسانو په ګوته کولو او وروسته له دا ډول نابرابرو اړيکو څخه د راوتلو په موخه له دې کورنيو سره د ستراتيژيو په را مينځ ته کولو کې کارېدلای شي.

موسمي کليزه

يادونه: موسمي کليزه به د بېوزلو کورنيو د نارينه وو له يوې ډلې او ډېرو بېوزلو کورنيو د ښځينه وو له يوې ډلې او د بېوزلو کورنيو د ښځينه وو له يوې ډلې سره تر سره شي. په دې توګه، کله چې د کلي پراختيايي پلان جوړونه تر سره کېږي، د تر ټولو بېوزلو کورنيو د خوراکي توکو نه خونديتوب په پام کې نيول کېږي.

**د موسمي کليزې موخه**

د موسمي کليزې جوړول د هغه ستونزو په ګوته کولو په لاره کې يوه ګټوره کړنه ده چې په موسمي توګه را مينځ ته کېږي او په بېلابېلو ډلو او يا ټول کلي اغېز پرې باسي. همدارنګه، کېدلای شي په ډاګه کړي چې بېلابېلې ډلې به کوم وخت لږې بوختې وي او د هرو ټاکل شوو کړنو د پيل لپاره به تر ټولو مناست وخت کوم وي. زموږ د موخې په توګه به موسمي کليزه د مهمو محصولاتو او د شته کاري کړنو(د بېلګې په توګه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کښت کول، خشاوه او حاصل اخیستل ) او مزدونو تر مینځ اړیکه وپلټي. دا به له مونږ سره مرسته وکړي تر څو په بېلابېلو سیمو کې د کال په اوږدو کې د مزد د توپیر او د هغو ورځو د شمېر په هکله وپوهېږو چې په اړونده سیمه کې په کې کار موجود وي. په دې توګه، موږ کولای شو د کاري موسمونو اوج، د بیکارۍ موسمونه چې کار او عاید په کې نه وي، او له اقتصادي فشارونو سره د کورنیو د مقابلې ستراتیژۍ په ګوته کړو. په دې اړه پوهېدل به د کلي پراختیایي شوراګانو او فرعي کمیټو ته اجازه ورکړي تر څو د بېوزلو په ګټه کړنې په پام کې ونیسي

**د موسمي کلیزې د رامینځ ته کولو بهیر**

د موسمي کلیزې د رامینځ ته کولو لپاره چمتو والی

د معیشت د تحلیل او تجزیې پر بنسټ، هغه کورنۍ په ګوته کړئ چې ځمکه نلري یا یوازې یوه وړه ټوټه ځمکه لري چې د یوې مینځنۍ کچې درلودونکې کورنۍ اړتیاوې نه شي پوره کولای. د کارتونو له نوملړ څخه، له بېلابېلو محلونو څخه 15 – 20 کورنۍ وټاکئ. اوس د کورنۍ هغه عمده عاید تر لاسه کوونکی غوندې ته را وبولئ. دا ډله به د دې کړنې ګډونوال وي، او اوس له دوی سره اړیکه نیول کېدلای شي او له دوی څخه غوښتنه کېږي تر څو په یوه مناسب وخت کې له ټولنیزو کارکوونکو سره وګوري. دا کړنه پراخه ځای او ډېر چمتو والي ته اړتیا نلري.

د دې کړنې لپاره، د تسهیل په ډله کې باید لږ تر لږه 3 کسان ( هغه کس به خورا مهم وي چې دروازه ساتونکي تنظیم کړي) موجود وي. کلي ته تر رسېدو دمخه، د تسهیل کوونکو ډله باید پرېکړه وکړي چې څوک به اصلي تسهیل کوونکی (چې دنده به یې د اداري معرفي کول او د  دوي د پلان په هکله معلومات وړاندې کول وي) وي، څوک به د کارتونو په لیکلو، نوټ اخیستلو، د ډلو تسهیل، د دروازه ساتونکو او ماشومانو په سمبالولو، او داسې نورو کې مرسته وکړي. د دې کړنې په ورځ، تسهیل کوونکي باید تر ټولو د مخه را ورسېږي. له هغه ګډون کوونکو څخه د وغواړي چې پر ټاکلي وخت حاضر شوي دي تر څو له دوی سره د ځای په چمتو کولو، د کښناستلو په ترتیباتو نیولو، له پاڼو او اضافي توکو د یاد ځای په پاکولو کې مرسته وکړي.

**<u>د موسمي کلیزې د تسهیل بهیر</u>**

**<u>کله چې ډېری (که ټول نه وي) ګډونوال را ورسېدل، نو اصلي تسهیل کوونکی</u>**

- له ټولو ګډونوالو سره روغبړ کوي او ښه راغلاست ورته وایي، خپل ځان او خپله ډله ورپېژني او ګډونوالو ته وخت ورکوي تر څو هر یو خپل ځان تسهیل کوونکو ته ور وپېژني. وروسته اصلي تسهیل کوونکی د کړنې موخې تشریح کوي: موخه داده تر څو د حاصل اخیستلو د نمونو او د کار د موجودیت او خوړو تر مینځ اړیکه او د کورنیو د معیشـــت په خوندیتوب باندې یې اغېز ولټول شـــي. د کار تر بشـــپړېدو وروسته، د دې کړنې یوه کاپي باید د کلیوالو په واک کې ورکړل شي.
- دا کړنه له ګډونوالو سـره د باران د اورښـت د نمونو د انځور په جوړولو سـره پیل کېږي. لومړي ټکی چې را مینځ ته شـي هغه دا دی چې خلک کال ته په څه نظر/ډول ګوري ـــ په کومو میاشتو کې کال پیلېږي – او په یوه کارت باندې د هرې میاشتې نوم ولیکي او په ځمکه یې کېږدي. له دې وروسـته تسـهیل کوونکي له ګډون کوونکو څخه غواړي تر څو په خپلو مینځو کې بحث وکړي چې په کومو میاشـتو کې تر ټولو ډېر او په کومو میاشتو کې تر ټولو لږ باران ورېږي. د ډېر باران درلودونکې میاشتې د کارت په پورتنۍ برخه کې د پاڼو ( نخل، ګنې)، لرګیو یا تیږو په واسـطه ښـوودل کېږي چې په یوه لیکه پرتې وي، د پاڼې یا لیکې اوږدوالی د اندازې ښـوودنه کوي. تر ټولو لږ باران ( یا هیڅ باران ) به کومې پاڼې یا تیږې ونلري. کله چې حد اکثر میاشتې وټاکل شوې، له ډلې څخه غوښتنه کېږي تر څو پاتې میاشتې د باران د تر ټولو لوړې او ټیټې کچې په تړاو ډکې کړي.
- اوس تسـهیل کوونکی له ګډون کوونکو څخه غواړي تر څو د باران ورېدو نمونې په پام کې ونیسـي او د ټولو هغو حاصـلاتو (هیله ده یوازې په هغه مهمو حاصـلاتو تمرکز وکړئ چې د پام وړ خلکو ته د کار زمینه برابروي) په هکله بحث وکړي چې کرل کېږي. د هر حاصـل نوم په کارت لیکل کېږي.

  وروسته هر حاصل له زماني اړخه له باران سره په تړاو تر بحث لاندې نیول کېږي چې یاد حاصل د څو میاشتو لپاره ځمکه اشغالوي.
- کله چې  ټول کرنیز محصولات د باران د اوروښت د نمونو په تړاو ترتیب شول، نو تسهیل کوونکی له ګډونوالو څخه غواړي تر څو د کرنیز حاصل اړوند هره کړنه (لکه: کښت، خوی/خېشاوه، رېبل) تر بحث لاندې راولي، هره کړنه په کلیزه کې په نښه کړي او د هغو کاري ورځو شمېر او د مزد کچه چې کاریګر په دې کړنه کې کار کوي ولیکي.
- کله چې د کرنیز حاصـل کړنې، مزدونه او د ورځو شـمېر بشـپړ شـول نو تسـهیل کوونکی باید د نورو عایداتي کړنو په هکله وپوښـتي. د کرنیزو محصولاتو په څېر، دا کړنې په کلیزه کې د باران د اورښت او کال د میاشتو په تړاو په کلیزه کې ښودل کېږي.
- اوس د کال په اوږدو کې هغه ورځې سره جمع کړئ چې خلک یې په ترڅ کې کار لري او دا په یوه کارت کې ولیکئ. له خلکو څخه وپوښتنئ چې آیا دوی د دې موندنې په هکله موافق دي، که موافق نه وي، ښـایي کوم څه هېر شـوي وي او اړینه ده چې تاسو باید د کلیزې د بشپړېدو په موخه هغه ولټوئ.
- اوس د را مینځ ته شـوې کلیزې په اړه، په میاشـتني عاید باندې په کرنیزو محصـولاتو کې د کار کولو او نورو عایداتي سـرچینو د اغېزو په هکله بحث وکړئ.
- کله چې د عاید نمونې(شکلونه) رامینځ ته شوې، نو له ګډونوالو څخه به وپوښتل شي چې په هغه وخت کې چې عایدات محدود یا هېڅ شتون ونلري له ستونزو سره په څه ډول مقابله کوي; په هره میاشت کې چې عاید کم وي یا هم شتون ونلري، تسهیل کوونکی پوښتنه کوي تاسو په څه ډول خوراکي توکي تر لاسه کوئ.
- ځواب ویونکي په عمومي توګه له ملګرو او خپلوانو څخه د پور ترلاســـه کولو، د ځمکو له خاوندانو څخه په پېشـــکي د مزد اخســـتلو، د خوراکي توکو په مصـرف کې کموالی راوستلو، د خوراکي توکو کیفیت را ټیټولو، د شـتمنیو (څارویو) پلورلو او داسـې نورو په هکله خبرې کوي. او د ذکر شوې هرې یوې ستراتیژۍ په هکله بحث کېږي. د بېلګې په توګه، که چېرې پیسې په پور اخیستل کېږي، تسهیل کوونکي یې د شـرطونو په هکله پوښـتنه کوي (د بېلګې په توګه د هغې د سـود ورکړه، د پیسـو موجوده اندازه او داسـې نور). که چېرې د خوراکي

(c) ketabton.com: The Digital Library

توکو په مصرفولو کې کمی راوستل کېږي نو تسهیل کوونکی باید د هغې د جزئیاتو په هکله پوښتنه وکړي: د ورځې په ترڅ کې څو وخته خوراکي توکي خوړل کېږي، په کورنۍ کې څوک لږ/ډېر خوراکي توکي خوري او ولې، او په دې وخت کې خوراکي رژیم څه ډول بدلون مومي او داسې نور.

- اوس ټوله کلیزه د یوه ګډون کوونکي له لوري نورو ګډونوالو ته وړاندې کېږي او تسهیل کوونکي ته د هر ډول جزئیاتو په هکله د توضیحاتو فرصت ورکوي، دا همدارنګه هغه وخت دی چې ټول ګډونوال د دې تمرین د پایلو په هکله هوکړه کوي ( که چېرې هوکړې ته نه رسېږي نو باید بدلونونه را مینځ ته شي)
- یادښت لیکونکي باید په کارتونو باندې د لیکل شوو معلوماتو او جدول یوه کاپي چمتو کړې وي.
- د ګډونوالو ګډون کول باید وستایل شي او دوی ورياده کړل شي چې د جدول یوه کاپی به د دوی په واک کې ورکړل شی.

د معلوماتو پروسس، تحلیل او تجزیه

دفتر ته په راستنېدو سره، د دې تمرین ډله د یادښت لیکونکي له لوري د موسمي کلیزې چمتو شوې کاپي وکاروي او یو لوی پوستر جوړ کړي او هغه نېټه چې دا نقشه په کې جوړه شوې وه او د چمتو کوونکي ډلې د غړو نومونه باید په کې ولیکل شي چې په دې سره هغه کسان چې دا نقشه کاروي د کومې پوښتنې د درلودلو په صورت کې په آسانۍ سره کولای شي د نقشې له چمتو کوونکو سره په اړیکه کې شي. یوه اضافي کاپي باید جوړه کړل شي او د کلي په واک کې ورکړل شي.

کله چې پوستر چمتو شو نو تمایلاتو/ځانګړتیاوو ته په کتو سره په ښه توګه د دې کار د ترسره کولو په موخه به د لاندې پوښتنو پوښتل له ګټې خالي نه وي: خلک په هر کال کې څو ورځې کار کوي؟ کوم کرنیز حاصلات د کار ډېری فرصتونه را منیځ ته کوي؟ هر کاریګر د هرې کاري کړنې ( کښت، لو او داسې نور) په ترسره کولو سره څومره مزد لاس ته راوړي او په کال کې ټولټال څومره مزد په لاس راوړي؟ په کومو وختونو کې خلک عاید نلري؟ د عاید د نه شتون په وخت کې خلک له ستونزو سره په څه ډول مقابله کوي؟ د عاید د نه شتون په وخت کې خلک په چا باندې تکیه کوي؟ د عاید د نه شتون په وخت کې له خلکو سره مرسته کوونکي وګړي په دوی باندې کوم شرطونه ږدي؟ د خوراکي توکو د بشپړ خوندیتوب له پلوه په کورنیو باندې د دې شرطونه اغېزې څه دي؟ آیا دا شرطونه عادلانه دي؟ آیا کوم پټ سود شتون لري؟ د بېلګې په توګه: کله چې د ځمکو خاوندان له وخت څخه د مخه کاریګرو ته مزد ورکوي، آیا دا مزدونه د بېکارۍ د فصل او که د کار د فصل پر بنسټ ورکول کېږي او کورنۍ د دې مزد په بدل کې څه وخته کار کوي؟ آیا دوی د کار په فصل کې کار کوي کله چې د مزد کچه لوړه وي ؟ آیا دا هغه نرخونه دي چې له وخت څخه د مخه اخیستل شوي مزدونه به وروسته ترې کم شي؟ که چېرې د خوراکي توکو د مصرف کچه کمېږي، آیا په برابره توګه په کورنۍ باندې اغېز کوي او که د کورنۍ یو شمېر ډېر خواړه تر لاسه کوي او یو شمېر او ولې؟ د جندر( جنسیت) د اړیکو له اړخه یې اغېزې څه دي.

هغه ټکي چې باید په پام کې ونیول شي:

- دا تمرین ساده او تسهیل یې نسبتاً آسانه چاره ده. ښایي یو څه وخت نیوونکی وي او تسهیل کوونکي ته په کار ده تر څو وخت په پام کې ونیسي، ډاډ تر لاسه کړي چې کار مخکې ځي او موسمي کلیزه په 2 ساعتونو کې بشپړه شي ( په خپل ذهن کې مو غونډه په بېلابېلو پړاوونو و وېشئ او په پام کې ونیسئ چې هر پړاو ته څومره وخت ورکړئ- په دې توګه تاسو پوهېږئ چې یو ساعت وروسته به تاسو په کوم ځای کې یاست).
- هڅه وکړئ تر څو د ګډون کوونکو له برخه اخیستنې څخه ډاډ ترلاسه کړئ او دا تمرین د تسهیل کوونکو له ډېرې برخه اخیستنې څخه پرته بشپړ کړئ. ښه ده چې دوی په خپل مینځ کې بحث وکړي. که داسې کسان شتون ولري چې غونډه تر خپله ولکه لاندې راولي او نورو ته د برخه اخیستنې وخت ورنکړي نو ښه ده چې مداخله وکړئ.
- که څه هم د دې تمرین تسهیل آسانه دي خو بیا هم ښایي د لیدونکو (تماشاچیانو) د شتون له کبله ستونزې شتون ولري چې د دوی شتون ستونزې جوړوي تر څو ګډونوال د مقابلې د میکانیزمونو، په ځانګړې توګه، که چېرې د شتمنو کورنیو یا د ځمکو د خاوندانو له لوري د بېکارۍ په فصل کې له بېوزلو کورنیو سره د هغوی د ستونزو د حل په اړه د کېډونکي مرستې په هکله بحث وکړي. نو په دې صورت کې، د دروازې ساتونکي باید لاس په کار شي او دا خلک باید دموسمي کلیزې په هکله له بحث کولو څخه لرې کړي.

د موسمي کلیزې د کاروني ګټور ځایونه:

- موسمي کلیزه د بېکارۍ د دورو (د حاصل نه شتون) – اونیو یا میاشتو د معلومولو، چې پر مهال یې خلک کافي خوراکي توکي یا پیسې نلري تر څو خوراکي توکي وپېري او همدارنګه د مقابلې د ستراتیژیو د معلومولو لپار یوه مهمه طریقه ده. موږ کولای شو له دې معلوماتو څخه کار واخلو تر څو فکر وکړو چې د مقابلې د میکانیزمونو د مخنیوي په برخه کې د څه شي بدلون ته اړتیا لیدل کېږي تر څو په راتلونکي کې د شاتګ لامل کېږي (لکه د پورونو اخیستل، له وخت څخه د مخه د مزد اخیستل، د شتمنیو پلورل او داسې نور) او ستراتیژۍ ( د غلو زېرمه، د سپما ډلې، د عامه کارونو پروګرامونه) په پام کې ونیسو تر څو له کورنیو سره د خوراکي توکو د کمښت پر مهال مرسته وکړي. دا کړنه کېدلای شي په راتلونکي کې د ولسي تړون پروګرام د ټولنیزو کارکوونکو له لوري وکارول شي تر څو له کلیو سره د اوږدمهاله ستراتیژیو په برخه چې ښایي په موجوده ځمکه باندې د هغه محصولاتو کرلو ګډه ایزه ستراتیژي په کې شامله وي چې د بېکارۍ په فصل کې را ټولېږي. هغه کورنۍ چې له لوړې سره مخ دي او مزد په پیشکي توګه تر لاسه کوي او یا د ځمکې له خاوندانو څخه پور اخلي په ډله ایزه توګه د ځمکې له ځایي خاوندانو سره د پیشکي مزد اخیستنې په اړه خپلې کړنلارې ته د بدلون ورکولو، مزد او نورو د ښه والي په موخه د ډله ایزو معاملاتو د ستراتیژیو په هکله خبرې اترې وکړي.
- دا تمرین همدارنګه کېدلای شي د وخت په تېرېدو سره د اوربنت په بڼه/نمونه او کرکېلې په کړنلارو کې د بدلونونو موندلو د موندلو او دا چې دا بدلونونه به په څه ډول اصلاح شي تر څو مطلوبې پایلې تر لاسه شي (د کلي پراختیایي شورا د کرنې فرعي کمیټه – په راتلونکي کې).
-

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ماته کوزه :**

یادونه: د ماتي کوزې تمرین له بېوزلو کورنیو څخه د نارینه وو له یوې ډلې او له ډېرو بېوزلو کورنیو څخه د ښځینه وو له یوې ډلې (هغه کسان چې غواړي خپلې پیسې کنټرول کړي ) سره تر سره کېږي. په دې توګه کله چې د کلي د پراختیایي پلان جوړول تر سره کېږي خلک هغه باید هغه لګښتونه چې د دوی د بېوزلۍ لامل کېږي (لکه: د ودونو او جنازو لګښتونه، د پورونو سود، له وخت څخه د مخه مزد، روغتیایي لګښتونه) په پام کې ونیسي او په ګډه فکر وکړي چې په څه ډول د دې لګښتونو کچه را ټیټه کړي.

د ماتي کوزې د تمرین موخه:

د ماتي کوزې تمرین یو ګټور تمرین دی چې کولای شي له هرې کورنۍ یا د کورنیو له یوې ټولګي یا ټول کلي سره د دوی د معیشت د ښه کولو په برخه کې مرسته وکړي. د دې کړنې/تمرین پر مټ خلک کولای شي کورنیو/کلي ته د پیسو د راتګ عمده جریان مشخص او اندازه یې معلومه کړي.

د ماتي کوزې ښه تحلیل او تجزیه تر دې پورې اړه لري چې له چا سره تر سره کېږي، کولای شي د موجوده اقتصادي کړنو د پراختیا په اړه له پرېکړو څخه خبر وکړي. (تر څو ډېر عاید ترلاسه شي) او همدارنګه د لګښتونو بنې ته بدلون ورکړل شي تر څو د بېځایه لګښتونو مخنیوی وشي او هغه وشي چې سپما ډېره شي.

له یوې ډلې سره د ماتي کوزې د جوړولو بهیر

1. د ماتي کوزې د کړنې/تمرین لپاره چمتووالی

د کورنیو د معیشت د تحلیل او تجزیې پر بنسټ، هغه کورنۍ په ګوته کړئ چې ځمکه نلري یا یوازې یوه کوچنۍ ټوټه ځمکه لري چې د یوې مېنځنۍ کورنۍ اړتیاوې نه شي پوره کولای. د کارتونو له نوملړ څخه له بېلابېلو محلاتو څخه د 15 څخه تر 20 پورې کورنۍ وټاکئ، وروسته د هغوی د عاید اصلي تر لاسه کوونکي دې غونډې ته راوبولئ. دا ډله به د دې کړنې/تمرین ګډونوال وي او اوس کولای شو له دوی څخه غوښتنه وکړو تر څو په یوه مناسب وخت کې له ټولینزو کارکوونکو سره ووینې. د دې کړنې لپاره پراخه ځای او ډېر چمتووالي ته اړتیا نشته.

د دې تمرین/کړنې لپاره تسهیل کوونکي ډله باید لږ تر لږه له 3 کسانو ( یو کس باید د دروازه ساتنې دنده پر غاړه واخلي چون مهمه ده) څخه جوړه شوې وي. کلي ته تر رسېدو دمخه، د تسهیل کوونکو ډله باید پرېکړه وکړي چې څوک به اصلي تسهیل کوونکی (چې دنده به یې د اداري معرفي کول او د دوي د پلان په هکله معلومات وړاندې کول وي) وي، څوک به د کارتونو په لیکلو، نوټ اخیستلو، د ډلو تسهیل، د دروازه ساتونکو او ماشومانو په سمبالولو، او داسې نورو کې مرسته وکړي. د دې کړنې په ورځ، تسهیل کوونکي باید تر ټولو د مخه را ورسېږي. له هغه ګډون کوونکو څخه د وغواړي چې پر ټاکلي وخت حاضر شوي دي تر څو له دوی سره د ځای په چمتو کولو، د کښناستلو په ترتیباتو نیولو، له پاڼو او اضافي توکو د یاد ځای په پاکولو کې مرسته وکړي.

دماتي کوزې د تسهیل بهیر:

<u>کله چې ډېری ګډونوال ( که ټول نه وي )را ورسېدل، نو اصلي تسهیل کوونکی</u>

- له ټولو ګډونوالو سره روغبړ کوي او ښه راغلاست ورته وایي، خپل ځان او خپله ډله ورپېژني او ګډونوالو ته وخت ورکوي تر څو هر یو خپل ځان تسهیل کوونکو ته ور وپېژني. وروسته اصلي تسهیل کوونکی د کړنې موخه چې د کورنیو (که چېرې د کلي له لویې ډلې سره تر سره شي نو د کورنیو په ځای د دې کلي نوم ذکر کړل شي) د اقتصادي حالت په هکله پلټنه ده، تشریح کوي. کله چې د کار بهیر بشپړ شو نو د دې تمرین یوه کاپي باید د کلي په واک کې ورکړل شي.
- دا تمرین له ګډونوالو سره، د خپلو کورنیو اقتصاد ( یا د کلي اقتصاد، که چېرې ډېرې بېلابېلې ټولنیزې- اقتصادي ډلې ګډون ولري) ته د کوزې په توګه انګېرولو سره پیلېږي چې په هغې کې له پورته لوري عاید ور اچول کېږي او په هغې کې له سوریو څخه لګښتونه اخیستل کېږي پیلېږي. له یوه ګډون کوونکي څخه وغواړئ تر څو یوه کوزه رسم کړي.
- اوس د ټولو هغو کړنو په هکله د خلکو نظرونه تر لاسه کړئ چې خلک په کلي کې دننه ( د بېلګې په توګه په کلي کې په کرنیزه برخه کې مزدوري کول ترڅو د بزګرانو عایدات ډېر شي، د هګیو پلورل) یا له کلي څخه بهر ( د بېلګې په توګه د کرنې په برخه کې له هغو بزګرانو سره کار کول چې له کلي څخه بهر اوسېږي، په نېږدې ښارونو کې په رغنیزو چارو کې کار کول، د کورنۍ له هغو غړو څخه د پیسو د حوالې تر لاسه کول چې په موسمي یا هم دائمي توګه کډوال شوي دي)، دولتي مرستې ( د بېلګې په توګه د MCG د کار پروګرام یا د ولسي ترون پروګرام د بنسټیزو جوړښتونو په برخه کې د کار موکه) او په کوچنیو سوداګریزو کړنو (د چرګانو هګۍ، لاسي صنایع او داسې نور) خلک د کال په بېلابېلو برخو کې په کې ښکېل دي.
- د یو ګډونکونکی څخه و پوښتې چه د پیسو ګټلو کړنې د تیرونو په واسطه د کوزېپه پورتنی برخه یا د عایداتو سرچینې کی رسم کړی. د تیر پیر والی د عایداتی سرچینی اهمت د ټولو سرچینو په اړوند ښیی.
- له یو ګډون کوونکي څخه وغواړئ تر څو په کوزه کې د پیسو اچول د وکتورونو (تیرونو) په واسطه د کوزې پر سر چې د عاید منبع ګڼل کېږي رسم کړي. د عاید د ټولټال سرچینو په تړاو، د وکتور پنډوالی د عاید د سرچینې د اهمیت ښکارندويي کوي.
- کوښښ وکړئ چې د عاید د سرچینو اندازه معلومه کړئ او مېنځنیو کچو ته ورسېږئ ( په دې توګه پکار ده
- چې ډله باید له ټولنیز- اقتصادي اړخه سره ورته وي)
- اوس د ټولو لګښتونو په هکله د ګډونوالو نظریې تر لاسه کړي: خوراکي توکي، درمل، جامې، قرطاسیه (لکه کتابچې، قلمونه او داسې نور)، د ودونو او جنازې د مراسمو لګښتونه، د پورونو ورکړه، و څارویو د روغتیا اړوند خدمتونه، له وخت څخه د مخه د ترلاسه شوو مزدونو بېرته ورکړه.
- له یو ګډون کوونکي څخه وغواړئ تر څو د پیسو هر لګښت د کوزې په ښکتنۍ برخه کې د وکتورونو په رسمولو سره په ګوته کړي، لوی لګښتونه باید په پنډو وکتورونو وښودل شي.
- اوس کوښښ وکړئ چې د لګښتونو کچه معلومه او د منځنۍ کچې په هکله هوکړې ته ورسېږئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- اوس بحث وکړئ چې کوم لګښتونه اړین دي لکه (خواړه، د ماشومانو درسي توکي، د پخلي لپاره د سون توکي او داسې نور) او ضایعات ( لکه د پورونو ورکړه د هغې له سود سره، روغتیا ته د نه پاملرنې یا ککړ چاپېریال له کبله د نس ناستې او نورو ناروغیو لپاره روغتیايي خدمتونه، د جنازې، ودونه او داسې نور).
- ګډونوال په بحث او مشورو بوخت کړئ تر څو فکر وکړي چې د کومو لګښتونو مخنیوی کولای شي او څرنګه؟
- تګلارې را مینځ ته کړئ: 1بېلګه: د غلو او دانو د زېرمې ځایونه یا بانکونه (د پرېماني پر مهال د خوراکي توکو ذېرمه کول) او په ډله ییزه توګه سپما کولای شي له بېوزلو کورنیو سره د پور او پیشکي مزدورۍ اخیستلوڅخه د مخنیوي په برخه کې مرسته وکړي. 2 بیلګه: که چېرې د جنازو او ودونو د مراسمو لګښتونه په ګوته شوي وي نو د ماتې کوزې دا تمرین/کړنه په ټولو محلاتو کې تر سره کړئ او له خلکو څخه وپوښتئ چې څوک غواړي دا لګښتونه ودروي یا یې کم کړي تر څو د کلي له پراختیایي شورا او نورو سره یې د شریکولو په موخه یوه غونډه تر سره شي. 3 بېلګه: که چېرې د نس ناستې او وینې درلودونکي نس ناستي اړوند روغتیايي خدمتونو لګښتونه د دې غونډې د ډېرې ګډونوالو له لوري بیان شوي وي، نو دا تمرین د په نورو محلاتو کې هم تکرار شي او وکتل شي چې که چېرې دا موضوع هلته هم بیان شوي وي، که داسې وي نو کلی باید د کلي په مشرۍ په کامله روغتیا ساتنه CLTS کې شامل کړل شي.
- د ماتې کوزې تمرین د عاید د کچې لوړولو او نویو ستراتیژیو په لاس راوړلو لپاره په بحث کولو کې کارول کېږي. ډله کولای شي دا موضوع په ډله ایزه یا انفرادي توګه تر بحث لاندې راولي.
- د یادښتونو لیکونکی باید د جدول او نورو معلوماتو یوه کاپي چې په کارتونو کې لیکل شوي دي، چمتو کړي وي، هغه کاري ټکي چې د ډلې له لوري وړاندیز شوي دي باید یادداشت شي او فعالین (د کلي پراختیایي شوراګانو فرعي کمیټې، د کلي پراختیایي شوراګانې، د ځمکو خاوندان او داسې نور) باید په ګوته کړل شي تر څو د دې کار د تر سره کولو لپاره مرسته او ملاتړ وړاندې کړي. .
- د ګډونوالو له برخه اخیستنې څخه په مننې کولو سره باید دوی ته وویل شي چې د دې جدول یوه کاپي به دوی ته ورکړل شي او په راتلونکې ناسته کې به کاري پلان جوړ کړل شي ( دا کار او کاري پلانونه له نورو سره شریک کړئ، په کلي کې د ننه او بهیر پراختیايي فعالینو ملاتړ تر لاسه کړئ، او د اړتیا په صورت کې د سرچینو د تر لاسه کولو لپاره اړونده اداري وهڅوئ او داسې نور)

**د معلوماتو پروسس، تحلیل اوتجزیه:**

دفتر ته په راستنېدو سره، د دې تمرین ډله د یادښت لیکونکي له لوري د ماتې کوزې چمتو شوې کاپې وکاروي او یو لوی پوستر جوړ کړي او هغه نېټه چې دا نقشه په کې جوړه شوي وه او د چمتو کوونکي ډلې د غړو نومونه باید په کې ولیکل شي چې په دې سره هغه کسان چې دا نقشه کاروي د کومې پوښتنې د درلودلو په صورت کې په آسانۍ سره کولای شي د نقشې له چمتو کوونکو سره په اړیکه کې شي. هغه پوستر چې په ناسته کې جوړ شوی دی باید لوی وي او باید ډله یې له ځان سره وساتي. یوه اضافي کاپي باید جوړه او د کلي پراختیايي شورا په واک کې ورکړل شي.

کله چې پوستر چمتو شو نو تمایلاتو/ځانګړتیاوو ته په کتو سره په بشپړ ډول ته د دې کار د ترسره کولو په موخه به د لاندې پوښتنو پوښتل له ګټې خالي نه وي: تر ټولو ناوړه په ګوته شوي لګښتونه کوم دي؟ آیا داسې کوم لګښتونه شتون لري چې اړین نه دي او کولای شو د هغوی مخنیوی وکړو ( د ودونو یا مړي د تدفین په مراسمو کې کلي ته د ډوډۍ ورکولو په موخه د پور اخیستل)؟ څنګه کولای شو د دې لګښتونو مخنیوی وکړو؟ ( هر څوک د یوه اندازه اوړه، کچالو، وریژې، ترکاري په برخه کې ونډه اخلي او خلک کولای شي د یوه څاروي د پېرلو لپاره پیسې راټولې او حلال یې کړي، د دې پر ځای چې یوه کورنۍ ټول لګښتونه په غاړه واخلي، ټول خلک په کلي کې د واده یا مړي د تدفین پر مهال د ډوډۍ ورکولو په برخه کې ونډه اخلي). آیا کولای شو د هغه روغتیايي لګښتونو مخنیوی وکړو چې د خرابې حفظ الصحط څخه را مینځ ته کېږي؟ آیا کولای د هغه پورونو له اخیستلو څخه ډډه وکړو چې د بېکارۍ په فصل کې د خوراکي توکو د چمتو کولو لپاره تر لاسه کېږي او څه ډول؟ عاید څه ډول له لګښتونو سره پرتله کړو؟ څنګه کولای شو لاس ته راوړنې له نېږدې پرتو کلیو سره پرتله کړو؟ آیا داسې تمایلات/ځانګړتیاوې مو تر سترګو کېږي چې خلک په بېوزلۍ کې را ګیروي؟

هغه څه چې باید په پام کې ونیول شي

- دا تمرین ساده او تسهیل یې نسبتاً آسانه چاره ده. بنایي یو څه وخت نیوونکی وي او تسهیل کوونکي ته په کار ده تر څو وخت په پام کې ونیسي، ډاډ تر لاسه کړي چې کار مخکې ځي او موسمي کلیزه په 2 ساعتونو کې بشپړه شي ( په خپل ذهن کې مو غونډه په بېلابېلو پړاوونو و وېشئ او په پام کې ونیسئ چې هر پړاو ته څومره وخت ورکړئ- په دې توګه تاسو پوهېږئ چې یو ساعت وروسته به تاسو په کوم ځای کې یاست).
- هڅه وکړئ تر څو د ګډون کوونکو له برخه اخیستنې او د کار له بشپړولو (په خپله د ماتې کوزې رسمولو) څخه ډاډ تر لاسه کړئ او دا تمرین د تسهیل کوونکو له ډېرې برخه اخیستنې څخه پرته بشپړ کړئ. ښه ده چې دوی په خپل مینځ کې بحث وکړي. که داسې کسان شتون ولري چې غونډه تر خپله ولکه لاندې راولي او نورو ته د برخه اخیستنې وخت ورنکړي نو ښه ده چې مداخله وکړئ.
- که څه هم د دې تمرین تسهیل آسانه دي خو بیا هم بنایي د لیدونکو (تماشاچیانو) د شتون له کبله ستونزې شتون ولري چې د دوی شتون ستونزې جوړوي تر څو ګډونوال د مقابلې د میکانیزمونو، په ځانګړې توګه، که چېرې د شتمنو کورنیو یا د ځمکو د خاوندانو له لوري د بېکارۍ په فصل کې له بېوزلو کورنیو سره د هغوی د ستونزو د حل په اړه د کېدونکې مرستې په هکله بحث وکړي. نو په دې صورت کې، د دروازې ساتونکي باید لاس په کار شي او دا خلک باید دموسمي کلیزې په هکله له بحث کولو څخه لرې کړي.

د ماتې کوزې د کاروني ګټور ځایونه:

- ماته کوزه د نا اړینو لګښتونو د پېژندلو او د عایداتو د ډېرېدلو یا د نورو عایداتي سرچینو د پیدا کولو لپاره خورا مهم تمرین دی. ( په دې توګه اړینه ن ده چه تر یوه یا دوه عایداتي سرچینو پورې تړلې واوسي)
- له ماتې کوزې تمرین څخه کېدلای شي د بېځایه لګښتونو د کمولو او د پورونو د سود د کمولو په څارنه کې کار واخیستل شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- د ماتي کوزې تمرين موږ ته نه شي ويلای چي کومي اقتصادي کړني ته بايد دوام ورکړل شي، بلکه کولای شي يو داسي بحث را مينځ ته کړي تر څو فکر وکړي چي د اهميت له اړخه بايد کومي اقتصادي کړني وپلټل شي ( د دې لپاره مونږ د ځنځيري ارزښت د ارزولو له وسيلي څخه کار اخيستلای شو چه کليوالي ډلي ترې کار اخيستلای شي).

**2. د ښځو د خوځښت/فعاليت تمرين**

د ښځو د خوځښت/فعاليت تمرين موخه
دا تمرين د ښځو د فعاليت په هکله د پوهېدو لپاره ګټور دي (ډېره به ښه وي چي له عايداتي يا د ټاکلي حالت درلودونکو ډلو سره کار وکړو (لکه بېوزله طبقه يا کونډې) تر څو د ښځو د فعاليتونو اړوند آزادی او محدوديتونه باندي پوه شو. که چېرې
دا تمرين له بېلابېلو ټولنيزو – اقتصادي او يا هم د عمر د بېلابېلو کچو له درلودونکو ډلو سره تر سره شي نو د تمرين نقشه بايد د ښځو په فعاليتونو کي توپيرونه (د فعاليتونو ځای، شمير يا وار او له چا سره) بايد په روښانه توګه د ټاکلو نښو يا علامو په واسطه په څرګند ډول وښودل شي. دا ځکه چي د هېواد په يو شمېر برخو کي له بېلابېلو يعني بېوزله او ډېر بېوزله طبقو څخه د ښځو په فعاليتونو کي چي په کرنيزه برخه کي مذدوري کوي توپير شتون لري. دا تمرين بايد روښانه کړي چي آيا ښځي مزدوري کوي او کومي ښځي مزدوري کوي، دوی د مهمو خدمتونو د تر لاسه کولو، ټولنيزو کړنو او غونډو لپاره چېرې ځي (له چا سره او څو ځله). که چېرې بېوزله او ډېرې بېوزله ښځي کم عايد ولري، نو بايد په دې اړه بحث وشي چي د عايد د نه شتون په صورت کي دوی د خوراکي توکو د پېرلو پر مهال له کومي ستراتيژۍ څخه کار اخلي. ( د وخت د کموالي په صورت کي دا بحث کېدلای شي چي په بېلابېلو وختونو کي تر سره شي)
د ښځو د خوځښت/فعاليت د نقشي جوړولو لپاره چمتوالی:
د کلي پراختيايي شورا له رئيس څخه بايد غوښتنه وشي چي ښځي غونډې ته را وبولي. د نقشي جوړولو لپاره له ځان سره سپين پوډر، کارتونه او توش قلمونه (مارکرونه) له ځان سره راوړئ. د دې تمرين د تر سره کولو لپاره يوه پراخ ځای ته اړتيا ليدل کېږي.
يو مناسب ځای وټاکئ چي ټولي ښځي په کي راحت وي. د دې تمرين لپاره، د تسهيل کوونکو ډله بايد لږ تر لږه له 2 کسانو څخه جوړه شوي وي. کلي ته تر رسېدو دمخه، د تسهيل کوونکو ډله بايد پرېکړه وکړي چي څوک به اصلي تسهيل کوونکی (چي دنده به يې د د کليو د بيا رغوني او پراختيا وزارت MRRD /ملي پيوستون پروګرام NSP معرفي کړي، د دې تمرين پلان بيان او ګډونوال په تحليل او تجزيه کي ښکېل کړي) وي، څوک به د کارتونو په ليکلو، نوټ اخيستلو کي مرسته وکړي.
تسهيل کوونکي بايد ګډونوالو ته دا تمرين ور وپېژني (د ورپېژندني برخه وګورئ) او بايد وګوري چي ټولي حاضرې ښځي د کورنيو سرپرستاني دي او هېڅ ځمکه نلري.

**د بيا رغوني د بهير د تسهيل بهير**

له ښځو څخه د ټولو هغو ځايونو په اړه نظر وغواړئ چي دوی ورڅخه ليدنه کوي. په دې وخت کي، د ځايونو د مقعيت په هکله فکر مه کوي، يوازې د ځايونو يا دفترونو نومونه وليکئ (هر يو په يو کار باندي)
اوس له پوډر څخه په کار اخيستني 6 دايرې رسم کړئ، په لومړۍ دايره د محل په نوم، دوهمه دايره د کلي په نوم، دريمه دايره د فرعي ولسوالۍ په نوم، څلورمه دايره د ولسوالی په نوم، پنځمه دايره د ولايت او شپږمه دايره د بل ولايت يا کابل په نوم ونوموئ
اوس د هر کارت په اړه له ښځو سره بحث وکړئ او په دايره ( د اوبو سرچينه، د کاونډي کور او داسي نور) کي يې کېږدئ. کله چي ټول کارتونه په يوه له دايرو کي ځای پر ځای شول، نو تاسو به د هر کارت په هکله يو ځل بيا بحث وکړئ.
د هر کارت لپاره:

- له ګډون کوونکو څخه وغواړئ که چېرې دوي ټاکل شوي ځای ته ځي نو خپل لاسونه د اوچت کړي، که چېرې تاسو وليدل چي 25٪ ښځي هلته نه ځي نو لامل يې وپلټئ (آيا هلته د ځوانو او سپين سرو ښځو تر مينځ توپېر شتون لري.
- وروسته له ښځو څخه وپوښتئ چي آيا دول هلته يوازې ځي، که چېرې يوازې نه ځي نو له دوي سره څوک ځي (محرم يا نورې ښځي)، يو ځل بيا ولټوئ که چېرې د عمر له مخي توپير شتون ولري
- معلومه کړئ چي دوی هلته څه ډول ځي ( د ټرانسپورټ، پياده، موټر، او نور)
- وروسته معلومه کړئ چي دوی څو ځله هلته ځي ( د ښځو تر مينځ توپېرونه وګورئ او د شتون په صورت کي يې د لامل په هکله پوښتنه وکړئ)

که چېرې تاسو ته څرګنده شوه چي ښځي د مزدورۍ کولو په موخه کروندو ته ځي:
پوښتنه وکړئ: په کلي کي دې کړني ته په څه ډول انګېرل کېږي
تاسو هلته څه کار کوئ: د دوی د کړنو په هکله نظرونه را غونډ کړئ (خوی/خېشاوه او نور)
څومره مزد د کومي کړني تر سره کولو په بدل کي تاسو تر لاسه کوئ
اوس له ښځو څخه د بېکارۍ يا عايد د نه شتون پر مهال د دوی د خوراکي توکو د خونديتوب او مقابلي د ميکانيزمونو په هکله وپوښتئ.
په پای کي له ښځو څخه پوښتنه وکړئ چي دوی د عامه کار په پروګرامونو لکه د حفظ او مراقبت په نغدي وجهه MCG کي څه ترسره کولای شول. ( په کار کي د برخه اخيستني، يا پخلي او يا نورو کي د برخه اخيستني په هکله وپوښتئ)

**د معلوماتو پروسس، تحليل او تجزيه**

دفتر ته په راستنېدو سره، ډله بايد له خپلو يادښتونو (د نقشي کاپي) او کارتونو څخه په ګټه اخيستلو سره په يوه پوسټر کي نقشه رسم کړي چي د دايرو، د هغه ځايونو چېرې چي ښځي ځي، او د يوازې، له محرم سره يا له نورو ښځو سره د تللو لپاره د نښو ښکارندويي وکړي، همدارنګه د تللو شمېر د ځانګړو نښو په واسطه يادښت کړئ. که چېرې د ځوانو او سپين سرو ښځو تر مينځ تو پېر شتون ولري، نو دا توپير په نقشه کي وښاياست.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله چې پوستر چمتو شو نو تمایلاتو/ځانګړتیاوو ته په کتو سره په ښه دوګه د دې کار د ترسره کولو په موخه به د لاندې پوښتنو پوښتل له ګټې خالي نه وي: نقشه مونږ ته د ښځو د کړنو/فعالیتونو په هکله څه وایي؟ آیا دوی ټولو اړینو خدمتونه ته لاس رسي کولای شي؟ د ځوانو او سپین سرو ښځو تر مینځ توپیرونه څه دي؟ ایا ښځې مزدوري کوي؟ د ښځو لپاره د مزد (د نارینه وو د مزد د کچې په پرتله) کچه څومره ده؟ آیا په دې اړه د ځوانو او سپین سرو ښځو تر مینځ توپیر شتون لري؟ د خوراکي توکو د کموالي پر مهال له دې ستونزې سره د مقابلې په موخه د ښځو ستراتیژۍ کومې/څه دي؟ څوک له دوی سره مرسته کوي او تر کومو شرطونو لاندې؟ آیا خپل خپلوان یا نور خلک له دوی سره مرسته کوي؟

### هغه څه چې باید په پام کې ونیول شي

- د دې تمرین تسهیل یوه آسانه چاره ده. تسهیل کوونکی باید په ښه چمتووالي ولري.
- هڅه وکړئ تر څو د ټولو ښځو له برخه اخیستنې او د تسهیل کوونکو له ډېرې برخه اخیستنې څخه پرته د تمرین له بشپړېدو څخه ډاډ تر لاسه کړئ. پوښتنې وکړې او دوی ته د بحث کولو وخت ورکړئ.
- کله چې له ښځو څخه د مزدورۍ او یا دا چې دوی د خوراکي توکو له کمښت سره څه ډول مقابله کوي، نو د دوی حیثیت او وقار ته درناوی وکړئ.
- هیلې/طمعې مه مطرح کوئ.

د ښځو د فعالیتونو ( خوځښتونو) د نقشې د کاروني ګټور ځایونه:

- د ښځو د فعالیتونو/خوځښت د نقشې جوړول به د ښځو د فعالیتونو په شاوخوا کې د شته نورمونو په درک کولو کې له موږ سره مرسته وکړي چې دوی څه کړني تر سره کولای شي او څه نه شي کولای
- د ښځو د فعالیتونو شتون او یا نه شتون د دوی په هکله په نړیوال نظر او مفکوره باندې اغېز کوي او کېدای شي چې د دوی د اقتصادي، ټولنیز او کلتوري حالت په هکله د ښه پوهېدو لپاره امکانات را مینځ ته او یا یې محدود کړي. دا کېدلای شي د ټولنیزو کارکوونکو لپاره مهم وي کله چې دوی له ښځو سره یو ځای د اقتصادي فعالیتونو لپاره امکانات لټوي او ډاډ به تر لاسه شي چې اقتصادي کړني له ځایي شرایطو سره مناسبې دي.
- دا به له موږ سره د ځوانو او سپین سرو ښځو تر مینځ د شته توپیرونو په هکله د پوهېدو په لاره کې مرسته وکړي.
- دا به موږ ته ووایي چې آیا ښځې مزدوري کوي، په عامه چارو کې کار کوي، او دوی څه تر لاسه کوي چې په دې سره موږ د دوی د عاید د لاسته راوړلو وړتیا په ښه توګه درک کوو.
- د کار او عاید په هکله بحث کولای شي د کور د کارونو پر سر بحث ته لاره هواره کړي او ټولنیز کارکوونکي له ښځو سره یو ځای کولای شي د دوی مهارتونه، وړتیاوې او تجربې را وپلټي او د ګټورو کړنو یو نوملړ جوړ کړي چې کېدلای شي تر ډېر بحث لاندې ونیول شي ( لکه: د سوداګریزو پلانونو را مینځ ته کول، د ځنځیري ارزښت تحلیل او تجزیه او داسې نور)

**د نا امنیو ونه (په خوندي توګه ګرځېدل (په ښاري سیمو کې)**

یادښت: د کلیوالي سیمو لپاره: کله چه د کلیو د پراختیایي شوراګانو کلستر د رامینځ ته کولو په موخه د کلیو د کلستر جوړولو پړېکړه وشي او د کلي پراختیایي شوراګانو کلستر ځای پر ځای شو، ښځینه ټولنیزې کارکوونکې به د خوندیتوب د نقشې جوړول د کلي پراختیایي شوراګانو له ټاکل شوو غړو سره چې اوس د کلي پراختیایي شوراګانو د کلستر غړي دي، تسهیل کړي تر څو بحث وکړي او پلان جوړ کړي چې څه ډول دوی کولای د خپلو سیمو له ښځو او خلکو څخه د کلي پراختیایي شوراګانو په کلستر کې استازیتوب وکړي. که چېرې په غونډو کې د ښځو د ګډون په هکله اندېښنې شتون ولري، نو کېدلای شي چې نقشه د کلي پراختیایي شوراګانو کلستر نارینه غړو ته وړاندې کړل شي تر څو د حل لارې ومومي تر څو ښځې په غونډو کې د ګډون پر مهال د خوندیتوب احساس وکړي.

**هـــــــدف:** د خوندیتوب تفتیش له یوې ډلې خلکو څخه جوړ شوی دی چې د خپلو سیمو په محلاتو کې ګرځي تر څو هغه فزیکي یا ټولنیزې ځانګړتیاوې په ګوته کړي چې د دې سیمې د خوندیتوب یا نه خوندیتوب لامل ګرځېدلې دي.

لاسته راوړنې او پایلې

د خوندي ګرځېدلو تمرین به په خپلو اړونده سیمو کې د ښځو او نجونو د فزیکي تجربو او د خوندیتوب له اړخه د دوی د اندېښنې/ډار نقشه چمتو کړي. د خوندي ګرځېدلو تمرې د نارینه، ښځینه او ځوانانو د جلا جلا ډلو له لارې تر سره شي تر څو دا موضوع د عمراو جندر(جنسیت) له بېلابېلو اړخو څخه وڅېړل شي (که څه هم د ټولو تمرکز به د ښځو او ځوانانو په خوندیتوب وي). د خوندیتوب اړوند په ګوته شوې موضوعګانې (که چېرې شوني وي) به د بېلابېلو معیارونو لکه روغتیا، ترافیک، جرم، ځورونې او داسې نورو په پام کې نیولو سره طبقه بندي شي. دا به په راتلونکې کې د کلستر په کچه د ستونزو د له مینځه وړلو په لاره کې مرسته وکړي.

د دې تمرین تر سره کول په محلاتو کې د ګرځېدولو پر مهال د په ګوته شوو موضوعګانو د نوملړ او همدارنګه د هغه ځایونو د نقشې د رامینځ ته کېدو لامل کېږي چې هلته اندېښنې او وېره شتون ولري او دا تحلیل او تجزیه د فرعي پروژو په ټاکلو/لومړیتوب ورکولو، او همدارنګه د پروژو د وانديزونو په جوړولو او ښاري پلان په برخو کې مرسته کوي. په دې توګه کېدای شي چې دواړه یعنې نرمې او فزیکي اجزاوې اصلاح شي/ښه والی ومومي. نارینه او ښځې ښاري چاپېریال او شرایط په بېلابېل ډول تجربه کوي. له همدې امله د وړاندېزونو د ډیزان په کار کې باید همدارنګه ښځینه ټولنیز کارکوونکې هم ښکیل کړل شي. د بېلګې په توګه: په عامه سیمو کې د ګرځېدلو (تګ راتګ) په هکله د ټولنې غوښتنې او مشروع دلیلونه. باید ټول هغه ځایونه په پام کې ونیول شي چې له پخوا څخه ترې ګټه اخیستل کېږي لکه ښوونځی، مذهبي ځایونه، ټولنیز مرکز یا آسانتیاوې چې دا به لاس رسي ته د ودې ورکولو په برخه کې مثب اغېز ولري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله چې د خونديتوب اړوند ټولې اندېښنې/وېرې وپېژندل شي، نو د دې کړنې لپاره ګمارل شوې ډله بايد د ټولنيزو کارکوونکو په مرسته يوه ونه رسم کړي او په ډډه (تنه) يې اندېښنې وليکي. دا به د راتلونکي تمرين لپاره بنسټ را منځ ته کړي: د دې موضوعګانو هغه لاملونه په ګوته کړئ چې د ښځو او نجونو د فعاليتونو/خوځښت او همدارنګه عامه او خصوصي ځايونو ته د لاس رسي په برخه کې د وېرې يا محدوديتونو لامل کېږي. د ښځو د فعاليتونو/خوځښت د نقشې او خوندي ګرځېدو په پايله کې د پېژندل شوو موضوعګانو په هکله د ډېر بحث کولو په موخه، به اوس د ونې له وسيلو څخه په کار اخيستنې سره دوی د نا امنۍ د اساسي لاملونو او اغېزو په هکله بحث وکړي. اوس بايد ډله تر ټولو مهمې موضوعګانې د يوې رايه ورکونې لکه د 1، 2، 3 او داسې نورو شمېر په ورکولو سره په لومړيتوب کې راولي. د ناامنې اړوند د هرې اندېښنې د لاملونو په اړه بايد بحث وشي، هوکړه وربانديې وشي او په ونه باندې وليکي (د ربښو په برخه کې) او اغېزې (پايلې) د ونې په پانو کې ذکر شي: د بېلګې په توګه: نجونې د ځورونې له وېرې ښوونځي ته نه ځي. د دې تمرين ډله بايد د ناامنۍ او نا خونديتوب د هر لامل په هکله بحث وکړي او نظرونه را غونډ کړي چې څنګه کولای شي د دې اندېښنې د مخنيوي لپاره ګټورې لارې چارې ومومي. د يوې موضوع د حل لپاره ښايي له يوې څخه ډېرې د حل لارې شتون ولري: د نجونو د ځورونې د مخنيوي لپاره ښايي ساتونکو (ميندو يا پلرونو) ته اړتيا وي تر څو خپلې لوڼې تر ښوونځي او بېرته تر کوره بدرګه کړي، د کابل ولايت په کچه ښوونځي له هلکانو سره کار وکړي او دا ډول کړنې سر ته ونه رسوي او ديني عالمان بايد د نجونو د ځورونې کړنه بايد د جوماتونو له ممبر څخه وغندي . يو شمېر پېژندل شوې موضوعګانې لکه د داسې سړکونو شتون چې ورڅخه تېرېدل شوني نه وي او د پياده تګ لپاره پل ته اړتيا لري تر څو ښځې او ماشومان د آرامۍ په احساس سره تېرېږ تېر شي او دا کېدلای شي يوه فرعي پروژه وي.

## څلورم فصل

## د کلي پراختيايي پلان جوړول

## (د فرعي پروژو د ډيزاين د جزئياتو لپاره د انجنيري لارښوود وګورئ)

يادونه: د ميتودولوژي په برخه کې د راغلي ښاري او کليوالي ساحوي ازمويښت پر بنسټ، ښايي د پلان جوړولو په بهير يا د پلان جوړولو بهير په تشريح کې واړه بدلونونه شتون ولري (د بېلګې په توګه مثالونه).

د کلي پراختيايي پلان (د ګذر شورا، د کلي پراختيايي شوراګانو کلسټر او د کلي پراختيايي پلان د پانګونې له پلان سره) (B برخه)

i. له پلان جوړونې سره د تحليل اوتجزيې نښلول

د کلي پراخيايي پلان (CDP) د جوړولو موخه، په يوه ګډ اوږدمهاله لرليد، همدرانګه ستراتيژيو او کړنو باندې ( په ورکړل شوې مهالوېش کې ) د کليو له هوکړې څخه ډاډ تر لاسه کول دي تر څو نوموړي لرليد ته ورسېږي. **د کلي پراختيايي پلانونه بايد د هغو بېلابېلو کړنو پر بنسټ وي چې د کلي (د سرچينو نقشه جوړول د معيشت تحليل) له ډېر شمېر خلکو** (يوه برخه) **او کوچنيو او خورا متجانسو ډلو سره تر سره شوې دي ( موسمي جنتري، ماته کوزه، د ښځو د فعاليتونو/خوځښت د نقشې جوړول، د خوندي مزل کړنه (ښاري)).** (لاندې د کلي پراختيايي پلان پوسټر وګورئ)

د دې لپاره چې بېلګې وړاندې کړي:

- د سرچينو د نقشې جوړول ښايي هغه کورنۍ چې د څښاک اوبو ته لاس رسی نلري، د کلي هغه برخې چې د ځمکو خړوبولو لپاره کافي اوبه نلري، خراب سړکونه، د برېښنا نه شتون او داسې نور، په ګوته کړي.
- د معيشت تحليل به ټولنيزې- اقتصادي ډلې او د يادو ډلو ځانګړتياوې (د شتمنۍ، عايد، د ماشومانو د زده کړې حالت، د خوراکي توکو د خونديتوب مياشتو، او داسې نورو اړوند) په ګوته کړي او وبه ښايي چې څومره کسان د عايد او ټولنيزې بېوزلۍ سره مخ دي.
- موسمي کليزه په کرنه او نورو برخو کې د کار په اړه په بحث کې د يو يا څو ډلو په ښکېل کولو سره د عايد کموالي په پوره تفصيل سره راسپړي او هغه مياشتو ته اشاره کوي چې هيڅ کار په کې نه وي (او عايد هم نه وي). دا موندنه په خپل وار سره د بحث يو نوی پړاو وړاندې کوي: کورنۍ د عايد يا سپما د نه لرلو په وخت کې د خوراکي توکو د پېرلو لپاره څه کوي؟ دا بحث به د بېلابېلو پړاوونو د رامينځ ته کېدو سبب شي چې خلک ورڅخه تېرېږي ( په اول کې ارزانه خوراکي توکي خوري، له هغې وروسته پور اخلي، يا شتمنۍ پلوري، او وروسته لږ خواړه خوري، او په پای کې يوازې د پايښت په پار خواړه خوري); د مقابلې دا ډول ميکانېزمونه ( د خوراکي توکو د اندازې او کيفيت کمول، د پورونو، سود اخيستل، پيشکي مزدونه او/يا د کورنۍ د يوه يا دوه غړو موسمي کډوالي) بايد په وړو ډلو کې تر بحث لاندې راشي او بايد د کلي د لوی پراختيايي پلان جوړولو په غونډه کې شريک/وړاندې کړل شي. ماته کوزه د پيسو د راتګ او تګ جريان او همدارنګه ضايع کېدل په ګوته کوي، چې بايد د وروستنې يې مخنيوی وشي او کېدلای هم شي ( چې په دې کې ښايي د خوراکي توکو د تر لاسه کولو لپاره د لوړ سود لرونکي پورونه، د ودونو، جنازو لګښتونه، د پيشکي مزد اخيستلو له امله د عايد له لاسه ورکول، د ناسمې روغتيا ساتنې له کبله د ناروغيو د درملنې لګښتونه او داسې نور وي). ماته کوزه ښايي د افرادو، ډلو يا ټول کلي د مشخصو کړنو د بدلون لامل شي.
- د کلي پراختيايي شورا غړي ښايي د موسمي کليزې او ماتې کوزې کړنې زده کړي او دا کړنې له نورو ډلو سره تر سره کړي.
- د ښځو د هڅونې نقشه د خوراکي توکو له کمښت سره د مخ شوو کورنيو د تر ټولو بېوزلو (هغه کورنۍ چې د عايد لاس ته راوړونکې يې ښځينه وي) او بېوزلو ښځينه وو په استازيتوب، له ډلو سره تر سره کېږي. دا نقشه له کور، محل، کليو/ښارونو، ولسوالۍ څخه بهر د دوی خوځېدنه او کار، د خوځېدو تکرار او له چا سره، په ګوته کوي. دا کړنه کېدلای شي له موسمي کليزې سره تعقيب کړل شي تر څو د ښځو د عايد ستراتيژۍ او هغه مزد تر بحث لاندې راشي چې دوی ته ورکول کېږي)))
- په ښاري برخو کې، 'د ښځو د خونديتوب مزل' به د ښځو د خوځښت پر وړاندې فزيکي او ټولنيز خنډونه په ګوته کړي او د بنسټيزو جوړښتونو د پروژو په طرحه کې مرسته کولای شي تر څو په خوندي توګه د ښځو خونديتوب په پام کې ونيو شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کلي پراختيايي شورا د غړو او ټولو محلاتو د استازو په ګډون (کيدای شی له 100 څخه ډېر شمېر خلک موجود وي) په يوه لويه غونډه کې به د تحليل او تجزيې د موندنو لنډيز چمتو کړل شي او د مهمو موندنو په هکله به د کلي پراختيايي شورا د غړو هوکړه تر لاسه شي. د هرې شننې/تحليل هغه مهمې موندنې ( لکه: د ځنباک اوبو نه لرونکو کورنيو شمېر، د هغه کورنيو شمېر چې د اوبو لګولو ښېړې آسانتياوې نلرې، او داسې نور) به د هرې کړنې لپاره په يوه پوستر کې په لاس راشي. د ښځو غونډه بايد له نارينه وو څخه په جلا توګه تر سره شي او بايد ورته بهير پلی شي.

په پلان جوړولو کې، دا ډله د بېلابېلو تحليلونو د موندنو لنډيز چمتو کوي چې بايد د هر تحليل موندنې په يو لوی پوستر کې په ډاګه شي:

- د سرچينو نقشه په کلي کې د بنسټيزو جوړښتونو/خدمتونو تشې په ګوته کوي.
- د معيشت تحليل د بېوزله او ډېر بېوزله کورنيو شمېر او په کلي کې د بېوزلی ځانګړتياوې په ګوته کوي.
- موســمي کليزه (د بېوزله کټګوری له اســتازو ډلو ســره تر ســره کېږي) په کلي کې د بېکاری او يا عايد د نه شــتون پر مهال د مقابلې ميکانيزمونه او ستراتيژی په ګوته کوي.
- ماته کوزه د پيسو ضايع کېدل په ګوته کوي
- د ښځو د فعاليتونو نقشه او موسمي کليزه د ښځو اقتصادي کړنې او د عايد عمده تشې په ګوته کوي.
- د ښځو د خونديتوب مزل کړنه به هغه فزيکي او ټولنيز خنډونه په ګوته کړي کوم چې په خوندي توګه د ښځو خوځښت محدود کوي.

ii. د لرليد رامينځ ته کول/ تاکل

کله چې د هر پوستر په وړاندې کولو بحث تر سره شو او د مهمو موضوعګانو پر سر هوکړه وشوه، لويه ډله د کلي د موضوعګانو او اړتياوو د بېلابېلو اړخونو په هکله عمومي معلومات تر لاسه کوي. اوس دا لويه ډله په کوچنيو ډلو وېشل کېږي او له هرې ډلې څخه غوښتنه کېږي چې د بېلابېلو تحليلونو د وړانديزونو د لنډيز په پام کې نيولو سره د يو لرليد په بيانولو کار وکړي.
له دوی څخه وغواړئ تر څو بحث وکړي او تشــريح کړي الف) دوی په کوم ډول کلي کې د اوســېدلو هيله لري ( دا کېدلای شــي په انځوريزه/لکلي بڼه بيان کړي)؛ ب) تر ټولو مهمې موضــوعګانې کومې دي چې بايد په نښــه شــي تر څو هغه څه ته ورسـېږي چې دوی يې هيله لري، او ج) که چېرې دا موضــوعګانې په نښــه شــي نو د خلکو لپاره به حالات څه توپېر ولري. له ډلو څخه وغواړئ تر څو په دې توګه کار وکړي او يو لرليد ولري ( ډلې وهڅوئ چې نه يوازې خپل لرليد په ليکلي بڼه بلکې په انځوريزه توګه هم بيان/چمتو کړي). ټولې ډلې تر خپله ځانه لاندې ونيســئ تر څو يو کس خپله اړونده ډله تر خپله ولکه لاندې ونه نيســي (د ډلو د بحث لپاره اصــول وټاکئ – د تســهيل لارښــوودونه وګورئ) او ډاډ تر لاسه کړئ چې په ډله کې د ټولو غړو غږونه اورېدل کېږي او نظرونو ته يې درناوی کېږي.
له هرې ډلې څخه وغواړئ تر څو خپل ليدلوری له لويې ډلې سره شريک کړي. له دوی څخه وغواړئ تر څو خپل ليدلوري له تحليل او تجزيې او په ګوته شوو مهمو موضوعګانو سره وتړي. وګورئ چې کوم ليدلوري سره ورته يا اړونده ټکي تر پوښښ لاندې راولي او له يو بل سره نېږدې يې کښــېږدئ. وګورئ که چېرې يو شــمېر ليدلوري ډېر پراخه وي او يو شــمېر يې پراخه نه وي، ښــايي چې يو شــمېر لږ پراخه ليدلوري د پراوونو په بڼه سره مدغم شــي تر څو هغه پراخه ليدلوري ته ورســېږي. ښــځې بايد په خپله کار وکړي (حتې که دوی کولای شــي له نارينه سره وګوري هم )، چې په دې توګه به دوی خپلواکې وي ترڅو د خپلو اړونده موضوعګانو په هکله بحث وکړي. که چېرې ښځې کولای شي له نارينه وو سره وګوري، نو ښځې بايد خپل پلانونه په مستقيمه توګه وړاندې کړي. که چېرې ښځې په مستقيمه توګه خپل پلانونه نه شي وړاندې کولای، نو ښــځينه ټولنيزه کارکوونکې بايد دا کار تر ســره کړي. هڅه وکړئ د ليدلوري هغه ټکي په ګوته کړئ چې په ډله کې د ډېری کســانو له لوري شريک شوي وي. ډاډ تر لاسه کړئ تر څو د ښځينه ډلو د ليدلورو لږ تر لږه يوه ټکي ته ځای ورکړئ او په ياد ولرئ چې ښځو ته بايد د پروژې په مديريت او پلي کولو او هغو پروژو کې ځای ورکړل شــي چې ښــځو لومړيتوب ورکړی دی ( لکه: پارکونه، د لوبو ميدانونه) دوی بايد خپل آندونه وړاندې کړي او د وړانديز/پروپوزل په چمتو کولو کې برخه واخلي. په پای کې ليدلوری بايد په بشــپړه توګه پراخه وي تر څو د بېلابېلو خلکو آندونه، الهام تر پوښښ لاندې راولي او په آسانی سره پرې خبرې اترې وشي.
((( ښــايي يوه بېلګه يې داســې وي: يو داســې کلی چې ټول وګړي يې روغ او ټول ماشــومان يې په زده کړو ســمبال وي. په ياد ولرئ چې دا ډول ليدلوري ته يوازې د څوګونو ستراتيژيو له لارې رسېدلای شو : د حاصلاتو توليد ته وده ورکول، هغو کسانو ته چې عايد نه لري د کار او عايد د زميني برابرول، د خوراکي توکو خوندي کول، د مالي ضــــايعاتو د کچې راټيټول، د حاجت رفع کولو د آزادې فضــــا درلودونکو ځايونو او غير صــحي بيت الخلاګانو د نه شــتون تامينول، واکسين، د چينجيانو له مينځه وړل، ښــوونځي ته د ښــوونځي د عمر درلودونکو ټولو ماشــومانو تګ، د ښوونځيو له ځارنې او د ښوونکو له شتون څخه ډاډ تر لاسه کول، او داسې نور.)))
(((يادونه: د ټولنيزو کارکوونکو د وړتياوو په لوړولو کې بايد د بېوزلی په اړه عمومي/هر اړخيز توضــيحات ورکړل شــي تر څو دوی وکولای شي دا غونډه/ناسته تسهيل کړي.

iii. په پړاوونو باندې د لرليد وېشل

تاسو اوس چمتو ياست تر څو د پلان جوړولو پړاو ته وخوځېږئ. ليدلوري د اندازه کولو په وړ پړاوونو باندې و وېشئ ( بايد داسې پړاوونه شتون ولري چې د ښځو له لرليد څخه را مينځ ته شوي وي). د بېلګې په ډول: هغه لرليد را واخلئ چې په پورته ډول ذکر شو:
*”داسې يو کلی چې ټول وګړي يې روغ او ټول ماشومان يې په زده کړو سمبال وي“*
د دا ډول ليدلوري لپاره به تاسو د روغو کورنيو او په زده کړو سمبال ماشومانو اصطلاحات په پام کې ونيسئ. که چېرې تاسو په روغتيا سمبال کورنی په پام کې ونيسئ نو په روغتيا د سمبال کورنيو د رامينځ ته کولو لپاره بايد څه ترسره شي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

الف ◄ د کال په اوږدو کې مقوي خواړه، عاید یا کرنیزو تولیداتو ته اړتیا لري ( نو دا تاسو د کرنې، اوبو لګولو، تخمونو او داسې نورو برخو ته لوزي)، چې په دې صورت کې مارکیټونو ته د حاصلاتو د لېږد په موخه سړکونو ته اړتیا ده، کلي همدا راز کولای شي د عاید په تولیدوونکو کړنو، سپما او د پور ډلو او غلو دانو د زېرمې په را مینځ ته کولو کار وکړي

ب ◄ روغتیا ته پاملرنه/حفظ الصحه ( په خوندي توګه د فاضله موادو خېښول) تر څو د خوراکي توکو، لاسونو، او داسې نورو د ککړتیا اړوند نارغیو مخنیوی وشي. ( یادونه: د کلیو د بیا رغونې او پراختیا وزارت د کلي په مشرې د کاملې روغتیا ساتنې/حفظ الصحي CLTS په هکله تیار جوړ شوي مواد په واک کې لري او که اړتیا وه، اضافي مواد به را مینځ ته کړل شي. د کلي په مشرې کامله روغتیا ساتنه/حفظ الصحه CLTS به په دوهم کال کې تطبیق شي تر څو ډاډ تر لاسه کړي چې د تولنیزو کارکوونکو او انجنیرانو له لوري کافي وخت او هڅه تر لاسه کېږي ).

ج ◄ روغتیایي خدمتونو ته لاس رسی ( تر ټولو نږدې آسانتیا په کوم واټن کې پرته ده، او آیا هغه د خدمتونه هغه معیارونه تعقیبوي چې ولسي ترون معرفي کړي دي).

په زده کړو د سمبالو ماشومانو په برخه کې لاندې ټکي شامل دي

الف ◄ د عمر د بېلابېلو کچو درلودونکو هلکانو او نجونو ته ښوونځي یا د ښوونځي اطاقونه

ب ◄ د ښوونکو شتون او ډاډ تر لاسه کول چې ښوونکي حاضر دي او د هغو ساعتونو لپاره تدریس کوي چې مکلف شوي دي.

ج ◄ ماشومان په منظمه توګه ښوونځیو ته ځي او مور او پلار له دوی څخه غواړي تر څو ښوونځیو ته لاړ شي ( د ښوونځي د وخت پر مهال یې باید په کارونو بوخت نه کړي)

د ◄ د کلي په کچه کوم لوستی کس د بېوزلو کورنیو له هغو ماشومانو سره مرسته کوي چې لیک او لوست نه شي کولای.

اوس ټول بېلابېل ټکي چې تاسو یې لرئ سره کېږدي تر څو لیدلوری په مهمو برخو وویشي او په پام کې ونیسي چې کلی به کومې برخې ته ادامه ورکړي او د دولت د پانګوني مالي وجهې په پام کې ونیسي او کوم یو ته باید لاس رسی وموندل شي ( اوبه د ټولو لپاره دي، خو آیا نوري مرستې به د اوبو لګولو، سړکونو یا برېښنا په برخه کې وي). همدارنګه هیله ده دا هم په پام کې ونیسئ چې څه شی به اغېزمن وي او کوم بنسټیز جوړښت د شوراګانو د کلستر له لارې له نورو کلیو سره شریکېدلای شي.

د پورته څرګندونو پر بنسټ، لاندې پړاوونه را مینځ ته کېدلای شي (په یاد ولرئ چې تاسو نه شئ کولای دا ټول د ولسي تړون په پیسو تر سره کړي، مګر تاسو کولای شئ تر ټولو مهمه یې تمویل کړئ او د کلي پراختیایي شورا کولای شي د هغه اړین بنسټیز جوړښت لپاره مالي مرستې را ټولې کړي چې ولسي تړون یې نه شي تمویلولای):

- ټولې کورنۍ د ښاک پاکو اوبو ته لاس رسی لري ( د دولت مالي مرسته او د کلي پراختیایي شورا)
- د اوبو لګولو د پرمختللي سیستم له کبله د حاصلاتو د تولید کچه لوړه شوې ده د هغو برخو په ګډون چې د خوراکي توکو له کمښت سره مخ شوي بزګران ځمکې کري (مالي مرستې او د کلي پراختیایي شورا/ د اوبو لګولو اتحادیې)

یا

- مارکېټونو ته لاس رسې وده کړې ده ځکه له کلي څخه بهر او د ننه سړکونو وده کړې ده ( د دولت مالي مرسته او د کلي پراختیایي شورا)
- د اوبو لګولو د پر مخ تللي سیستم او په لویه کچه د حاصل اخیستنې له کبله د ځمکو نه درلودونکو کسانو لپاره د کار ډېر فرصتونه را مینځ ته شوي دي (هغه بزګران چې تر خپلې اړتیا ډېر حاصلات پلوري او اړ بزګران او د کرنې فرعي کمیټې)
- په ښوونځیو کې ټول زده کوونکي د کیفیت درلودونکې زده کړې تر لاسه کوي (دولتي خدمتونه او د زده کړې فرعي کمیټې)
- ټول لویان او ماشومان واکسن شوي دي، د چینجي ضد درمل ورکړل شوي دي او د روغتیا د ازمویني آسانتیا لري (دولتي خدمتونه او د روغتیا فرعي کمیټې)
- له بېوزلو سره د مرستې په موخه جمعې کړنه ( د بېلګې لپاره 1 ضمیمه وګورئ)

هلته یوازې بېلګې دي، کېدلای شي ډېرې نورې لارې شتون ولري چې د بېلګې په توګه ذکر شوي لیدلوری یې له لارې تر لاسه شي. امکانات بې پایه دي.

کله چې د دولت د پانګوني مالي مرستې او له درېیو توکو څخه د کوم یو دغوره کولو پرسر بحث کېږي، د سرچینو د نقشې او په پوستر کې د موندنو په اړه باید بحث وشي. دا پوښتنه: ټولو ته د لاس رسی وړ ښاک اوبو د شتون سربېره، د موندنو پر بنسټ کوم خدمتونه باید په لومړیتوب کې راشي. د بېلګې په توګه، که چېرې یو سړک، د اوبو لګولو سیستم او د برېښنا نه شتون په ګوته شوی وي، نو باید بحث دې ته را وګرځي چې: په کلي کې به څه ډول او څوک برخمن شي؟ دا به زموږ له لیدلوري سره څه مرسته وکړي.

د پړاوونو د رتبه بندۍ لپاره معیار:

1. د هغو کسانو شمېر چې برخمن به شي
2. د کلي هغو محلاتو/برخو ته لومړیتوب ورکول چې پرېښودل شوي دي.
3. لږ تر لږه یو ( که چېرې ډېر پړاوونه نه وي) باید د ښځو په خوښه وي.

کله چې تاسو د کلي پراختیایي پلان د پانګوني د مالي وجهې برخه بشپړه کړه، له کلي څخه وغواړئ تر څو هغه څه په پام کې ونیسي چې دوی یې له بهرنیو مرستو پرته په خپله ترسره کولای شي، تر څو لیدلوري ترلاسه شي. د هغو آندونو لپار چې کلي به په خپله څه تر سره کړي، 1 ضمیمه وګورئ. ټولنیز کارکوونکی باید له بېلابېلو ډلو څخه وغواړي تر څو په دې اړه نظرونه سره ورکړي.

iv. په کړنو باندې د پړاوونو وېشل ( مسئول فعالین) (بېلګې)

هغه پړاوونه چې باید تر لاسه شي اجازه ورکوي تر څو کړنې، مسئول فعالین او د هر پړاو د رهبرۍ پر غاړه اخیستل باید وټاکل شي: د کړنو نوملړ بڼایي په لاندې ډول وي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

1. د څښاک د اوبو د فرعي پروژو تخصيص، پلان جوړول او پلي کول (د کلي پراختيايي شوراګانې)
2. د اوبو لګولو پروګرام تخصيص، پلان جوړول او پلي کول (د کلي پراختيايي شوراګانې)
3. د پوهاوي د کچې لوړول، د ټولو کورنيو هڅول تر څو خپل ماشومان ښوونځيو ته واستوي، د ماشومانو سوبتيا وڅاري (د زده کړو فرعي کميټه)
4. د پوهاوي د کچې لوړول، د ټولو کورنيو هڅول تر څو د لويانو او ماشومانو لپاره روغتيايي خدمتونه ولټوي، د خدمتونو کارونه وڅاري ( د روغتيا فرعي کميټه)
5. د خوراکي توکو له کمښت سره د مخ شوو بزګرانو لپاره په کلي کې د ننه يا له ګاونډيو کليو څخه ( مدني ټولنه: له بېوزلو کورنيو څخه د نارينه او ښځينه وو او د کرنې فرعي کميټې له کارپوهانو سره يو ځای د لاربښوونې وړاندې کول) د نسبتاً غوره بزګرانو له لوري د ځانې مرستندويه ډلو را مينځ ته کول او د هغو ملاتړ کول.
6. لوی او کوچني بزګران يو له بل سره کار کوي او داسې ستراتيژۍ چمتو کوي تر څو د دوی د حاصلاتو توليد وده وکړي، غوره کړنې سره شريکوي، د ارزښتونو ځنځيري شننه/تحليل او تجزيه ترسره کوي او فرصتونه په ګوته کوي – د خوراکي توکو له کمښت سره د مخ شوو بزګرانو سره يې شريکوي ( مدني ټولنه: بزګران او د کرنې فرعي کميټې د کلي پراختيايي کميټو کلسټر، د کرنې وزرات له توسعه اي خدمتونو سره ټړې)
7. د کورنيو د سرپرستو ښځو او بېوزلو کورنيو ښځو لپاره ځانې مرستندويه ډلې له يو بل سره کار کوي، د دوی وړتياوې او تجربې لوړوي او د کار لپاره پلانونه جوړوي ( مدني ټولنه: د ښځو په ګټه ټولې لېوالې ښځې او د ښځو د اقتصادي پراختيا کميټه)
8. ټول کلی روغتيا ته د پاملرنې په کار کې ښکېل کېږي ( روغتيا ته د پاملرنې کميټه)

په پيل کې د همکارو مؤسسو ډېر ملاتړ ته اړتيا ليدل کېږي، خو له 9 مياشتو څخه وروسته به هغه مهال دا ملاتړ کم شي، کله چې نوي را مينځ ته شوې پراختيايي شوراګانې او فرعي کميټې خپلې دندې او مسئوليتونه تر لاسه کړي او د مدني ټولنې ډلې را مينځ ته شي او مهمو کړنو ته دوام ورکړي/تعقيب يې کړي.

*((**يادونه** 1: د همکارې مؤسسې ټولنيزو کارکوونکو ته په کار ده تر څو د کلي پراختيايي پلان جوړولو پرمهال د فرعي کميټو بالقوه غړي په ګوته کړي. دا به هغه کسان وي چې د مهمو موضوعګانو په هکله لېوالتيا وښيي، عدالت غوښتونکي او مشتاق وي، د رهبرۍ په غاړه اخيستلو لېوالتياولري ، له نورو سره د مرستې وړانديز وکړي، او داسې نور.*

***يادونه** 2: کله کله ټول کلي ته په کار ده تر څو يو بدلون را مينځ ته کړي او کله کله د څو کونو ستراتيژيو مهم رول لوبوونکو بې‌لابې‌لو فعاليتو ته اړتيا لري ( د بېلګې په توګه بېوزلې کورنۍ ښايي د غلو زېرمه (د پرېمانۍ پر مهال د بحران د مودې لپاره د خوراکي توکو سيمول) د کلي هټۍ وال ښايي د ګټې اخيستلو کچه را ټيټه کړي، د ځمکو خاوندان ښايي د ورځنۍ مزد کچه لوړه کړي او خلکو ته اجازه ورکړي تر څو د کاري فصل د اوج پر مهال د پيسو د تر لاسه کولو لپاره کار وکړي، د کلي پراختيايي شورا ښايي هغه ځمکه په ګوته کړي چې استعمالېږي او د بېوزلو کورنيو ډلو ته اجازه ورکوي تر څو پرې کرونده وکړي،شتمن کسان ښايي د څارويو په تغذيه کې ونده واخلي يا شتمن کسان ښايي د پيسو په راټولولو سره د عايد په ابتکار کې له بېوزلې ډلې سره مرسته وکړي، د کلي پراختيايي شورا ژمنه ده تر څو دې کورنيو ته د عامه کار له هر پروګرام (د ولسي تړون په ګډون) څخه د کار زمينه برابره کړي)، او داسې نور. امکانات فوق العاده دي.*

***يادونه** 3: ځانې مرستندويه ډلې بايد د ټولنيز – اقتصادي حالت له مخې نسبتاً متجانسې وي. که چېرې له ښځو سره د دوی د اقتصادي پياوړتيا په موخه کار کېږي (د سېما او مالي ملاتړ له لارې)، نو دا کار بايد د ښځينه سرپرست درلودونکو کورنيو په ښځو د خوراکي توکو له مخې د نه خوندي ډلو په ښځو تمرکز وکړي. له ښځو سره لومړی هغه څه په پام کې ونيسئ چې دوی يې له پخوا ترسره کوي: د څارويو ساتنه، په کرنه او د حاصلاتو په پروسس کې کار کول، د برستنو ګنډل، ګلدوزي کول، او داسې نور. کله چې د ډلې مهارتونه او استعدادونه په ګوته شول، بايد بحث تر سره شي چې دوی له کار څخه تر لاسه شوې پوهه او تجربه په څه ډول په لويه کچه کارولای شي، په بوازې او يا ډله ايزه توګه (د بېلګې په توګه د پخلنځي لپاره کرنه، د کلي د نه کارول شوې ځمکې کرنه، په اجاره، کرايه د ځمکې اخيستل، د څارويو شريکول، د حاصلاتو پروسس کول، او داسې نور). که چېرې په دې کار کې د مالي سرچينو ادغام يا له بهر څخه د مالي سرچينو غوښتنه شتون ولري نو د يو سوداګريز پلان را مينځ ته کېدو ته اړتيا ليدل کېږي.*

*دا به مهمه وي تر څو د عايد يا خوراکي توکو د کموالي موده په ګوته کړل شي او داسې ستراتيژۍ را مينځ ته شي تر څو يادې دوې موضوعګانې د داخلي (کلي) او بهرنيو ( د کوچنيو پوروونو د پروګرام يا هغه تمويلوونکي چې د ښځو اقتصادي پياوړتيا تمويلوي) سرچينو له لارې په نښه کړي. که چېرې بهرنيو سرچينو ته اړتيا وي، د هغو فعاليتونو د نقشې جوړول چې په پراخه برخو کې د ښځو د اقتصادي پياوړتيا په برخه کې کار کوي، بايد په ګوته شي او داحتمالي تمويلوونکو په توګه ورته مراجعه وشي. که چېرې داخلي سرچينو ته اړتيا وي، نو د سرچينو کسان، يا سرچينې بايد په ګوته شي، دعمل مسير چمتو شي (يو وړانديز له ګامونو سره) او د کلي پراختيايي شورا ته وړاندې کړل شي.)))*

د کلي پراختيايي شورا کلسټر/ګذر شورا د پلان جوړولو لپاره، د کلي پراختيايي شورا CCDC/ګذر شورا بايد د خپلو کليو نقشې راوړي او د ټولنيزو کارکوونکو او انجنيرانو په مرسته د کلي کلسټر/ګذر نقشه چمتو کړي. دا نقشه او له هر کلي څخه د لنډيز پوسټر چې د بې‌لابې‌لو تحليلونو لنډيز وړاندې کوي هغه مهمې کړنې په ګوته کوي چې په نښه کېدو ته اړتيا لري، بايد د کلي کلسټر پلان جوړولو بنسټ جوړ کړي.

ټولنيز کارکوونکي او انجنيران بايد وپوښتي:

- په عمومي توګه په کلسټر کې شامل کلي کومې زيربنايي اړتياوې لري؟
- د هرې زيربنايي اړتيا لپاره ( د اوبو لګول، سړکونه، برېښنا) د کلي پراختيايي شورا کلسټرCCDC /ګذر شورا بايد په پام کې ونيسي چې په کلي کې به کومې ټولنې او محلات برخمن نه شي او د هغې پايلې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

- آیا د کلي پراختیايي شورا په کلستر CCDC /ګذر کې داسې کلي شتون لري چې هغه زیربنا ته اړتیا نلري چې نور یې ورته لري؟ دوی کومو پروژو ته اړتیا لري؟ ښایې د 5 کلیو له ډلې څخه 3 کلي د اوبو لګولو (دوی باید خپلې مرستې سره یو ځای کړي) او 2 کلي (که امکان ولري، دوی باید خپلې مرستې سره یو ځای کړي) د سړک پروژو ته اړتیا ولري یا
- آیا د کلي پراختیايي شورا په کلستر CCDC /ګذر کې داسې کلي شتون لري چې د داسې زېربناوو درلودونکی وي چې نور یې رغول غواړي او که چېرې دا پیسې په نورو کلیو کې لګول شوې وي دوی به له سفر کولو/یا د اوبو له تر لاسه کولو څخه ګټه پورته کړي. ټولنیز کارکوونکي او انجنیران باید په پوره پاملرنه تسهیل او تحلیل تر سره کړي تر څو ډاډ تر لاسه کړي چې 1- 2 کلي له خپل کلي څخه بهر یوه لویه زیربنا تمویل کړي، دوی به په مساوي توګه له هغې څخه ګټه پورته کړي.

**یادښت:** که چېرې د یو شمېر دلیلونو له مخې، 1 یا 2 کلي ونه شي کولای له سړک، د اوبو لګولو له کانال، یا د برېښنا له پروژې څخه برخمن شي، دوی باید د دې وړتیا ولري تر څو خپلې پیسې وساتي او خپل کلي ته یې ځانګړې کړي.

دولسی پړون ملی پروګرام

(c) ketabton.com: The Digital Library

**1ضمیمه**

**د کلي د پراختیایي پلان فورمه**

ولایت:_______________ ولسوالي: _______________

د کلي پراختیايي شورا/د کلي پراختیايي شورا کلستر/گذر شورا GA/ CCDC/ CDC کود: _______________

د کلي پراختیايي شورا/د کلي پراختیايي شورا کلستر/گذر شورا GA/ CCDC/ CDC نوم: _______________

د کلي پراختیايي پلان د جوړولو بهیر د پیل نېټه: ____________ (کال/ورځ/میاشت)

د کلي د دې پراختیايي پلان د چمتو کولو د بشپړېدو نېټه: ____________ (کال/ورځ/میاشت)

**د A1 برخه: د تمرینونو د پایلو تحلیل (A1 پوستر)**

1. (نوي بڼه Update) د کلي او سرچینو د نقشې جوړول:

د بشپړېدو نېټه: ______________

د کلي د وګړو د ځواني برخې اټکلي ٪ چې ګډون یې کړی دی: ________

د نقشې یو انځور او/یا د موندنو لنډیز ضمیمه کړئ

د نقشې جوړولو د تمرینونو د موندنو لنډیز

.1
.2
.3
.4
.5

د موندنو په لنډیز کې باید د هغو کورنیو شمېر شامل وي چې د ځنډاک اوبو، د اوبو لګولو سیستم، سړکونو، برېښنا، ښوونځیو او داسې نورو ته لاس رسی ونلري

په بښاري برخو کې، ټولنیز کارکوونکي او انجنیران به د کلي پراختیايي پلان جوړولو له ګډونوالو سره کار وکړي تر څو د سټلایت نقشو په اړه بحث وکړي.

2. د لوړې شننه/تحلیل:

د بشپړېدو نېټه: ____________

د کلي د وګړو د ځواني برخې اټکلي ٪ چې ګډون یې کړی دی: ________

د لوړې د تحلیل او موندنو د لنډیز یوه برېښنایي کاپي (soft copy) ضمیمه کړئ.

د لوړې د تحلیل د موندنو لنډیز

.1
.2
.3
.4
.5

(د موندنو په لنډیز کې باید د بېوزلو او ډېرو بېوزلو محلاتو شمېر، د ځمکې نه درلودونکو یا لږ (له یو جریب څخه کمې)ځمکې درلودونکو، د هغو میاشتو شمېر چې په ترڅ کې یې ډېرې بېوزله او بېوزله کورنۍ په کې د خوراکي توکو له کمښت سره مخ وي او د بېکارۍ په فصل کې په ورځنۍ کچه د خوراک کولو د وختونو شمېر او د هغو کسانو شمېر شامل وي چې په دوامداره توګه پوروړي وي).

(c) ketabton.com: The Digital Library

3. د ماتي کوزې شننه/تحليل:

د بشپړېدو نېټه: ____________
( د 2 موندنو د لنډيز برېښنايي کاپي (soft copy) ضميمه کړئ – له بېوزلو کورنيو څخه نارينه او له ډېرو بېوزلو کورنيو څخه ښځينه)

د ماتي کوزې د شنني/ تحليل د موندنو لنډيز

1.
2.
3.
4.
5.

( د موندنو په لنډيز کې بايد مهم په ګوته شوي ضايعات په ګوته شوي وي)

4. موسمي کليزه: (يوازې په کليواله کچه)
د بشپړېدو نېټه: ____________
د 2 موندنو د لنډيز برېښنايي کاپي (soft copy) ضميمه کړئ ( يوه له بېوزلو کورنيو څخه د نارينه وو لپاره او يوه له ډېرو بېوزلو کورنيو څخه د ښځينه وو لپاره)
د موندنو لنډيز

1.
2.
3.
4.
5.

( په لنډيز کې بايد د بيکارۍ د فصل د مياشتو شمېر، په کرنيزو او غير کرنيزو کړنو کې د شته منځنيو کاري ورځو شمېر، د ورځني مزد کچې ( د نارينه او ښځينه وو )، د بېکارۍ په موسم کې د کورنيو له لوري د خوراک کولو شمېر شامل وي)

5. د ښځو د فعاليتونو او خوندیتوب تمرينونه
د بشپړېدو نېټه: ____________
د موندنو د لنډيز يوه برېښنايي کاپي (soft copy) ضميمه کړئ.
د موندنو لنډيز

1.
2.
3.
4.
5.

( د موندنو په دې لنډيز کې بايد د ښـــځو ورځنی کار او په کوم نرخ، په کومو مياشـــتو کې، او ښـــځې له کومې تولنيزې – اقتصادي ډلې څخه، شامل وي)

**<u>A2 برخه: د کلي ليدلورې (A2 پوستر)</u>**

ليد لورى: ________________________________________

دولسي پروژه ملي پيوستون پروګرام

(c) ketabton.com: The Digital Library

**A3 برخه: پراوونه (A3 پوستر)**

له 5 څخه تر 10 پورې هغه پراوونه لېست کړئ چې کلی به یې تعقیب کړي تر څو خپل لیدلوري ته ورسېږي.

1.
2.
3.
4.
5.

**د B برخه: د کلي د پراختیايي پلان جوړولو پایلې (د B پوستر):**

د بېلابېلو تمرینونو د موندنو د لنډیز پر بنسټ، کلي د مهمو پراوونو درلودونکی لید لوری را مینځ ته کړی دی چې که چېرې بشپړ شي نو د دوی عاجلي اړتیاوې په نښه کوي. کلی به لاندې پراختیایي اړتیاوو ته لومړیتوب ورکړي او وروسته به یې په لاندې کټګوریو وېشي: ( لږ تر لږه 5 او ډېر تر ډېره 10 پړاوونه هر یو له بېل لومړیتوب سره په بشپړه توګه لېست کېدلای شي. په لومړۍ او دوهمه کټګوریو کې باید لږ تر لږه یوه فرعي پروژه وي).

د کلي پروژې

| برخه/ سکتور | فرعي پروژه | 1 کټګوري: له بهرنیو مرستو څخه پرته کېدلای شي د کلي له لوري تر سره شي | 2 کټګوري: کېدلای شي د ولسي تړون پروګرام د لږ تر لږه خدمتونو معیاري تر پوښښ لاندې تمویل شي. | 3 کټګوري: د پلي کېدو په موخه به د دریم لوري سرچینو ته اړتیا ولري |
|---|---|---|---|---|
| د څښاک اوبه | | | | |
| روغتیا ته پاملرنه | | | | |
| د اوبو لګول | | | | |
| برېښنا | | | | |
| ټرانسپورټ | | | | |
| روغتیا | | | | |
| زده کړې | | | | |
| کرنه | | | | |
| تولنیز مرکزونه | | | | |
| د لویانو زده کړې/ مسلکي روزنه | | | | |
| کوچني پورونه | | | | |
| بېړني غبرګون | | | | |
| ناورین / د خطر کمولو / مدیریت | | | | |
| د تصدی پراختیا | | | | |
| چاپېریال ساتنه | | | | |
| ځنګل جوړونه | | | | |
| د خوندیتوب جالونه (د کورنۍ د روغتیا مرکزونو FHHs او physically challenged لپاره) | | | | |
| څاروي | | | | |
| نور | | | | |

دوستی پروژه ملی پروګرام

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د c برخه: د ولسي تړون د لومړيتوب پروګرام CCAP د لږ تر لږه خدمتونو معيار MSS لپاره اساسي کرښه**

***د لږ تر لږه خدمتونو د هر لاندې معيار پر وړاندې د کلي پراختيايي پلان د جوړولو په وخت کې اوســـنۍ حالت بيان کړئ. کليوالي سيمې دا برخه يوازې د کليوالو برخو او ښاري سيمې دا برخه يوازې د ښاري برخې لپاره بشپړوي).***

**:کليوالي سيمې**

(الف) د څښاک پاکو اوبو ته هر اړخيز لاس رسی: د يوې ورځې په ترځ کې د هر کس لپاره د 25 ليتره په اندازه اوبه.

(ب ) کلي به لږ تر لږه يو له لاندې آســانتياوو څخه ولري (د کلي د لومړيتوب ورکوني او کلي ته د لاس رســي والي پر بنسټ):

الف ◄ اساسي برېښنا: د لمر، اوبو، بيو ګاز او باد له لارې د هرې کورنۍ لپاره د 100W برېښنا چمتو کول (يوازې په هغه سيمو کې چې هلته د برېښنا شبکي نه رسېږي)

ب ◄ اساسي سړکونو ته لاس رسی: تر ټولو نږدې د لاسرسي وړ کليوالي اساسي سړک څخه د 2 کيلومترو په واټن.

ج ◄ د اوبو لګولو د ټيټي کچې درلودونکی بنسټيز جوړښت: چې لاندې ډولونه په کښي شامل دي: سربندونو (د مينځنيو/ دريمه درجه ويالو لپاره) د اوبو وېشونکي، د اوبو د کنټرول دروازې، سيفون، د 10،000m3 ظرفيت درلودونکي د اوبو يوه ذخيره، د اوبو لګولو د ټيټې کچې درلودونکي کانال جوړول يا بيا رغول، محافظوي ديوال، ګبيوني ديوال، ناوې او سوپر پسېج.

(ج) په دولتي ښوونځيو کې د کيفيت وړ زده کړې (چې د کلي د ګډه ايزې څارنې ډلې او د کلي پراختيايي شوراګانو له لورې به تر سره شي)

الف ◄ ښوونکي بايد لږ تر لږه له 12 ټولګي څخه فارغ شوی وي

ب ◄ زده کوونکي به د يوې اونۍ په ترځ کې له 1 - 3 ټولګيو پورې 24 ســـاعته زده کړې، له 4 – 6 ټولګيو پورې 30 ساعته زده کړې او له 7 – 12 ټولګيو پورې 36 ساعته زده کړې ترلاسه کړي

(د) د اســـاسي روغتيايي خدمتونو د ټولګې وړاندې کول (چې د کلي د ګډه ايزې څارنې ډلې او د کلي پراختيايي شـوراګانو له لورې به تر سره شي)

الف ◄ روغتيايي آســـانتياوې به د اړتيا وړ قانوني ســـاعتونو ( دســـهار له 8 څخه د بېګا تر 4 بجو پورې) مطابق، د ګومارنې له اړينو شرايطو، او د منل شوو اجباري خدمتونو سره سم وړاندې شي.

i. *روغتيايي مرکز:* د ملاريا، نس ناستي او حاد تنفسي ناروغيو په هکله پوهاوي او د يادو ناروغيو د شتون په صورت کې روغتيايي آسنتياو او روغتيايي زده کړو ته مراجعه کول.

ii. *فرعي روغتيايي مرکز:* د سينه بغل، نس ناستي او ملاريا درملنه، د زېږون پر وخت پاملرنه، دکورنۍ تنظيم، د نري رنځ دپېښو موندني او راجع کولو او د واکسيناسيون خدمتونو.

iii. *روغتيايي اساسي مرکز:* غير بستري ناروغانو ته پاملرنه، واکسين کول او مور او ماشوم ته پاملرنه، د تغذيې اړوند چارې.

iv. *جامع روغتيايي مرکز:* له زېږون څخه د مخه، د زېږون پر مهال، له زېږون وروسته او نوو زېږېدلو ماشومانو ته پاملرنه، د خونديتوب او تغذيې چارې.

**:ښاري کلي**

(و) کوڅو او ويالو ته وده ورکول: چې د کوڅو، پياده روونو او ويالو کانکرېټ کول او د کوڅې په اوږدو کې د ونو اېښودل په کښې شامل دي.

(ز) د جامدو فاضله موادو مديريت: د کورنۍ په کچه د فاضله موادو مديرت چې د ښاروالی له لورې د فاضله موادو د را ټولولو د ميکانېزمونو په تړاو عامه پوهاوی په کې ګډون لري.

(ح) د ښڅاک د اوبو برابرول: کېدلای شي په دې برخه کې د ښاروالی د اوبو د موجوده شبکې غځول، د اوبو رسولو کوچنی سېستم يا د لاسي بمبو نصبول شامل وي

(ط) کورونو ته نمبر ورکول

(ی) روښنايي/ برېښنا: د برېښنا د شبکې غځول، د برېښنا د ترانسفرمرونو د لګولو په ګډون په کې شامل دي. سربېره پر دې، به کورنۍ وهڅول شي تر څو له خپلو کورونو څخه بهر چرغونه نصب کړي.

**:د ښاري ګذر په کچه**

- دوهمه درجه ســـړکونو ته وده ورکول او بيا منظم کول : چې د کوڅو، پياده روونو او ويالو کانکرېټ کول او کوڅې په اوږدو کې د ونو اېښودل په کښې شامل دي.
- د څښاک د اوبو برابرول: د ښاروالی د اوبو د موجوده شبکې غځول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- د ماشومانو/ ښځو لپاره پارک/تفريحي سيمه/د لوبو ميدان
- د جامدو فاضله موادو مديريت: له ټاکل شوي ځای څخه د فاضله موادو لپاره ټاکل شوې سيمې ته د فاضله موادو لېږد، د ښاروالۍ په مرسته.
- د ښځو لپاره د معيشت پروژې: د کذر د مالي مرستې يوه سلنه به د ښځو پروژو ته ځانګړې شي، په ځانګړې توګه، په سيمه کې د اړوند ښاري مارکېټ د غوښتنو سره په ټراو د ښځو اقتصادي پياوړتيا او ښځو ته لومړيتوب ورکونه.
- روښنايي/برېښنا: روښنايي/برېښنا: د برېښنا د ټرانسفرمرونو د لګولو په ګډون د برېښنا د شبکې غځول په کښې شامېلېدلای شي. سربېره پر دې، د اضافي چراغونو د نصبولو کار به په دوهمه درجه کوڅو کې تر سره شي.
- په دولتي ښوونځيو کې د کيفيت درلودونکې زده کړې (په پوره تړول په ښاري او کليوالو برخو کې په يو ډول)
- د اساسي روغتيايي خدمتونو د ټولګې رسول (په پوره تړول په ښاري او کليوالو برخو کې په يو ډول)
- د روغتيايي آسانتياوو خصوصي وړاندې کوونکي به د عامې روغتيا له وزارت سره د هوکړه شوو معيارونو سره سم روغتيايي آسانتياوې وړاندې کړي. ټولې آسانتياوې بايد: په مناسبه توګه وساتل شي، روغتيا ته د پاملرنې/حفظ الصحې له اړتياوو سره سمې وې، د طبي زبالو د *شنډولو په ګډون*، په کافي اندازه فضا او خونديتوب وړاندې کړي په ځانګړې توګه د ښځينه ناروغانو لپاره، د ناروغانو د ثبت کتاب ولري.
- درملتونونه به ثبت او د عامې روغتيا وزارت له مشروطو اړتياوو سره سمون ولري. ټول درملتونونه بايد : د فعاليت جواز او د جواز درلودونکي کمپوټر ولري، په روښانه توګه د دوا قيمت بيان او ټاپه کړي.

د کليو د بيا رغوني او پراختيا وزارت MRRD/ د سيمه ايزو ارګانونو خپلواکي اداري IDLG همکاره مؤسسه تصديق کوي چې دوهمه کټګوري وړانديز شوې فرعي پروژې د کليو د بيا رغوني او پراختيا وزارت MRRD/ د سيمه ايزو ارګانونو خپلواکي اداري IDLG د تمويل لپاره د ولسي تړون افغان پروګرام د لړ تر لړه خدمت معيارونو ته جواب وايي: هو / نه

**د پوره موارډو په تاييد سره:**
**د کلي پراختيايي شوراCDC** / د کلي پراختيايي شوراګانو کلستر**CCDC** /ګذر شورا**GA** : ټول 4 اداري غړي:

______________________ ______________________
______________________ ______________________
______________________ ______________________
______________________ ______________________
______________________

**منو چې ټاکني د عملياتي لارښود په رڼا کې ترسره شوې په دې توګه پوره موارډ د تائيد وړ دي: د همکارې مؤسسې د ټولنيز کارکوونکي، د ولسوالۍ په کچه د همکارې مؤسسې د مدير او د همکارې مؤسسې ولايتي مدير لاسليکونه**

______________________ ______________________
______________________ ______________________
______________________ ______________________

**د پوره موارډو تائيد: د کليو د بيا رغوني او پرختيا وزارت MRRD/ د سيمه ايزو ارګانونو د خپلواکي اداري IDLG ولايتي مدير**

______________________ ______________________
______________________ ______________________

(بشپړ نوم)　　(دنده)　　(لاسليک/د ګوتې نښه)

(c) ketabton.com: The Digital Library

## 2 ضمیمه
## د داخلي سرچينو له لارې د ډله ايز کار لپاره پراوونه

''د کلي پراختيايي شوراګانې يو شمېر هغه کړنې پيلوي چې ګوښه شوو او زيان منونکو ډلو ته ګټه رسوي، لکه ښځې، کورني بې ځايه شوي/بېرته راستانه شوي (د خدمتونو له معيارونو څخه بهر)''

**پايله**: په آزاده فضا کې د حاجت له رفع کولو (ODF) څخه خالي کلي

فرعي شاخصونه: د کلي د هغو پراختيايي شوراګانو يا د کلي پراختيايي شوراګانو کلسټر شمېر چې د کلي اوسېدونکو يو له بل سره مرسته کړې ده تر څو په آزاده فضا کې د حاجت له رفع کولو يا (ODF) څخه خالي کلی را مينځ ته کړي.

بېلګې:

- شتمنو/منځنيو کسانو د بسپنو له لارې له بېوزلو کورنيو سره مرسته کړې ده تر څو تشنابونه ترميم/له سره جوړ کړي
- ځوانانو له کونډو او معيوبو کسانو سره په فزيکي کار کې مرسته کړې ده تر څو تشنابونه ترميم/له سره جوړ کړي

**پايله**: د کلي پراختيايي شوراګانو او د پراختيايي شوراګانو کلسټر د خلکو په ګټه د پراختيايي حکومتولۍ بنسټ ايښې دی

فرعي شاخص: د کلي د هغو پراختيايي شوراګانو يا د کلي پراختيايي شوراګانو کلسټر شمېر چې د بېوزلو په ګټه د پروګرامونو لپاره يې سرچينې برابرې کړې دي

بېلګې:

- د کلي پراختيايي شورا بېوزلو ښځو او نارينه وو/داخلي بې ځايه شوو/راستنو شوو ته د کرکېلې په موخه عامه سرچينې (لکه نه کارول شوي ځمکه) په واک کې ورکوي.
- د کلي پراختيايي شوراګانې او د کړنې فرعي کميټه له بېوزلو ډلو سره د کرنې د بديل په برخه کې مرسته کوي (په مشورو، معلوماتو ورکولو، له نورو ډلو او دولت (د کرنې وزارت) سره په اړيکه کې کولو سره)
- د کلي پراختيايي شوراګانې او د کلي پراختيايي شوراګانو کلسټر له دولت، نا دولتي ادارو، ځايي سوداګرو څخه د بېوزلو په ګټه د پروګرامونو په لاره اچولو په موخه د سرچينو د تر لاسه کولو لپاره خپل غږ پورته کوي.
- د کلي پراختيايي شوراګانې د دولت لخوا د تمويل شوو استحقاقونو د وېش لپاره له ګډه ايزو طريقو څخه کار اخلي او د خوراکي توکو له کمښت سره مخ شوو کورنيو ته سرچينې ځانګړې کوي ( لکه د ساتنې او ځارنې نغدي وجه، د خوراک نړيواله اداره او داسې نور.)

**پايله**: د کلي د اتحاد او يووالي ټينګښت

فرعي شاخص: د کليو د ننه د ګډو فعاليتونو درلودونکو کليو شمېر (د شتمنو او بېوزلو تر مينځ)

بېلګې:

- شتمنې کورنۍ د کلي پراختيايي شورا له لارې تر ټولو بېوزلو کورنيو، په ځانګړې توګه د ښځينه سرپرست درلودونکو کورنيو ته سرچينې او بسپنې وړاندې کوي تر څو له دوی سره د فصلي لوږې د کچې په راټيټولو کې مرسته وکړي.
- د کلي پراختيايي شوراګانو يا فرعي کميټو له لورې تنظيم شوی، شتمن کسان د بېوزله او ګوښه شوو ښځو او نارينه وو لپاره د عايد د توليد د کړنو رامينځ ته کولو په موخه ملاتړ او سرچينې (ځمکه، سلا مشوره، کرنيز تخمونه، د مارکېټ په اړه معلومات او داسې نور.) وړاندې کوي
- هغه کسان چې 'نفوذ لرې' ګوښه شوو او زيانمنونکو ډلو ته د حق غوښتنه کوي تر څو سرچينو ( مالي مرستو، نظرياتو، مشورې ) او شبکو ( نظرياتو، بازارموندنې او داسې نور.) ته لاس رسی وموميي.
- لوستي نوي ځوانان او ځوانان ښوونځي ته له تګ وروسته د بېوزلو او نا لوستو کورنيو له ماشومانو سره کار کوي تر څو خپلو زده کړو ته وده ورکړي (د کلي پراختيايي شورا د زده کړو کميټه)

**پايله**: په کلي کې او د کليو تر مينځ د بېوزلو او ګوښه شوو نارينه او ښځينه وو تر مينځ د پيوستون/يووالي ټينګښت

فرعي شاخص: په کلي کې يا د کلي کلسټر د ننه د ګډو فعاليتونو درلودونکو کليو شمېر ( په پراخه توګه بېوزله او ډېرې بېوزله کورنۍ)

**بېلګې**

- د کلي پراختيايي شورا او اړوندې فرعي کميټې په مرسته بېوزله ښځې او نارينه په ګډه ايزه کرنه/کښت کې ګډون کوي.
- د کلي پراختيايي شورا او اړوندې فرعي کميټې په مرسته بېوزله ښځې او نارينه په ګډه ايزه سپما کې ګډون کوي تر څو له فصلي لوږې سره په ښه توګه مقابله وکړي ( د غلو ذخيره، سپما، او داسې نور.)
- د کلي پراختيايي شورا او اړوندې فرعي کميټې په مرسته بېوزله ښځې او نارينه د عايد د توليد په نيمه کرنيزو کړنو کې ګډون کوي.
- په کار پوه او استعداد درلودونکې ښځې ( ګلدوزي، برستن ګنډل، خياطي، د ځاريو ساتنه، د پخلنځي لپاره کرنه اوکرنه) خپله پوهه شريکوي او له بېوزله ډلو سره په زده کړه، تجربه او نوښت او داسې نورو کې مرسته کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## پنځم فصل
## د هراړخيزو ځايي بنسټونو جوړول

د فرعي کميټې رامينځ ته کول.

1. د کلي پراختيايي شورا له ټولو غړو او د کلي له 50 سلنه غړو سره وګورئ (دا کتنه بايد 2 ساعته وي)
2. د فرعي کميټې دندې او مسئوليتونه تشريح کړئ:

په پراخه توګه موضـوعي فرعي کميټې ( زده کړه، روغتيا، ځوانان، چاپېريال، د ښـځو اقتصـادي پياوړتيا، کرنه) د کلي په سطحه لاندې دندې اومسئوليتونه لري:
فرعي کميټې د شورا ټاکل شوو غړو او د کلي په ګوته شوو غړو ته فرصت ورکوي تر څو په مهمو برخو ( زده کړه، کرنه، د اوبو مديريت، روغتيا) باندې په ګډه سره کار وکړي. مهمې کړنې دا دې چې :

الف. د وضــعيت په شـــننه/تحليل کې ګډون وکړي او د کلي پراختيايي شـــوراګانو، د پراختيايي شـــوراګانو کلســـټرونو/ګذر شوراګانو، ټولنيزو کارکوونکو، انجنيرانو او بهرنيو پراختيايي فعالينو ته معلومات ورکړي.
ب. د يو هاوي ستراتيژۍ رامينځ ته کړي
ج. د خدمتونو لپاره غوښتنې را مينځ ته کړي
د. د عامه خدمتونو د وړاندې کولو لړۍ وڅاري او په دې اړه د خدمتونو وړاندې کوونکو ته خپل نظر ورکړي.
ه. خلک وهڅوي تر څو له بهرنيو سرچينو پرته له پراختيايي پروګرامونو سره مرسته وکړي

فرعي کميټې د فعالينو يوه پراخه لړۍ لري: د کلي پراختيايي شـورا غړي، د کلي کارپوه اوسـېدونکي (ښـوونکي، او تجربه لرونکي بزګران، او داســـې نور)، د ځان په کټه د مهمو ډلو په اســـتازيتوب خلک (نالوســـتې ميندې او پلرونه، د لږ ځمکې درلودونکي او د ځمکې نه درلودونکي نارينه او ښـځې، معيوب وګړي، او داســـې نور). په کلي کې هر څوک کولای شـــي د کميټې غړی شي، که څه هم، د کميټې غړيتوب بايد د کلي د ټولنيز– اقتصادي انځور استازيتوب وکړي. دا په دې معنې چې په يوه کلي کې موضـــوعي کميټې چې د ټولو کورنيو 50 ســـلنه يې د ځمکې نه درلودونکي او د خوراکي توکو له نه خونديتوب سره مخ وي، بايد غړيتوب ولري چې نيږدې 50 سلنه وګړي يې بېوزله تشکيلوي.

3. د کلي له پراختيايي شـــورا څخه وغواړئ تر څو بېلابېلې کميټې ( ځوانانو، روغتيا، زده کړې، کرنې، چاپېريال او ښځو د هواري) په پام کې ونيسي او د کلي پراختيايي شورا غړي بايد فکر وکړي چې د کومې کميټې غړيتوب تر لاســه کړي (د هرې کميټې لپاره بايد د کلي پراختيايي شــورا 2 غړي وي موجود وي). خلکو ته وخت ورکړئ تر څو فکر وکړي او بيا پوښـتنه وکړئ چې څوک به د زده کړو د کميټې غړي شـي، له هغو کسـانو څخه وغواړئ چې لاسونه يې پورته کړي دي تر څو تشريح کړي چې د زده کړو د کميټې غړيتوب دوی ته څه اهميت لري، دوی څه ډول مرسته کولای شـي چې نور يې ښـايي ونه شـي کولای، او په خپلو کليو کې د زده کړې په برخه کې د هغو بدلونونو په اړه معلومات ورکړي چې دوی يې هيله لري. ( د ټولو موضـوعي کميټو لپاره ورته کړنه تر سره کړئ) او د کلي پراختيايي شـورا له غړو څخه وغواړئ تر څو رايه ورکړي او د کلي پراختيايي شـورا رئيس به دا انتخاب منظور کړي. (په ياد ولرئ چې موضوع لپاره لېوالتيا خورا مهمه ده)

4. د نقشې جوړولو په بهير کې، تاسو لا د مخه ښوونکي، ډاکټران، نرسان، او داسې نور په ګوته کړي دي. که چېرې تاسو په يوه کلي کې 1 يا 2 ښوونکي ولرئ، له دواړو څخه وغواړئ تر څو سره يو ځای شي، که چېرې ډېر وي نو اړتيا ده چې د کلي پراختيايي شـورا يې بايد انتخاب کړي ( ښـايي پاملرنه وکړي چې څوک نورو ته تر ټولو ډېر مرسته کوونکی دی او له عامه خدماتو سره لېوالتيا لري). د کرنې او چاپېريال د کميټو لپاره، د کلي به پراختيايي شـــورا څخه وغواړئ تر څو تر ټولو نوموتي بزګر په پام کې ونيســـي ( د نوښـــت، توليداتو، مفيديت او داســـې نور برخو کې) او 1 يا 2 دا ډول کسان په ګوته کړي، د چاپېريال د کميټو لپاره، د کلي له پراختيايي شورا څخه پوښتنه وکړي چې د دې کميټې لپاره به تر ټولو ښـــه کس څوک وي او ولې. کله چې کارپوهان وټاکل شـــول، تاســـو کولای شئ د هغو کسانو په ګوته کولو پيل وکړئ چې د محلاتو استازيتوب کوي.

5. د محلاتو د استازيتوب لپاره: هيله ده په ياد ولرئ چې دا استازي بايد د ډېرى وګړو استازيتوب وکړي، په دې معنې چې دوی بايد له دواړو يعنې د ځمکې له نه درلودونکو او لږ ځمکې درلودونکو کورنيو څخه وي. ډاډه اوســـئ چې له ځانګړو لېواله ډلو څخه کسـانو ته د ګډون زمينه برابره کړي، لکه د روغتيا په کميټه کې يو معيوب کس. لاندې جدول د هغو کسانو د ځانګړتياوو په هکله توضېحات وړاندې کوي، چې بايد وټاکل شي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

1 جدول. د فرعي کمیټې د غړي ځانګړتیا

| کمیټه / غړي | کړنه | زده کړې | روغتیا | چاپېریال | ځوانان | د ښځو اقتصادي وده |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ښوونکي | | ګټور، لیواله، له خپل کار سره د مینې له کبله پېژندل شوی ، د ماشومانو سره مینه | | | | |
| د ډاکټران/ نرسان/ کلي روغتیایي کارکوونکي | | | ګټور، پوه، مهربان | | | |
| والدین | | د خپلو ماشومانو د زده کړې ملاتړ کوي، ښوونځي ته خپلې لونې استوي، لېواله دي | واکسین شوي دي، د ماشومانو د پرهېز او روغتیا په اړه اندېښمن دي | | | |
| د ځمکې له نه درلودونکي/ یا د لږ ځمکې درلودونکي (په کلیوالو سیمو کې) | عمده عاید د کرنې په برخه کې ورځنی کار دی، د پخلنځي لپاره باغ لري، نباتات خوښوي | نا لوستي دي، خو خپل ماشومان ښوونځیو ته لېږي. | ماشومان واکسین شوي دي | نباتات خوښوي ، د پخلنځي لپاره باغ، غواړي چې د د هوا د ککړتیا د کچې راټیټولو لپاره کار وکړي | هڅاند، مرسته کوونکی، د ژور بدلون لپاره لیوالتیا | بېوزله، واده شوې ښځې کار کوي (په کورونو کې او یا بهر)، په نباتاتاتو، صنایعو او ګنډلو کې با استعداده او تجربه لرونکې دي |
| له ښځینه سرپرست لرونکو کورنیو څخه ښځې | | | | | | کونده، د صنایعو، نباتاتو او ګنډلو په برخه کې استعداد او تجربه لري، مرسته او ملاتړکوونکې ده |
| تجربه لرونکي بزګر | ښه حاصل، نوښت کوي، د خاورې، موادو په هکله پوهېږي، او داسې نور | | | | | |
| ځوانان | | | | هڅاند، د چاپېریال په هکله با خبره/پوه | لوستي، بې‌رون ته تلونکی او مرسته کوونکي | مطالعه کوي، یا د مطالعې لېوالتیا لري، هڅاند، د عاید د تر لاسه کولو په موخه له نوو مفکورو څخه کار اخلي |

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د کلي پراختیایي شورا د فرعي کمیټې د کاري پلان جوړول**
(بېلګه – کرنه – کلیوالي یا نیمه ښاري برخې)

د کرنې د فرعي کمیټې ترکیب/جوړښت به د کلي پراختیایي شورا 2 غړي (یو به د کمیټې رهبري پر غاړه ولري)، 1 – 2 تجربه لرونکي بزګر، د خوراکي توکو له کمښت سره مخ شوي بزګر او له هر محل څخه د ځمکې نه لرونکي کسان وي ( د فرعي کمیټې د غړو شمېر باید له 12 څخه ډېر نه شي). په کمیټه کې باید له هر محل څخه خلک شتون ولري. که چېرې د جنډر په پام کې نیولو سره د کمیټې جوړښت شونی نه وي، نو باید د ښځو لپاره د کرنې یوه بېله کمیټه شتون ولري او همکارې مؤسسې باید ډاډ تر لاسه کړي چې د نارینه او ښځینه وو کمیټې یو له بل سره معلومات، زده کړې او ستراتیژۍ شریکوي.

1. کله چې فرعي کمیټه رامینځ ته شي، له ټولو حاضرو غړو سره لومړنی ناسته تنظیم کړئ. د فرعي کمیټو د دندو او مسئولیتونو په هکله بحث وکړئ ( د دندو لایحه وګورئ):

- د اړونده خدمتونو لپاره مهمې کټه اخستونکي ډلې په ګوته کړئ او د هغوی د لاس رسي څارنه وکړئ
- له کلي سره خبرې وکړئ او کلي ته د خدمتونو په هکله معلومات خپاره کړئ
- ډاډ تر لاسه کړئ چې تر ټولو بېوزلو کسانو ته د ګډون حق ورکړل شوی دی
- د بېوزلو په ګټه پروګرامونو لپاره ستراتیژۍ جوړې کړئ او د خوراکي توکو له کمښت سره د مخ شوو کورنیو ملاتړ وکړئ
- د پورته موادرو لپاره محل په محل پلان جوړ کړئ (د کرنې په برخه کې یو داسې پلان جوړ کړئ چې د کرنیزو تولیداتو د ډېروالي لامل شي)

اوس له هر کس څخه وپوښتئ چې د دوی د کمیټې د غړو په توګه کوم ځانګړی مهارت، تخصص، پوهه، او داسې نور له ځان سره لري او د کرنې، زده کړو، روغتیا (د کمیټو پر بنسټ) په برخه کې ستاسو د څواکمنتیا/پیاوړتیا ټکي څه دي. یو پوستر جوړ کړئ چې د ټولو مهارتونو ښوودنه وکړي او له هر کس څخه وغواړئ چې له کمیټې سره ژمنه وکړي تر څو له خپلو وړتیاوو سره سم ښه خدمت وکړي او یاد پوستر لاسلیک کړي.

2. له کمیټو سره کار وکړئ تر څو د کمیټې د چلند اصول را مینځ ته شي.

- د غونډو د فریکونسي/تکرار
- د متقابل عمل د اصولو
- دهغه ساعتونو شمېر چې هر کس یې د کمیټې لپاره د کار کولو ژمنه سپاري

3. د کمیټې لومړۍ دنده به دا وي چې د محلاتو په واسطه لاندې معلومات را ټول کړي:

د هغه کسانو شمېر چې ځمکه نلري
د هغه کسانو شمېر چې له 1 جریب څخه کمه ځمکه لري
د هغه کسانو شمېر چې له1 – 2 جریبه ځمکه لری
د هغه کسانو شمېر چې له 2 – 3 جریبه ځمکه لري
د هغه کسانو شمېر چې له 3 – 5 جریبه ځمکه لري
د هغه بزګرانو شمېر چې تر خپلې اړتیا ډېر حاصلات پلوري
3 غوره محصولات – تر 1، 2 او 3 حاصل لاندې تر ټولو لاندې ځمکه

دا معلومات باید دمعلوماتو په یوه پاڼه کې ترتیب شي چې ټولنیز کار کوونکي ته به وړاندې کړل شي (پوستر به د کلي پراختیایي شورا ته ورکړل شي) او یوه کاپي به د کمیټې له لوري وساتل شي. دوه دوه کسان وټاکئ او د یو داسې وخت په هکله پرېکړه وکړئ چې په ترڅ کې به یې دا معلومات را ټول شي او د راتلونکي غونډې د وخت په هکله هم موافقه وکړئ.

4. د موجودي د موندنو په هکله بحث وکړئ او را ټول شوي معلومات ترتیب کړئ. اوس د پلان جوړولو لپاره د شنني/تحلیل کارول شوي پوستر ته بیا کتنه وکړئ. وګورئ او بحث وکړئ چې د کلي پراختیایي پلان په کرنه، اوبو او طبیعي سرچینو په مدیریت ټینګار کوي. په یاد ولرئ چې د معیشت تحلیل او د کمیټو کار د ځمکې نه لرونکي او د خوراکي توکو له کمښت سره مخ شوي بزګران په ګوته کړي دي چې د خوراکي توکو له نه خوندیتوب سره مخ او هغه هغه بزګران دي چې تر خپلې اړتیا ډېر حاصلات پلوري.

5. اوس د کلي پراختیایي پلان CDP لید لوری په پام کې ونیسئ او داسې پراوونه وټاکئ چې د یاد لرلید په لوري د کمیټو مسئولیت په ډاګه شي. کله مو چې پړاوونه وټاکل، نو په کړنو او مهالوېشونو یې وووېشئ. ( د پړاوونو یوه بېلګه ښایي دا وي: د دریو کلونو په موده کې به د کلي کې ټولټه تر کارونې لاندې ځمکه به بېوزلو کورنیو ته د ګټې رسولو په موخه وکرل شي)

یادونه: فرعي کمیټې باید د کلي له پراختیایي شورا ګانو سره میاشتنۍ ناستې ولري تر څو د پرمختګ په هکله راپور ورکړي.

6. کله چې د کلي پراختیایي پلان د لرلید لپاره پړاوونه وټاکل شول، د هغه بهرني او داخلي ملاتړ په هکله فکر وکړئ چې ورته اړتیا ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لومړی داخلي سرچينو ته په کتلو سره پيل وکړئ پام وکړئ چې دا کلی د کومو بهرنيو سرچينو لاس ته راوړلو ته اړتيا لري (د ساري په ډول، د ټولو هغو کسانو نوملړ چې ځمکه نلري او د خوراکي توکو له کمښت سره مخ دي; د کليو او کورونو په ګډون، د هغه ځمکو نوملړ چمتو کړئ چې تر کارونه لاندې دي). له خلکو څخه وغواړئ چې ځانونه په جوړو ووېشــي او په هر محل کې د ټولي بالقوه ځمکي نوملړ چمتو کړي (له دوي څخه وغواړئ چې د محل نقشــه چمتو کړي) ځمکه او د هغې کيفيت په کې وښيي ( خاوره، اوبه، فاصله، او داسې نور). د دې کار د بشپړېدو په نيټه هوکړه وکړئ.

7. په راتلونکي ناسته کې، نقشه تشريح کړئ او بحث وکړئ چې په دې ځمکه باندې کوم کار ترسره کېدلای شي او په ګوته کړئ چې څه ته اړتيا ده (سرې، تخمونه، پنجرې/کټارې او داسې نور). کميټه بايد د خوراکي محصولاتو بې‌لابېلو ډولونه په پام کې ونيسي چې په دې ځمکه کرل کېدلای شي. د موجوده ځمکې د اندازې پر بنسټ، په پام کې ونيسئ چې له هر محل څخه څو کسان شامېلېدلای شي. ( هڅه وکړئ ډاډ تر لاســه کړئ چې د خوراکي توکو له کمښــت ســره ټولې مخ شوې کورنۍ شامېلېدلای شي). د دې کړنې لپاره د لاندې ګامونه په مرسته پلان جوړ کړئ

الف. د کلي له پراختيايي شورا يا د کلي پراختيايي شورا له کلستر څخه وغواړئ تر څو ډلې د کرنې له پراختيايي خدمتونو (د کرنې وزارت) ســره په اړيکه کې کړي ب. شــتمنې کورنۍ وهڅوئ تر څو ملاتړ وکړي (پيســي يا مواد); د کلي له پراختيايي شورا څخه د کلي د ځمکي غوښتنه وکړئ; د کار لپاره خلک وهڅوئ.

يادونه: د ولسي تړون پروګرام د ولسوالی د همغږۍ کميټې په ربعه وارو ناستو کې چې د ولسوالی په کچه د کرنې وزارت کارکوونکي به هم حاضر وي، له کلي څخه د کلي پراختيايي شورا کلستر غړي بايد د کرنې وزارت کارکوونکو ته ورشي او دوی ته بلنه ورکړي چې کلي ته د ترويج استازي واستوي تر څو د هغو کرنيزو کړنو په هکله پوه شي چې پلان شوې وي او د کرنې وزارت د ترويج د برخې کارکوونکو ملاتړ ته اړتيا لري.

8. بل په پام کې ونيسئ چې، د کومونورو ستراتيژيو په کارولو سره د خوراکي توکو نه خونديتوب په نښه کولای شي: د بېلګې په توګه. د کورنيو د غلو دانو ګډه ذخيره ( د پرېمانۍ پر مهال د کمښــت د وخت لپاره د غلو ذخيره کول; تر ونو لاندې خالي ځايونو کې د سيورې خوښوونکو نباتاتو کرل (زنجبيل/ادرک يا کورکمن)، د کانالونو په څنډو کې د سبزيجاتو کرل، او داسې نور.

9. بل ځاروي په پام کې ونيسئ: آيا د خوراکي توکو له کمښت سره مخ شوې کورنۍ کولای شي ځاروي يا چرګان وساتي تر څو خپل عايد پرې بشپړ کړي، له دې لارې هغه ممکنه عايد محاسبه کړئ. که چېرې دا تعقيب شــي هغه ســتراتيژۍ او ملاتړ په ګوته کړئ چې ورته اړتيا ده.

10. کله چې د ټولو بالقوه ســتراتيژيو لومړی طرحه جوړه شــوه، په پراوونو او کړنو باندې يې ووېشــئ او له بې‌لابېلو خلکو څخه وغواړئ تر څو د هر نوښت مشري وکړي، دوی بايد په کلي کې هغه کسان په ګوته کړي چې له دوی سره د خلکو او سرچينو په منسجم کولو کې لېوالتيا ښي. له هر کس سره د دوی د شوې پرمختګ يا مخ شوو ننګونو/ستونزو او د دې ستونزو د هواري د څرنګوالي په اړه د اوربدو لپاره ناستې تنظيم کړئ. فرعي ډلې د پر مختګ لپاره څه ملاتړ (او د چا له لوري) ته اړتيا لري.

11. هره غونډه بايد د غونډې د پايلو د لنډيز او راتلونکې غونډې لپاره د اقدامونو په بيانولو سره پای ته ورسوئ.

**د ځان په کټه/ځانی مرستندويه ډلو را مينځ ته کول او پلان جوړول**

د ولســي تړون په پروګرام کې د اســاســي خدمتونو د رســولو ســربېره د لړ تر لړه خدمتونو د معيارونو له تامينولو څخه ډاډ ورکول شــامل دي او په ځانګړې توګه د پياوړتيا برخه هم په کې شــتون لري. دا په دې معنی چې دا کار د بشــري وړتياوو لوړولو، خلکو ته د وړتيا وربښــلو مســتلزم دی تر څو ډېر اختيارونه ولري، او د يوه مناســب چاپېريال له را مينځ ته کېدو سره مرسته وکړي چې په دې سره بېوزله او ګوښه شوي ښځې او نارينه کولای شي په عامه چارو کې په هدفمنه توګه ګډون وکړي. يو داسې بهير هم شتون لري چې له لارې يې خلک کولای شي داسې حالات را مينځ ته کړي چې په ترڅ کې يې دوی خپله لاس په کار شي او خپل ځانونه له بېوزلی څخه را وباسي. دا ډول طريقه اړتيا لري چې د کلي پراختيايي شوراګانې او د هغوی فرعي کيمټې، همدارنګه ټولنيز کارکوونکي د خلکو تر مينځ د ښــکېلتيا نوې ښې تســهيل او ملاتړ يې وکړي. په بنســټيز ډول، په مخکې پروت کار په ورځني ژوند کې د شــموليت او ګوښــه والي په بهيرونو کې د بدلونونو راوســتلو غوښتونکی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا فصل د ځاني مرستندويه/د ځان په ګټه ډلو د رامينځ ته کولو په اړه بحث کوي. د فرعي کميټو بې‌لابېل ډولونه شتون لري چې دا ځاني مرستندويه/د ځان په ګټه ډلي به په ګډه کار وکړي تر څو هغه مهمې موخې تر لاسه شي چې د دوی د ټولنيزې بې‌وزلۍ يا د عايد د کموالي کچه را ټيټه کړي: د بېلګې په توګه، تر څو د خوراکي توکو له اړخه خوندي وي، ماشومان يې زده کړو ته لاس رسی ومومي او د اسې نور. له بلې خوا فرعي کميټې د کلي پراختيايي شوراګانو وروستاړې (الحاقيې) دي چې د کلي خلک په کې ګډون لري تر څو د تاکل شوو پړاوونو په لوري د ليدلوري د لاس ته راوړلو په موخه د کار کولو لپاره د پلان په جوړولو او خلکو د هڅولو په برخه کې مرسته کوي.

**د لې‌واله ډلو د رامينځ ته کولو په موخه موضوعي فرعي کميټو ته لاربښوودونه**

**الف.** د کلي پراختيايي پلان به د ټولنيز- اقتصادي تحليل پر بنسټ په کلي کې مهمې موضوعګانې او مهمې ډلې چې ملاتړ ته اړتيا لري، په ګوته کړې وي. د بې‌وزلۍ شنني/تحليل به د خوراکي توکو له اړخه د نه خوندي، ځمکه نه لرونکو، ښځينه سرپرست لرونکو او داسې نورو کورنيو په ګډون، د کلي د ټولنيز- اقتصادي حالت يو انځور وړاندې کړی وي. په داسې حال کې چې موسمي کليزې به د خلکو د بې‌وزلۍ او خوراکي توکو له کمښت سره د مخ کېدو لاملونه په ګوته کړي وي (د عايداتو د فرصتونو په برخه کې). د ماتې کوزې تمرين ( چې عمدتاً به د خوراکي توکو له اړخه د نه خوندي ښځو او نارينه وو سره تر سره شي، همدارنګه به له منيځنيو او شتمنو کسانو سره هم تر سره شي) به د کورنيو د عايد او لګښت نمونې، د راتلونکو او تلونکو پيسو تر مينځ د واټن او د مرستو ضايع کېدل يا مخنيوی کېدونکي لګښتونه په ګوته کړي وي. ښايي په دې کې نسبتاً واړه خو تکراري لګښتونه يا لوی لګښتونه شامل وي چې ګټور نه دي او ښايي حتی کورنۍ پورورې کېدو ته مجبوره کړي.[5] د بې‌لابېلو کميټو له لوري په لاره اچول شوې سروې پرمهال، مهم ګټه اخيستونکي (د لومړني ښوونځي د عمر درلودونکي ماشومان، د ماشوم درلودونکي ميندې، د ځمکې نه درلودونکي، معيوب کسان، د ښځينه سرپرست لرونکې کورنۍ، او داسې نور) به په نښه شوي وي.

**ب** . د کلي په پراختيايي پلان کې په ګوته شوي ليدلوري او په ځانګړي ډول پړاوونو په پام کې نيولو سره، هره کميټه ( روغتيا، زده کړو، کرنې، د طبيعي سرچينو مديريت، ځوانانو، د ښځو اقتصادي پياوړتيا) بايد پام وکړي چې د خلکو کومه ګټه اخيستونکې ډله (د لومړني ښوونځي د عمر درلودونکي ماشومان (له نالوستو کورنيو څخه)، يا ځمکه نه درلودونکې کورنۍ، يا د ښځينه سرپرست لرونکې کورنۍ به ملاتړ ته اړتيا ولري تر څو د ذکر شوو پړاوونو پايلې تر لاسه کړي. په دې توګه، هره کميټه بايد له هر ځای څخه چې وي د 1 – 3 لې‌واله ډلو نوملړ چمتو کړي.

**ج** . کله چې د نوملړ پر سره هوکړه وشوه، د فرعي کميټې غړي بايد د هغو کورنيو نوملړ چمتو کړي چې په ګټه اخيستونکې ډله کې راځي او دوی ته ورشي تر څو په ځاني مرستندويه/لې‌واله ډله کې سره يو ځای شي.

**د** . هر محل کولای شي د هغې ډلې يو فصل ولري چې په ځايي توګه کار کوي، خو ټوله ډله بايد په هرو دوه اونيو کې سره وګوري. په وخت سره، هر محل به يو يو يا څو مشران وټاکي چې د ډلې په هڅونه کې به مشري او په مهمو غونډو کو به د دوی استازيتوب وکړي ( د فرعي کميټو او د کلي پراختيايي شورا او د کلي پراختيايي شوراګانو کلستر په ګډون)، د مشر ټاکنه بايد هغه مهال تر سره شي چې کار پيل شوی وي او ټولو غړو د لې‌والتيا او سخت کار ژمنه کړې وي.

**د همکارو مؤسسو لپاره لاربښوودونه**

**الف**. ټولنيز کارکوونکي بايد له لويې لې‌واله/ځاني مرستندويه ډلې سره وګوري او هغه پړاو(ونه) ورسره شريک کړي چې تر دې ډلې پورې تړاو لري. د بېلګې په توګه، که چېرې په کوم پړاو کې داسې راغلي وي چې " هيڅ کورنۍ بايد د بې‌کارۍ په موسم کې له لوږې سره مخ نه شي "، نو هلته بايد د بې‌وزلو کسانو ځاني مرستندويه ډله شتون ولری چې موخه يې د خوراکي توکو له اړخه د خونديتوب تر لاسه کول وي. په لومړۍ ناسته کې، دا ډله بايد بې‌لابېل تمرينونو ته بيا کتنه وکړي (د سرچينو د نقشې جوړول، د بې‌وزلۍ شننه/تحليل، موسمي کليزه، سورۍ کوزه، د ښځو هڅونه) تر څو ټول هغه بالقوه فرصتونه معلوم کړي چې دوی يې په لاس کې لری. په دې کې ښايي د کلي نه کارول شوې ځمکه او په شخصي ځمکو باندې د کښت خالي ځايونه شامل وي ( د بېلګې په ډول، ته ونو لاندې د سيورې خوښوونکي غدې) د دې ځايونو په ګوته کولو لپاره د بې‌وزلو کورنيو د ډلې او ځايي کارپوهانو( هغه کسان چې د کښت په برخه کې د وړتياوو، استعداد او پوهې له مخې پېژندل شوي وي) په ګډون قدم وهلو ته اړتيا لري. په شخصي ځمکو باندې (تر ونو لاندې ) نه کرل شوي تش ځايونه، د پربېمانۍ پر مهال د غلې ذخيره ، د سيما يو زېرمه چې خلک د بحران پر مهال ترې ګټه اخيستلای شي او داسې نور.

**ب** . کله چې ځاني مرستندويه ډلو ټولې هغه بالقوه کړنې ياداشت کړې، چې کولای شي د دوی ستونزې (موسمي لوږه) په نښه کړي، دوی بايد يو داسې کاري پلان جوړ کړي چې کړنې، هغه کسان چې د دې کړنو ملاتړ وکړي او د دې کړنو د سرته رسولو لپاره مهالوېش په کې ځای ولري. په ياد ولرئ، موږ له ځاني مرستندويه ډلو څخه نه غواړو چې دوی په يوازې توګه موخه په لاس راوړي، د کلي په پراختيايي پلان کې داسې کړنې شتون لري چې د بهرنيو او داخلي سرچينو درلودونکې دي او د کلي پراختيايي شورا به همدارنګه په دې هکله کار کوي تر څو د دې پړاو د لاس ته رواړلو ملاتړ وکړي.

---

[5] په 2013 کال کې د کلي پراختيايي شوراګانو د مشورتي کنفرانس په درشل کې، د کلي بريالیو پراختيايي شوراګانو خپلې لاس ته راوړنې بيان کړې چې له ډلې يې هغه ګډه ايزه کړنه وه چې د دوی له لوري تنظيم شوې وه. د مات لوښي تمرين د پايلې په توګه يوه له موضوعګانو څخه مطرح او وڅېړل شوه چې په پايله کې يې کلي هوکړې ته ورسېدل تر څو د ودونو او تدفين ( چې يوه کورنۍ مجبوره ده د واده/مړي د تدفين په مراسمو کې ټول کلي ته ډوډۍ ورکړي) اړوند بېلابېلو لګښتونو د مخنيوي لارې چارې ولټوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ج . که چېرې د ځاني مرسـتندويه ډلي په پلان کي د کلي د ټولو نا کارول شـوو ځمکو کرل شـامل وي، نو دا کرنه باید په لاندي مهمو پړاوونو وويشل شي:

- د کلي له پراختیايي شورا سره وګورئ تر څو د عامه/کلي د ځمکي د کارولو حق تر لاسه کړئ
- يو ځاي کارپوه په ګوته کړئ تر څو پرېکړه وکړي چي په دې ځمکه باندي باید څه وکرل شي
- مواد ترې په لاس راوړئ (تخمونه، سرې، او داسي نور)
- کاريګر وهڅوئ تر څو ځمکه چمتو او په ځمکه باندي کار وکړي
- توکي او کاريګر چمتو کړئ تر څو له دې ځمکي څخه جالی تاو کړي ( په دې توګه به اهلي څاروي د کښـت له خوړلو څخه منع شي)

د . اړونده موضـوعي کمیټه باید د ځاني مرسـتندويي ډلي کاري پلان وړاندې کړي او باید د هر هغه څه تر سـره کولو ژمنه وکړي چي برياليتوب ته د يادي ډلي په رسېدو کي مرسته کوي. ځاني مرستندويه ډله باید فرعي کمیټي ته په میاشـتني توګه راپور ورکړي تر څو د دوی پرمختګ او په مخه کي پرتي ستونزې په ګوته کړي، چي دا له کمیټي سره مرسته کوي تر څو له يادي ډلي سره د کمیټي د ننه او بهر ملاتړ په برابرولو له يادي ډلي سره مرسته وکړي.

## جندر ته لوری ورکول ( should be discussed)

*((( يادونه: لاندې په ګوته شـوي ډېری تمرينونه لا په سـاحه کي د ازمويني په درشـل کي دي چي د ښـاري او کلیوالو سـیمو د تمرينونو د تنظیم او اصـلاح لپاره اړين بلل کېږي. په حقیقت کي، ښـايي په کلیوالي او ښـاري برخو کي د تمرينونو د تر سره کولو لاري بخيي متفاوتـي وي)))*

د جندر(جنسـیت) يوه ټاکل شـوي طريقه دا ده چي د کلي په چوکاټ کي د نارينه او ښـځينه وو تر مينځ ځاني-انعکاس تسـهیل شـي او موجودو آزاديو او د آزاديو نه شـتون ته پاملرنه وشـي، نه دا چي له کلي څخه بهر وګرځي د جندر اجنډاوې دلته تحمیل کړي.

په کلیو کي د جندر د اړيکو په برخه کي د پام وړ توپېر شتون لري. دا ځکه چي هلته د قومي ډلو شتون، ښارونو ته نېژدې والي او مخورو کسانو د نفوذ له پلوه توپیرونه شتون لري.

د ملي پیوستون پروګرام تجربه ښيي چي د ښځو په اړوندو موضوعګانو کي د ښځو او نارينه وو د ښکېلتیا کچه کافي نه ده. تر اوسـه پوري کار په پراخه کچه په فرعي پروژو تمرکز کړی دی، خو د ښـځو د بې‌لابېلو ټولنیزو او اقتصـادي حالاتو (د دوی هڅونه، د کار په بدل کي د دوی مزد، خدمتونو ته د لاس رسـي په لاره کي د دوی ورتیا او داســي نور) په هکله د پوهېدو په لاره کي لږ کار تر سـره شـوی دی. لاندې بیان شـوي تمرينونه هغه وسـیلي وړاندې کوي چي له لارې يې ټولنيز کارکوونکي کولای شي نارينه او ښځينه ښکېل کړي (په جلا جلا غونډو کي) تر څو بحث وکړي چي د ښځو لپاره حالت څه ډول بدلون موندلی دی ( د ځوانو نارينه او ښـځينه وو د واده د نمونو په برخه ، د زده کړو اړوند معیارونه، د کار او ټولنیزو کړنو په برخه کي خوځښت، او داسي نور). دا تمرينونه به د بدلون د راتلو د څرنګوالي په هکله بحث ته لاره هوار کړي چي دا بدلونونه څه ډول پېښ شـول او ټولنه له دې بدلونونو څخه څه ګټه اخلي (او که نه). د بېلګي په توګه، د ټولنیزو بدلونونو تمرين ښـايي هغه مثبت رواجونه په ګوته کړي چي را مینځ ته شـوي دي، لکه د ډېر وخت په پرتله اوس نجوني په لوی عمر کي واده کوي، يا نجوني په پراخه کچه ښوونځيو ته ځي، خو همدارنګه ښايي منفي ټکي هم وښيي، لکه د ولور (طويانه) هغه لوړه کچه چي د زوم کورنی يې د ناوې کورنی ته ورکوي، د پوروړي کېدو او ســیما د له مینځه تللو لامل کېږي. د دې موضـوعګانو له لارې کار کول ښـايي کلي ته اجازه ورکړي چي يو ډله ايز انتخاب ولري تر څو هغه مهمي موضـوعګاني په نښه کړي چي د ډېرې کورنیو معیشت ته زيان اړوونکي دي.

تجربواوڅېړنو هغه مهم ښاري او کلیوالي واقعیتونه په ګوته کړي دي چي له ښځوسره دکارکولو په لاره کي داهمیت وړ دي:

- په ښـاري/کلیوالو برخو کي د ښـځو خوځښـت (خدمتونو، اقتصـادي او ټولنیزو کړنو ته لاس رسـی) تر قوم، قبیلي، ټولګي، موقعیت/ ولايت او امنیت پوري تړاو لري.
- د ښاري سیمو په محلاتو کي د افغانستان له بې‌لابېلو برخو څخه خلک شتون لري چي د بې‌لابېلو اقتصادي کچو، قوم او قبیلو درلودونکي دي چي د باور رامینځ ته کولو او په ټولنیزه توګه د يو بل د منلو لپاره وخت ته اړتیا لري. کلي او ولسوالی ته په کتلو سره، په ښارونو کي د ښځو حالت ډېر توپېر لري. ( يوازې په ښار کي)
- له ښـوونځیو او پوهنتونونو څخه پرته، ښـځي د ټولنیز کېدو لپاره کوم بل ځای نلري. هلته يوازې د ګوتو په شـمېر خوندي مارکیټونه شتون لري ( يوازې په ښار کي)
- په دواړو يعني کلیوالو او ښـاري سـیمو کي، د هر يو يعني کونډتوب يا معیوبو خاوندانو د لرلو له امله، د ښـځو په مشرۍ کورنی له ډېرو ننګونو سره مخي کېږي. په ښاري کچه د ښځو په مشرۍ کورنی په ځانګړي ډول د بېوزلی د لوړي کچي، تر نورو د تړاو لوړ نسـبت، د عايد د ټیټي کچي، د ځمکي نه درلودلو لوړي کچي، محدودې ټولنیزې او کورنی شـبکې/ټولنیزې پانګي او په لويه کچه د ځورونې او اسـتثمار له کبله زيان منونکي دي. (UN-Habitat (2015) جامع کلي. #8 د بحث پانه. UN-Habitat کابل)

(c) ketabton.com: The Digital Library

- په ښاري برخو کې د جنسي ځوروني، ناوړه استفادې ، او ښوونځيو ته د نجونو لپاره د خونديتوب او امنيت کمزوري د والدينو په دې پرېکړې کې قاطع لور لري چې ګويا خپلې ماشومې نجونې په ښوونځيو کې شاملې کړي او که نه. (UN-Habitat (2015) جامع کلي. #8 د بحث پانه. UN-Habitat کابل).
- په ښارونو کې د ښځينه کاري ځواک د برخه اخيستنې نرخ يوازې ٪13 دی، چې په ملي سطحه د مينځنی ٪19 کچې دريمه برخه جوړوي، دا د دې ښودنه کوي چې ښاري چاپېريال په ځانګړې توګه د کار په بازار کې د برخه اخيستنې د لوړې کچې لپاره مساعد نه دی. د پام وړ شمېر ښځې د کار په غير رسمي بازار کې کار کوي، خو معلومات ښاري دي او په کليوالو سيمو کې ښځې په عمده ډول د لږ مهارت درلودونکو، لږ عايد لرونکي دندو کار کوي، لکه په کورنو کې کار کول (پاکي) او په کور د ننه کرنې (لکه ګنډل، خياطي او ګلدوزی کول)، او د هېواد په بعضې کليوالو سيمو کې ښځې د کرنې په برخه کې کار کوي او د حاصلاتو له ټولو څخه وروسته کړنو کې ښکېل کېږي. د ښځو کار په عمومي توګه د ټيټ معاش درلودونکی او د ذاتاً نا منظم دی. د ډېری ښارونو په هکله معلومات ښيي چې ښځې د نارينه د مينځني عايد يوازې پنځمه برخه تر لاسه کوي { 50 افغانی ($0.9 ) د ورځې په بدل کې د 250 افغانی ($ 4.3) په پرتله} او په کليوالو برخو کې ښځې د نارينه وو د عايد نيمايي برخه تر لاسه کوي. د احصائيې د مرکزی د اداري له قوله، " په افغاني ټولنه کې کلتوري خنډونه تر ډېره حده د ښځو له اقتصادي وړتياوو څخه د ګټه اخيستنې خنډ ګرځي"; ( د احصائيې مرکزي اداره 2014). په افغانستان کې د اوسېدلو د حالت سروې :(ALCS), pp-6: کابل افغانستان
- شته کلتوري او ټولنيز خنډونه "لا هم په ښارونو کې په پراخه کچه شتون لري، چې هغه نسبي خونديتوب نه تضمينوي کوم چې په کلي او کليوالو سيمو کې شتون لري". ډېر شمېر هغه افغاني ښځې او نجونې چې له خپلو کورنيو سره ښارونو ته کډه شوې دي لږ آزادي لري ځکه چې دوی ټولنيزې او کليوالې شبکې نلري چې دوی ته په ټولنيزه کچه هغه منل شوې فرصتونه مساعد کړي تر څو له کورونو څخه را ووزي او له خپلو نارينه وو څخه په جلا توګه مستقلې کړنې تر سره کړي. (UN-Habitat (2015) جامع کلي. #8 د بحث پانه. UN-Habitat کابل).
- ښځې او نجونې، چې په ځانګړې توګه د کورنيو د تکثر مسئوليت لري معمولاً د کمزورو اساسي خدمتونو له کبله اغېزمنې کېږي لکه اوبه، حفظ الصحه، برېښنا او روغتيا ته پاملرنه; داسې اټکل شوی دی چې په ښاري سيمو کې ښځې له ٪1 څخه د لږې ځمکې خاوندانې دي، لا هم کورونو، ځمکې، شتمنې او عايد ته د ښځو لاس رسی د اقتصادي پياوړتيا يو مهم جز بلل کېږي. دا د کورنې په کچه په پرېکړو کې د دوی ګډون ډېروي، د دوی د خوښې/انتخاب ساحه پراخوي، دوی ته وړتيا وربښي تر څو له اقتصادي زيانونو او بحرانونو سره په ښه توګه چلند وکړي، دوی ته خونديتوب او ساتنه ښيي که چېرې دوی د کونډتوب يا طلاق له امله د نارينه وو عايد ته له لاس رسي محرومېږي. .(UN-Habitat. (2014) ښځې او مسکن: د جامع ښارونو پر لور. UN-Habitat: Nairobi)

## د جندر پر بنسټ اړيکو لپاره د ولسي ترون پروګرام طريقه

ولسي ترون پروګرام به له ښځو او نارينه وو سره کار وکړي تر څو د هر اړخيزه خدمتونو وړاندې کول او پراختيا ته ورسېږي. په دې ځای کې به دا اړينه وي چې د هغو مرستو په اړه چې دولت يې د دوی کليو ته ورکوي، ښځې د نارينه وو په شان غږ، نفوذ او د پرېکړو کولو ځواک ولري او د کلي په ځاني- نوښتونو کې برخه واخلي. د ښځو د شاملولو (د دې په درک کولو سره چې ښځې يوه متجانسه ډله نه ده بلکې د دوی په مينځ کې ټولګی، عمر، قومي او نور توپيرونه شتون لري) د دا ډول بهير په تسهيل سره به ښځې بې‌لابېلو سېستمونو – د کلي پراختيايي شوراګانو، د کلي پراختيايي شوراګانو کلستر/کذر شورا، فرعي کميټو او ځاني مرستندويه/لېواله ډلو ته لاس رسی ولري. دا سېستمونه/فضاوې بې‌لابېل جغرافيايي ترتيبات (د محل په کچه ځاني مرستندويه/ لېواله ډلې)، د کلي په کچه (فرعي کميټې او د کلي پراختيايي شورګانې) او د کلي پراختيايي شوراګانو کلستر/کذرونه منعکس کوي

په کليوالو سيمو کې په عمومي توګه ښځې په خپلو محلونو کې د خوځښت او هڅونې پراخه آسانتياوې لري ( د استوګنځايونو ورکړل شوو هغو نمونو ته په کتلو سره چې محلونه د خپلوانو/دوستانو له ډلو څخه تشکيل شوی وي) او دوی ته به خورا آسانه وي تر څو د محل په کچه په غونډو کې ګډون وکړي. دلته به د ښځو لپاره آسانه وي تر څو د خبرو کولو، نفوذ او پرېکړو کولو جرئت ولري او د خپلو ځانونو په ګټه کړنې ترسره کړي. د کلي په کچه به د جندر کميټې شتون ولري چې ښځو ته به زمينه برابره کړي تر څو روغتيا، زرده کړې، کښت (د پخلنځي لپاره کرکېله، د کلي ځمکه په پام کې ونيسي او ستراتيژی په لاس راوړي. دا کميټې به ښځو ته وخت ورکړي تر څو د مهمو موضوعي موضوعګانو په هکله بحث وکړي او فکر وکړي چې دوی به په څه ډول د کلي د ننه او بهر ملاتړ تر لاسه کړي تر څو خپلې اندېښنې په ښه/مهمې موضوعګانې حل کړي. د کلي پراختيايي شوراګانې به د کلي په کچه فعاليت وکړي او دلته ښځې هم په جلا توګه غونډې ولري ( په هغه سيمو کې چې نارينه او ښځينه کولای شي له يو بل سره وګوري، د کلي پراختيايي شوراګانې ښايي د متحدو غونډو په بڼه سره وګوري). لکه د نورو سېستمونو په شان، ښځې به د کلي په پراختيايي شوراګانو کې د دې موکه تر لاسه کړي تر څو د خپلو اړتياوو او اندېښنو څرګندونه وکړي او د تمرينونو د پلان جوړول له لارې يې په ښه کړي ( له نارينه وو څخه جلا).
د کلي پراختيايي شوراګانو په کلستر کې د ښځو د ګډون لپاره، بايد اضافي هڅه شوې وي تر څو د دوی شموليت ډاډمن کړي. چې په دې کې ښايي دا هم شامل وي چې، د هڅونې/خونديتوب د نقشې په کارولو سره وپلټل شي چې ښځې لا د مخه چېرې

(c) ketabton.com: The Digital Library

تللي دي او له چا سره او څو ځله او دوی څه ډول دا منلي ده چې هلته لاړې شي. د هڅوني دا بحث بايد دا په ډاګه کړي چې د کلي پراختيايي شورا د کلستر غونډه به چېرې او څه وخت وشي ( که چېرې ګډې غونډې شوني وي (لکه په باميانو او د ډانکنډي ولايتونو په يو شمېر برخو کې)) تر څو ډاډ تر لاسه شي چې ښځې يوازې د ځای او وخت په اړه د نه پوهېدو له امله بې برخې شوې دي. که چېرې د کلي پراختيايي شورا کلستر ښځينه غړې د جلا ډلې په توګه غونډه کوي، د خونديتوب د نقشو په کارولو سره دوی کولای شي پلان جوړ کړي، چېرې او کله به دوی غونډه وکړي، څوک به د دوی ملګرتيا وکړي، نو په دې توګه دوی خوندي او د دوی تحرک د منلو وړ دی.

د ښځو د تحرک د نقشې جوړول سربېره، په ښاري برخو کې به د ټولنې له استازو ډلو سره د خونديتوب قدم وهل (ص 77 ) تر سره شي تر څو مهمې اندېښنې په ګوته کړي يا يې په نښه کړي، او په کليوالو برخو کې به د کلي پراختيايي شورا کلستر ټاکل شوي غړي د خپلو غونډو د پلان جوړولو لپاره د خونديتوب نقشه وکاروي. د خونديتوب نقشه همدارنګه کېدلای شي له کم تنکيو نجونو او د هغوی له مروګانو سره جوړه شي تر څو ښوونځي د تګ د مسئلې په هکله بحث پرې وشي. د ښځو او نجونو دواړو آندونه به د واټن او اراضي پر بنسټ به په جلا يا ګډه توګه د قدم وهلو له لارې په پام کې ونيول شي.

له کليوالي او ښاري سيمو څخه د ملي پيوستون پروګرام له تجربو څخه يوه دا ده چې ښځې په مستقيم ډول د پروژو په پلي کولو (د رغونې په فزيکي کار) کې رول نلري. په دې کې د فرعي پروژې فزيکي موقعيت، د توکو لپاره د تدارکاتی بهير د يوې برخې کنټرول کېدل (قيمت، پېرودل)، د بوديجو محاسبه، کاريګر او رضاکاران، عملي او ساتنه شامل دي. د کلي پراختيايي پلان بهير به ډاډ ورکړي چې د پلي کېدونکي پروژې د ډول او موقيت اړوند د ښځو نظر په پام کې نيول شوی دی. په داسې حال کې ښځې ښايي په عامه بنسټيزه پروژه کې د کاريګرو يا رضاکارانو د وړاندي کولو توان ونلري، که څه هم په بعضې برخو کې دوی کولای شي چې په تدارکاتي بهيرونو کې ونډه واخلي (د توکو د پېرلو او قيمتونو را ټولولو او داسې نورو په برخه کې).

د پيوستون په پخوانيو پروګرامونو کې، د کلي د ښځينه پراختيايي شوراګانو رامنيځ ته کولو او د خپلو کليو د مشرانو په توګه د ښځو ټاکلو دې ته لاره هواره کړه تر څو په ټولنيزه کچه دا ومنل شي چې ښځې کولای شي په خپلو کليو مشري او پرېکړې وکړي. په فعال ګډون سره، دې ښځو چانس درلود تر څو د هغو پروژو په عملی کولو سره خپلې اړتياوې او ګټې خوندي کړي، چې ښځو ترې ګټه پورته کړې ده. په اذهانو کې دا ډول بدلون راتللو لوی ټولنيز اغېز له ځان سره درلود. نارينه وو ښځو ته د سيالانو او مشروانو په نظر کتل او د پرېکړو له کولو د مخه يې له هغوی سره مشورې کولې. ښځو په خپلو ځانونو کې نوي بالقوه مهارتونه وموندل او په ډله ايزه او انفرادي توکه يې په خپلو ځانونو باور پيدا کړي.

په داسې حال کې دولت د کلي په پراختيايي شوراګانو او فرعي کميټو کې د جندر سهميې ته ځای ورکړی دی، د ولسي تړون پروګرام د جندر تګلاره مني چې که په کلي کې د جندر رول او اړيکو ته بدلون ورکړو نو دا بايد د بدلون داخلي بهيرونه را مينځ ته کړي. په دې اړه د پرمختګ لپاره اړتيا ده چې نه يوازې له ښځو سره کار وشي، بلکې همدارنګه له نارينه وو سره هم کار وشي تر څو په ټولنه کې د ښځو ونډه په پام کې ونيسي( په کورنيو، محلونو او خپلو کليو کې). هغه بېلابېل تمرينونه چې لاندې توضيح شوي دي د دې لپاره طرح شوي دي تر څو د ښځو په ازاديو کې د بدلونونو، د ښځو غږ او په بېلابېلو کچو کې د تصميم نيونې په هکله په ګډو پرېکړو کې نارينه او ښځې ښکيل کړي.

که چېرې شونې او مناسبه وي، د ,ټولنيزو بدلونونو تمرين' له نارينه وو او ښځينه وو سره تر سره شي چې دا به خلکو ته اجازه ورکړي تر څو وګورې چې په تېرو لسيزو کې په دې برخه کې څه بدلونونه راغلي دي چې نارينه او ښځې څه ترسره کولای شي او څه نه شي ترسره کولای. نظريه داده چې نارينه او ښځينه وو ته دا وړتيا ور کړل شی چې د راغلو بدلونونو په اړه خپل نظرونه وړاندې کړي ( لکه: نجونې لومړنيو او مينځنيو ښوونځيو ته ځي، ښځې د کرنې په برخه کې کار کوي او د کار کولو په موخه له کلي څخه بهر ځي، د نجونو د ودونو به عمر کې بدلونونه، او داسې نور). دا کړنه به په ګوته کړي چې کوم بدلونونه له بهرنيو مداخلو پرته را مينځ ته شوي دي، خو د داخلي بدلونونو (د بېلګې په توګه د ښځو لپاره اقتصادي اړتيا تر څو پيسې وګټي) او همدارنګه بهرنيو مداخلو لامل شوي دي ( د بېلګې په توګه د دولت له لوري د عامه پو هاوي کمپاينونه، د نا دولتي ادارو پروګرامونه او داسې نور). دا تمرين به د ښځو د موجوده آزاديو (يا د آزاديو نه شتون) په اړه وضاحت ته اجازه ورکړي. دې ته ورته، د ټولنيز کولو لاندې توضيح شوی تمرين به نارينه او ښځينه وو ته اجازه ورکړي تر څو د خپلو ماشومانو (هلکانو او نجونو) پر وړاندې د دوی رويه او سلوک د تبعيض (د بېلګې په توګه، د نجونو په پرتله هلکانو ته ډېره ډوډۍ ورکولو يا ښوونځيو ته د زامنو لېږلو او د لورانو نه لېږلو) لامل شوی دی. دا نه دي ويل شوي چې ټولنيز کارکوونکي به د بدلون راوستلو په موخه فشار راوړي، بلکې دوی کولای شي په د اغېزو په هکله په بحث کې ګډون وکړي (نجونې د هلکانو په پرتله د لږ روغتيا درلودونکې دي چې په راتلونکې کې د ميندو کېدلو او روغو ماشومانو د را لويولو له اړخه اغېزمنې کېږي). په پای کې، د ورځني وخت د کارولو تمرين (لاندې توضيح شوی دی) به د ټول هغه کار او ونډې په هکله د پوهاوي کچه لوړه کړي چې د خپلې کورنۍ د معيشت لپاره يې ترسره کوي ( ماشومان تغذيه ماړه او پاک دي، جامې مينځل شوې دي، کور منظم دی، د مېړه مور او پلار ته پاملرنه شوې ده) مېړه دې ته پرېږدي تر څو د خپلو ماشومانو په هکله له اندېښنې پرته خپل کار ته دوام ورکړي. نظر دا دی چې له نارينه وو سره کار وکړئ تر څو په کورنۍ کې د ښځې ونډې ته ارزښت ورکړل شي (آن له معاش پرته کار کول).

په دې لارښوود کې تشريح شوي تمرينونه (د تحرک او خونديتوب د نقشو او د همدې لارښوود د کلي پراختيايي پلان په برخه کې تشريح شوي موسمي کليزې په ګډون) د ښځو د تحرک د موجوده نمونو، له کور څخه بېرون (د ننه) کار چې دوی يې کوي، د دې کار اجوره او د کال د هغو مياشتو په هکله معلومات وړاندې کوي چې په کې ښځې او د دوی کورنۍ له

(c) ketabton.com: The Digital Library

موسمي لوړې سره مخ کېږي. دا تمرینونه همدارنګه د جندر په معیارونو کې هغه بدلونونه راسپړي چې د تېرو دوو لسیزو په موده کې رامینځ ته شــوي دي او څه ډول هلکان او نجوني په توپیري توګه ټولنیز شــوي دي، په دې توګه د جندر بېلوالی پیاوړی کوي. په پای کې، د ورځني وخت کارول به کارکوونکو ته اجازه ورکړي تر څو د کاریګرو د ځایي انډول/وېش په هکله وپوهېږي تر څو په پام کې ونیسي چې په کوم وخت کې ښځې کار نلري او څه وخت په کور او بېرون کې د دوی کار د دوی وړتیاوې محدودوي تر څو په پراختیایي موضـــوعګانو کار وکړي. دا تمرینونه ښـــایي هغه موضـــوعګانې را مینځ ته کړي(ص78) چې ښځې یې په نښه کېدلو د لیدلو لېوالتیا لري. اقتصادي موضوعګانې د تحرک په نقشه جوړولو کې راځي (ښځې چېرې کار کوي او څه لاس ته راوړي) او موسمي کلیزه (کوم وخت ښځې کار لري او کوم وخت یې نلري او د دوی د کورنۍ حالت) د کلي پراختیایي پلان جوړولو له بهیر څخه د مخه تر ســـره کېږي چې د کلي پراختیاي پلان جوړولو او پروژو ته د لومړیتوب ورکوني په لاره کې مرسته کوي. دلته توضیح شوي نور تمرینونه به وروسته تر سره شي، کله چې د پروژې پلي کېدل په ښــه توګه په جریان کې وي (ص 78) او ټولنیز کارکوونکو د کلي پراختیایي پلانونه وروســتي/بشــپړ کړي وي او د فرعي پروژو د پلي کېدو اړوند مهم روزنې یې وړاندې کړې وي.

**د 'ټولنیزو بدلونونو د تمرین' لپاره لارښوودونه**

*د ټولنیزو بدلونونو د شنني/تحلیل او تجزیې موخه*

دا کړنه د جنسیت په معیارونو او سلوک کې د پراخه بدلونونو په اړه د ښځو او نارینهؤ د آندونو او پوهې تر لاسه کولو او دا چې نوموړي بدلونونه په څه ډول را مینځ ته شوي، یوه ګټوره طریقه ده. دا کړنه خوراه مهمه ده ځکه چې دا کړنه د جنسیتي محرکه قوې بدلونونه (په بعضـــې حالاتو کې دا بدلونونه مثبت او په بعضـــې حالاتو کې منفي دي) په ګوته کوي چې د لویو چاپېریالي او کلتوري عواملو په پایله کې مینځ ته راځي او د نادولتي ادارو له ولکې څخه بهر دی.

د جنسیت په کړنو کې باید په پام کې ونیول شي چې د دوی اغېزې ښایي محدودې وي، مګر د هغه لوی او پراخه عواملو په هکله پوهېدل چې د مثبتو بدلونونو په راوستلو کې مرسته کوي په هغوی اتکا وکړو همدارنګه هغه عوامل چې د منفي بدلون (تاوتریخوالی او نور) په راوســتلو کې مرســته کوي له نورو ادارو یا د دولت په ملتیا د عدالت غوښــتني کمپاینونو ته جدی اړتیا لري.

دا کړنه باید له بېلابېلو معیشـــتونو څخه د ښـــځو او نارینه وو له جلا جلا ډلو ســـره تر ســـره شـــي. دلیل یې دا دی چې د جندراړوند معیارونه او سلوک ښایي په بېلابېلو برخو کې سره توپیر ولري. په هره کړنه کې د معیشت له ښکتنیو کتګوریو څخه باید لږ تر لږه 5 کسان (یا ټول نارینه یا ټولې ښځې) ګډون ولري. هغه برخې چې باید وڅېړل شي ښایي عبارت وي له زده کړې، واده / طلاق/ کونډتوب، ځمکه، کاري ځواک او معیشــت، د ښــځو تحرک، د کورنۍ پلان جوړل او روغتیایي خدمتونو ته لاس رسی.

*د جندر د معیارونو په تمرین کې د بدلونونو او ګرایشونو بهیر*

1. د جندر په معیارونو کې د بدلونونو او ګرایشونو تمرین ته چمتووالی

د کلي پراختیایي شورا نارینه او ښځینه غړو ته (لږ تر لږه له هرې برخې 8 کسه) د جلا جلا ناستو لپاره بلنه ورکړئ. دوی به د دې د تمرین ګډون کوونکي وي او له دوی سره به د پراختیایي شورا رئیس او یا هم مرستیال له لارې اړیکه ونیول شي تر څو په یوه مناسـب وخت کې د څېړني له ډلې سـره وګوري.[6] دا تمرین باید د ښـځینه او نارینه وو لپاره په جلا جلا توګه تر سـره شـي. دا کړنه په پراخه کچه ځای او چمتووالي ته اړتیا نلري. که څه هم، دامهمه ده چې تسـهیل کوونکي د سیمې د شـرایطو په هکله پوه وي او په پام کې ونیسـي چه په یوه پراخه موضـوع کی باید د کومې برخې په اړه دوی غواړی څېړنه وکړی . د بېلګې په توګه، د واده په هکله په بحث کې باید نور اړوند اړخونه لکه ولور، د ودونو شـــمېر، د میراث اړوند کړنې او داسې نور ګډون ولري.

د دې تمرین لپاره، د تســهیل کوونکو ډله باید لږ تر لږه 3 غړي ولري. یاده ډله کلي ته تر رســېدو د مخه باید پرېکړه وکړي چې اصـلي تسـهیل کوونکی (د ادارې، د هغې اړوندو چارو ور پېژندنه او هغه څه چې د دې کړنې لپاره پلان شـوي دي ور وپېژني او په تحلیل او تجزیه کې ګډون کوونکي بوخت وســاتي) به څوک وي، څوک به د فلش کارتونو په لیکلو، یادښــت لیکلو د دروازه سـاتونکو او ماشومانو په تنظیمولو او داسې نورو کې مرسته وکړي. د تمرین د ترسره کولو په ورځ، تسـهیل کوونکی باید ټاکلي ځای ته په وخت حاضر شي او له هغو ګډون کوونکو څخه چې تر نورو د مخه راغلي دي غوښتنه وکړي تر څو د کړني د تر سره کولو په موخه د ځای په چمتو کولو او له ټاکلې سیمې څخه د اضافي موادو په لېږې کولو او داسې نورو برخو کې مرسته وکړي.

2. د جندر په معیارونو کې د بدلونونو او ګرایشونو تمرین ته چمتووالی

کله چې د ګډون کوونکو ډېری برخه (که ټول نه وي حاضر) حاضره شي، اصلي تسهیل کوونکی

- له ټولو ګډون کوونکو سـره سـتړي مشـي کوي او دوی ته ښـه راغلاسـت وایي، خپل ځان او خپله ډله ورپېژني، او ګډون کوونکو ته فرصت ورکوي تر څو خپل ځانونه تسهیل کوونکو ته ور وپېژني. وروسته اصلي تسهیل کوونکی د دې غونډې موخې بیانوي: موخه په سیمه کې د تېرو 20 کلونو په موده کې په ځانګړې توګه د ښځو په زده کړو، ودونو، معیشت او خدمتونو ته د لاس رسي په برخه د راغلو بدلونونو په هکله بحث کول دي.

[6] په تصادفي توګه د کورنیو د ټاکلو موخه د معیشت د تحلیل او تجزیې تائید ته لاره هواروي، چې په دې توګه به له هرې کورنۍ څخه وپوښتل شي تر څو بیان کړي چې څومره ځمکه لري

(c) ketabton.com: The Digital Library

- تســـهیل کوونکی د جدول په بنه کارتونه ځای پر ځای کوي: تســـهیل کوونکی عنواني کارتونه په عمودي ډول په ځمکه ږدي ( زده کړه، ودونه او داسې نور)، تسهیل کوونکي دوه کالمونه د هلکان/سړي او نجوني/ښځي تر عنوان لاندې په افقي توګه رامینځ ته کوي. د جدول په هر کالم کې دوه اضـافي کالمونه را مینځ ته کېږي چې د مخکیني او اوسني حالت څرګندويي کوي. د جدول یوه بېلګه په لاندې بڼه ښکاربږي:

**د ټولنیزو بدلونونو بېلګه**

| | هلکان/نجوني | | نجوني/ښځي | |
|---|---|---|---|---|
| زده کړي | پخوا | اوس | پخوا | اوس |
| واده/ طلاق/ کونډتوب | | | | |
| ځمکه/ کاریګر/معیشت | | | | |
| د ښځو تحرک | | | | |

- تســـهیل کوونکي په هره برخه کې د راغلو بدلونونو په هکله بحث کوي، او د ډلې له غړو ســـره د تېرو 20 کالو را پدېخوا د راغلو بدلونونو په هکله مرکه کوي. د بېلګې په توګه، کله چې د زده کړې به هکله بحث تر ســـره کېږي، تسهیل کوونکی د ډلې له غړو څخه غواړي تر څو 20 کاله پخوا د زده کړو په هکله بحث وکړي: څوک ښوونځي ته تللي دي، تر کومې کچې، او ولې؟ بحث باید په دې تمرکز وکړي چې آیا په نېږدې سیمو کې ښوونځیو شتون درلود او که نه، کوم ښوونځي، د زده کړو اړوند لګښت او داسې نور. اوس نوموړي بحث د ورته پوښتنو په پوښتلو سره اوسني حالت ته را ولېږدوئ. مهمه دا ده چې باید وپوښتل شي چې ولي دا بدلونونه راغلي دي ( د دولت په پالیسیو کې بدلون راغلی دی، د نادولتي ادارو له لوري د عامه پوهاوي کچه لوړه شـوې ده، نوي ښـوونځي جوړ شـوي دي، دولت ښوونځي ته د تګ لپاره حقوق او امتیازات را مینځ ته کړي دي او داسې نور). یادښت لیکونکي ته پکار ده تر څو یوازې د بحث غوره ټکي یادښت کړي ځکه چې ټول جزئیات به په جدول کې منعکس نه شي.
- کله چې جدول بشپړ شي، نو تسهیل کوونکی باید له ډلې څخه وپوښتي چې کوم کوم بدلون مثبت او کوم مثبت نه دی او د هر یوه د لامل په هکله بحث وکړي. د هغو بدلونونو لپاره چې هغه مثبت دي، تســـهیل کوونکی باید له ډلې څخه وپوښتي: آیا تاسو غواړئ چې په دې برخه کې پرمختګ وکړئ ( د بېلګې په توګه، نجوني نه یوازې دا چې لومړنیو ښوونځیو ته استوئ، آیا دوی ته به اجازه ورکړئ چې نوري زده کړې هم تعقیب کړي). د بدلونونو هغه برخه چې د ډلې له نظره منفي ګڼل کېږي، تسهیل کوونکی باید له ډلې څخه وپوښتي: په دې هکله تاسو د کوم بدلون غوښتونکي یاســت او په دې لاره کې څه ته اړتیا ده؟ تســـهیل کوونکی باید په پام کې ونیســـي چې دا کار په څه ډول ټول کلي ته وړاندې کړل شي او د کلي له پراختیایي شورا سره په ګډه فکر وکړي چې څه ډول پلان جوړ او یاده موضوع په نښه کړي.
- همدې ته ورته بهیر اوس د پلټنې د نورو برخو لپاره تکراربږي، تر هغه پورې چې ټولې برخې تر پوښـــښ لاندې راشـــي؛ تســـهیل کوونکی باید له ډلې څخه وپوښـتي که چېرې اوس هم داســـې برخې/حالات شـتون ولري چې مهم بدلونونه په کې پېښ شوي وي خو لا هم تر بحث لاندې نه وي راغلي؛ نو دا بدلونونه هم باید تر بحث لاندې راوستل شي او شامل کړل شي.
- کله چې تمرینونه بشـپړ شـي، په ډله کې به له یوه ګډون کوونکي څخه وغوښـتل شـي تر څو موندني ولولي او نورو ګډون کوونکو ته د رضـایت/نه رضـایت ښـودلو، بدلونونو راوسـتلو او د اړتیا په صـورت کې تسـهیل کوونکي ته د مهمو توپیرونود جزئیاتو په اړه د بحث په موخه وخت ورکړي؛
- په پای کې، له ګډون کوونکو څخه د دوی د مرســتي له کبله په مننې ســره دوی ته وریاده کړئ چې د دې جدول یوه کاپي به له دوی سره شریکه کړل شي.

**د معلوماتو پروسس، تحلیل او تجزیه**

دفتر ته په راستنېدو سره، د څېړنې ډله باید د چمتو شوي جدول کاپي وکاروي او محتوا یې یو لوی پوسټر ته ولېږدوي. په یاد پوسـټر کې باید د همدې پوسـټر د چمتو کېدو نېټه او د تسـهیل کوونکو کسـانو نومونه ځای پر ځای کړل شـي چې په دې توګه د هر ډول پوښتنې د شتون په صورت کې، هر هغه څوک چې دا جدول تحلیل کوي په آسانی سره کولای شي له تسهیل کوونکو سره اړیکه ونیسي.

کله چې پوسـټر چمتو شـي، د راټولو شـوو معلوماتو لنډیز چمتو کړئ. ګټوري پوښـتنې ښـایي په دې ډول وي: تر ټولو مهم بدلونونه چې رامنځته شوي دي څه دي او ولې؟ نوموړي بدلونونه ولې راغلي دي – سیاسي ( په دولتي پالیسیو او قوانینو کې بدلون) اقتصـادي ( د ځمکو د کمښـت له امله ښـځې اړشـوي دي تر څو په مارکېټ کې کار وکړي، د څوکونو ښـځو د ملاتړ ناتواني او داسې نور)، د عواملو ترکیب ( د بېلګې په توګه ښاري سیمو ته کوچېدل، د کډوالو بېرته را ستنېدل چې کارونه په بېل ډول تر سره کوي او داسې نور.)، د نادولتي ادارو کړنې او داسې نور. د هلکانو او نجونو یا نارینه او ښځو په هکله خلک څه ډول انګېرنې لري او دا انګېرنې په څه ډول د جندر معیارونه او ارزښتونه تر اغېز لاندې راولي؟ دې پوښتنو ته ځوابونه به ګټور وي تر څو په پام کې ونیول شـــي چې ولي بدلونونه را مینځ ته کېږي او په څه ډول د ســـتراتیژیکو کړنو له

(c) ketabton.com: The Digital Library

لارې د مثبتو بدلونونو ملاتړ کېدلای شي او د جندر په هکله کومې انګېرنې باید له کليوالو سره په پراخه کچه تر بحث لاندې راشي. هغه څه چې ډېر د اهميت وړ دي، فکر وکړئ چې تاسو څه ډول له کلي سره د رامينځ ته شوو منفي بدلونونو په نښه کولو کې مرسته کولای شئ (هغه بدولونونه چې ډلې د منفي بدلونونو په توګه په ګوته کړي دي).

*__هغه څه چې باید په پام کښې ونیول شي__*

- مهمه ده چې له ګډون کوونکو سره د کړنې د ترسره کولو په اوږدو کې په داسې توګه مرسته وشي چې له دوی سره د معلوماتو په چمتو کولو کې مرسته وکړي. تسهيل کوونکی باید غونډه د دې پوښتنو په پوښتلو سره پیل کړي: آیا د تېرو 20 څخه تر 30 کلونو په موده کې د ښـــځو/ نجونو په ژوند کې څه بدلون راغلی دی؟ موږ غواړو بحث وکړو چې دا بدلون په څه ډول راغلی دی.
- تسـهيل کوونکي باید لوری ورکوونکي پوښـتني ونه پوښـتي، لکه آیا نجونې اوس مهال ښـوونځي ته ځي، آیا ښـځې اوس مهال ځمکه په میراث وړلی شي، او داسې نور. دا ځکه چې ښایي داسې موارد شتون ولري چې دولت په کښې د ښځو د حقونو په تړاو قوانین تصـــويب کړي وي، خو ښـــایي تعقیب شـــوي نه وي او د هو او نه پوښـــتنو مطرح کول به ګډون کوونکو ته اجازه ورنه کړي تر څو په خپلو معمولو کلمو کې د ښـــځو او نجونو په ژوند کې د راغلو بدلونونو په هکله معلومات ورکړي.
- تسـهيل کوونکی د هغو کسـانو په هکله خبر وي چې برخه يې نه ده اخيسـتې (هغه کسـان چې شـتون لري، خو د برخه اخيستنې لپاره نه دي تاکل شوي) چې کېدای شي په بحث کې د نفوذ/ګډون هیله ولري.

**<u>د جندر په معیارونو کې د بدلونونو په تړاو د موندنو د احتمالي کاروني ځایونه</u>**

- د جندر په معیارونو کې د بدلونونو تمرین د ښځو او نجنو لپاره د حالاتو د بدلون او د بدلونونو د راتلو د دلیل موندنې په لاره کې چې ولې بدلونونه راغلي او یا نه دي راغلي، خورا ارزښـــتمنه طريقه ګڼل کېږي. له دې موندنو څخه په کار اخيستنې به سيمه ايز دولت د سرچينو د برابرولو لپاره وهڅول شـي ( لکه ښـوونځي- که چېرې ګډون کوونکي ووايي چې نجونې د اوږد واټن او نه خونديتوب له امله نه شـي کولای منځني ښـوونځي ته لاړې شـي) يا د ښـځو د حقونو په تړاودلويو پاليسيو او يا په يادوبرخوکې دهغوخنډونو پرسر بحث ته لاره هواره کړي چې د دوی د مخنيوي لامل ګرځي.
- له دې موندنو څخه همدارنګه کېدلای شـي زموږ د کړنو په جوړښت او کار کې ګټه واخیستل شـي او له ښځو او نارينه وو سـره په مهمو برخو کې چې د تحليل او تجزيې له امله را مينځ ته شـوې دي ( د بېلګې په توګه له تعصـب څخه ډک چلند) کار وکړو.
- دا موندنې کېدلای شي له کلي سره د منفي بدلونونو په نښه کولو د کاري پلان جوړولو په برخه مرسته وکړي( د بېلګې په توګه، د ولور لوړه کچه، د ودونو لوړ لګښتونه، په لږ عمر کې د نجونو واده کول، او داسې نور.)

**د تولنيز کولو د تمرين لارښود**

*<u>د تولنيز کولو د تحليل او تجزيې موخه</u>*

ټولنيز تمرين د مور او پلار له لوري د خپلو زامنو او لورګانو د پالنې د بېلابېلو لارو په ګوته کولو لپاره ګټور دی او په ټولنيز ژوند کې د جندر نابرابروالي د رېښو د غزېدو ښـکارندويي کوي. موندنې کولای شـي د جندر نابرابروالي پايلو ته او دا چې په څه ډول دا پديده د څو نســـلونو لپاره تداوم موندلی دی او یا داچې، چې د جندر اړيکې په څه ډول ســـره بدلېږي، اشــاره وکړي. د ټولنيز کولو تمرين يوه داســې لاره ده چې له زېږون څخه وروســته له هلکانو او نجونو ســره د بېل چلند د ځرنګوالي په اړه بحث ته لار هواروي ( د بېلګې په توګه، کله چې هلک وزېږېږي کورنۍ خوښېږي او د نجلۍ په زېږېدلو سره خفه کېږي (بعضې وختونه د شرم احساس کوي)، کوم وخت چې هلک وزېږېږي مور ته ښه خوراک ورکول کېږي او ښه پاملرنه ورته کېږي)، د نجونو په پرتله لومړی او ښه خوراک هلکانو ته ورکول کېږي، او داسې نور.

ددې تمرينونو او ددوی د اغېزو په هکله خبرې او بحث کول دجندر په برخه کې دنابرابريو په نښه کولوکې لومړی ګام دی.

د موندنو په پرتله کولو سره، دا طريقه کېدلای شـي له مخلوطې ډلې ( نارينه او ښـځينه ) سـره او يا په جلا توګه له ښـځو او وروسـته له نارينه وو سـره وکارول شـي. او که نه ډلې باید د تسـهيل د مهارتونو کچې او زمينې ته په کتلو سره مخلوط کړای شي.

***<u>د تولنيز کولو د تمرين بهير</u>***

*1. د تولنيز کولو د تمرين لپاره چمتووالی*

د کلي پراختيايي شورا د رئيس او مرستيال له لارې، د شورا له 5 څخه تر 8 غړو نارينه او 5 ښځينه غړو څخه وغواړئ تر څو ستاسو لپاره د خپل وخت يوه ټاکلې برخه وقف کړي. دوی به د ياد تمرين ګډون کوونکي وي او له دوی سره به د اړيکې په ترڅ کې له دوی څخه وغوښتل شي تر څو په يوه مناسب وخت کښې د ځېړنې له ټيم سره ليدنه وکړي. دا تمرين له نارينه او ښځينه وو سره په جلا توګه په غوره توګه ترسره کېدلای شي. دا تمرين پراخ ځای او چمتووالي ته اړتيا نلري.

د دې مشـق/ تمرين لپاره، د تسـهيل په ډله کې باید لږ تر لږه دوه کسـان شـتون ولري. ياده ډله کلي ته تر رسـېدو د مخه باید پرېکړه وکړي چې اصــلي تســهيل کوونکی ( د ادارې ور پېژندنه، د هغې اړوندې چارې او هغه څه چې د دې تمرين لپاره پلان شـوي دي ور وپېژني او په تحليل او تجزيه کې ګډون کوونکي بوخت وساتي) به څوک وي، څوک به د فلش کارتونو په ليکلو، يادښت ليکلو کې مرسته وکړي. د تمرين د ترسره کولو په ورځ، تسهيل کوونکی باید ټاکلي ځای ته په وخت حاضر

(c) ketabton.com: The Digital Library

شي او له هغو ګډون کوونکو څخه چې تر نورو د مخه راغلي دي غوښتنه وکړي تر څو د تمرين د ترسره کولو په موخه د ځای په چمتو کولو او له تاکلي سيمي څخه د اضافي موادو په لېرې کولو او داسي نورو برخو کي مرسته وکړي.

*2. د تولنيز کولود تمرين د تسهيل بهير*

کله چې د ګډون کوونکو ډېرى برخه حاضره شي، اصلي تسهيل کوونکی

- له ټولو ګډون کوونکو سره ستړي مشي کوی او دوی ته ښه راغلاست وايي، خپل ځان او خپله ډله ورپېژني، او ګډون کوونکو ته فرصت ورکوي تر څو خپل ځانونه تسهيل کوونکو ته ور وپېژني. وروسته اصلي تسهيل کوونکی د دې غونډې موخي بيانوي: موخه داده تر څو پر هغه بېلابېلو لارو چارو بحث وکړو چې په ترڅ کې يې هلکان او نجوني را لويېږي او ټولنيز کېږي.
- د دې تمرين د ترسره کولو په پيل سره، تسهيل کوونکی له ګډون کوونکو څخه پوښتي چې دوی په څه ډول د ماشومانو د ژوند مرحلي سره بېلوي او دا په کارتونو باندې ليکل کېږي او په عمودي ; افقي ډول په ځمکه ايښودل کېږي، دوه کالمونه جوړېږي – هلکان او نجوني. لاندې جدول يې غوره بېلګه ده ( د عمر پر بنسټ ګروپونه چې د بحث لپاره به کېته ترې واخيستل شي کېدلای شي بدلون ومومي)

**د ټولنيز کولو د تمرين – بېلګه**

| | نجوني | هلکان |
|---|---|---|
| 0 – 3 مياشتې | | |
| 3 مياشتې – 2 کاله | | |
| 3 کاله – 6 کاله | | |
| 6 کاله – 13 کاله | | |
| 13 کاله – 18 کاله | | |
| 18 کاله – واده کېدل | | |

- تسهيل کوونکی وروسته د لومړي پړاو له لارې له ګډون کوونکو څخه غواړي تر څو توپيرونه تر بحث لاندې راولي; مهمه ده تر څو د جزئياتو پر سر بحث وشي او وپوښتي چې ولي دا توپيرونه شتون لري. يادښت اخيستونکی بايد په پوره پاملرني سره د هر ټکي پر سر بحثونه يادښت/ مستند کړي.
- همدې ته ورته بهير اوس د پلټني د نورو برخو لپاره تکرارېږي، تر هغه پورې چې ټولي برخي تر پوښښ لاندې راشي; تسهيل کوونکی بايد له ګروپ څخه وپوښتي که چېرې اوس هم داسي بدلونونه شتون ولري چې تر بحث لاندې نه وي راغلي; که شتون ولري، نو دا بدلونونه هم بايد تر بحث لاندې راوستل شي او شامل کړل شي.
- کله چې تمرينونه بشپړ شي، له يوه ګډون کوونکي څخه غوښتنه کېږي تر څو مونډني ولولي او نورو ګډون کوونکو ته د رضايت/نه رضايت ښودلو، بدلونونو راوستلو او د اړتيا په صورت کي تسهيل کوونکي ته په مهمو توپيرونو د بحث په موخه وخت ورکړي;
- وروسته له ګډون کوونکو څخه پوښتنه کېږي چې کوم بدلونونه ډلې ته د منلو وړ نه دي او دا به څه ډول بدلون ومومي، که چېرې ډله پرېکړه وکړي، ښايي خپلي مونډني او بحثونه د کلي پراختيايي شورا غړو يا فرعي کميټو (زده کړو، روغتيا) ته وړاندې کړي او په پام کي ونيسي چې څه ډول بدلونونه معرفي کړي، ښايي هلته ګډ عمل شتون ونلري، خو افراد ښايي بدلونونه راولي.
- په پای کي، له ګډون کوونکو څخه د دوی د مرستي له کبله په مننې سره دوی ته وريادوه کړئ چې د دې جدول يوه کاپي به له دوی سره شريکه کړل شي.

*د معلوماتو پروسس، تحليل او تجزيه*

دفتر ته په راستنېدو سره، د څېړني ډله بايد د چمتو شوي جدول کاپي وکاروي او محتوا يې يو لوی پوسټر ته ولېږدوي. په ياد پوسټر کي بايد د همدې پوسټر د چمتو کېدو نېټه او د تسهيل کوونکو کسانو نومونه ځای پر ځای کړل شي چې په دې توګه د هر ډول پوښتني د شتون په صورت کي، هر هغه څوک چې دا جدول کاروي يا تحليل کوي په آسانی سره کولای شي له تسهيل کوونکو سره اړيکه ونيسي.

کله چې پوسټر چمتو شي، د راټولو شوو معلوماتو لنډيز چمتو کړئ. ګټوري پوښتني ښايي په دې ډول وي: د هلکانو او نجونو تر مينځ د ټولنيز کولو تر ټولو مهم بدلونونه څه دي او ولي؟ آيا د ټولنيز کولو مشقونه/تمرينونه د همزولو تر فشار يا مخورو کسانو او يا دواړو تر فشار پورې اړه لري؟ دوی د هغو لارو چارو په هکله څه څرګندوني لري چې په کښې ماشومان را لويېږي او ځوانی ته رسېږي؟ دې ټولو پوښتنو ته ځوابونه به د جندر اړوند نا برابريو په پام کي نيولو او دا چې څوک ورته لمن وهي، ګټور تمام شي.

*هغه څه چې بايد په پام کښې ونيول شي*

- مهمه ده چې ګډون کوونکو ته د تمرين د ترسره کولو په اوږدو کي په داسي توګه لارښوونه وشي چې له دوی سره د معلوماتو په چمتو کولو کي مرسته وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

تسهیل کوونکي باید لوری ورکوونکي پوښتني مطرح نه کړي، لکه آیا هلکان ډېر خواړه یا ښـه خواړه خوري، د دې پر ځای تسهیل کوونکی باید آزادې پوښتنې وپوښتي: د ماشوم د ژوند په دې پړاو کې څه توپیر تر سترګو کېږي

- تسهیل کوونکی باید د هغو کسانو په هکله خبر وي چې برخه یې نه ده اخیستې (هغه کسان چې شتون لري، خو د برخه اخیستنې لپاره نه دي تاکل شوي) چې کېدای شي په بحث کې د نفوذ/ګډون هیله ولري.

_د تولنیز کولو د مشق/تمرین د ګټوری کاروني ځایونه_

- د ټولنیز کولو تمرین د جندر د اړیکو د سپړلو لپاره د پیل یو ګټور ټکی دی چې د جندر د موقعیت او ځواک په لټولو کې مرســته کوي او کېدلای شـــي چې په یوه کلي کې د جندراړوند موضـــوعګانو په اړه د خبرو په پیل کولو کې ګټور پرېوزي.
- د پروګرام د پلي کېدو پر مهال، دا تمرین کېدای شـــي چې په لوړه کچه د جندر د برابرۍ لپاره بحث ته د ودې ورکولو او بدلونونو راوستلو لپاره ګټور پرېوزي.
- دا تمرین د ډله ایزو متمرکزو بحثونو په واســـطه تعقیبېږي او په ګټوره توګه په پروژو کې د کلیو د پیاوړي کولو په موخه کارول کېدلای شـــي او د حقونو پر بنسـټ د پراختیا لارو چارو ته وده ورکوي. که چېرې پروګرامونه د جندرد نابرابرۍ اړوند سلوک او چلند د بدلون لپاره کار کوي، نو دا کړنه کېدلای شي د بدلونونو د راوستلو په لاره کې ګټوره پرېوزي.

## د ورځني وخت د کارولو تمرین

_دورځني وخت کارولو د تمرین موخه_

د ورځني وخت د کارولو تمرین په یوه کورنۍ کې د کار د وېش په هکله د پوهېدلو لپاره ګټور دی. دا تمرین همدارنګه روښــانه کوي چې کوم وخت خلک بوخت دي او کوم مهال دوی وخت لري تر څو په کړنو کې ګډون وکړي. دا تمرین باید په جلا جلا توګه له نارینه او ښځینه وو کورنۍ تر سره شي، چې موندنې به یې بیا وروسته د نارینه او ښځینه وو په یوه لویه ډله کې شریکې کړل شي. د حاصلاتو له جدول سره یوځای چې د کړنې په برخه کې د کار د تقسم ښودنه کوي، د ورځني وخت د کارولو تمرین په هغه لارو رڼا اچوي چې په هغې کې ښځې او نارینه د تولیدي او بیا تولیدي کړنو په برخه کې مرسته کوي. دا تمرین باید له یو بل سره ورته معیشتونو سره تر سره شي لکه څرنګه چې د کار کړنې ښایي په هر ټولګي کې توپیر ولري.

_دورځني وخت کارولو د تمرین بهیر_

1. د ورځني وخت د کارولو تمرین لپاره چمتووالی

د معیشـــت د تحلیل پر بنســـټ، هغه کورنۍ په ګوته کړئ چې ځمکه نلري او یا هم ډېره لږه ځمکه ولري چې د یوې مېنځنۍ کچې درلودونکي کورنۍ اړتیاوې نه شـــي پوره کولای. د کارتونو له نوملړ څخه په تصـــادفي توګه له 5 څخه تر 8 پورې د ښځو او نارینه وو کورنۍ وټاکئ. دا به د دې تمرین ګډون کوونکي وي، او اوس کېدلای شي له دوی سره اړیکه ونیول شي او له دوی څخه به وغوښتل شي تر څو په یوه مناسب وخت کښې د څېړنې له ټیم سره لیدنه وکړي.7 دا تمرین باید له نارینه او ښځینه ؤ سره په ګډه یا جلا توګه ترسره شي. دا تمرین پراخ ځای او چمتووالي ته اړتیا نلري.

د دې تمرین لپاره، د تســهیل په ډله کې باید لږ تر لږه 3 کســان شــتون ولري. یاده ډله کلي ته تر رســېدو د مخه باید پرېکړه وکړي چې اصلي تسهیل کوونکی ( د اداري ور پېژندنه، د هغې اړوندې چارې او هغه څه چې د دې تمرین لپاره پلان شوي دي ور وپېژني او په تحلیل او تجزیه کې ګډون کوونکي بوخت وســـاتي) به څوک وي، څوک به د فلش کارتونو په لیکلو، یادښــت لیکلو، د دروازه ســاتونکو او ماشــومانو په کابو کولو کې مرســته وکړي. د تمرین د ترســره کولو په ورځ، تســهیل کوونکي باید ټاکلي ځای ته په وخت حاضر شي او له هغو ګډون کوونکو څخه چې تر نورو د مخه راغلي دي غوښتنه وکړي تر څو د تمرین د تر سره کولو په موخه د ځای په چمتو کولو او له ټاکلي سیمې څخه د اضافي موادو په لېږد کولو او داسې نورو برخو کې مرسته وکړي.

2. دورځني وخت کارولو تمرین د تسهیل بهیر

کله چې د ګډون کوونکو ډېری (که ټول نه وي) برخه حاضره شي، اصلي تسهیل کوونکی

- له ټولو ګډون کوونکو سره ستړې مشې کوی او دوی ته ښه راغلاست وایي، خپل ځان او خپله ډله ورپېژني، او ګډون کوونکو ته فرصـت ورکوي تر څو خپل ځانونه تسـهیل کوونکو ته ور وپېژني. وروسـته اصـلي تسـهیل کوونکی د دې غونډې موخې بیانوي: موخه داده تر څو د هغو بېلابېلو کړنو په هکله بحث وکړو چې تاســـو په ورځنۍ توګه په کې بوخت یاست، په راتلونکي کې، ستاسو د کاري مهالویشونو او له تاسو څخه د غوښتنو په هکله پوهېدلو سره، به موږ ته په ښه توګه د دې وړتیا را په برخه کړي تر څو موږ له تاسو سره کار کول په ښه توګه تنظیم کړو.
- د دې تمرین د ترسره کولو په پیل سره، تسهیل کوونکی یو له ګډون کوونکو څخه پوښتي چې: د کال په اوسني وخت کې ته په څو بجو له خوبه پاڅېږې؟ لومړی کوم کار تر سره کوې؟ او له هغې وروسته څه تر سره کوي .... او داسې نور. له نور کسانو څخه وپوښتئ که چېرې دوی بېلې کړنې ترسره کوي. دې بحث ته تر یوه وخته پورې ادامه ورکړئ. دې ته په کتلو سره چې (نارینه یا ښځینه) ټول ګډون کوونکي د ټولنې له بېوزلو برخو څخه وي، دوی ښایي ورځني کاریګر

---

7 په تصادفي توګه د کورنیو د ټاکلو موخه د معیشت د تحلیل او تجزیې تائید ته لاره هواروي، چې په دې توګه به له هرې کورنۍ څخه وپوښتل شي تر څو بیان کړي چې څومره ځمکه لري

(c) ketabton.com: The Digital Library

وي، چې د دوی د ورځې تر بلې د کورنۍ په کړنو اغېز کوي. که چېرې په دې لومړنيو بحثونو کې جوته شـــوه چې داسې نارينه او ښځينه (د هغه ګډونوالو په اساس چې دا تمرين ورسره ترسره کېږي) شتون لري چې ورځني کاريګر نه دي، نو دا تمرين به په دوه برخو ووېشل شي او اړتيا ده چې په جلا توګه دا تمرين له هغو کسـانو سره تر سره شي چې ورځني کاريګر دي، او د يو څو بدلونونو په ورڅېرلو ســره له هغو کســـانو ســـره چې هغه ورځني کاريګر نه دي ترسره شي.

- فرضـــاً که چېرې ټول ګډون کوونکي ورځني کاريګر وي، نو تر دې مهال د بحث لنډيز به بيان شـــي، او له ګډونوالو څخه به وغوښـتل شـــي تر څو بحث په انځورونو کې راولي. د قدم په وهلو او لومړی کړنې په پيل سـره، له خلکو څخه پوښتنه وکړئ چې آيا دوی د دې کړنې انځور رسم کولای شي. له ګډون کوونکو څخه غوښتنه کېږي چې د داسې شي په هکله فکر وکړي چې عمده کړنه وړاندې کوي (د بېلګې په توګه د پاکولو لپاره جارو) او انځور يې رســم کړي. چې وروسته دا انځورونه په سم ترتيب سره کېښودل کېږي.
- کله چې ليکه بشپړه شوه، له ګډون کوونکو څخه به وغوښتل شي تر څو بحث وکړي چې دا کړنه چېرې پېښېږي او آيا کوم څوک له دوی سره په دې کار کې له يادښت ليکونکي سره د معلوماتو په اخيستلو کې مرسته وکړي.
- وروسـته، ګډون وال د هغو کړنو په رڼا کې چې دوی ابښـودلي دي، ورځ په څه ډول وېشـي؟ هغه کومې نښـې دي چې د کړنې د ترسره کېدو د وخت څرګندويي کوي؟ (د بېلګې په توګه، د سهار د لمانځه لپاره آذان، او داسې نور)
- وروسته له ګډون والو څخه غوښتنه کېږي تر څو فکر وکړي چې هره کړنه د نورو کړنو په پرتله څومره وخت نيسي. دا کړنه ګډون کوونکو ته د 10 تيږو په ورکولو ســره ترســره کېږي چې د هغو کړنو اســتازيتوب کوي چې ډېر وخت نيوونکي دي، وروســـته د هغې کړنې ټاکل چې د وخت د نيولو له مخې په دوهم ځای کې ځای لري تر هغه پورې چې ټولې کړنې تر پوښښ لاندې راشي.
- له ګډون والو څخه به بيا وپوښـتل شـي چې آيا ابښـودل شـوې کړنې په پام وړ توګه د کومې حاضـرې ښـځې لپاره توپير لري، دا توپيرونه يادښت کېږي.
- که چېرې وخت اجازه ورکړي، دا تمرين د کال د يو يا څو نورو وختونو لپاره تکرارېږي.
- کله چې تمرينونه بشپړ شي، له يوه ګډون کوونکي څخه به وغوښتل شي تر څو موندنې ولولي او نورو ګډون کوونکو ته د رضـايت/نه رضـايت ښودلو، بدلونونو راوستلو او د اړتيا په صورت کې تسهيل کوونکي ته په مهمو توپيرونو د بحث په موخه وخت ورکړي؛
- کله چې تمرين بشپړ شو، نارينه او ښځې (که شوني وي يو ځای او که شوني نه وي په جلا توګه) به د ښځينه او نارينه وو د کاري فشار ترمينځ ناانډولتيا او دا چې نارينه څه ډول کولای شي لوبه مرسته وړاندې کړي، په هکله بحث وکړي، د قرآنکريم د هغه آيتونو په هکله بايد بحث وشـــي، چې هغه ارزښـــتونه او کړنې په ګوته کوي چې بايد نارنيه او ښـــځينه دواړه يې رعايت کړي تر څو له نارينه وو سـره مرسـته وکړي چې خپل ارزښـتونه له خپلو کړنو سـره برابر کړي، په نورو سـتراتيژيو کې ښـايي د هغه اغېزو په هکله فکر کول شـامل وي چې که چېرې ښـځې له دې وروسـته ټولې کړنې ترسره نه کړي.
- له نارينه وو څخه به وغوښـتل شـي او وبه هڅول شـي تر څو را مخکې شـي او د ښـځينه وو د کار په فشـار کې يو هغه بدلون معرفي کړي چې دوی به يې په ورځنۍ/اونيزه توګه د پاملرنې په محراق کې راولي چې دا بايد ددې تمرينونو هغه لړ تر لړه پايله وي.
- په پای کې، له ګډون کوونکو څخه د دوی د مرستې له کبله په مننې سـره دوی ته وړياده کړئ چې د دې جدول يوه کاپي به له دوی سره شريکه کړل شي.

*د معلوماتو پروسس، تحليل او تجزيه*

دفتر ته په راستنېدو سره، د څېړنې ډله بايد د چمتو شوي جدول کاپي وکاروي او محتوا يې يو لوی پوسټر ته ولېږدوي. په ياد پوسـټر کې بايد د همدې پوسټر د چمتو کېدو نېټه او د تسـهيل کوونکو کسـانو نومونه ځای پر ځای کړل شـي چې په دې توګه د هر ډول پوښتنې د شتون په صورت کې، هر هغه څوک چې دا جدول تحليل کوي په آسانۍ سره کولای شي له تسهيل کوونکو سره اړيکه ونيسي.

کله چې پوسـټرون جوړ شـول، بهيرونو ته وګورئ او د معلوماتو لنډيز چمتو کړئ. ګټورې پوښـتنې ښـايي په دې ډول وي: د هرې ورځې په اوږدو کې ښـځې څو سـاعته کار کوي؟ نارينه په ورځ کې څو سـاعته کار کوي؟ دا کړنې څه ډول سـره پرتله کېدلای شي؟ تر ټولو ډېرې وخت نيوونکي کړنې کومې دي او آيا په هغوی کې کوم څوک مرسته کوي؟ که چېرې د ورځنې وخت د کارولو تمرين د څو غونډو لپاره تر سره شوی وي، بايد دا پوښتنه وشي چې، د کال په بېلابېلو فصلونو کې د ښځو څومره وخت په بيا توليدي او توليدي کړنو باندې تېرېږي؟ دې پوښـــتنو ته ځوابونه به ګټور وي تر څو د کورنۍ په کچه د کاري فشار په برخه کې د جندر نه برابروالی په پام کې ونيول شي.

*هغه څه چې بايد په پام کښې ونيول شي*

- دا يو تفريحي تمرين دی او په آسانه توګه تسهيلېدلای شي. تسهيل کوونکي بايد د تمرين په اوږدو کې ګډون کوونکو ته په سيستماتيکه توګه لارښوونه وکړي چې له ګډون کوونکو سره د دې معلوماتو په چمتو کولو کې مرسته وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دورځني وخت کارولو تمرين د ګتورې کاروني ځايونه

- د ورځني وخت کارولو تمرين دکورني په کچه د جندر له مخې د کارونو د وېش په هکله د معلوماتو تر لاسه کولو لپاره يوه ګټوره طريقه ده.
- د دې تمرين دا پايله او اسناد کېدلای شي د نورو پروګرامونو ( د بېلګې په توګه، د ښځو د اقتصادي پياوړتيا NPP) له لوري هم وکارول شي تر څو په پام کې ونيسي چې ښځې د څومره وخت لپاره وزګارې دي تر څو په اقتصادي کړنو کې برخه واخلي او تر کومه بريده دا کار په ښځو باندې نور بار/فشار راولي.
- د پروګرام د پلي کېدو پر مهال، دا تمرين کېدلای شي چې په پراخه توګه د جندر په مساواتو کې د بدلونونو راوستلو په برخه کې نفوذ او بحث ته د لارې په هوارولو کې ګټور وي.
- دا تمرين او وروپسې متمرکز ډله ايز بحثونه کېدلای شي د پروژې په اوږدو کې په ګټوره توګه تر سره شي چې موخه يې د ښځو پياوړي کول او د حقونو پر بنسټ د جندر مساواتو ته وده ورکول دي. که چېرې پروګرامونه د دې لپاره کار کوي چې د جندر د نامساواتو په هکله سلوکونو او چلند ته بدلون ورکړي، داتمرين کېدلای شي د کار د وېش په هکله څېړنه وکړي او د خاوندانو له لوري د ښځو د استثمار موضوع را برسېره کړي.
- او د هغوی د خاوندانو له خوا د ښځو د استثمار په شاوخوا موضوع راپورته کوي.

**اووم فصل**

**څارنه، ارزونه او تولنيز تفتيش (د نمرې ورکولو د کارتونو په ګډون) د کلي ګډه ايزه څارنه**

د کلي ګډه ايزه څارنه (CPM) د کلي په کچه يو بهير دی چې د کلي تر پراختيايي شورا CDC يا د کلي پراختيايي شورا کلستر/ګذر شورا پورې کوم تړاو نلري چې ګټه اخيستونکي د پروژې د څارنې، په اغېزمنه توګه د عامه مالي مرستو د لګولو په اړه د حساب ورکوني په موخه په خايې کچه د ټاکل شوو شوراګانو مسئول ګڼلو، د پروژو د پلي کولو، او په پای کې د کلي پراختيايي پلانونو د مديريت په برخه کې ښکېل دي.

**الف . اصول**

- خلک به خپل عامه خدمتونه په ګوته او د هغوی د کيفيت شاخصونه به اندازه کړي.
- خلک، په ځانګړې توګه هغه تر ټولو ګوښه شوي کسان، په خپله سيمه ايزه پراختيا کې ګډون کوي
- د ډله ايزې څارنې او زده کړې له لارې، د بدلون او عمل لپاره زميني برابرېږي.
- د څارنه د زده کړو يو بهير دی چې د فيډبک او تعديلونو ته او اجازه ورکوي

**ب . موخه**

- د پروژې کيفيت ته وده ورکوي او د فساد د وېرې کچه را ټيټوي.
- د لږ تر لږه خدمتونو د معيارونو له پيروی څخه ډاډ ورکوي.
- د ټولنيز او چاپېرياليز خونديتوبونو له تطابق څخه ډاډ ورکوي.
- د کلي پراختيايي شوراګانو، کليو او نور ښکېلو اړخونو تر مينځ روښتيا ته وده ورکوي.
- د اصلاحی ګامونو د اخيستلو په موخه د نظر ورکولو ميکانېزمونه را مينځ ته کوي.
- د پروژو په څارنه کې د کلي ظرفيت لوړوي.
- کلي ته د دې وړتيا وربښي تر څو خپل غږونه اوچت کړي، خپل آندونه، هيلې او ارمانونه بيان کړي.

**ج . د کلي د ګډه ايزې څارنې ډله**

1. **د کلي پراختيايي شورا CDC په کچه:**

- د کلي د ګډه ايزې څارنې ډله به يو دائمي بنسټ وي. همدا غړي به د کلي پراختيايي شورا د دوام پر مهال په همدې ډله کې کار وکړي تر څو چې په روزنه باندې پانګونه وشي.
- د کلي د ګډه ايزې څارنې ډله بايد د فرعي کميټو له غړو څخه وټاکل شي او له 6 څخه تر 10 پورې غړو درولودونکې وي.
- له هيلې سره سم، په دې ډله کې بايد په مساوي توګه نارينه او ښځينه غړي شتون ولري. دوی شايي په ګډه او يا جلا توګه څارنه تر سره کړي، خو بايد مونډني سره شريکې کړي.
- د يادې ډلې لږ تر لږه دوه غړي بايد لوستي کسان وي.
- په دې ډله کې بايد د کلي پراختيايي شورا هيڅ کوم غړي شتون ونلري په دې معنی چې دا ډله به د څارنې د يوه خپلواک ميکانېزم په توګه خدمت کوي.

2. **د کلي پراختيايي شورا کلسترCCDC / ګذر شورا GA په کچه:**

- د هرې پراختيايي شورا د ګډه ايزې څارنې ډلې دوه غړي به د کلي پراختيايي شورا کلسترCCDC / ګذر شورا GA په کچه د څارنې د ډلې را مينځ ته کولو په موخه سره يو ځای شي.

**د . د کلي ګډه ايزې څارنې CPM دوران**

دکلي ګډه ايزې څارنې ډله به په لاندې پړاوونو کې برخه واخلي:

1. د پروژې د څارنې شاخصونه په ګوته/نوي کول

(c) ketabton.com: The Digital Library

2. د کلي د ګډه ايزې څارنې پلان طرح/نوې کول او له کلي سره سره شريکول
3. د معلوماتو را غونډول، تحليل او راپور ورکول
4. د موندنو د شريکولو په موخه د عمومي غونډې تنظميول

**1. د پروژې د څارنې شاخصونه په ګوته/نوي کړئ**

د دې لپاره چې د کلي ګډه ايزې څارنې لپاره ساخصـونه په ګوته کړو، دا ډله بايد لاندې پوښـتنو ته ځواب ووايي: د پروژې د کيفيت د اندازه کولو لپاره موږ کومو معلوماتو ته اړتيا لرو او له چا څخه؟ د ډلې له لوري په ګوته شوي شاخصونه بايد ساده، معنی لروني او د اندازه کولو قابليت ولري. د بېلګې په توګه، د يوه روغتيايي مرکزه څارنه کېدلای شـي داسـې يو شـاخص په پام کې ونيسي " په دې مرکز کې په کار د بوختو ډاکټرانو شمېر".

د شاخصونو د را مينځ ته کولو پر مهال، لاندې مهمې موضوعګانې بايد تر پوښښ لاندې راشي:

الف. ټولنيزې موضوعګانې: موجوده شخړې، د نخبه ګانو نفوذ، د سرچينو نه عادلانه تخصيص او وېش، د پرېکړو کول.
ب . تخنيکي موضوعګانې : د رغونې کيفيت او کميت
ج . د دولت له لوري د ټاکل شوو لږ تر لږه خدمتونو له معيارونو څخه پيروي
د . د ټولنيزو او چاپېريالي خونديتوبونو له مطابقت څخه ډاډ تر لاسه کول
ه . مالي مديريت
و . تدارکات
ز . د کلي پراختيايي پلان: بهير او رسونه
ح . نور شرطونه يا د پروژې ځانګړي شاخصونه د کلي د ګډه ايزې څارنې د ډلې له لوري اضافه کېدلای شي.

2. د کلي د ګډه ايزې څارنې د پلان طرحه کول

د کلي د ګډه ايزې څارنې د ډلې د رامينځ ته کېدو په لومړي مياشـــت کې، به ياده ډله د لومړۍ ګډه ايزې څارنې CPM1 د ترسره کولو مفصل پلان وليکي.

د ګډه ايزې څارنې ډله بايد د هر شـاخص لپاره د معلوماتو را ټولو وسـيله/لاره او مهالوېش په ګوته کړي. بعضـې څارنې به ښايي ډېرې آسانه وي، لکه د لګښتونو تعقيبول. نورې څارنې، لکه د رغنيزو توکو کيفيت ښايي له سيمې څخه ليدلو او مرکو ته اړتيا ولري.

1 جدول: د کلي پراختيايي شورا د کلي د ګډه ايزې څارنې پلان د ټولنيزو، تخنيکي او مالي شاخصونو له بېلګو سره:

| لومړۍ ګډه ايزه څارنه CPM 1: د مهمو شاخصونو څارنه | | | |
|---|---|---|---|
| **شاخص** | **د معلوماتو د راټولولو وسايل** | **د معلوماتو د راټولولو وخت** | **مسئول کس/کسان** |
| پلورونکو ته د پيسو ورکړه | رسيدونه | | |
| د نغدو پيسو ايستنه | د بانک رسيدونه | | |
| نغدي لګښتونه | د توکو رســيدونه/کاريګرو ته د پيسو ورکړه | | |
| د ماهرو کاريګرو لپاره کاري ساعتونه | د حاضـرۍ کتاب، له سـاحې څخه ليدنه | | |
| د غيرماهرو کاريګرو لپاره کاري ساعتونه | د حاضـرۍ کتاب، له سـاحې څخه ليدنه | | |
| د رغنيزو توکو کيفيت | متمرکز ډلـه ايز بحثونـه، لـه مارکيټ څخه ليدنه | | |
| چاپېريالي او ټولنيز خونديتوبونه | د چاپېريالي او ټولنيز خونديتوب د لارښوودونو کارول | | |
| د عملياتو او حفظ او مراقبت د پلان عملي کول | د اســنادو کتنه، د کلي پراختيايي شورا له غړو سره مرکې | | |
| تدارکات | قيمتونو/نرخونو سپارل شوي دي | | |
| د کاريګرو د ګمارنې بهير ( د بېلګې پـه توګـه، بېوزلـه او ډېر بېوزلـه وګړي ګمـارل شوي دي يا نه) | د مهمو معلومات ورکوونکو مرکې | | |
| **د عمومي غونډې نېټه** | | | |
| | | | |

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله چې د کلي د ګډه ایزې ځارنې پلان وروستی/بشپړ شي، باید د کلي په کچه یوه لویه غونډه را وبلل شي. په دې غونډه کې، د کلي د ګډه ایزې ځارنې ډله باید:

- د کلی د ګډه ایزې ځارنې اصول او موخه شریک کړي.
- باید د کلي د ګډه ایزې ځارنې پلان شریک کړي او د هغې د اجزاوو په اړه د نظر غوښتنه وکړي. د کلي غړي په دې پړاو کې کولای شي شاخصونه اضافه یا اصلاح کړي.
- د هغې غونډې په هکله معلومات ورکړئ چې د کلي د ګډه ایزې ځارنې په پای کې به تر سره شي. کلیوال باید پوه وي چې د کلي ګډه ایزې ځارنې راپور به په دې غونډه کې شریکېږي او دوی به فرصت تر لاسه کړي تر څو د موندنو په هکله بحث وکړي او همدارنګه د کلي پراختیایي شورا له غړو او/یا اړونده دولتي چارواکو څخه ځوابونه تر لاسه کړي.

**3. د معلوماتو را ټولو، تحلیل او راپور ورکونه**

د معلوماتو د را ټولولو د وسیلو پر بنسټ، د کلي د ګډه ایزې ځارنې ډله باید معلومات په خپل وخت او خوندي توګه را ټول کړي. که چېرې د هرې پروژې د اسنادو لاس ته راوړلو یا په هغې باندې د پوهېدلو په لاره کې ستونزې پیدا شي، نو په دې هکله د کلي د ګډه ایزې ځارنې ډله باید د کلي پراختیایي شورا له غړو سره مشوره وکړي. د کلي د ګډه ایزې ځارنې ډله ښایي د معلوماتو د راټولو لپاره له متن یا نورې ډېرې بصري ځواکمنې طریقې لکه انځورونه او وېډیوګانې وکاروي. دا موندنې باید د یوه راپور په بڼه تنظیم شي چې کېدای شي له لویې غونډې سره شریکې او بحث پرې وکړل شي، او کېدلای شي د بدلون راوستلو یا ښه کولو لپاره اقدام په پام کې ونیول شي. دا راپور باید په ښکاره توګه د معلوماتو د تحلیل مهمې پایلې په ډاګه کړي او د پرمختګ لپاره سپارښتنې وکړي. په دې راپورکې باید د لاس ته راوړنو او هر هغه ښه کار یادونه وشي چې د کلي پراختیایي شورا له لوري تر سره شوی دی.

**4. عمومي غونډه**

د کلي د هرې ګډه ایزې ځارنې CPM په پای کې عمومي غونډه د دې بهیر یوه مهمه برخه ده چې کلیوالو ته اجازه ورکوي تر څو د موندنو په هکله بحث وکړي او خپلو پوښتنو ته د کلي پراختیایي شورا له غړو یا نورو اړونده دولتي چاواکو لخوا ځوابونه تر لاسه کړي. د عمومي غونډې موخه، نېټه او ځای باید په پراخه کچه په پیل او د ټولنیز تفتیش پر مهال خپاره شي تر څو اکثریت خلک ګډون وکړي. د عمومي غونډې ځای باید بې طرفه ځای وي او د ښځو آسانه او خوندی لاس رسي ته اجازه ورکړي.

د عمومي غونډې نېټې ته په نېږدې کېدلو سره، د لېواله ډلو او مدني ټولنو غړي، مذهبي مشران او نور مهم زینفعان باید را وبلل شي. که چېرې مناسبه او د منلو وړ وي، رسنۍ هم باید را وبلل شي تر څو دا غونډه تر پوښښ لاندې راولي.

ته نږدې د عامه غونډه د نېټې، د ګټو د ډلو او د مدني ټولنې، دیني مشرانو او نورو اړوندو خواوو غړي باید بلنه ورکړل شي. د کلي پراختیایي شورا ټول غړي باید په دې عمومي غونډه کې ګډون وکړي. که شونې وي، د ولسوالۍ او ښاروالۍ له استازو څخه باید غوښتنه وشي تر څو په دې غونډه کې ګډون وکړي او د کلیوالو پوښتنو ته ځوابونه وړاندې کړي.

د کلي د ګډه ایزې ځارنې ډله باید د کلي د ګډه ایزې ځارنې موخه، د معلوماتو را ټولو لپاره د دوی پلان او تر سره کړې کړنې، مهمې موندنې او د پرمختګ لپاره سپارښتنې وړاندې کړي. د ذکر شوو موارد و د وړاندې کولو پر مهال لاس ته راوړنې هم باید په ډاګه کړل شي. د کلي د غړو باید هرکلی وشي او وهڅول شي چې د موندنو په هکله تبصرې او د بدلون لپاره سپارښتنې وړاندې کړي. په موازي توګه، د کلي د پراختیایي شورا له رئیس او د اړونده پراختیایي شورا له غړو یا دولتي چارواکو څخه باید وغوښتل شي تر څو رابرسېره شوو موضوعګانو ته ځواب ووایي او د حل لپاره یې ژمنه وکړي.

له عمومي غونډې څخه د بحث او عمل ټکي باید د کلي د ګډه ایزې ځارنې د ډلې له لوري ثبت او له خپل راپور سره ضمیمه کړل شي. د کلي د ګډه ایزې ځارنې وروستی راپور باید د عامو خلکو په واک کې ورکړل شي.

د کلي د ګډه ایزې ځارنې ډله CPM باید په عمومي غونډه کې راپورته شوې موضوعګانې تعقیب کړي او باوري کړي چې وړاندیز شوي بدلونونه د کلي پراختیایي شورا CDC یا د کلي پراختیایي شورا کلسټر/ګذر شورا CCDC / GA لخوا د غونډې د ترسره کېدو په لومړۍ میاشت کې، بېړنیو موضوعګانو ته په لومړیتوب ورکولو سره پلي شوي دي. شکایتونه باید د حل په موخه د شکایتونو د حل اړوندو کمیټو ته راجع کړل شي. که چېرې د کلي پراختیایي شورا له لوري تر یوې میاشتې ځواب تر لاسه نه شي، نو د کلي د ډله ایزې ځارنې ډله باید دموضوع په هکله د کلي پراختیایي شورا کلسټر/ګذر شورا CCDC / GA یا د ځواب ویلو لپاره نورو لوړو کچو ته راپور ورکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کلي د بشپړې ګډه ايزې څارنې دوران بايد په هر پړاو کې تعقيب شي. د کلي د ګډه ايزې څارنې پلان بايد د اړتيا په صورت کې نوی کړل شي. سربېره پر دې، د کلي د ګډه ايزې څارنې د پخواني پړاو اقدامونو او راوستل شوو بدلونونو په هکله بايد د عمومي غونډې په ترڅ کې راپور ورکړل شي.


**5. د کلي د ګډه ايزې څارنې تکرار/فريکوينسي**

د کلي ګډه ايزه څارنه د پروګرام د دوران په څلورو ټکو/پړاوونو کې ترسره شي:

- د کلي لومړی ګډه ايزه څارنه CPM 1: د کلي پراختيايي شـــورا په کچه د ډېری اوســـېدونکو له لوري د کلي پرختيايي پلان منظوري او د کلي پراختيايي شـورا کلسټر/ګذر شـورا په کچه د ټولو پراختيايي شـوراګانو د غړو له لوري د کلي پراختيايي پلان منظوري.
- د کلي دوهمه ګډه ايزه څارنه CPM 2: د کار د 10 څخه تر 20 سلنه برخې په بشپړېدلو او د بوديجې په 20 سلنه لګښت سره.
- د کلي دريمه ګډه ايزه څارنه CPM3: د کار د 60 سلنه برخې په بشپړېدلو او د بوديجې په 70 سلنه لګښت سره.
- د کلي څلورمه ګډه ايزه څارنه CPM 4: د پروژې په بشپړېدلو سره.

د دې پروګرام د ځانګړو پړاوونو تر بشـپړېدو وروسـته، د کلي پراختيايي شـوراګانې CDCs يا د کلي پراختيايي شـوراګانو کلسټر/ګذر شوراګانې CCDCs / GAs به د کلي ګډه ايزې څارنې ته په کال کې د دوه ځله پر بنسټ دوام ورکړي.

**6. د کلي د ګډه ايزې څارنې بهير**



(c) ketabton.com: The Digital Library

**د نمرې ورکولو کارتونه**

د ' د نمره ورکولو کارتونه' یوه ګډه ایزه طریقه ده چې په کارولو سره یې د خدمتونو کاروونکي کولای شي د خدمتونو د شتون او کیفیت، د خدمتونو د وړاندې کوونکو کارکوونکو چلند او سلوک، او آسانتیاوو د حالت په ګډون، د خدمتونو د وړاندې کولو لړۍ بې‌لابېلو برخو ته رایه ورکړي او په اړه یې تبصرې وړاندې کړي. د نمرې ورکولو کارتونه د ولسوالۍ/ولایت په کچه د آسانتیاوو پرتله کولو، د خدمتونو وړاندې کوونکو ته نېغ فیډبک، او د خلکو د ورتیاوو لوړولو او غړې پیاوړتیا ته اجازه ورکوي.[8]

په ولسي تړون پروګرام کې، به د خدمتونو کاروونکي د لږ تر لږه خدمتونو د معیارونو په برخه کې چې دولت د روغتیا او زده کړو خدمتونو د وړاندې کولو ژمنه کړې ده د یوه ساده جدول په کارولو سره خدمتونو ته رایه ورکړي.

د نمرې ورکولو کارت د سیستم په پلي کولو کې مهم ملاحظات به دا وي، چې ډاډ تر لاسه شي چې د کلي پراختیایي شوراګانې CDCs یا د کلي پراختیایي شوراګانو کلستر/ګذرونه CCDCs / Gs کولای شي دا بهیر تسهیل کړي، دا چې عام خلک د خدمتونو له معیارونو څخه خبر وي ( په کلیو کې د عامه خبرتیاوو دړه او آسانتیاوو ته به رایه ورکړل شي)، او د خدمتونو د ارزونې په بهیر کې د هغوی د ګډون په ارزښت پوه شي.

د آسانتیاوو د ارزونې هدف کارکوونکي به د ځاني ارزونې د پلي کولو لپاره د نمرې ورکولو د ورته کارت له جدول څخه کاروځلی تر څو د لږ تر لږه خدمتونو د معیارونو پر بنسټ د خدمتونو د وړاندې کولو په برخه کې خپلو کړنو ته رایه ورکړي. د ځاني ارزونې د پلي کولو مسئولیت به د هغه کس په غاړه وي چې د آسانتیاوو تولیز مسئولیت ور په غاړه وي. (مدیران او داسې نور...)

د آسانتیاوو د ځاني ارزونې د نمرې ورکولو بشپړ شوي او تحلیل شوي کارتونه او د خدمتونو د کاروونکو ارزونه به د د کلي له پراختیایي شوراګانو CDCs او د کلي پراختیایي شوراګانو له کلستر/ګذرونه CCDCs / Gs او له اړونده فرعي کمیټو سره په دې اړه چې، څه کار کوي او هغه څه چې کار نه کوي او د څه شي بدلون ته اړتیا ده تر څو د لږ تر لږه خدمتونو معیارونه ترلاسه شي، بحث او نظر ورکولو ته زمینه مساعدوي.

<u>**د نمرې ورکولو کارتونو د عملي لپاره چمتو والی**</u>

د نمرې ورکولو د کارتونو دنده به د اړونده کمیټو، د کلي د ګډه ایزې څارنې ډلې، او ځوانو رضاکارانو په ملاتړ، د کلي پراختیایي شوراګانو CDCs او د کلي پراختیایي شوراګانو د کلستر/ګذرونو CCDCs / Gs په غاړه وي. په دې صورت کې، د نمرې ورکولو کارتونه به د لږ تر لږه خدمتونو د معیارونو پر بنسټ د بې‌لابېلو روغتیا یې مرکزونو او ښوونځیو له لوري دخدمتونو وړاندې کول و ارزوي، دکلي په کچه د زده کړو او روغتیا کمیټې، د کلیو د کلستر په کچه د روغتیایي آسانتیا او ښوونځي د مدیریت فرعي کمیټې به کلیدي وي. د نمرې ورکولو د کارتونو تر پلي کولو د مخه، به فرعي کمیټې د هغو خلکو شمېر معلوم کړي چې په اونیزه توګه له خدمتونو څخه کار اخلي. په دې توګه، د کلي پراختیایي شوراګانې CDCs او د کلي پراختیایي شوراګانو کلستر/ګذرونه CCDCs / Gs کولای شي د کسانو د شمېر له پلوه نمونه وي نفوس معلوم کړي. دا نمونه باید لږ تر لږه د خدمتونو د کاروونکو ٪10 وي.

هغه آسانتیاوې چې د کلي د یوې پراختیایي شورا تر پوښښ لاندې یوه کلي ته خدمتونه وړاندې کوي (روغتیایي مرکزونه او ښوونځي) به نسبتاً مخکښ وي. دلته، د کلي پراختیایي شورا ښایي د اړونده کمیټو له لارې د یوې لویې غونډې خبر ورکړي چې د خدمتونو کاروونکي (ناروغان یا میندې او پلرونه او زده کوونکي) یوه مرکزي ځای ته راشي او د کلي پراختیایي شورا د غړو په مرسته (البته د اړتیا په صورت کې) د نمرې ورکولو کارتونه بشپړ کړي.

د هغو آسانتیاوو لپاره چې تر یوه ډېر کلي تر پوښښ لاندې راولي، د کلي پراختیایي شوراګانو کلستر CCDCs ( که چېرې تاسیسات هغه کلي تر پوښښ لاندې راولي چې د کلي پراختیایي شورا د بې‌لابېلو کلسترونو تر پوښښ لاندې راځي، دوی ښایي مجبور وي چې د کلي پراختیایي شوراګانو له ګاونډیو کسټلرونو سره کار او همغږې ترسره کړي) به د نمرې ورکولو د کارتونو د عملي کولو دنده پر غاړه ولري. دلته ښایي د نمرې ورکولو کارتونو عملي کول آسانتیاوو ته نېږدې او یا هم له هغې بهر تر سره شي (دننه یا په مستقیمه توګه له انګړ سره پیوست). د کلي په کچه د تاسیساتو په برخه کې، د کلي پراختیایي شورا کلستر فرعي کیمټي ( روغتیایي آسانتیاوې او د ښوونځي د مدیریت کمیټې) به مجبوره وي چې دهغو کسانو شمېر چې په دې آسانتیاوو کې له شته خدمتونو څخه ګټه اخلي او د آسانتیاوو هغه جغرافیایي پوښښ معلوم کړي چې ٪10 نمونې ته ورسېږي.

د روغتیا، زده کړو او روغتیایي آسانتیاوې او د ښوونځي د مدیریت فرعي کمیټې (د کلی د پراختیایي شورا او د پراختیایي شورا کلستر) به د نمرې ورکولو کارتونه نه عملي کوي، ځکه چې د خدمتونو وړاندې کوونکي (د کلي روغتیایي کارکوونکي، نرسان او ښوونکي ) به د فرعي کمیټو غړي وي او د خدمتونو د کاروونکو د نمرې ورکولو د کارتونو په عملي کولو کې د هغوی شتون یا ښکېلتیا ښایي تعصب رامینځ ته کړي

8 CF نړیوال بانک، 2004. د کلي د نمرې ورکولو د کارتونو بهیر: د پلي کولو لپاره عمومي طریقه. نړیوال بانک، د ټولنیز پرمختګ څانګه، واشنګټن ډي سي، ایالات متحده امریکا.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د نمرې ورکولو د کارتونو بهیر**

کله چې د نمونې اندازه تعین شـــوه، د کلي پراختیایي شـــوراګاني CDCs او د کلي پراختیایي شـــوراګانو کلســـټر/ګډرونه CCDCs / Gs به وخت معین کړي ( د بېلګې په توګه دوه اونۍ) چې په ترڅ کې به یې د نمرې ورکولو کارتونه وکارول شي او دا بهیر به بشپړ شي. په پیل کې، به د هرې آسانتیا ( روغتیايي مرکزونه، روغتیایي فرعي مرکزونه، اساسي روغتیايي مرکزونه او جامع روغتیايي مرکزونه او لومړني ښـــوونځي (هلکان او نجونې)، مینځني ښـــوونځي (هلکان او نجونې)، او لېسـو (هلکان او نجونې)، لپاره د نومرې ورکولو کارتونه په کال کې د دوه ځله پر بنسـټ عملي شـي. په دې دوه اونۍ وخت کې، به تاسیسات خپله ځاني ارزونه هم بشپړه کړي.

د کلي پراختیایي شورا به د آسانتیا د کارې اوج په ساعتونو کې کلیدي کسانو ( دا کېدلای شي د ځوانانو د کمیټې غړي وي یا هغه رضـاکاران وي چې د کلي کلي سروې به پلې کړي او د معلوماتو را ټولولو د اساساتو په هکله به زورنه ترلاسـه کړي) ته دنده ورکړي چې له دې اســـانتیا څخه د تللو په وخت کې له خلکو څخه وغواړي تر څو یو څو دقیقې خپل وخت د نمرې ورکولو کارتونو بشـپړلو ته ورکړي. دا کړنه به د خدمتونو د کاروونکو د ښـې تجربې له یادولو څخه ډاډ ورکړي. دا مهمه ده چې دلته د سپارښتنو لپاره یوه برخه موجوده ده چې هغه موضـوعګاني چې د نمرې ورکولو تر پوښښ لاندې نه دي راغلي، په کښې یادښت کېږي. د بېلګې په توګه، د هغه ناروغانو په پرتله چې د خدمتونو د وړندې کوونکي اسانتیا په نسبتاً نېږدې سیمو کې پراته دي، هغه ناروغان چې له لېرې پرتو غرنیو سیمو څخه راځي ښایي بېلابېلې اندېښنې ولري (لکه د ډاکټر د لیدلو لپاره د انتظار وخت، د درملو شتون).

این کار از یادآوری تجربه توسط استفاده کننده گان خدمات اطمینان خواهد داد

په هرې ورځې په پای کې، هغه کسان چې په موجوده آسانتیاوو کې د نمرې ورکولو کارتونه عملي کوي باید د نمرې ورکولو ټول بشپړ شوي کارتونه د کلي پراختیایي شورا رئیس/مرستیال/ د کلي پراختیایي شورا کلسټر/ګذر رئیس/مرستیال ته وسپاري چې هغوی به اسناد په یوه خوندي ځای کې وساتي.

**د لږ تر لږه خدمت معیارونو ته د نومرې ورکولو کارتونه**
**د کلیوالو سیمو لپاره**

*لارښوونې:*

***هغه څوک چې دا فورمه ډکوي:***

- د همکارې مؤسسې د ټولنیزو کارکوونکو په ګډون د کلي پراختیایي شورا CDC او د کلي پراختیایي شورا کلسټر CCDC مشران.
- د روغتیا او زده کړو د لږ تر لږه خدمتونو معیار لپاره، هیله ده د زده کړو او روغتیا له شوراګانو سره مشوره وکړئ.

***څو ځلې:*** د پروژې په پیل کې د اساسي کرښې په توګه او وروسته په هرو شپږ میاشتو کې یو ځل که چېرې د لږ تر لږه خدمتونو معیارونه په ٪100 توګه نه وي ترلاسه شوي.

که چېرې د لږ تر لږه خدمتونو معیارونه په ٪100 توګه په لاس راغلي وي، نو د دې فورمې بیا ځلي ډکولو ته اړتیا نشته. خو که چېرې معیارونو ته په رسېدو کې ستونزې یا ناکامۍ شتون ولري ( لکه: د اوبو د زیرمې خرابوالی) نو د کلي پراختیایي شورا CDC/همکاره مؤسسهFP کولای شي فورمه وسپاري تر څو د ستونزې په هکله راپور ورکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

| د کليوالي سيمو لپاره د لږ تر لږه خدمتونو معيارونه | هو يا نه<br>په نښه کړئ | تبصرې |
|---|---|---|
| **د څښلو پاکو اوبو ته هر اړخيز لاس رسی:** د هرو 25 کورنيو لپاره د اوبو يوه سرچينه چې د 24 ساعتونو په موده کې د هر کس لپاره د 25 لېټره اوبه د چمتو کولو وړتيا ولري. | هو/نه | |
| **د لاندې بنسټونو يوته لاس رسی** | | |
| **اساسي برېښنا:** د لمر، اوبو، بيو ګاز او باد له لارې د هرې کورنۍ لپاره د 100W برېښنا چمتو کول (يوازې په هغه سيمو کې چې هلته د برېښنا شبکې نه رسېږي) | هو/نه | |
| **اساسي سړکونو ته لاس رسی:** تر ټولو نږدې د لاسرسي وړ کليوالي اساسي سړک څخه د 2 کيلومترو په واټن (يوازې د لاس رسي وړ سيمو کې)، او | هو/نه | |
| **د اوبو لګولو د ټيټې کچې درلودونکی بنسټيز جوړښت:** چې لاندې ډولونه په کښې شامل دي: سربندونو (د مينځنيو/ دريمه درجه ويالو لپاره) د اوبو وېشونکي، د اوبو د کنټرول دروازې، سيفون، د 10،000m3 ظرفيت درلودونکي د اوبو يوه ذخيره، د اوبو لګولو د ټيټې کچې درلودونکي کانال جوړول يا بيا رغول، محافظوي ديوال، ګبيوني ديوال، ناوې، سوپر پسيج | هو/نه | |
| **د زده کړو اړوند د لږ تر لږه خدمتونو معيارونه – دا برخه د زده کړو له شورا سره په مشوره بشپړه کړئ** | | |
| آيا د زده کړې د لږ تر لږه خدمتونو معيارونه په روښانه توګه په ښوونځي کې نېلولو شوي دي؟ | هو/نه | |
| ښوونکو لږ تر لږه د دولسم ټولګي تر کچې زده کړې کړې دي | هو/نه | |
| زده کوونکي:<br>▪ له 1 څخه تر 3 ټولګي پورې په اونيزه توګه 24 ساعته زده کړو ته لاس رسی لري.<br>▪ له 4 څخه تر 6 ټولګي پورې په اونيزه توګه 30 ساعته زده کړو ته لاس رسی لري.<br>▪ له 7 څخه تر 12 ټولګي پورې په اونيزه توګه 36 ساعته زده کړو ته لاس رسی لري. | هو/نه | |

حاجي ورکړ شیوک ملورن ترږي

(c) ketabton.com: The Digital Library

| د روغتيا اړوند د لړ تر لړه خدمتونو معيارونه – دا برخه د روغتيا له شورا سره په مشوره بشپړه کړئ | | |
|---|---|---|
| آيا د روغتيا د لړ تر لړه خدمتونو معيارونه په روښانه توګه په روغتيايي مرکز کې نښلول شوي دي؟ | هو/نه | |
| **روغتيايي مرکز:**<br>▪ له 4 بجو څخه تر 8 بجو پورې پرانيستی وي.<br>▪ په سمه توګه ګمارنه کيږي.<br>▪ د ملاريا، نس ناستي او حادو تنفسي ناروغيو په هکله پوهاوي وړاندې کوي او د يادو ناروغيو د شتون په صورت کې روغتيايي آسنتياوو او روغتيايي زده کړو ته مراجعه کوي. | هو/نه | |
| **فرعي روغتيايي مرکز:**<br>▪ له 4 بجو څخه تر 8 بجو پورې پرانيستی وي.<br>▪ په سمه توګه ګمارنه کيږي.<br>▪ د سينه بغل، نس ناستي او ملاريا درملنه، د زيږون پر وخت پاملرنه، دکورنۍ تنظيم، د نري رنځ دپيښو موندنې او راجع کول او د واکسيناسيون خدمتونه. | هو/نه | |
| **اساسي روغتيايي مرکز:**<br>▪ له 4 بجو څخه تر 8 بجو پورې پرانيستی وي.<br>▪ په سمه توګه ګمارنه کيږي.<br>▪ غير بستري ناروغانو ته پاملرنه، واکسين کول او مور او ماشوم پاملرنه، د تغذيي اړوند چارې. | هو/نه | |
| **جامع روغتيايي مرکزونه:**<br>▪ له 4 بجو څخه تر 8 بجو پورې پرانيستی وي.<br>▪ په سمه توګه ګمارنه کيږي.<br>▪ له زيږون څخه د مخه، د زيږون پر مهال، له زيږون وروسته او نوو زيږيدلو ماشومانو ته پاملرنه، د خونديتوب او تغذيي چارې. | | |

د کليوالي زيربناوو، روغتيا او زده کړو اړوند خدمتونو د ودې لپاره اضافي تبصرې:

دوتنې څېړون ملي پروګرام

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د ولسي ترون پروګرام د لږ تر لږه خدمتونو د معیاردونو د نمرې ورکول کارتونه د ښاري سيمو لپاره**

لارښوونې:

***هغه څوک چې دا فورمه ډکوي:***

- د همکارې مؤسسي د ټولنيزو کارکوونکو په ګډون د کلي پراختيايي شورا CDC او د کلي پراختيايي شورا کلستر CCDC مشران.
- د روغتيا او زده کړو د لږ تر لږه خدمتونو معيار لپاره، هيله ده د زده کړو او روغتيا له شوراګانو سره مشوره وکړئ.

***څو ځلې:*** د پروژې په پيل کې د اساسي کرښې په توګه او وروسته په هرو شپږ مياشتو کې يو ځل که چيرې د لږ تر لږه خدمتونو معيارونه په 100٪ توګه نه وي ترلاسه شوي.

که چيرې د لږ تر لږه خدمتونو معيارونه په 100٪ توګه په لاس راغلي وي، نو د دې فورمې بيا ځلې ډکولو ته اړتيا نشته. خو که چيرې معيارونو ته په رسيدو کې ستونزې يا ناکامي شتون ولري ( لکه: د اوبو د زيرمې خرابوالی) نو د کلي پراختيايي شورا CDC/همکاره مؤسسه FP کولای شي فورمه وسپاري تر څو د ستونزې به هکله راپور ورکړي.

| د ښاري سيمو لپاره د لږ تر لږه خدمتونو معيارونه | وګورئ چې کوم خدمتونو د تطبيق ور دي | تبصري |
|---|---|---|
| **د کلي پراختيايي شورا په کچه:**<br>د يو له لاندې خدمتونو د تمويل په موخه د کلي پراختياشي شورا له لوري تر لاسه شوي مالي وجه: | کوڅو او ويالو ته وده ورکول ________<br>د څښاک د اوبو برابرول ________<br>د جامدو فاضله موادو مديريت ______<br>کورونو ته نمبر ورکول ________<br>روښنايي/ بريښنا ________ | |
| **د ګذر په کچه:**<br>د يو له لاندې خدمتونو د تمويل په موخه د ګذرله لوري تر لاسه شوي مالي وجه: | دوهمې درجې درلودونکو سړکونو ته وده ورکول او بيا منظم کول ________<br>د څښلو د اوبو د شبکې برابرول ____<br>د ښځو او ماشومانو لپاره پارک/تفريحي سيمه/ د لوبو ميدان ________<br>د جامدو فاضله موادو مديريت ______<br>روښنايي/ بريښنا ________<br>د ښځو لپاره د معيشت پروژې ________ | |
| **د زده کړو اړوند د لږ تر لږه خدمتونو معيارونه – دا برخه د زده کړو له شورا سره په مشوره بشپړه کړئ** | | |
| آيا د زده کړې د لږ تر لږه خدمتونو معيارونه په روښانه توګه په ښوونځي کې نبنلولو شوي دي؟ | هو/نه | |
| ښوونکو لږ تر لږه د دولسم ټولګي تر کچې زده کړې کړي دي | هو/نه | |
| زده کوونکي:<br>▪ له 1 څخه تر 3 ټولګي پورې په اونيزه توګه 24 ساعته زده کړو ته لاس رسی لري.<br>▪ له 4 څخه تر 6 ټولګي پورې په اونيزه توګه 30 ساعته زده کړو ته لاس رسی لري.<br>▪ له 7 څخه تر 12 ټولګي پورې په اونيزه توګه 36 ساعته زده کړو ته لاس رسی لري. | هو/نه | |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| د روغتیا اړوند د لږ تر لږه خدمتونو معیارونه – دا برخه د روغتیا له شورا سره په مشوره بشپړه کړئ | | |
|---|---|---|
| آیا د روغتیا د لږ تر لږه خدمتونو معیارونه په روښانه توګه په روغتیایي مرکز کې نښلولو شوي دي؟ | هو/نه | |
| **روغتیایي مرکز:**<br>▪ له 4 بجو څخه تر 8 بجو پورې پرانیستی وي.<br>▪ په سمه توګه کمارنه کېږي.<br>▪ د ملاریا، نس ناستي او حادو تنفسي ناروغیو په هکله پوهاوي وړاندي کوي او د یادو ناروغیو د شتون په صورت کې روغتیایي آسنتیاوو او روغتیایي زده کړو ته مراجعه کوي. | هو/نه | |
| **فرعي روغتیایي مرکز:**<br>▪ له 4 بجو څخه تر 8 بجو پورې پرانیستی وي.<br>▪ په سمه توګه کمارنه کېږي.<br>▪ د سینه بغل، نس ناستي او ملاریا درملنه، د زیږون پر وخت پاملرنه، دکورنۍ تنظیم، د نري رنځ دپېښو موندني او راجع کول او د واکسیناسیون خدمتونو. | هو/نه | |
| **اساسي روغتیایي مرکز:**<br>▪ له 4 بجو څخه تر 8 بجو پورې پرانیستی وي.<br>▪ په سمه توګه کمارنه کېږي.<br>▪ غیر بستري ناروغانو ته پاملرنه، واکسین کول او مور او ماشوم پاملرنه، د تغذیي اړوند چارې. | هو/نه | |
| **جامع روغتیایي مرکزونه:**<br>▪ له 4 بجو څخه تر 8 بجو پورې پرانیستی وي.<br>▪ په سمه توګه کمارنه کېږي.<br>له زیږون څخه د مخه، د زیږون پر مهال، له زیږون وروسته او نوو زیږېدلو ماشومانو ته پاملرنه، د خوندیتوب او تغذیي چارې. | هو/نه | |
| **خصوصي روغتیایي مرکزونه:**<br>▪ په سمه توګه کمارنه کېږي.<br>▪ د طبي زباله د شنډولو په ګډون روغتیا ته د پاملرنې/حفظ الصحي له اړتیاوو سره سم وي.<br>▪ په کافي اندازه فضا او خوندیتوب وړاندې کړي په ځانګړې توګه د ښځینه ناروغانو لپاره<br>▪ د ناروغانو د ثبت کتاب ولري | هو/نه | |
| **درملتونونه باید:**<br>▪ د فعالیت جواز ولري<br>▪ جواز درلودونکي کمپوډر ولري<br>▪ په روښانه توګه د دوا قیمت بیان او ټاپه کړي. | هو/نه | |

روغتیایي پروژه ملي پروګرام

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کليوالي زيربناوو، روغتيا او زده کړو اړوند خدمتونو د ودې لپاره اضافي تبصرې:

**د اصلاحي نظرياتو ورکولو ناسته**

کله چې د نمرې ورکولو د کارتونو عملي پلي کول بشپړ شول، د اړونده آسانتيا مشر او مهم کارکوونکي، همدارنګه د کلي پراختيايي شورا او د کلي پراختيايي شوراګانو کلستر/ګذر رئيس او اداري هيئت او غړي (د هغو کسانو په ګډون چې په اړونده کميټه کې کار کوي) او د فرعي کميټې غړي بايد يو له بل سره مخامخ ناسته ولري چې د همدې آسانتيا د لړ تر لړه خدمتونو د معيارونو په کتلو سره پيل کېږي، په داسې حال کې چې د اړوندې آسانتيا کارکوونکي به خپل د نمرې ورکول او د کلي پراختيايي شورا يا د کلي پراختيايي شورا کلستر/ګذر به د خدمتونو د کاروونکو د نمرې ورکول وړاندې کړي. د نمرې په ورکولو کې ورته والي او توپيرونه بايد په روښانه دوګه په ګوته شي او هر معيار يا د کړنو اندازه چې نمره ورکړل شوې وه بايد تر بحث لاندې ونيول شي. په دې کتنه کې، د کمزوري فعاليت د هر معيار په هکله بايد خبرې وشي او په هغه ګروپونو کې راوستل شي چې کېدلای شي په آسانتيا کې په نښه شي ( لکه د کارکوونکو چلند/ سلوک/ صفايي ، د ساعتونو د ساتلو) او د کړنو هغه کمزورې برخې چې بهرني ملاتړ/مداخلې ته اړتيا لري (لکه د اړتيا وړ درمل کلينيک ته نه رارسېږي، يا د ښوونکو/ ډاکټرانو/نرسانو په برخه کې دکارکوونکو کموالی.)

د کمزورو اجراتو د هغو کړنو لپاره چې کېدلای شي په داخلي کچه په نښه شي، نو دا ډله (د خدمتونو وړاندې کوونکي او د خدمتونو کاروونکو ټاکل شوي استازي) بايد د يوه کاري پلان او د څارنې د ميکانيزم په هکله هوکړه وکړي او د دې کاري پلان پلي کولو باوري کړي. د کمزورو اجرااتو د هغو معيارونو لپاره چې بهرنی مداخلې ته اړتيا لري، د کلي پراختيايي شورا يا د کلي پراختيايي شورا کلستر/ګذر بايد يو راپور چمتو کړي چې د ولسوالی په کچه د ولسي ترون پروګرام د مديريت کميټې/ښاروالی په کچه د ولسي ترون پروګرام د مديريت کميټې په راتلونکې غونډه کې به شريک کړل شي (د اړيکو منول وګورئ). د ولسوالی په کچه د ولسي ترون پروګرام د مديريت کميټې/ښاروالی په کچه د ولسي ترون پروګرام د مديريت کميټې ته تر وړاندې کولو وروسته، د اړونده وزارت کارکوونکي (پوهنې يا روغتيا) بايد يو کاري پلان جوړ کړي چې له ولسوال سره به شريک شي او دا به په ډاګه کړي چې د کمزورو اجرااتو معيار به په څه ډول وده وکړي تر څو د دولت له سپارل شوو وعدو سره سم شي. د کلي پراختيايي شورا کلستر/ګذر شورا به د اړوند وزارت د کاري پلان يوه کاپی تر لاسه کړي چې د هغې د څارنې او تعقيب مسئوليت به پر غاړه ولري. که چېرې د اړوند وزارت کارکوونکي په دې هکله بريالي نه شي، نو د موضوع په هکله شکايتونه را مينځ ته کېږي چې په اړه به يې راپور ورکړل شي.

د همکارو مؤسسو د ټولنيزو کارکوونکو مسئوليتونه

په پيل کې، به ټولنيز کارکوونکي د آسانتيا د کاروونکو په ارزونه، پلان جوړولو او د نمرې ورکولو د کارتونو په پلي کولو، په خپله کاري برخه کې د هرې آسانتيا اړوند د نمرې ورکولو ټولو کارتونو په ټولولو او د تسهيلولو او اصلاحي نظرونو د ثبت کولو په برخه کې مهم رول ولري، تر څو ډاډ تر لاسه کړي چې د نمرې ورکولو د کارتونو عملي کولو په 2 – 3 پړاو پر مهال دا بهير په ښه توګه ترسره شوی دی (د تبعيض او مداخلې مخنيوي شوی دی) او په پای کې بنيادي شوی دی (د خدمتونو کاروونکي د ارزونې غوښتنه کوي، د کلي پراختيايي شوراګانې او د کلي پراختيايي شوراګانو کلستر/ګذرونه د نمرې ورکولو د کارتونو د بهير په عملي کولو او پرمختګ په څارنه کې اغېزمن پرېوتي دي).

**د شکايتونو حل کول**

د شکايتونو حل کول به يو مهم ميکانيزم وي تر څو باوري کړي چې په کليو کې افراد او ډلې داسې وسيلې لري چې د نامناسب تخصيص او پراختيايي مالي مرستو او سرچينو وېش، د نخبه کسانو نفوذ، او همدارنګه کلي ته د ځانګړې شوې مالي مرستې د کارولو په برخه کې د مالي مديريت او تدارکاتو د بهيرونو موضعګانې را برسېره کړي. په لاندې توګه د شکايتونو د حل ميکانيزمونه د دې لپاره دي تر څو باوري کړي چې که چېرې د کليو ټاکل شوي استازي (د کلي پراختيايي شوار او د کلي پراختيايي شوراګانو کلستر/ګذرونه) مناسب، ځواب ويونکي، رښې، ګډه ايزې، هراړخيزه، د بېوزلو او ښځو په ګټه کړنې نه تعقيبوي، نو کلي کولای شي خپل غږ اوچت کړي او د حل مناسبې لارې چارې تر لاسه کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د خلکو له لوري راپورته شوي هر شکایت او اندېښنې ته مناسبه پاملرنه د یوه حساب ورکونکي او ځواب ویونکي دولت یو اړین اړخ ګڼل کېږي. د ولسي ترون پروګرام لپاره د شکایتونو د حل میکانېزم grievance (GHM) د اساسي قانون په 50 مه ماده کې د ذکر شوو حقونو پر بنسټ را مینځ ته شوی دی.

*د اساسي قانون 50 ماده*

*دولت باید د سالمو ادارو د رامینځ ته کولو اود هېواد په اداري سیستم کې د اصلاحاتو راوستلو لپاره اړین اقدامونه ترسره کړي.* ***اداره باید خپلې کړنې په بشپړه بېطرفی او د قوانینو له مقرراتو سره مطابق ترسره کړي. د افغانستان وګړي باید د قانون له مقرراتو سره سم له دولتي ادارو څخه معلوماتو ته د لاس رسي حق ولري.*** *دا حق باید هېڅ محدودیت ونلري، یوازې په هغه حالاتو کې استثنا شتون لري چې د نورو کسانو حقونه او یا هم عام امنیت زیانمنوي. د افغانستان وګړي باید د دولت له لوري د ورتیاوو له مخې، له کوم تبعیض پرته د قانون له مقرراتو سره سم استخدام کړي.*

*پنځه اویایمه ماده (3)*

*دولت باید لاندې دندې ولري: د عامه نظم او قانون ساتنه او د هر ډول* ***اداري فساد له مینځه وړل.***

*دولت باید د لاندې دندې لري: د عامه نظم او قانون د ساتلو او د هر ډول اداري فساد له منځه یوسي.*

شکایتونه کېدلای شي په لاندې کټګوریو ووېشل شي:

1. **ټولنیزې شخړې:**

ټولنیزې شخړې د ټولنیزو ستونزو لامل کېږي چې لاندې ټکي په کې شامل دي:

- موجوده شخړې ( دا ښایي هغه زړې سیالی یا شخړې وي چې له پراختیا سره کومه اړیکه نلري).
- د نخبګانو په پام کې نیول( د نخبه کسانو د نفوذ اعمال)
- د سرچینو ناعادلانه وېش / د پریکړې کولو ځواک
- د ټاکنو/ بیا ټاکنو بهیر
- د کلي د پراختیایي پلان جوړولو بهیر: په پراختیایي پلان کې ګوښه شوو او زیانمنونکو کسانو ته لومړیتوب ورکونه نه ده منعکس شوې.
- د ښځو محرومیت یا د هغوی لومړیتوبونو ته ځان نه ورکول
- د کلي پراختیایي شورا/د کلي پراختیایي شورا د کلستر رونتیا او حساب ورکونه

**2.تخنیکي:** پروژې یا د کلي پراختیایي شوراCDC /د کلي پراختیایي شورا د کلسترCCDC او یا هم د قراردادیانو له لوري پلي کېږي. په دواړو صورتونو کې، په لومړي ګام کې، د کلي پراختیایي شوراCDC /د کلي پراختیایي شورا کلسترCCDC د پروژو د ځارنې دنده پرغاړه لري. په ورته وخت کې، د ولسي ترون پروګرام انجنیران به همدارنګه د پروژو د عمومي ځارنې دنده پر غاړه ولري. د تخنیکي برخې په شکایتونو کې کېدلای شي لاندې ټکي شامل وي:

1) د پروژې د تخنیکي سروې پر مهال تېروتنې
2) د تخمین/اټکل تېروتنې
3) د پروژو ناسم ځای
4) د رغنیزو توکو د کیفیت اړوند موضوعګانې
5) د پروژې د کار پرمختګ
6) د کار په مینځ کې د پروژې په ډیزاین کې بدلون راوستل
7) عادلانه تخصیص
8) د پروژې پلي کول او ساتنه

**3.مالـــي:**

د شکایتونو د حل کولو کارکوونکي او کمیټې به په اړوندو برخو کې یوازې د مالي موضوعګانو لکه فساد، غلا، درغلی او داسې نورو اړوند شکایتونو د حل کولو پروسه تسهیل کړي. وروستې پرېکړه او قضاوت د ذکر شوو دفترونو (ص104) په دندو کې نه راځي.

**4.تدارکات:**

د ولسي ترون پروګرام د عملیاتي لارښوود پر بنسټ، هغه پروژې چې کېدلای شي د کلي پراختیایي شوراCDC /د کلي پراختیایي شورا کلسترCCDC د غړو له لوري پلي شي، ترجیح ورکول کیږي چې پخپله د دوی په واسطه پلي شي. که داسې نه وي، نو هلته به د داوطلبي پروسه شتون ولري. د تدارکاتو موضوعګانې ښایي عبارت وي له: د تدارکاتي قوانینو او ټګلارو نه تعقیبول، د پروژو د اعلانولو بهیر، د ډیزاینونو وېش، د ډیزاینونو د پرانېستلو بهیر، د پروژو د ترون توکي او بهیر، رسیدونه، بانکي ضمانت، د بې کیفیته توکو پېرل او داسې نور.

**5.په بهیر کې ځنډ**

که چېرې کړنې له ټاکلي وخت سره سمې تر سره نه شي کېدلای شي په دې صورت کې شکایتونه را مینځ ته شي، د بېلګې په توګه، د کلي پراختیایي شوراCDC/د کلي پراختیایي شورا کلسترCCDC ټاکنې، د پروژو مفهوم (ص 104)، د پروژو پلان جوړول، د پروژو پلي کېدل، د پروژو ځارنه او د پروژو تړول.

**6.د ځمکې استملاک:**

د شکایتونو ننګوونکې او پېچلی ډول بېلابېل لاملونه لری، د ساري په ډول: په لیکلي بڼه د ځمکې د خاوند د هوکړې نه شـتون، د څو ورونو ګډ ملکیت چې یو یا څو یې حاضـر نه دي او هوکړه یې نه ده کړې، ځنې وختونه د ځمکو خاوندان

(c) ketabton.com: The Digital Library

هوکړه کوي، مګر د دوی د القابو پاڼي په ترتیب نه دي (ص104). په دې توګه، دا ډول پېښو ته د حقوقي موضوعاتو په توګه په پام کې نیول کېږي او اړتیا لري چې اړوندو ادارو ته راجع شي.

د شکایتونو تعریف:
د وړاندې شوو آسانتیاوو یا خدمتونو، د تر سره شوو کړنو یا کړنو د نه شتون په هکله د نه رضایت یا اندېښنې ښوودلو شفاهي یا لیکلي بڼې ته شکایت ویل کېږي چې کېدلای شي د افرادو، ډلو، ادارو یا بنسټونو لخوا ترسره شي.
شکایتونه حتمي دي، خو دا به ښه وي چې په خپله منشاء کې حل شي.
2. د شکایتونو د کمیټو، اسنادو او راپور ورکولو جوړښت/ترکیب
**I کــــچه: د کلي پراختیایي شورا (CDC) په کچه** د کلي **د شکایتونو د حل کولو کمیټه (CGC):**
هلته به د کې د کلي د شکایتونو د حل کمیټه (CGC) موجوده وي چې د واحد کلي په کچه به نارضایتي/شکایتونه حل کوي.

- **غـړي:** ټول 7 غړي ( 2 د کلي پراختیایي شورا غړي او پاتې نور له نورو کمیټو څخه)
  - ✓ **د کلي پراختیایي شورا (CDC) 2 غړي**
  - ✓ **د کمیټو غړي:** د کلي پراختیایي شـــورا تر پوښـــښ لاندې له موضـــوعي کمیټو څخه یو غړي (زده کړې، روغتیا، کرنې، ځوانانو، د ښځو اقتصادي پیاوړتیا).

د شــــکایتونو کمیټې لپاره اداري پلاوی به د همدې کمیټې د غړو له لورې وټاکل شـــي او د کمیټې اعتبار به د کلي پراختیایي شورا د اعتبار له مخې وي. د کلي پراختیایي شوراغړي په اتوماتیک ډول د دې کمیټې اداري پلاوی یا رئیس کېدلای نه شي.
د ولسي ترون پروګرام یا نورو پراختیایي پروګرامونو تر پوښښ لاندې د پراختیایي مرستو په هکله هر شکایت باید مستند او ثبت کړل شي. رئیس به د اسنادو د مدیریت مسئول وي او مرستیال به د بهرنیو مرستو اړوند د هرو موضوعګانو د ثبت او مستند کولو مسئولیت پر غاړه ولري.
که چېرې شــخړه د کلي پراختیایي شــورا CDC تر غړو پورې تړاو ولري، نو د کلي پراختیایي شــورا CDC غړي باید له ناستې څخه excused (ص105) شي.
د کلي په کچه باید د شکایتونو یو صندوق شتون ولري اودا صندوق باید دشکایتونودحل کمیټې له خوا په اونیزه توګه وکتل شي.
**د کلي په کچه د شکایتونو د حل کولو کمیټې (CGC) د ندو لایحه:**

- د ثبت په کتاب کې د راتلونکو شکایتونو ثبت کول
- د ټولو راتلونکو شکایتونو ډلبندي کول
- د شکایت کوونکو او شکایت د ماهیت په هکله د پوهېدو په موخه د شکایتونو شننه/تحلیل کول
- تحلیل شوي شکایتونه د نورو اجرااتو په موخه د کلي په کچه اړونده کمیټو ته راجع کول
- د شکایتونو تعقیبول (د مهالوېش پر بنسټ)
- شکایت کوونکي او د شکایتونو د حل کولو کمیټې (CGC) ته د پایلې بېرته سپارل

**II کــــچه: د کلي پراختیایي شورا کلستر (CCDC) په کچه**
هلته به د کلي پراختیایي شورا کلستر (CCDC) په کچه **د کلي د شکایتونو د حل کمیټه (CCGC)** موجوده وي چې د کلستر په کچه به شکایتونه حل کوي.

- **غـړي:** ټول 7 غړي> **2 د پراختیایي شورا د کلستر غړي** او پاتې له نورو کمیټو څخه.
  - ✓ **د کلي پراختیایي شورا (CDC) 2 غړي**
  - ✓ **د کمیټو غړي:** د کلي پراختیایي شورا تر پوښښ لاندې له موضوعي کمیټو څخه یو غړي (زده کړو، روغتیا، کرنې، ځوانانو، د ښځو اقتصادي پیاوړتیا).

اداري پلاوي ته د غړو له لورې رایه ورکول کېږي، کوم یو غړي په اتوماتیک ډول رئیس کېدلای نه شــي. مرســتیال باید د بهرنیو مرســتو اړوند هر څه مستند او ثبت کړي. که چېرې شــخړه د کلي پراختیایي شــورا کلســترCCDC تر غړو پورې تړاو ولري، نو د کلي پراختیایي شورا کلسترCCDC د غړو حضور باید له ناستې څخه excused (ص106) شي.
د پراختیایي شــوراګانو د کلستر په کچه باید د شــکایتونو یو صــندوق شــتون ولري او دا صــندوق باید د پراختیایي شــوراګانو د کلستر غړو له خوا په ورځنۍ توګه وکتل شي.
یادونه: د کلي پراختیایي شــورا کلستر په کچه د شــکایتونو د حل کمیټه (CCGC) به په کلستر کې یوازې خپل شــکایتونه او د کلي ساده شکایتونه حل کړي، که چېرې په کلي کې د شکایتونو د حل کمیټې له لارې حل نه شي. ساده شکایتونه عبارت دي له: له پیســو څخه پرته شــکایتونه، ځنډونه او داســې نور. په داســې حال کې چې هغه شــکایتونه چې د نخبه ګانو نفوذ، فســاد، درغلي او نورو په کښې شامل وي باید د ولسوالي په کچه د شکایتونو د حل کمیټې ته وسپارل شي.
د کلي پراختیایي شورا کلستر په کچه د شکایتونو د حل کمیټې (CCGC) د دندو لایحه

- د ثبت په کتاب کې د راتلونکو شکایتونو ثبت کول

(c) ketabton.com: The Digital Library

- د ټولو راتلونکو شکايتونو ډلبندي کول
- د شکايت کوونکو او شکايت د ماهيت په هکله د پوهېدو په موخه د شکايتونو شننه/تحليل کول
- تحليل شوي شکايتونه د نورو اجرااتو په موخه د کلستر په کچه اړونده کميټې ته راجع کول
- د شکايتونو تعقيبول (د مهالوېش پر بنسټ)
- شکايت کوونکي او د پراختيايي شورا کلستر په کچه د شکايتونو د حل کميټې (CCGC) ته د پايلې بېرته سپارل

**III کـــچه:** د ولسوالۍ د شکايتونو د حل دولتي کميټه (DGGC):

د ولسوالۍ په کچه د ولسي تړون پروګرام د مديريت کميټې تر پوښښ لاندې به د ولسوالۍ په کچه د شکايتونو د حل دولتي کميټه (DGGC) شـتون ولري چې د ولسـوالۍ په کچه به شـکايتونه حل کړي. د **DGGC غړي** به د ولسـوال په مشـرۍ د اړوندو ادارو ارتباطي اسـتازي وي. د ولسـوالۍ په کچه به د شـکايتونو يو صـندوق شـتون ولري چې د ولسـوالۍ په کچه د شکايتونو د حل کميټې د غړو لخوا به په ورځنۍ توګه وکتل شي.

د ولسوالۍ د شکايتونو د حل کميټې (DGGC) د دندو لايحه:

- د راتلونکو شکايتونو تر لاسه کول
- د ټولو راتلونکو شکايتونو ډلبندي کول
- د شکايت کوونکو او شکايت د ماهيت په هکله د پوهېدو په موخه د شکايتونو شننه/تحليل کول
- په ډېټابېس کې د راتلونکو شکايتونو ثبت کول
- د ولسـوالۍ په کچه د شـکايتونو د حل کميټې لپاره ارتباطي استازو او اړوندو ادارو ته د ثبت شـوو شـکايتونو راجع کول
- د بنسټ ارتباطي استازی د شکايتونو د تعقيب او په اړه يې د ولسوالۍ په کچه شکايتونو د حل کميټې ته نظر/فيډبک ورکولو مسئوليت پر غاړه لري.
- پايله بايد د ولسوالۍ د شکايتونو د حل کميټې (DGGC) په واسطه له شکايت کوونکي سره شريکه او په ډېټابېس کې ثبت کړل شي.

**IV کچه:** د ولايت په کچه د شکايتونو د حل کميټه

د ولايت په کچه د ولسـي تړون پروګرام د مديريت کميټې(PCCMC) تر پوښښ لاندې به د ولايت په کچه د شـکايتونو د حل کميټه (PGGC) شـتون ولري چې د ولايت په کچه به شـکايتونه حل کړي. **د (PGGC) غړي** به د والي په مشـرۍ **د ټولو دولتي رياستونو رئيسان، د ولايتي اداري واحد او همکارې مؤسسې مديران وي**. د ولايت په کچه به د شکايتونو يو صندوق شـتون ولري. نوموړی صندوق به د ولايت په کچه د شـکايتونو د حل کميټې PGGC) د غړو لخوا به په ورځنۍ توګه وکتل شي.

د ولايت په کچه د شکايتونو د حل کميټې (PGGC) د دندو لايحه:

د ولايتي اداري واحد په کچه:

- د راتلونکو شکايتونو تر لاسه کول.
- د ټولو راتلونکو شکايتونو ډلبندي کول.
- د شکايت کوونکو او شکايت د ماهيت په هکله د پوهېدو په موخه د شکايتونو شننه/تحليل کول.
- په ډېټابېس کې د راتلونکو شکايتونو ثبت کول او له شکايت کوونکو سره د پايلې شريکول.
- د ولايت په کچه په مياشتنۍ توګه د شکايتونو د حل کميټې له ټولو غړو سره د ناستې تنظيمول.
- د ناستې د اجنډاچمتو کول، د ځای او وخت ټاکل.
- د بحث په موخه د ولايت په کچه د شکايتونو د حل کميټې (PGGC) رئيس ته د شکايتونو د لنډيز وړاندې کول.
- د ولسـوالۍ په کچه د شـکايتونو د حل کميټې لپاره ارتباطي استازو او اړوندو ادارو ته د ثبت شـوو شـکايتونو راجع کول

د ولايت د شکايتونو د حل کميټې (PGGC) په کچه:

- د ولايت په کچه د اړونده ادارو ارتباطي استازو ته د ثبت شوو شکايتونو راجع کول
- د اداري ارتباطي استازی د شکايتونو د تعقيب او په اړه يې د ولايت په کچه د شکايتونو د حل کميټې ته نظر/فيډبک ورکولو مسئوليت پر غاړه لري.
- د نظر ورکلو پايله بايد له شکايت کوونکو سره شريکه کړل شي.

**V کچه:** د مرکزي دولت په کچه د شکايتونو د حل کميټه (CGGC)

د ولســي تړون پروګرام د مديريت د مرکزي کميټې (CCCMC) تر پوښــښ لاندې به د مرکزي دولت په کچه د شــکايتونو د حل کميټه (CGGC) شتون ولري چې يوازې هغه ستونزې به حل کړي چې په ټيټو کچو کې نه شي حل کېدلای.

د (CGGC) غړي به د کليو د بيارغونې او پراختيا وزير په مشرۍ، د اړونده وزارتونو نومول شـوي کارکوونکي، د کليو د بيارغونې او پراختيا وزارت د شـکايتونو د حل واحد مشـر او همکارو مؤسـسـو رئيسـان وي. د کليو د بيارغونې او پراختيا

(c) ketabton.com: The Digital Library

وزارت په انګړ کي به د شکايتونو يو صندوق شتون ولري. د ولسي تړون پروګرام د شکايتونو د حل واحد مشر بايد نومړی صندوق په ورځنۍ توګه وګوري.

د مرکزي دولت په کچه د شکايتونو د حل کميټي (CGGC) د دندو لايحه:

د ولسي تړون پروګرام د شکايتونو د حل واحد په کچه:

- د راتلونکو شکايتونو تر لاسه کول.
- د ټولو راتلونکو شکايتونو ډلبندي کول.
- د شکايت کوونکو او شکايت د ماهيت په هکله د پوهېدو په موخه د شکايتونو شننه/تحليل کول.
- په ډېټابېس کي د راتلونکو شکايتونو ثبت کول او له شکايت کوونکو سره د پايلي شريکول.
- د مرکزي دولت په کچه د شکايتونو د حل کميټي(CGGC) له ټولو غړو سره په دري مياشتنۍ توګه د ناستي تنظيمول.
- د ناستي د اجنډاچمتو کول، د ځای او وخت ټاکل.
- د بحث په موخه د مرکزي دولت په کچه د شکايتونو د حل کميټي(CGGC) رئيس ته د شکايتونو د لنډيز وړاندي کول.
- د ولسوالۍ په کچه د شکايتونو د حل کميټي لپاره ارتباطي استازو او اړوندو ادارو ته د ثبت شوو شکايتونو راجع کول

د مرکزي دولت د شکايتونو د حل کميټي(CGGC) په کچه

- په مرکزي کچه د اړونده ادارو ارتباطي استازو ته شکايتونو راجع کول
- د اداري ارتباطي استازی د شکايتونو د تعقيب او په اړه يي د شکايتونو د حل مرکزي کميټي ته نظر/فيډبک ورکولو مسئوليت پر غاړه لري.
- د نظر ورکلو پايله بايد له شکايت کوونکو سره شريکه کړل شي.

**III.مرحله**

**څوک کولای شي شکايتونو وسپاري؟**

د ولسي تړون پروګرام د هري برخي په هکله هر څوک بي له کوم محدوديت څخه کولای شي تر څو شکايت وکړي او خپله ناخوښي څرګنده کړي.

ناخوښي او شکايتونه د بېلابېلو سرچينو له لاري تر لاسه کېدلای شي چي د شکايتونو د حل د لاندي پنځو پړاوونو له لاري به پروسس شي.

**1. پړاو: د شکايتونو د حل ميکانېزم (GHM) په هکله پوهاوی**

د شکايتونو د حل ميکانېزم (GHM) بايد د کليو د بيا رغوني او پراختيا وزارت، ښاروالیو د معلوماتو په دړه، د ناحيي او ګذر د خبرتياوو په دړه کي د بروشورونو او پوسترونو له لاري په ښه توګه خپور شي ( CDC, CCDC, DCCMC, PCCMC, CCCMC ښاروالی، ناحيه او ګوذر د خبرتياوو په دړه کي). په لنډه توګه، په پراخه کچه د خپرولو په موخه له ټولو لارو څخه بايد ګټه واخيستل شي.

**2. پړاو: د شکايتونو/ناخوښيو تر لاسه کول او ثبت کول**

وګړي کولای شي د شکايتونو د يوې معياري فورمي په ډکولو سره چي د عمومي معلوماتو لکه د شکايت کوونکي نوم، ولايت، اوسني پته، د موضوع په هکله لنډه توضيح، له چا څخه شکايت شوی دی او له شکايت څخه د تمي وړ پايلي درلودونکي ده، خپل شکايت ثبت کړي. (1 ضميمه به جوړه کړل شي)، چي کېدلای شي په لاندي توګه وسپارل شي:

- **د کلي پراختيايي شورا اونيزي ناستي:** د کلي په پراختيايي شورا کي د نظر ورکولو/فيډبک په موخه ناستي.
- **د شکايتونو صندوقونه:** په عمومي توګه د کلي په هره پراختيايي شورا کي اېښودل کېږي، او بل صندوق د کليو د بيارغوني او پراختيا په هر ولايتي رياست او ښاروالی، ناحيه، ګذر، د کلي پراختيايي شوراګانو په شوراګانو کي اېښودل کېږي.
- **ليکونه/فورمي:** د کليو د بيا رغوني او پراختيا وزارت MRRD، د سيمه ايزو ارګانونو خپلواکه اداريIDLG ، ښاروالی، د ښاروالی مشورتي بورډ MAB، ناحيي، ګذر او د کلي پراختيايي شوراګانو، شوراګانو ته په نېغه او لېکلي بڼه.
- **تليفوني کرښه/اړيکه:** شکايت د ناخوښی په شکل کېدلای شي په شفاهي توګه د يوې ځانګړې وړتيا تليفوني کرښي له لاري ترسره شي.
- **د پروژو کارکوونکي:** شکايتونه همدارنګه د ولسي تړون پروګرام، همکاري مؤسسي اونورو په ګډون د پروژي د کارکوونکو له لاري، ثبت کېدلای شي.
- **بريښناليک:** هغه شکايت کوونکي چي انټرنېټ ته لاس رسی لري کولای شي خپل شکايتونه د بريښناليک له لاري واستوي.
- **وېب پاڼه:** د ولسي تړون پروګرام د وېب پاڼي تر پوښښ لاندي به يوه پرليکه وېب پاڼه شتون ولري. دلته به د فورمي ډکول اړين وي.
- **شخصي ليدنه:** د اړتيا په صورت کي، شکايت کوونکي کولای شي خپل شکايتونه په فزيکي ډول د کلي په کچه د کلي پراختيايي شورا په جوړښت کي د شخړو د هوارولو کميټي او ولايت يا مرکز په کچه دفترونو ته وسپاري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**3. پړاو: د شکایتونو ثبت (د شکایتونو/ناخوښیو ثبت)**

رارسېدلي شکایتونه باید **د شکایتونو د حل په یوه** محرم **کتاب/ډېټابېس** ( )کې په یوې شمېرې، د رارسېدلو د نېټې او وخت په ذکر کولو، د را رسېدو حالت او د شکایت کوونکي نوم او اړیکې له جزئیاتوسره، ثبت شي.

**4. پړاو: بیا کتنه او څېړنه:**

د بېړني والي پر بنسټ، په هرو 7 ورځو کې یو ځل، د شکایتونو د حل کولو کمیټې غړي د کلي/ولسوالی/ښاروالی په کچه باید سره وګوري او شکایتونه وڅېړي او د لاندې ټکو پر بنسټ یې ډلبندي کړي:

1) شکایت کوونکی/موقعیت
2) موضوع
3) بېړنی توب

شکایت به د **پنځو** کچو له لارې پروسس شي.

**1. د کلي په کچه**

- تر کومه چې شوني وي شکایتونه باید زر تر زره او پوره زیار سره د کلي پراختیایي شورا په کچه د کلي پراختیایي شورا د غړو او د کلي په کچه د شکایتونو د حل کمیټې له لوري د شخړو د هوارې د ګډه ایزو وسیلو پر بنسټ حل کړل شي. د شکایتونو د حل یوه معیاري فورمه (2 ضمیمه به رامینځ ته شي) فورمه باید ډکه شي او د همکارې مؤسسې د ولسوالي/ښاروالي دفتر ته په راپور ورکولو کې شامله کړل شي.
- **زماني چوکاټ:** ثبت شوي شکایتونه باید **د 10 کاري ورځو په موده کې** د شکایتونو د حل اړونده کمیټې له لوري حل یا راجع شي او په اړه یې <u>ولایتي اداري واحد ته راپور ورکړل شي</u> ( او په میاشتنی توګه **د کلي** کلستر د شکایتونو د حل کولو کمیټې CCGC ته د نور پروسس په موخه). د اړونده همکارې مؤسسې کارکوونکو ته باید یوه کاپي ورکړل شي او خبر کړل شي.

**2. د کلي پراختیایي شورا د کلستر په کچه:**

- **د کلي** کلستر **د شکایتونو د حل کولو کمیټه (CCGC)** به د کلستر په کچه هغه شکایتونه حل کړي، چې د کلي د شکایتونو د حل کمیټې په کچه نه شي حل کېدلای.
- **زماني چوکاټ:** ثبت شوي شکایتونه باید **د 10 کاري ورځو په موده کې** د شکایتونو د حل اړونده کمیټې له لوري حل یا راجع شي او د نورو مراحلو د طی کولو په اړه په میاشتنی توګه د ولسوالی په کچه د شکایتونو د حل کمیټې DCGC ته راپور وسپارل شي.

**3. د ولسوالی/ښارولی په کچه**

- که چېرې موضوع یو څه پېچلې وي نو شکایت به د حل په موخه <u>د ولسوالی/ښاروالی په کچه د شکایتونو د حل کمیټې او د همکارې مؤسسې د ولسوالی/ښاروالی دفتر ته راجع کړل شي.</u> د شکایتونو د حل یوه معیاري فورمه باید ډکه کړل شي او ولایتي اداري واحد ته په میاشتنۍ راپور کې شامله کړل شي.
- **زماني چوکاټ:** ثبت شوي شکایتونه باید د 26 کاري ورځو په موده کې د **ولسوالی/ښاروالی/همکاری مؤسسی** د ولسوالی په کچه د شکایتونو د حل اړونده کمیټې (DGGC) له لوري حل یا ورته راجع شي او په اړه یې ولایتي اداري واحد ته راپور ورکړل شي.

**4. د ولایت/ولایتي اداري واحد/شکایتونو د حل واحد په کچه**

- که چېرې موضوعګانې د <u>ولسوالی/ښاروالی او همکاری مؤسسې په کچه</u> او د ولسوالی د شکایتونو د حل کمیټې په کچه حل نه شي نو دا موضوعګانې به د حل په موخه د ولسي تړون پروګرام د مدیریت ولایتي کمیټې تر پوښښ لاندې د <u>ولایتي اداري واحد او/یا د شکایتونو د حل واحد</u> د شکایتونو د حل ولایتي کمیټې (PGGC) ته راجع کړل شي او حل به یې کړي.
- **زماني چوکاټ:** <u>ولایتي اداري واحد/د شکایتونو د حل کولو واحد</u> (PGGC) باید **26 کاري ورځې وخت ولري** تر څو ستونزه تحلیل او حل کړي، که چېرې دا ستونزه نه شي حل کېدلای، نو د دې موضوع په هکله به د همغږۍ په غونډه کې خبرې اترې وشي او یوه ډله به وګمارل شي تر په بېړنی توګه دا موضوع په نښه کړي او یا یې د نورو مراحلو د طی کولو په موخه د دولت د شکایتونو مرکزي کمیټې (CGGC) ته راجع کړي

**5. د مرکزي دولت د شکایتونو د کمیټې (CGGC) په کچه**

د ولسي تړون پروګرام د مدیریت کمیټې (CCCMC) تر پوښښ لاندې به د مرکزی دولت د شکایتونو کمیټه شتون ولري چې یوازې هغه شکایتونه به حل کړي چې په ټیټو کچو کې نه شي حل کېدلای.

**5. پړاو: پرېکړه**

کله چې وروستۍ پرېکړه وشي، پایله به په مستقیم ډول د تلیفون او لیکل شوي لیک له لارې او د موضع حساسیت ته په کتو سره به په ویب پاڼه باندې خپره شي چې په دې سره به " معلوماتو ته لاس رسی" تامین شي او په آسانی سره به د عامو خلکو په واک کې وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

3. له کليو او د کليو کلستر/ګذرونو څخه بهر/ هاخوا د شکايتونو حل کول

**الف ◄ DCCMC** (يوازې کليوالي سيمې)

د ولسوالۍ په کچه د ولسي تړون پروګرام د مديريت کميټه به د خپلو درې مياشتنيو غونډو پر مهال د ولسوالۍ په کچه له کارکوونکو سره چې د موضوع د حل لپاره کار کوي د ناحل شوو او بېړنيو شکايتونو پر سر د بحث لپاره فضا را مينځ ته کړي (هغه شکايتونه چې لږ بېړني دي بايد په اړه يې اړوندو وزارتونو ته راپور ورکړل شي)، که نه نو دا بايد د ولسوالۍ په کچه د ولسي تړون پروګرام د مديريت په کميټه DCCMC کې را برسېره شي.

د کلي په کچه د شکايتونو فرعي کميټه به هر هغه موضوعګانې چې د کلي په کچه نه شي حل کېدلای د کلي کلستر د شکايتونو فرعي کميټي ته راجع کړي، چې نوموړې کميټه به دا موضوعګانې د ولسوالۍ په کچه د ولسي تړون پروګرام د مديريت په کميټه DCCMC/ناسته کې شريکې کړي يا د په دوه مياشتنيو (هرې دوه مياشتې وروسته) لويو غونډو کې بېړنۍ موضوعګانې را برسېره کړي. که چېرې داسې موضوعګانې شتون ولري چې 2 مياشتې انتظار نه شي کولای او په ځايي کچه نه شي حل کېدلای، د کليو کلستر/ګذر د شکايتونو کميټي يا د کلي پراختيايي شورا کلستر/ګذر رئيس کولای شي له DCCMC/ NCCMC سره يوه استثنائي غونډه را وبولي.

د ولسوالۍ په کچه د ځارني او ارزوني کارکوونکي به د شکايتونو په هکله د ولسوالۍ په کچه د ولسي تړون پروګرام د مديريت کميټي DCCMC په ناستو کې ګډون وکړي او انجنيران او د همکاري مؤسسي ټولنيز کارکوونکي به د ولسوالۍ په کچه د ولسي تړون پروګرام د مديريت کميټي DCCMC په ناستو کې د ځارونکو په توګه ګډون وکړي او که له دوی څخه غوښتنه وشي نو کولای شي مهمې موضوعګانې روښانه کړي.

**ب ◄ NCCMC – ناحيه** (يوازې ښاري سيمې)

د ناحيې په کچه د ولسي تړون پروګرام د مديريت کميټه به د خپلو دوه مياشتنيو غونډو پر مهال د ناحيې په کچه له کارکوونکو سره چې د موضوع د حل لپاره کار کوي د ناحل شوو او بېړنيو شکايتونو پر سر د بحث لپاره فضا را مينځ ته کړي (هغه شکايتونه چې لږ بېړني دي بايد په اړه يې اړوندو وزارتونو ته راپور ورکړل شي)، که نه نو دا بايد د ښاروالۍ په کچه د ولسي تړون پروګرام د مديريت په کميټه MCCMC کې را برسېره شي.

د کلي په کچه د شکايتونو فرعي کميټه به هر هغه موضوعګانې چې د کلي په کچه نه شي حل کېدلای د کلستر/ ګذر د شکايتونو فرعي کميټي ته راجع کړي، چې نوموړې کميټه به دا موضوعګانې د DCCMC/ MCCMC په ناستو کې د اړونده وزارتونو له کارکوونکو سره شريکې کړي يا بېړنۍ موضوعګانې په مياشتني (هرې دوه مياشتې) توګه په لويو غونډو کې مطرح کړي.

که چېرې داسې موضوعګانې شتون ولري چې 2 مياشتې انتظار نه شي کولای او په ځايي کچه نه شي حل کېدلای، د کليو کلستر/ګذر د شکايتونو کميټي يا د کلي پراختيايي شورا کلستر/ګذر رئيس کولای شي له DCCMC/ NCCMC سره يوه استثنائي غونډه را وبولي.

د ولسوالۍ په کچه د ځارني او ارزوني کارکوونکي به د شکايتونو په هکله د ولسوالۍ په کچه د ولسي تړون پروګرام د مديريت کميټي DCCMC په ناستو کې ګډون وکړي او انجنيران او د همکاري مؤسسي ټولنيز کارکوونکي به د ولسوالۍ په کچه د ولسي تړون پروګرام د مديريت کميټي DCCMC په ناستو کې د ځارونکو په توګه ګډون وکړي او که له دوی څخه غوښتنه وشي نو کولای شي مهمې موضوعګانې روښانه کړي.

د ګذر تر پوښښ لاندې د انفرادي کليو د شکايتونو فرعي کميټي به د شکايتونو اړوند خپل راپورونه د ګذر د شکايتونو کميټي ته وسپاري چې دا کميټه به د حل شوو شکايتونو راپورونه (د مستند کولو په موخه) او ناحل شوي شکايتونه د ښاروالۍ په کچه د ولسي تړون پروګرام د مديريت کميټي ته د لا حل په موخه وسپاري.

که چېرې يو شکايت بېړنی وي، د ګذر اړوند د شکايتونو کميټي رئيس ښايي په نېغه توګه MCCMC ته له مقدمې پرته راپور ورکړي او اړتيا نشته تر څو دوه مياشتنيو ناستو ته انتظار وايستل شي.

د ولسوالۍ په کچه د ځارني او ارزوني کارکوونکي به د شکايتونو په هکله د ولسوالۍ په کچه د ولسي تړون پروګرام د مديريت کميټي DCCMC په ناستو کې ګډون وکړي او انجنيران او د همکاري مؤسسي ټولنيز کارکوونکي به د ولسوالۍ په کچه د ولسي تړون پروګرام د مديريت کميټي DCCMC په ناستو کې د ځارونکو په توګه ګډون وکړي او که له دوی څخه غوښتنه وشي نو کولای شي مهمې موضوعګانې روښانه کړي.

د ښاروالۍ په کچه د ولسي تړون پروګرام د مديريت کميټه MCCMC به د حل شوو شکايتونو راپورونه (د مستند کولو په موخه) او ناحل شوي شکايتونه د ښاروالۍ په کچه د ولسي تړون پروګرام د مديريت کميټي ته د لا حل په موخه وسپاري. د ښاروالۍ په کچه د ولسي تړون پروګرام د مديريت کميټه MCCMC به د ښاروالۍ په کچه د ولسي تړون پروګرام د مديريت کميټي MCCMC ته په درې مياشتني (هر درې مياشتې وروسته) توګه راپور ورکړي او د هرې ناحل شوې موضوع په هکله کېدلای شي خبرې اترې وشي.

که چېرې يو شکايت بېړنی وي، د ښاروالۍ په کچه د ولسي تړون پروګرام د مديريت کميټه MCCMC کولای شي د ښاروالۍ په کچه د ولسي تړون پروګرام د مديريت کميټي MCCMC ته له مقدمې پرته راپور ورکړي او اړتيا نشته تر څو دوه مياشتنيو ناستو ته انتظار وايستل شي.

د ولسوالۍ په کچه د ځارني او ارزوني کارکوونکي به د شکايتونو په اړه د ولايتي اداري واحد PMU / د ښاروالۍ په کچه د ولسي تړون پروګرام د مديريت کميټي MCCMC په غونډو کې ګډون وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

4. د ولسوالۍ او ښاروالۍ په کچه د ولسي تړون پروګرام د مدیریت له کمېټې څخه بهر/ هاخوا د شکایتونو حل کول

د ټولو حل شوو شکایتونو راپور (د مستند کولو په موخه) او ناحل شوي شکایتونه د حل په موخه به د ولسي تړون پروګرام د مدیریت ولایتي کمیټې (PCCMC) ته وسپارل شي. که چېرې DCCMC او MCCMC کوم بېړنی شکایت تر لاسه کړي چې بېړني حل ته اړتیا لري، خو د ولسوالی/ښاروالی په کچه د حل کېدو وړ نه وي، باید په هکله یې له ځنډ پرته راپور ورکړل شي او د ولسي تړون پروګرام د مدیریت له ولایتي کمیټې (PCCMC) سره به یوه نا پلان شوې ناسته تر سره شي.

5. د ولسي تړون پروګرام تخنیکي کاري ډله (مرکز)

د ولسي تړون پروګرام تخنیکي کاري ډله (CC TWG) به په نوبتي/دوره اي توګه د مالیې وزارت، د کلیو د بیا رغونې او پراختیا وزارت، د سیمه ایزو ارګانونو خپلواکې ادارې، د کرنې، عامې روغتیا او پوهنې وزارتونو له لوري رهبري شي. د ولسي تړون پروګرام د مدیریت ولایتي کمیټه (PCCMC) به د حل شوو شکایتونو راپورونه (د مستند کولو په موخه) او ناحل شوي شکایتونه د ولسي تړون پروګرام تخنیکي کاري ډله (CC TWG) ته د لا حل په موخه وسپاري. که چېرې بېړنی وي نو د ولسي تړون پروګرام د مدیریت ولایتي کمیټه (PCCMC) کولای شي په نېغه توګه له مقدمې پرته د ولسي تړون پروګرام تخنیکي کاري ډلې (CC TWG) ته راپور ورکړي. د ولسي تړون پروګرام تخنیکي کاري ډله (CC TWG) د پروګرام د پلي کولو په لومړي پړاو کې هرې دوه اونۍ وروسته غونډه تر سره کوي.

د ولسي تړون ملي پروګرام

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**